# مفتاح الخطابة

ملا عبدالحکیم مستقر صاحب حفظہ اللہ
2023-6-3

بیانات

## مولوی ایطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ علامہ ٹاؤن چمن



حنفی شافعی

بسم اللہ الرحمن الرحیم

کفایت دینی کتب خانہ

کفایت اللہ ابن صدیق

واٹس ایپ گروپ ٹیلی گرام چینل

اس گروپ میں کتابیں اہل السنۃ والجماعت، حنفی، شافعی، مالکی، حنبلی، دیوبند ، علماء حق کے عقائد کے مطابق ہوں گی مختلف زبانوں میں اسلامی کتابیں پشتو عربی اردو فارسی جیسے تفسیریں، فتاویٰ درسی کتب خارجی کتب و غیرہ۔

کفایت اللہ ابن صدیق

easypaisa

+923052488551
+923247442395

مالکی حنبلی

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیہ)

# مِفْتَاحُ الْخِطَابَة

## (بیانات)


مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن


جلد: (۱)


مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

## د طباعت او کتابت حقوق محفوظ دي:

- د کتاب نوم:............مفتاح الخطابة
- بیانات:..................مولانا اطیع اللہ صاحب
- کره کتنه:..........مولوی مفتی عبدالمنان، مولوی محمد طاہر، مولوی عبداللہ
- کمپوز:..................... شبیر احمد (متعلم)
- تعداد:........................۱۱۰۰
- ضخامت:........................۴۰۴
- سنه طباعت:......................جمادی الاولی ۱۴۴۴ ھ
- ناشر:......................مکتبه سلطانیه الهاشمیه


---

## د ملاوېدو ځایونه:

۱. مکتبه اشرفیه:....................اباسین روډ چمن
۲. اسلامي کتب خانه:............تاج میر خان روډ چمن
۳. مکتبه ایوبیه:....................سپین بولدک
۴. مکتبه عمریه:...................ارگ بازار قندهار
۵. مکتبه غفاریه:....................ارگ بازار قندهار
۶. جامع مسجد حاجي عبدالودود:................چمن

## د عنواناتو اجمالي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | د نکاح سنت طریقه، (اوله حصه): | ۱۹ |
| ۲. | د نکاح سنت طریقه، (دوهمه حصه): | ۳۷ |
| ۳. | د محرم د میاشتي فضائل: | ۵۹ |
| ۴. | د عصبیت څخه ځان ساتل: | ۷۹ |
| ۵. | د علماؤ عظمت: | ۱۰۱ |
| ٦. | علم د انبیاؤ میراث دی: | ۱۲۱ |
| ۷. | د علمي سوال فضیلت: | ۱۳۹ |
| ۸. | د غلطۍ اقرار کول: | ۱۵۹ |
| ۹. | مجاهده کول ضروري دي: | ۱۸۱ |
| ۱۰. | د فتنې د دور علامې، (اوله حصه): | ۲۰۱ |
| ۱۱. | د فتنې د دور علامې، (دوهمه حصه): | ۲۱۷ |
| ۱۲. | د فتنې د دور علامې، (دریمه حصه): | ۲۳۳ |
| ۱۳. | د فتنې د دور علامې، (څلورمه حصه): | ۲۵۵ |
| ۱۴. | د فتنې د دور علامې، (پنځمه حصه): | ۲۷۳ |
| ۱۵. | د حضرت ابوبکر رضي الله عنه وفات: | ۲۹۳ |
| ١٦. | د حضرت عمر رضي الله عنه شهادت: | ۳۱۱ |
| ۱۷. | د حضرت عثمان رضي الله عنه شهادت، (اوله حصه): | ۳۲۹ |
| ۱۸. | د حضرت عثمان رضي الله عنه شهادت، (دوهمه حصه): | ۳۴۷ |
| ۱۹. | د حضرت علي رضي الله عنه شهادت: | ۳٦۷ |
| ۲۰. | پر استقامت د الله تعالی انعام: | ۳۸۷ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سريزه: | ۱۷ |
| | ﴿د نكاح سنت طريقه، اوله حصه﴾ | |
| ۲. | د انسان زندگي امتحان دى: | ۲۱ |
| ۳. | د امتحان اخيستلو طريقه: | ۲۴ |
| ۴. | نكاح پر سنت طريقه كول: | ۲۷ |
| ۵. | په هر عمل كي د سنت طريقې خيال ساتل: | ۲۸ |
| ٦. | د حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها د نكاح واقعه: | ۲۸ |
| ۷. | د حضرت فاطمې رضي الله عنها د نكاح لپاره پيغامونه راتلل: | ۳۰ |
| ۸. | په مسجد كي نكاح كول: | ۳۱ |
| ۹. | ضروري مسئله: | ۳۲ |
| ۱۰. | د حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها ودېدل: | ۳۲ |
| ۱۱. | ام ايمن څوك وه؟: | ۳۳ |
| ۱۲. | د فاطمې رضي الله عنها د علي رضي الله عنه كور ته راتلل: | ۳۴ |
| ۱۳. | د پيغمبر صلى الله عليه وسلم راتلل: | ۳۵ |
| | ﴿د نكاح سنت طريقه، دوهمه حصه﴾ | |
| ۱۴. | اسلام د فطرت دين دى: | ۳۹ |
| ۱۵. | د فاطمة الزهراء رضي الله عنها د نكاح داستان: | ۴۰ |
| ۱٦. | د كور پر خدمت كولو ثواب: | ۴۱ |
| ۱۷. | شائسته سوال: | ۴۱ |
| ۱۸. | شائسته جواب: | ۴۲ |
| ۱۹. | د زناني د ژوند مختلفي درجې: | ۴۳ |
| ۲۰. | د زناني پيدائش: | ۴۳ |
| ۲۱. | د ودېدو څخه مخكي وفات كېدل: | ۴۴ |
| ۲۲. | د ودېدو څخه وروسته په اجر او ثواب كي اضافه: | ۴۴ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| صفحه | | شماره |
|---|---|---|
| ۴۵ | د الله تعالى سفارش او شفاعت: | ۲۳. |
| ۴۵ | د حمل په وخت کي د ګناهونو بخښنه: | ۲۴. |
| ۴۶ | د بچي د پيدا کېدلو پر درد اجر او ثواب: | ۲۵. |
| ۴۷ | د بچي د پيدا کېدلو پر وخت د زناني مرګ شهادت: | ۲۶. |
| ۴۷ | د بچي پر پيدا کېدلو د ګناهونو بخښنه: | ۲۷. |
| ۴۷ | بچي ته د الله لفظ ورزده کول: | ۲۸. |
| ۴۸ | بچي ته د قرآن ناظره ورزده کول: | ۲۹. |
| ۴۸ | بچي ته د قرآن پاک د حفظ کولو فضيلت: | ۳۰. |
| ۴۹ | د زناني هر عمل ثواب: | ۳۱. |
| ۴۹ | د کور صفائي په کم نيت کول؟: | ۳۲. |
| ۵۰ | د نيت تصحيح ډېره اهمه مسئله ده: | ۳۳. |
| ۵۰ | د نيت د تصحيح يو مثال: | ۳۴. |
| ۵۱ | دوهم مثال: | ۳۵. |
| ۵۱ | د ودېدو څخه وروسته د مور او پلار کور ته راتلل: | ۳۶. |
| ۵۲ | موضوع ته اعاده: | ۳۷. |
| ۵۲ | د علي رضي الله عنه په کور کي د حضرت فاطمة الزهراء حالت: | ۳۸. |
| ۵۴ | درې (۳) ورځي په لوږه: | ۳۹. |
| ۵۵ | د حضرت فاطمة الزهراء ناجوړي: | ۴۰. |
| | ﴿د محرم د مياشتي فضائل﴾ | |
| ۶۱ | د محرم د مياشتي متعلق يو څو خبري: | ۴۱. |
| ۶۲ | څلور (۴) محترمي مياشتي: | ۴۲. |
| ۶۲ | د دې مياشتو د احترام مطلب: | ۴۳. |
| ۶۳ | دې ورځي ته ولي عاشورا وايي؟: | ۴۴. |
| ۶۷ | د عاشورې د نامه بله وجه: | ۴۵. |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| .۴٦ | د عاشورې د ورځي اعمال:........................ | ۶۹ |
| .۴٧ | د عاشورې د ورځي د روژې فضيلت:............ | ٧٠ |
| .۴٨ | دوې (٢) روژې نيول:.............................. | ٧١ |
| .۴٩ | د دوو (٢) روژو نيولو حکمت:.................... | ٧٢ |
| .۵٠ | د عاشورې په ورځ په خپل کور کي وسعت او فراخي:.......... | ٧٣ |
| .۵١ | يو اهم هدايت:.................................... | ٧٣ |
| .۵٢ | د مرگ تياري کول:................................ | ٧۴ |
| .۵٣ | د مرگ عجيب منظر:.............................. | ٧۵ |
| | «د عصبيت څخه ځان ساتل» | |
| .۵۴ | تمهيد:............................................ | ٨١ |
| .۵۵ | قوم او خاندان د شناخت لپاره دي:................ | ٨٢ |
| .۵٦ | زموږ د معاشرې حالت:............................ | ٨٣ |
| .۵٧ | د علماؤ او امامانو او مؤذنانو مقام:............... | ٨۴ |
| .۵٨ | د آذان کولو فضيلت:............................. | ٨۵ |
| .۵٩ | يو قوم هم پر بل قوم فوقيت نه لري:................ | ٨۶ |
| .٦٠ | د عربو لوئي او تکبر:............................ | ٨٧ |
| .٦١ | د پيغمبر ﷺ طرز عمل:.......................... | ٨٨ |
| .٦٢ | د حضرت بلال حبشي رضي الله عنه عزت:............. | ٨٩ |
| .٦٣ | په جنت کي د حضرت بلال رضي الله عنه قدمونه:...... | ٩٠ |
| .٦۴ | حضرت سلمان رضي الله عنه زما د خاندان يو فرد دی:...... | ٩٠ |
| .٦۵ | د قوميت تصور:.................................. | ٩١ |
| .٦٦ | د اتحاد بنياد به پر څه وي؟:...................... | ٩٢ |
| .٦٧ | د جاهليت په زمانه کي معاهده:.................. | ٩٣ |
| .٦٨ | د خپل ورور مدد کول، ليکن هغه څنگه؟:........... | ٩٣ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۶۹. | عظيم انقلاب راوستل: | ۹۴ |
| ۷۰. | قومي او نسلي تعصب لويه تباهي ده: | ۹۵ |
| | **《د علماؤو عظمت، اول بيان》** | |
| ۷۱. | د انسان د پيدائش مقصد: | ۱۰۳ |
| ۷۲. | د علم ضرورت: | ۱۰۵ |
| ۷۳. | د انساني بدن اندامونه درې (۳) قسمه وي: | ۱۰۷ |
| ۷۴. | د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه عجيبه وينا: | ۱۰۸ |
| ۷۵. | د اندامونو په ترکيب کي حکمت: | ۱۰۹ |
| ۷۶. | علم يو نور دی: | ۱۰۹ |
| ۷۷. | د علماء کرامو احسان: | ۱۰۹ |
| ۷۸. | د عالم په هکله د پيغمبر ﷺ قول: | ۱۱۰ |
| ۷۹. | د عالم د فضيلت وجه: | ۱۱۱ |
| ۸۰. | انسان د علم په وجه اشرف المخلوقات دی: | ۱۱۲ |
| ۸۱. | د آدم عليه السلام د فضيلت وجه، هم علم دی: | ۱۱۳ |
| ۸۲. | آدم عليه السلام ته د سجدې کولو کيفيت: | ۱۱۶ |
| ۸۳. | د علماؤو قدر کول: | ۱۱۹ |
| ۸۴. | د عالم امداد کول: | ۱۲۰ |
| | **《علم د انبياؤو ميراث دی》** | |
| ۸۵. | تمهيد: | ۱۲۳ |
| ۸۶. | د علم فضيلت: | ۱۲۵ |
| ۸۷. | د مصر د بادشاه خوب ليدل: | ۱۳۱ |
| ۸۸. | د حسن او علم فرق: | ۱۳۲ |
| ۸۹. | د علم او د طالب العلم فضائل: | ۱۳۳ |
| ۹۰. | د يو طالب العلم د مرګ عجيبه واقعه: | ۱۳۵ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست

| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| | **﴿د علمي سوال فضيلت﴾** | |
| ۹۱. | تمهيد: ........ | ۱۴۱ |
| ۹۲. | د علم والا امت: ........ | ۱۴۲ |
| ۹۳. | د حضرت ابو هريره رضي الله عنه واقعه: ........ | ۱۴۳ |
| ۹۴. | د علم حاصلول د الله تعالی په نظر کي: ........ | ۱۴۴ |
| ۹۵. | د علم فضيلت، او د اکابرو اقوال: ........ | ۱۴۵ |
| ۹٦. | د علم اعزاز: ........ | ۱۴۷ |
| ۹۷. | د طالب العلم فضيلت: ........ | ۱۴۹ |
| ۹۸. | د انسان کرامت: ........ | ۱۴۹ |
| ۹۹. | د بادشاهانو په حضور کي د عمل اعزاز: ........ | ۱۵۱ |
| ۱۰۰. | څلور (۴) سوالونه: ........ | ۱۵۱ |
| ۱۰۱. | څلور (۴) جوابونه: ........ | ۱۵۲ |
| ۱۰۲. | د ذهن کمال: ........ | ۱۵۵ |
| ۱۰۳. | د علماؤ صحبت: ........ | ۱۵۷ |
| | **﴿د غلطي اقرار کول﴾** | |
| ۱۰۴. | تمهيد: ........ | ۱۶۱ |
| ۱۰۵. | د پيغمبر صلی الله عليه وسلم عادت: ........ | ۱۶۲ |
| ۱۰٦. | د حضرت عمر رضي الله عنه د دور واقعه: ........ | ۱۶۴ |
| ۱۰۷. | پر عمل استقامت کول: ........ | ۱۶۶ |
| ۱۰۸. | د اوو (۷) کالو ښځه مخکي تعليم ........ | ۱۶۷ |
| ۱۰۹. | په کور کي تعليم ور کول: ........ | ۱۶۸ |
| ۱۱۰. | د بچيانو د وهلو حد او اندازه: ........ | ۱۶۸ |
| ۱۱۱. | د نفل لمانځه اهتمام کول ضروري ندي: ........ | ۱۶۹ |
| ۱۱۲. | د هغه جواب ناخوښي: ........ | ۱۷۰ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۱۳. | دخپلي غلطۍ تأويل کول: ........ | ۱۷۱ |
| ۱۱۴. | او د غلطۍ اقرار کول: ........ | ۱۷۱ |
| ۱۱۵. | زما څخه غلطي نسي کيدلای: ........ | ۱۷۲ |
| ۱۱٦. | د خپل سوچ او فکر څخه بدګمانه کېدل: ........ | ۱۷۳ |
| ۱۱۷. | د حضرت ګنګوهي رحمة الله عليه حالت: ........ | ۱۷۴ |
| ۱۱۸. | د حضرت ابوذرغفاري رضي الله عنه طريقه: ........ | ۱۷۶ |
| ۱۱۹. | د ابوذر غفاري رضي الله عنه واقعه: ........ | ۱۷۶ |
| ۱۲۰. | د حضرت عمر رضي الله عنه فکر: ........ | ۱۷۸ |
| ۱۲۱. | د منافقينو په لست کي خو به زما نوم نوي: ........ | ۱۷۸ |
| ۱۲۲. | د خپلي غلطي فوراً تأويل نه کول: ........ | ۱۷۹ |
| | **﴿مجاهده کول ضروري دي﴾** | |
| ۱۲۳. | تمهيد: ........ | ۱۸۳ |
| ۱۲۴. | د دنيا په کارو کي مجاهده کول: ........ | ۱۸۴ |
| ۱۲۵. | دماشوموالي څخه د مجاهدې عادت جوړول: ........ | ۱۸۴ |
| ۱۲٦. | درې (۳) عالمه: ........ | ۱۸۴ |
| ۱۲۷. | عالم جهنم: ........ | ۱۸۵ |
| ۱۲۸. | د دنيا عالم: ........ | ۱۸٦ |
| ۱۲۹. | د عبرته ډکه واقعه: ........ | ۱۸۷ |
| ۱۳۰. | هر کار د الله تعالی د رضا لپاره کول: ........ | ۱۸۹ |
| ۱۳۱. | د تهجد پر وخت د الله تعالی د طرفه اعزاز: ........ | ۱۹۱ |
| ۱۳۲. | د دوو (۲) بزرګانو واقعه: ........ | ۱۹۱ |
| ۱۳۳. | اساني راتلل: ........ | ۱۹۲ |
| ۱۳۴. | په جائزو کارو کي مجاهده: ........ | ۱۹۴ |
| ۱۳۵. | څلور (۴) مجاهدات: ........ | ۱۹۴ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست

| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۳۶. | د لږ خورک کولو حد او اندازه: | ۱۹۴ |
| ۱۳۷. | د عقل او نفس منازعه: | ۱۹۵ |
| ۱۳۸. | وزن به هم کم سي، او الله تعالی به هم راضي سي: | ۱۹۵ |
| ۱۳۹. | د ماړه نس خرابي: | ۱۹۶ |
| ۱۴۰. | لږ خبري کول مجاهده ده: | ۱۹۷ |
| ۱۴۱. | دریمه مجاهده: کم ویدېدل: | ۱۹۸ |
| ۱۴۲. | د خلګو سره تعلقات لږ ساتل: | ۱۹۹ |
| ۱۴۳. | زړه یو هنداره ده: | ۱۹۹ |
| | ﴿د فتني د دور علامې، اوله حصه﴾ | |
| ۱۴۴. | تمهید: | ۲۰۳ |
| ۱۴۵. | د را روانو حالاتو خبرتیا: | ۲۰۵ |
| ۱۴۶. | د امت د نجات فکر: | ۲۰۶ |
| ۱۴۷. | د پیغمبر ﷺ غم: | ۲۰۶ |
| ۱۴۸. | د راتلونکي زمانې فتنې: | ۲۰۸ |
| ۱۴۹. | فتنه څه ده؟: | ۲۰۹ |
| ۱۵۰. | د فتنې معنٰی: | ۲۱۰ |
| ۱۵۱. | په حدیث شریف کي د فتنې لفظ: | ۲۱۰ |
| ۱۵۲. | د دوو (۲) جماعتونو په مابین کي جنګونه فتنه ده: | ۲۱۱ |
| ۱۵۳. | په مکه مکرمه کي د فتنو ښوونه: | ۲۱۴ |
| ۱۵۴. | د مکې مکرمې په نس کي لاري وتل: | ۲۱۴ |
| ۱۵۵. | د مکې مکرمې د عمارتونو لوړوالی: | ۲۱۵ |
| | ﴿د فتنې د دور علامې، دوهمه (۲) حصه﴾ | |
| ۱۵۶. | تمهید: | ۲۱۹ |
| ۱۵۷. | د حضرت علي رضي الله عنه روایت: | ۲۲۰ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۵۸. | په مال غنيمت کي د خيانت کولو نقصان:........................ | ۲۲۲ |
| ۱۵۹. | په مال غنيمت کي د خيانت کولو يوه واقعه:........... | ۲۲۳ |
| ۱۶۰. | د قومي خزانې غلا کونکی څوک دی؟:.................... | ۲۲۴ |
| ۱۶۱. | په قومي مال کي د خيانت کونکو د قبر حالت:.............. | ۲۲۵ |
| ۱۶۲. | دوهمه(۲) علامه په امانت کي خيانت کول:.................. | ۲۲۶ |
| ۱۶۳. | پر شپږو (۶) کارو د جنت ذمه داري:.......................... | ۲۲۸ |
| ۱۶۴. | دريمه(۳) علامه زکوة تاوان بلل:.............................. | ۲۲۸ |
| ۱۶۵. | د زکوٰة ادا کولو فضيلت:.......................................... | ۲۲۹ |
| ۱۶۶. | پر زکوة نه ادا کولو باندي وعيدونه:............................ | ۲۲۹ |
| ۱۶۷. | د قيامت په ميدان کي د زکوٰة نه ادا کونکي انسان حالت...... | ۲۳۰ |
| ۱۶۸. | د مال هلاک کولو مطلب:.......................................... | ۲۳۰ |
| | ﴿د فتنې د دور علامې، دريمه(۳) حصه﴾ | |
| ۱۶۹. | تمهيد:......................................................... | ۲۳۵ |
| ۱۷۰. | د مور او پلار حقوق:............................................ | ۲۳۷ |
| ۱۷۱. | د مور د خدمت بدله نسي ور کېدلای:............................ | ۲۳۸ |
| ۱۷۲. | د مور او پلار نافرماني ډېره لويه ګناه ده:.................... | ۲۳۹ |
| ۱۷۳. | حضرت موسیٰ علیه السلام ته د الله تعالی وينا:................ | ۲۴۰ |
| ۱۷۴. | د مور د نافرمانۍ سزا:............................................ | ۲۴۱ |
| ۱۷۵. | د مور دُعا:...................................................... | ۲۴۴ |
| ۱۷۶. | عبرتناکه واقعه:................................................ | ۲۴۴ |
| ۱۷۷. | عبرتناکه انجام:................................................ | ۲۴۶ |
| ۱۷۸. | ميندي داسي هم وي:............................................ | ۲۴۷ |
| ۱۷۹. | د مور او پلار لس(۱۰) حقونه:.................................. | ۲۵۳ |

# د مضامینو تفصیلي فهرست

شماره | صفحه

## ﴿د فتنې د دور علامې، څلورمه (۴) حصه﴾


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۸۰. | تمهید: .................... | ۲۵۷ |
| ۱۸۱. | اتمه(۸) علامه: په مسجد کي شور جوړول: .......... | ۲۵۸ |
| ۱۸۲. | په مسجد کي د خبرو څخه ځان ساتل: .......... | ۲۵۹ |
| ۱۸۳. | د جنت د حورو مهر: .................... | ۲۶۰ |
| ۱۸۴. | د پنځو (۵) اعمالو اهتمام کول: .................... | ۲۶۱ |
| ۱۸۵. | مساجد د بیت الله بناخونه دي: .................... | ۲۶۱ |
| ۱۸۶. | زموږ د اسلافو عادت: .................... | ۲۶۲ |
| ۱۸۷. | د مؤمن په زړه کي د مسجد محبت ضروري دی: .......... | ۲۶۳ |
| ۱۸۸. | د مسجد سره زړه تړونکی انسان د عرش تر سایه لاندي وي: .... | ۲۶۴ |
| ۱۸۹. | په مسجد کي د ناستي تعلیم: .................... | ۲۶۵ |
| ۱۹۰. | د الله تعالی دري (۳) آوازونه خوښ دي: .......... | ۲۶۶ |
| ۱۹۱. | د مؤذن احسان: .................... | ۲۶۶ |
| ۱۹۲. | د مسجد متعلق زموږ د اسلافو اقوال: .......... | ۲۶۹ |
| ۱۹۳. | په جنت کي د کور وعده: .................... | ۲۷۰ |
| ۱۹۴. | په دریو (۳) کارو کي د الله تعالی مدد: .......... | ۲۷۱ |
| ۱۹۵. | د مدني زندګی آغاز د مسجد د تعمیر څخه وو: .......... | ۲۷۲ |


## ﴿د فتنې د دور علامې، پنځمه (۵) حصه﴾


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۹۶. | تمهید: .................... | ۲۷۵ |
| ۱۹۷. | لسمه (۱۰) علامه: .................... | ۲۷۶ |
| ۱۹۸. | د حضرت ابو شریح عدوي رضي الله عنه او د عمرو بن سعید مناظره: ... | ۲۷۶ |
| ۱۹۹. | د حضرت ابو هریره رضي الله عنه او د مروان سوال او جواب: .......... | ۲۷۸ |
| ۲۰۰. | د سعید بن جبیر رحمة الله علیه او حجاج سوال او جواب: .......... | ۲۷۹ |
| ۲۰۱. | یوولسمه (۱۱) علامه؛ شراب عام کېدل: .......... | ۲۸۱ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۰۲. | د شراب په باره کې پر لسو (۱۰) انسانانو لعنت: | ۲۸۲ |
| ۲۰۳. | په آخرت کې د شراب چیښونکی عذاب: | ۲۸۲ |
| ۲۰۴. | دوولسمه (۱۲) علامه: د نارینه د ورېښمو استعمال: | ۲۸۳ |
| ۲۰۵. | حضرت علي رضي الله عنه ته د پیغمبر صلی الله علیه وسلم غصه: | ۲۸۳ |
| ۲۰۶. | دیارلسمه (۱۳) علامه: د غزلو او اتڼونو لپاره زناني ساتل: | ۲۸۴ |
| ۲۰۷. | د فتنو د زمانې څورلسمه (۱۴) علامه: | ۲۸۶ |
| ۲۰۸. | د شیطان غوښتنه: | ۲۸۷ |
| ۲۰۹. | د فتنو د زمانې پنځلسمه (۱۵) علامه: | ۲۸۷ |
| ۲۱۰. | لویه فتنه: | ۲۸۸ |
| ۲۱۱. | د ابوبکر رضي الله عنه فضائل: | ۲۸۹ |
| | **﴿د حضرت ابوبکر رضي الله عنه وفات﴾** | |
| ۲۱۲. | تمهید: | ۲۹۵ |
| ۲۱۳. | بې غرضه محبت: | ۲۹۶ |
| ۲۱۴. | د ملک الموت قاصد: | ۲۹۸ |
| ۲۱۵. | مرګ ولې راځي؟: | ۲۹۸ |
| ۲۱۶. | د انسان تر دنیا تېرېدل: | ۲۹۹ |
| ۲۱۷. | د مرګ څخه ماتې خوړل: | ۲۹۹ |
| ۲۱۸. | د الله تعالی دیدار: | ۳۰۰ |
| ۲۱۹. | د حضرت ابوبکر رضي الله عنه د عشق حالت: | ۳۰۰ |
| ۲۲۰. | طبیب راوستل: | ۳۰۲ |
| ۲۲۱. | د حضرت ابوبکر رضي الله عنه خوب لیدل: | ۳۰۲ |
| ۲۲۲. | د حضرت ابوبکر رضي الله عنه تدفین: | ۳۰۴ |
| ۲۲۳. | د حضرت ابوبکر رضي الله عنه د آخرت پرېشاني: | ۳۰۵ |
| ۲۲۴. | د حضرت ابوعبیده رضي الله عنه خوب: | ۳۰۵ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۲۲۵. | حضرت ابوبكر ﷛ ته د جنت بشارت او زيرى: | ۳۰۶ |
| ۲۲۶. | د حضرت ابوبكر ﷛ فضائل د حديثو په رڼا كي: | ۳۰۷ |
| ۲۲۷. | د ابوبكر د لفظ لغوي تحقيق: | ۳۰۸ |
| ۲۲۸. | اوليات صديقي: | ۳۰۸ |
| ۲۲۹. | د حضرت ابوبكر ﷛ تمنٰى: | ۳۰۹ |
| | ﴿د حضرت عمر ﷛ شهادت﴾ | |
| ۲۳۰. | تمهيد: | ۳۱۳ |
| ۲۳۱. | د پيغمبر ﷺ پوښتنه: | ۳۱۴ |
| ۲۳۲. | د امام مالك رحمة الله عليه خوب: | ۳۱۴ |
| ۲۳۳. | محموده او مذمومه زندګي: | ۳۱۶ |
| ۲۳۴. | د مرګ عجيبه منظر دى: | ۳۱۷ |
| ۲۳۵. | د حضرت عمر ﷛ شهادت: | ۳۲۰ |
| ۲۳۶. | د حضرت عمر ﷛ خوب ليدل: | ۳۲۰ |
| ۲۳۷. | د فيروز نامي غلام پر حضرت عمر ﷛ حمله، او شهادت: | ۳۲۱ |
| | ﴿د حضرت عثمان ﷛ شهادت، اوله حصه﴾ | |
| ۲۳۸. | تمهيد: | ۳۳۱ |
| ۲۳۹. | د حضرت عبد الله بن عمر ﷛ وينا: | ۳۳۲ |
| ۲۴۰. | د هري ورځي عدد او شمار: | ۳۳۳ |
| ۲۴۱. | د امام غزالي رحمة الله عليه وينا: | ۳۳۳ |
| ۲۴۲. | د قبر آواز: | ۳۳۴ |
| ۲۴۳. | د حضرت عثمان ﷛ ژړا: | ۳۳۵ |
| ۲۴۴. | د حضرت عثمان ﷛ د شهادت پيشګوئي: | ۳۳۶ |
| ۲۴۵. | د حضرت عثمان ﷛ په وخت كي د فتنو ابتدا: | ۳۳۷ |
| ۲۴۶. | د حضرت عثمان ﷛ امتيازي خصوصيات: | ۳۴۳ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۴۷. | حضرت عثمان رضي الله عنه د حضرت ابو بکر رضي الله عنه په نظر کي: ......... | ۳۴۵ |
| | ﴿د حضرت عثمان رضي الله عنه شهادت، دوهمه حصه﴾ | |
| ۲۴۸. | تمهيد: ......... | ۲۴۹ |
| ۲۴۹. | د حضرت عثمان رضي الله عنه د سخاوت واقعه: ......... | ۳۵۱ |
| ۲۵۰. | د صدقې برکات: ......... | ۳۵۲ |
| ۲۵۱. | د حضرت حسن او حسين رضي الله عنهما سخاوت: ......... | ۳۵۳ |
| ۲۵۲. | د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت دوهمه واقعه: ......... | ۳۵۶ |
| ۲۵۳. | په مدينه منوره کي د مرګ راتللو تمنٰى: ......... | ۳۵۷ |
| ۲۵۴. | د حضرت عثمان رضي الله عنه تمنٰى: ......... | ۳۶۱ |
| ۲۵۵. | د حضرت عثمان رضي الله عنه خوب ليدل: ......... | ۳۶۱ |
| ۲۵٦. | د حضرت حسن رضي الله عنه خوب ليدل: ......... | ۳۶۵ |
| ۲۵۷. | د عثمان رضي الله عنه د قاتلينو انجام: ......... | ۳۶۶ |
| | ﴿د حضرت علي رضي الله عنه شهادت﴾ | |
| ۲۵۸. | تمهيد: ......... | ۳۶۹ |
| ۲۵۹. | د نيکبخته انسانانو شپه او ورځ: ......... | ۳۷۰ |
| ۲٦۰. | د نيک انسان د الله تعالى په حضور کي قدرداني: ......... | ۳۷۱ |
| ۲٦۱. | د پيغمبر ﷺ د حجرې مبارکې واقعه: ......... | ۳۷۲ |
| ۲٦۲. | د حضرت علي رضي الله عنه تعارف: ......... | ۳۷۳ |
| ۲٦۳. | د حضرت علي رضي الله عنه علم: ......... | ۳۷۳ |
| ۲٦۴. | مشکل سوالات او د هغه جوابات: ......... | ۳۷۴ |
| ۲٦۵. | د حضرت علي رضي الله عنه فراست: ......... | ۳۷۵ |
| ۲٦٦. | د حضرت علي رضي الله عنه شهادت: ......... | ۳۷۶ |
| ۲٦۷. | حضرت علي رضي الله عنه ته د پيغمبر ﷺ پيشګوئي: ......... | ۳۷۷ |
| ۲٦۸. | د حضرت علي رضي الله عنه خوب: ......... | ۳۷۹ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲٦۹. | د الله تعالی لطرفه څلورو (۴) خلیفګانو ته تحفه: | ۳۸۱ |
| ۲۷۰. | د پیغمبر ﷺ د حق اعلان: | ۳۸۳ |
| | ﴿پر استقامت د الله تعالی انعام﴾ | |
| ۲۷۱. | تمهید: | ۳۸۹ |
| ۲۷۲. | د ټولو څخه زیات عبادت کونکی انسان: | ۳۹۱ |
| ۲۷۳. | ګناه پرېښوول او عبادت کول: | ۳۹۲ |
| ۲۷۴. | د حضرت ایوب علیه السلام امتحان: | ۳۹۳ |
| ۲۷۵. | د الله تعالی د محبت پوښتنه: | ۳۹۴ |
| ۲۷٦. | د حضرت ابراهیم علیه السلام قدرداني: | ۳۹۵ |
| ۲۷۷. | د حضرت زید بن حارثه رضي الله عنه قدرداني: | ۳۹۶ |
| ۲۷۸. | د حضرت ذوالبجادین رضي الله عنه قدرداني: | ۳۹۷ |
| ۲۷۹. | د حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه قدرداني: | ۴۰۰ |
| ۲۸۰. | د الله تعالی افسوس ښکاره کول: | ۴۰۱ |
| ۲۸۱. | د بې پردګۍ انجام: | ۴۰۱ |
| ۲۸۲. | د حالاتو رُخ اړول: | ۴۰۳ |

# سریزه

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَ كَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ خَيْرِ الْوَرٰى وَعَلٰى آلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ نُجُوْمُ الْاِهْتِدٰى.

امابعد: یو څه زمانه مخکي د بنده د تقریرونو یو مسوّده د زادالخطباء په نامه چي حجم ئې پنځه جلده ته رسېدلی وو، تر چاپ ووتله.

د هغه دزیات چاپېدلو په وجه بنده ته دا معلومه سوه: چي ان شاء الله د دغه څخه په معاشره کي یو څه کسان استفاده اخلي، او هم ضرورت ورته لري، نو د هغه په وجه بنده د خپلو تقریرونو را جمعه کولو و سلسلې ته دوام ور کړی، پدې نیت باندي: چي زه به لږ محنت وکړم، او ان شاء الله زما دغه محنت به د یو څه انسانانو لپاره د نفعي ذریعه وګرځي.

اوس فی الحاله! یوه بله مسوّده هم د بنده د راجمعه سوو تقریرونو په نامه ده: "مفتاح الخطابة" سره و چاپ ته سپارل کیږي، او ډېر ژر به د شائقینو لاس ته ورسیږي، الله تعالی دي ئې د عامو مسلمانانو لپاره د نفعي او فائدې ذریعه وګرځوي.

د مفتاح الخطابة د مطالعې په وخت کي باید دا خبره د مطالعه کونکو په ذهن کي پرته وي: چي دا څه با قاعده تصنیف نه دی، بلکه د لیکل سوو تقریرو یوه خلاصه ده.

او د دې کتاب طریقه تحریري نه ده، بلکه تقریري او خطابي ده، که چیري یو مسلمان د دې څخه فائده واخلي، دا محض د الله تعالی کرم او مهرباني ده: چي پر دې باندي به زه بنده د الله تعالی شکر ادا کوم.

او که یو خبره په دې تقریرو کي غیر محتاطه او غیره مفیده وي، نو یقینا دا به زما د غلطۍ او کوتاهۍ په وجه وي، ځکه زه په دې خبره اقرار کوم: چي په ما کي ډېري کمزوریاني دي، شاید هغه کمزوریاني به په دې تقریرو کي هم راغلي وي.

لېکن بیا هم زه د احبابو علماء کرامو او طلباء عظامو څخه درد مندانه خواهش کوم چي یوه قاعده ده:

.......مَا لَا يُدْرِكُ كُلَّهُ لَا يُتْرَكُ كُلُّهُ﴾.
کېدلای سي: چي په دې موادو کي ستاسو په کار يو شی درسي نو تاسو په خير او خوبي په دې کي نظر وکړی، او د کمزوريانو څخه يې خپل نظر را وګرځوی:
........وَالْعَفْوَ عِنْدَ كِرَامِ النَّاسِ مَأْمُوْلٌ﴾.
الله تعالی دي په خپل فضل او کرم سره دا يوڅو مختصر تقريرونه خپله زما بنده او د ټولو ويونکو لپاره د اصلاح ذريعه وګرځوي، او هم دي ئې د آخرت د نجات ذريعه وګرځوي، او چي کومو کسانو د دې تقريرو په برابرولو کي هر قسم خدمت کړی دی، الله تعالی دي دوی ته د خپل خدمت بهترينه صله او بدله ورکړي.

﴿وَمَا ذَلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ﴾

وَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ وَ صَحْبِهِ اَجْمَعِيْن

**اطيع الله عفی عنه**

**بن حاجی ملا عبد العزيز (مرحوم)**

خادم التدريس جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

جمادی الاولی ۱۴۴۴ ہجری بمطابق ۲۰۲۲

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الايه)

# د نکاح سنت طریقه، (اول بیان)

(بیان)


مولوی اطیع الله صاحب

استاذالحدیث جامعه اسلامیه (علامه ٹاؤن) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹه

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولیٰ ۱۴۴۴ ھ مطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْــــمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : ﴿ اَلنِّكَاحُ مِنْ سُنَّتِي﴾.(۲)

وَ قَالَ فِي مَقَامٍ آخَرَ: ﴿وَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي ﴾.(۳)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د انسان ژوندګي امتحاني ده:

محترمو حاضرينو! الله تعالی انسان ته په دنيا کي ژوندګي ورکړېده، خو د انسان ژوندګي په دنيا کي يو امتحاني ژوندګي ده.

د دغه امتحاني دورانيې ابتدا دانسان د بلوغ د وخت څخه شروع کيږي، او انتها ئې دانسان د دنيا څخه د رخصت پر اخيستلو باندي وي.

او د دې امتحان د کاميابۍ او ناکامۍ معلومات انسان ته پخپله هم پر حالت د ژکندن ښکاره کيږي.

او باقاعده الله تعالی د قيامت په ميدان کي اعلان هم کوي، لکه حديث قدوسي دی: الله تعالی به د قيامت په ميدان کي انسانيت ته په لوړ آواز وايي:

---

(۱) الشرح آيت نمبر: ۱-۴

(۲) سنن ابن ماجه: حديث نمبر ۱۸۴۶

(۳) السنن الکبري للامام النسائي: حديث نمبر ۷۱

.... يا عبادِيْ! اِنّي اَمسكتُ لكُمْ مُنذ انْ خلقكُمْ اِلى يوْمِكُمْ هٰذا
اې زما بندګانو! ما ستاسو د پيدا کېدلو د وخت څخه تر ننه پورې په ډېره خاموشي سره ستاسو حالات وليدل.
........ نظرْتُ اعْمالكُمْ وَ سمعْتُ اقْوالكُمْ﴾.
چې څه مې کول، هغه مې ټوله وليدل، او چې څه مې ويل، هغه مې ټوله واورېدل.
ستاسو:

- معاملات او تجارتونه مې وليدل.
- او ستاسو معاشرت او اخلاق مې وکتل.
- او هم مې ستاسو وېناګانې او قولونه واورېدل.

ستاسو صحيح او غلط اعمال زما په حضور کې ټوله ښکاره او واضح سول.
..........اَلْيَوْمَ اَنصِتُوْا لِيْ﴾.
نن به تاسو ټول خاموشه ياست، او زه به ستاسو دزندګۍ د نتيجې اعلان کوم.
هٰذِهٖ اَعْمَالُکُمْ﴾.
دغه ستاسو د زندګۍ کړي اعمال دي، ورسئ! تاسو ئې پخپله وګورئ: چې څه مې په دنيا کې کړېدي، هغه ټول دلته حاضر دي.
...........فَمَنْ وَجَدَ فِيْهِ خَيْرًا فَلْيَحْمَدُاللهَ﴾.
که د چا د خير اعمال زيات وي، نو دالله تعالی حمد دې بيان کړي، پر دې چې هغه کاميابه زندګي تېره کړېده.
..........وَ مَنْ وَجَدَ فِيْهِ غَيْرَ ذٰلِکَ فَلَا يَلُوْمَنَّ اِلَّا نَفْسهٖ﴾.
او کچيرې د خير په اعمالو کې ئې کمي وي، او نا کامه زندګي ئې تېره کړېوي، نو د هغه ملامتيا دې پر خپل ځان واچوي.
او د قيامت په ميدان کې به د کاميابۍ د نتيجې اعلان کونکی د الله تعالی په امر سره حضرت جبرائيل عليه السلام وي.
چې هغه به د الله تعالی د عرش ښنه نيولې وي، او دا اعلان به کوي:
..........اِنَّ فُلَانَ اِبْنَ فُلَان قَدْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ﴾.
فلانکی د فلانکي زوی د هغه د نيکو اعمالو تله درنه سوه.

........و سَعِدَ سَعَادَةً لَا يَشْقَى بَعْدَهَا اَبَدًا﴾.
هغه د داسي کامیابۍ او نیک بختۍ سره یو ځای سو، چي د هغه څخه وروسته بیا هیڅ کله بد بختي او ناکامي ده لره نه راځي.
او کچیري د انساني زندګۍ د ناکامۍ اعلان وي، نو بیا خو حضرت جبرائیل علیه السلام پدې الفاظو اعلان کوي:
........اِنَّ فُلَانَ اِبْنَ فُلَان قَدْ خفَّتْ مَوَازِيْنُهُ﴾.
فلانکی د فلانکي زوی د هغه د نیکو اعمالو تله سپکه سوه، یعني هغه ناکامه زندګي تېره کړې ده.
........وَ شَقَى شَقَاوَةً لَايَسْعَدُ بَعْدَهَا اَبَدًا﴾.
هغه د داسي بد بختۍ او ناکامۍ سره مخامخ سو، چي بیا به هیڅکله نیک بختي او کامیابي دی نه ویني.(۱)
د هغه څخه وروسته به الله تعالی خپله آخرنی فیصله د قیامت په میدان کي پخپله اعلانوي. چي:
........فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ﴾.
اې انسانانو! ستاسو د زندګۍ نتیجه اعلان سوه، په هغه کي تاسو بعضي بدبخته او ناکامه ښکاره سواست، او بعضي نیک بخته او کامیابه ښکاره سواست، چي کم څوک ناکامه واست، د هغوی سزا دغه ده:
........فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ﴾.
ناکامه او بدبخته انسانان به په جهنم کي وي، چي هلته به ددوی بد حالت او بېکاره آوازونه راپورته کېږي.
چي کم څوک کامیابه واست، د هغوی لپاره انعام دغه دی:
........وَأَمَّا الَّذِينَ سُعِدُوا فَفِي الْجَنَّةِ خَالِدِينَ﴾.
چي کم څوک نیک بخته او کامیابه دي، هغه به اوس دېره اوږده زمانه په جنت او د هغه په نعمتونو کي ژوند تېروي.(۱)

(۱) بیانات جیل: جلد نمبر ۳، صفحه نمبر ۴۰۵-۴۰۷

## د امتحان اخیستلو طریقه:

خو په دنیا کي د انسان د کامل او ښه امتحان اخیستلو لپاره الله تعالی پر انسان یو څه زمه داری اېښې دي، چي زموږ او ستاسو په اصطلاح کي هغه ته عبادات او د شریعت احکام ویل کیږي. مثلاً:

- لمونځ یو عبادت دی.
- زکوة عبادت دی.
- روژه عبادت دی.
- حج او عمره عبادت دی.

دغه رنګه د مسلمان نارینه او زنانه په مابین کي په شرعي طریقه سره نکاح کول، هم یو عبادت دی.

لکه څنګه چي د لمانځه، زکوة، روژه، او حج لپاره یو طریقه سته، چي په شریعت سره ثابته ده، دغه رنګه د نکاح کولو هم یو طریقه زموږ شریعت و موږ ته رابښوولي ده، چي هغه زموږ او ستاسو لپاره د پیغمبر ﷺ سنت طریقه بلل کیږي.

خو چي کله یو انسان لمونځ پر هغه طریقه باندي وکړي، چي څومره فرائض وي، او هم واجبات او سنن د لمانځه وي، د هغه ټولو لحاظ وکړي، نو بیا خو د هغه لمانځه برکت او نورانیت دا وي: چي د دغه بنده لپاره د ټولو ګناهونو څخه د راګرځولو ذریعه ګرځي. لکه الله تعالی فرمایي:

............﴿إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ﴾.(۲)

لمونځ انسان د فحش او منکرو اعمالو څخه رامنعه کوي.

او خدانخواسته کچیري یو انسان په لمانځه کي هغه د شریعت څخه د ثابتي طریقې یعني د سنت طریقې لحاظ نه کوي، او هسي د لمانځه څخه په یو طریقه د طریقو ځان خلاصوي، نو زه منم، چي ذمه خو به ئې د لمانځه د ادا کولو څخه فارغه سي، لېکن په

(۱) سورة هود، آیت نمبر ۱۰۵-۱۰۷

(۲) سورة العنکبوت، آیت نمبر ۴۵

لمانځه کي چي کم برکت او نورانيت دی، دهغه څخه به بلکل محروم او بې نصيبه وي.

زکوة هم داغه رنګه د الله تعالی يو حکم او عبادت دی، او د هغه لپاره خپل شرائط او مصارف دي، کچيري هغه پخپلو شرائطو سره ادا سي، او خپل مصارفو ته ورسيږي، نو په هغه کي بيا برکت او نورانيت دا راځي، چي د هغه په ذريعه به الله تعالی د مال حفاظت راولي.

لکه پيغمبر ﷺ فرمايي:

............حَصِّنُوا أمْوالَكُمْ بالزَّكاةِ﴾.(١)

تاسو د خپلو مالونو حفاظت په زکوة سره کوئ! ، يعني ستاسو د مال د حفاظت بهترينه قلعه زکوة دی، چي په هغه کي به ستاسو مال محفوظه وي.

ليکن خدانخواسته! کچيري د يو سړي زکوة پر رواج او تعلقاتو باندي وي. يا د خوابني او خوښيني د اختر پر مبارکيو باندي وي، د دې فکر ور سره نه وي: چي دا ئې صحيح مصارف دي، او کنه، نو مال خو به ئې خرڅ سي، ليکن دزکوة چي کم مقصد دمال حفاظت وو، يا په مال کي طهارت او پاکي وه، د هغه څخه محروم او بې نصيبه پاته سو.

داغه رنګه روژه هم د الله تعالی عبادت دی، چي د هغې مقصد ظاهراً د انسان کسر د شهوت، او په انسان کي تقوی پيدا کېدل دي، او باطناً ئې مقصود د الله تعالی رضا ده.

اوس کچيري يو انسان روژه په ښه شکل باندي او په سنت طريقه او چي د شريعت څخه کمه ثابته طريقه ده، ونيسي، نو بيا خو به ئې يقيناً هم ظاهري او باطني مقاصد د روژې ټوله لاسته راسي، هم به الله تعالی ځني راضي سي، او هم به ئې په ژوند کي تقوی نصيب سي.

بلکه روژه خو لا داسي مبارک عمل ده: چي د قيامت په ميدان کي د انسان ټوله اعمال لکه: لمونځ، حج، عبادات، بلکه ټوله عبادات قرض دارانو ته ور کول کيږي، يو روژه

(١) المعجم الاوسط: حديث نمبر ٢٧٢

داسي عمل دی: چي هغه هيڅ قرض داره د انسان څخه نه سی وړلای، ځکه حديث قدوسي دی، چي الله تعالی فرمايي:

............الصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ﴾.(۱)

روژه زما لپاره ده. او زه به د هغې اجر او ثواب ور کوم. يعني: نورو عباداتو کي رياکاري کيدلای سي. چي هغه ته شرک اصغر ويل سويدي، يو روژه داسي پوشيده عبادت دی: چي په هغه کي هيڅ قسم رياکاري راتللای نه سي.

ليکن خدانخواسته! کچيري يو انسان روژه نيسي، ليکن د هغه سنت او د شريعت څخه د ثابتي طريقې هيڅ خيال په روژه کي نه ساتي، نه د درواغو څخه ځان راگرځوي، او نه د غيبت څخه ځان گوري، او نه بله گناه پرېږدي، نو زه دا وايم: چي صحيح ده: ذمه به ئې فارغه سي، ليکن د روژې هغه صحيح مقصد او نورانيت ئې نه په نصيب کيږي، لکه پېغمبر ﷺ فرمايلي دي:

............إِذَا لَمْ يَدَعِ الصَّائِمُ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ ، وَالْجَهْلَ فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ.(۲)

روژه نيونکی چيکله درواغ نه پرېږدي، او نه د درواغو معامله پرېږدي، او نه د جهالت افعال او اقوال پرېږدي، نو بيا خو د الله تعالی و دې ته هيڅ حاجت نسته، چي دی خورک او چيښک پرېږدي، يعني: خورک او چيښک پرېښول ئې هم د ډېره زياته گټه نه لري.

اوس که يو سړی د مفتي څخه پوښتنه وکړي: چي ما روژه هم نيولې وه، او درواغ مي هم وويل: زما روژه څنگه سوه، نو هغه خو به دا جواب ورکوي، چي ستا ذمه د روژې څخه فارغه سوه، ليکن په روژه چي کم نورانيت او برکت وو، هغه د انسان نه په نصيب کيږي.

حج هم يو عبادت دی، که د شريعت په هغه ثابته طريقه سره وسي، نو بيا خو د گناهونو څخه د صفا والي د ډېره لويه ذريعه ده، ځکه حديث شريف دی:

............مَنْ حَجَّ لِلَّهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ﴾.(۱)

(۱) کنز العمال: حديث نمبر ۴۳۳۰۵

(۲) السنن الصغري، لاحمد البيهقي: حديث نمبر ۱۴۶۶

چي کم څوک حج وکړي، او په هغه کي فحش خبري او فسق نه وکړي، نو د حج څخه د واپس راتللو ورځ ئې داسي وي، لکه د مور څخه چي پيدا سوی وي، يعني: ګناهونه ئې ټول معاف سويوي.

ليکن خدانخواسته! کچيري انسان حج د شريعت او سنت پر طريقه باندي نکوي، او نه ځان د ګناهونو څخه پکښي ګوري، بلکه حج د نورو اغراضو لپاره کوي.

لکه پيغمبر ﷺ فرمايي: چي:

- قيامت ته نزدې به زما د امت مالداران حج ته د تفريح او سير په نيت ځي.
- او درميانه طبقه به د تجارت په نيت حج کوي، او علماء د رياکارۍ او شهرت په نيت حج کوي.
- او غريبان به ئې د سوال او فقر په نيت سره حج ته ځي.

نو بيا خو د حج په کولو سره به د ده ذمه فارغه سي، ليکن چي د حج کم صحيح مقصد دی، چي: هغه د ګناه څخه صفا کېدل دي، هغه هيڅکله د ده نه په نصيب کيږي.

## نکاح پر سنت طريقه کول:

دغه رنګه د نارينه او زنانه په مابين کي د نکاح د عقد انعقاد هم يو عبادت دی، او د دې لپاره خپله سنت طريقه سته، کچيري په هغه کي د سنت طريقې خيال وساتل سي، نو بيا خو به الله تعالی په هغه کي ډېر خير او برکت راولي. او زوجينو ته به الله تعالی د خوشحالۍ او اطمينان او سکون ژوند ور نصيب کړي.

او هم چي د دغه نکاح څخه کم بچي پيدا سي، هغه به د معاشرې بهترين افراد وي، او هم به الله تعالی ښائسته معاشره د انسانانو ځني جوړوي.

ليکن خدانخواسته! کچيري د نکاح عقد کيږي، او په هغه کي ټوله رواجونه او غلطي طريقې شروع وي، او هغه د فسق او فساد يو ملغوبه وګرځي، نو بيا خو الله تعالی د هغه څخه هغه نورانيت او برکت پورته کړي.

د هغې نتيجه دا راووزي: چي هغه زنانه او خاوند په ژبه نه سره پوهيږي، او چيکله ئې بچي پيدا سي، نه د مور او پلاره سره په خبره ځان پوه کوي، او نه د مور او پلار قدر او

(۱) صحيح البخاري: حديث نمبر ۱۵۲۱

احترام لري، او نه هغه زنانه د خپله خوابني او د نورو انسانانو سره ښې ګوزارې کولو ته تیاره وي، نو ئې د کور زندګي د نفرتونه په وجه د جهنم یو منظر پیشوي.

## په هر عمل کي د سنت طريقې خيال ساتل:

نو ځکه د هر مسلمان نارينه او زنانوو لپاره لکه څنګه چي په نورو عباداتو کي د سنت طريقې خيال ساتل ضروري دي، او په هغه کي ددوی نفعه او ګټه ده، نو داغه رنګه بايد د نکاح په انعقاد کي هم دوی د سنت طريقې زيات خيال وساتي، چي په هغه کي الله تعالی دوی ته اطمينان او سکون ور نصيب کړي.
پيغمبر ﷺ پخپله هم د ځان نکاح تړلې ده، او هم ئې د خپلو لوڼو نکاح ور کړېده، او د صحابه کرامو ﷺ نکاحونه ئې هم ور تړلي دي.
بيا خاص ده مبارک د خپلي ګراني لور حضرت فاطمة الزهراء ﷺ چي د جنت د ټولو زنانو سرداره وه، نکاح هم پخپله ور کړېده، چي د هغه واقعه د سيرت په کتابو کي ليکلې ده.
زه ستاسو و مخ ته د هغه يو څه خلاصه پيشوم، چي کم ازکم موږ ته خو دا معلومه سي: چي پيغمبر ﷺ د خپلي مبارکي لور نکاح څنګه وکړه؟ د هغه څخه زموږ لپاره کم سبق اخيستل پکار دي؟ چي موږ هم د هغه مطابق د عمل کولو کوشش وکړو.
چي الله تعالی زموږ په نکاحونو کي نورانيت او برکت راولي، او هم مي د خوشحالی ژوند په نصيب سي، او الله تعالی دې معاشره ته نيک او صالح بچيان ور نصيب کړي.

## د حضرت فاطمة الزهراء ﷺ د نکاح واقعه:

چيکله د حضرت فاطمة الزهراء ﷺ عمر مبارک پنځلس(۱۵) کاله ته ورسېدی، نو د پيغمبر ﷺ سره د دې مبارکي دنکاح کولو فکر پيدا سو، ځکه د پيغمبر ﷺ خپله عادت او عام امت ته دا هدايت وو، او حضرت علي ﷺ ته ئې خاص دا وينا وه:
............ثَلاثَةٌ يَا عَلِيُّ لاَ تُؤَخِّرْهَا :
درې(۳) شيان داسي دي: اې علي! چي په هغه کي هيڅکله تأخير مه کوه.
۱. ............ وَالْجَنَازَةُ إِذَا حَضَرَتْ ﴾. جنازه چيکله راسي، نو دهغې په لمانځه کي هيڅکله ځنډ مه کوه، د جنازې د لمانځه په باره کي بعضي فقهاؤ ليکلي

دي: كچيري په داسي وخت كي جنازه حاضره سوه، چي د وقتي لمانځه لپاره جماعت تيار وو، نو اول دي فرض لمونځ ادا كړي، د هغه څخه وروسته دي متصل د جنازې لمونځ ادا سي، او وروسته ته دي بيا سنت ادا سي، ليكن بعضي نورو فقهاؤو بيا صرف دومره ګنجائش بيان كړی دی: چي د فرضي لمانځه څخه وروسته سنت دي هم ادا كړي، ليكن نفلونه كول جائز ندي، چي تر څو پوري د جنازې لمونځ ئې ادا كړی نه وي، او غالباً فتوی هم پر دغه قول باندي ده.

۲. ............ الصّلاةُ إِذَا أَتَتْ﴾. او دوهم دا چيكله د لمانځه مستحب وخت شروع سي، نو د هغه څخه وروسته تأخير نكول، بلكه په ټولو عباداتو كي بايد انسان تأخير ونكړي، ځكه دانسان زندګي او د زندګۍ حالات پر يو قرار باندي پاته نوي، د سهار كار بايد ماښام ته پاته نسي، او د ماښام كار سهار ته پاته نسي، ځكه پيغمبرﷺ فرمايي: ډېر خلګ د لمر لوېدو انتظار لري، ليكن چي لمر لويږي، دی غريب د خاورو شكم ته رسېدلی وي، او ډېر خلګ د سبا لمر راختلو انتظار لري، خو ليكن چي لمر راخېږي، دی تر خاورو لاندي پروت وي.

۳. ............وَالأَيِّمُ إِذَا وَجَدَتْ كُفؤاً﴾. او دريم شی پيغمبرﷺ دا بيان كړی دی، چي كله د زناني لپاره مناسب همزولی او د نكاح ترتيب برابر سي، نو بايد انسان په هغه كي تأخير ونكړي. ([1])

نو په دغه دري(۳) شيانو كي تأخير كول مناسب نوي، لكه په يو حديث مبارک كي رائحي: كه تاسو داسي نه وكړئ، يعني: پر مناسب وخت د زنانو لپاره د نكاح بندوبست نه كوئ، نو بيا په مځكه كي فتنه او فساد سره خوريږي، او دهغه ذمه دار به تاسو ياست، چي تاسو حلاله لار وتړله، نو د حرامو لار خودبخود خلاصيږي.

شريعت انسانيت ته د نكاح طريقه ډېره آسانه كړېده، خو انسانانو پخپله هغه د ځان لپاره يو مشكل او عذاب جوړه كړېده، د فضول رسمو او رواجو يو ملغوبه ده، چي اول

---

([1]) سنن البيهقي الكبري: حديث نمبر ۱۳۵۲۵

به کوزده وي، په هغه کي رنګارنګ رواجونه او رسمونه او بيا به د نکريزو شپه وي، او بيا به د.ودېدلو خپل رواجونه وي، دا ټول موږ دخپل طرفه ځخه ور کي اضافه کړي دي، چي د هغه نن دا نتيجه ده: چي زموږ په نکاحونو کي هر قسم برکت ختم سوی دی.

## د حضرت فاطمې د نکاح لپاره پېغامونه راتلل:

ما درته وويل: چيکله د حضرت فاطمة الزهراء عمر پنځلس(۱۵) کاله ته ورسېدی، نو د ټولو ځخه مخکي حضرت ابوبکر رضي الله عنه د دې د نکاح لپاره پېغام راواستاوی، او د هغه ځخه وروسته بيا حضرت عمر رضي الله عنه هم د نکاح پيغام راواستاوی، ځکه صحابه کرامو ته د پېغمبر ﷺ د لور سره نکاح کول يو نعمت عظمی ور معلومېدی.
لېکن د هغه حضراتو د عمر د زياتوالي پخاطر پېغمبر ﷺ د هغوی ځخه معذرت و غوښتی چي زما د بچۍ عمر کم دی، او ستاسو عمر ډېر زيات دی.
په دريم نمبر کي حضرت علي رضي الله عنه چي په دې وخت کي د هغه عمر يو ويشت(۲۱) کاله وو، پخپله راغلی، او د پېغمبر ﷺ ځخه ئې د دغه نعمت عظمی غوښتنه وکړه.
د هغه پر غوښتنه باندي پېغمبر ﷺ ته د الله تعالی لطرفه دا حکم راغلی: چي د فاطمې لپاره دغه پېغام د نکاح قبول کړه، چنانچه پېغمبر ﷺ د هغه دغه غوښتنه قبوله کړه، او حضرت فاطمة الزهراء ئې د حضرت علي رضي الله عنه د نکاح په عقد کي د ور کولو اراده وکړه.
د هغه ځخه وروسته پېغمبر ﷺ په مسجد کي د نکاح ترلو ترتيب برابر کړی، او حضرت انس رضي الله عنه ته ئې وفرمايل: چي ته ورسه!

- ابوبکر.
- عمر.
- عثمان.
- طلحه.
- زبير.
- او د انصارو يو جماعت. (رضی الله عنهم اجمعين) راوبوله.

چیکله دغه حضرات را جمعه سول، نو پیغمبر ﷺ پخپله خطبه وویله، او د حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها نکاح ئې د حضرت علي رضي الله عنه سره وکړه، او مهر ئې تقریباً څلور سوه(۴۰۰) دراهم مقرر کړل، او په یو کاسه کي یو څه لږ غوندي خورماوي وې هغه ئې د مجلس و حاضرینو ته ور تقسیم کړې.

## په مسجد کي نکاح کول:

پیغمبر ﷺ د حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها نکاح په مسجد کي وکړه، او د پیغمبر ﷺ عام طور د امت په باره کي خوښه هم دا وه: چي د هغوی نکاحونه په مسجد کي کیږي، ځکه چي نکاح عبادت دی، او د عبادت لپاره بهترین ځایونه مساجد دي، لکه د پیغمبر ﷺ یو حدیث مبارک هم داسي راغلی دی:

............أَعْلِنُوا النِّكَاحَ ، وَاجْعَلُوهُ فِي الْمَسَاجِدِ﴾.([1])

د نکاح اعلان کوئ، یعني: په نکاح کي چي څومره ښکاروالی راځي، هغومره ښه ده، ځکه چي د حلالو او حرامو په مابین کي دا فرق دی: چي حرام کار خلګ په پټه طریقه سره کوي، نو شریعت په نکاح کي ضروري دا بللې ده: چي علی الاعلان ښکاره وي، او ټولو خلګو ته ور معلومه سي، چي د دغه نارینه او زنانه په مابین کي د نکاح عقد وسو.

او د دې سره پیغمبر ﷺ دا هم فرمایلي دي: چي نکاح په مسجد کي کوئ، او دا د پیغمبر ﷺ سنت عمل هم بلل سوی دی، یو خو نکاح عبادت ده، او د عبادت لپاره بهترین محل مسجد دی، او په مسجد کي د خلګو ازدحام او راجمعه کېدل هم وي، او د نکاح په ښه طریقه سره تشهیر هم کیږي، نو ځکه پیغمبر ﷺ د دې خبري تاکید کړی دی.

([1]) اتحاف الخیرة المهرة: حدیث نمبر ۳۱۵۴

## ضروري مسئله:

لېکن دلته یو مسئله ښکاره کول ضروري ده، هغه دا: چې د پېغمبرﷺ نظر د یو نبي په حیثیت تر ډېره ځایه پوري رسیدی، هغه دا: چې پېغمبرﷺ په یو بل حدیث کي دستي دا خبره وکړه: چې نکاح خو په مسجد کي کوئ، لېکن:

.........وإيَّاكُمْ وَهَيْشَاتِ الأَسْوَاقِ﴾.(۱)

لېکن په مسجدو کي به د بازارو غوندي شور او شغب نه جوړوئ، او د مسجد ادبیاتو به خیال ساتئ.

اوس زموږ په بعضو علاقو کي یو څه نه څه نکاح تړل په مسجد کي رواج سویدي، لېکن پېغمبرﷺ د دغه حدیث په ذریعه د انسانانو توجه دې طرفته را ګرځولې ده: چې داسي نوي: چې نکاح خو په مسجد کي وتړل سي، لېکن د هغه سره په مسجد کي د بې ادبۍ په وجه انسان نور په ګناهونو کي واقع سي.

نن سبا انسانان د دې لحاظ نکوي، بلکه اکثریت د نکاح تړلو څخه وروسته په مسجدانو کي شور او شر جوړ وي، کله کله خو تصویرونه اخیستل کیږي، او ویډیو ګاني جوړیږي، نو د نکاح عبادت په یو ګناه باندي بدل سي.

چونکه د پېغمبرﷺ نظر تر ډېره حده رسېدونکی وو، نو ده مبارک د اول سر څخه انسانان پدې خبر کړل: چې نکاح خو په مسجد کي تړئ، لېکن په مسجد کي به د بازارونو غوندي شور او شر نه جوړوئ.

## د حضرت فاطمة الزهراءؓ ودېدل:

د حضرت فاطمة الزهراءؓ دنکاح د عقد کولو څخه تقریباً دوې(۲) میاشتي وروسته حضرت عليؓ د پېغمبرﷺ حضور ته راغلی، او عرض ئې پېش کړی: چې ای د الله رسوله! که زما د واده لپاره یو وخت وټاکل سي، او زه پر هغه وخت باندي راسم، او خپل امانت خوندي کړم.

پېغمبرﷺ په جواب کي ورته وفرمایل: چې اې علي! انشاء الله ژر به وسي، دا خبره غالباً د ماپښین یا ماځیګر په وخت کي د دوی په مابین کي سره وسوه.

---

(۱)سنن الکبری للبیهقي: حدیث نمبر ۵۳۶۶

پېغمبرﷺ چيکله په داغه ورځ د ماښام لمونځ وکړی، کورته راغلی، د ده عادت مبارک دا وو: چي په کور کي به ئې نفلي لمونځ کاوی، د نفلي لمانځه د نيت تړلو څخه مخکي ئې غالباً حضرت انس رضي الله عنه ته وويل: چي ورسه! "ام ايمن" چي دا د پېغمبرﷺ د مور مينځه وه، او همېشه به ئې د پېغمبرﷺ د کور خدمت کاوی، را وبوله، دی پر لمانځه ودرېدی، چيکله ده سلام په ګرځاوی، "ام ايمن" د ده کورته راورسېده.

حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها وايي: چي ما د کور کار کاوی، لکه عام بچياني چي ئې پخپلو کورو کي کوي، زما په وهم او ګمان کي هم دا نه وه: چي اوس به څه کېږي، يا به زما دغه شپه د خاوند په کور کي تېرېږي.

چيکله مي غوږ ورته ونيوی، زما غوږ ته دا خبره راورسېده: چي دی مبارک ورته وايي: چي فاطمه به دعلي کور ته ور ورسوې، او ورته وبه وايي: چي پېغمبرﷺ فرمايل: دغه خپل امانت خوندي کړه، او زه د ماخستن د لمانځه کولو وروسته ستا کورته درځم، زما يو څه انتظار وکړه، او ته به واپس ځني راسې، حضرت فاطمه وايي: چي د دې خبري په اورېدو سره زه حق حيرانه پاته سوم.

## ام ايمن رضي الله عنها څوک وه؟

ام ايمن رضي الله عنها د پېغمبرﷺ د مور مينځه وه، او د يمن څخه راغلې وه، او پېغمبرﷺ ته ډېره ګرانه وه، پېغمبرﷺ به ويل: که يو څوک د جنتي زناني سره واده کول غواړي، نو هغه دي دام ايمن رضي الله عنها سره واده وکړي.

د پېغمبرﷺ د دې خبري په اورېدو سره حضرت زيد ابن حارثه رضي الله عنه د ام ايمن رضي الله عنها سره نکاح وکړله، چي د هغه څخه حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه پيدا سو.

او د پېغمبرﷺ به د حضرت اسامه سره ډېر محبت وو، حضرت عائشه مبارکه فرمايي: چيکله اسامه د ماشوموالي په زمانه کي زموږ په کور کي ګرځېدی، نو کله به ئې د عامو ماشومانو غوندي د پزي څخه اوبه راتللې:

......أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُنَحِّيَ مُخَاطَ أُسَامَةَ قَالَتْ عَائِشَةُ دَعْنِي حَتَّى أَكُونَ أَنَا الَّذِي أَفْعَلُ قَالَ يَا عَائِشَةُ أَحِبِّيهِ فَإِنِّي أُحِبُّهُ﴾.(۱)

نو پېغمبر ﷺ به پخپله د هغه پزه ور پاکوله، ما به ورته وویل: چي اې د الله تعالی رسوله! ته ماته وایه، زه به دا کار کوم، ده به په جواب کي راته فرمایل: بس ما پرېږده چي زه ئې پخپله ور صفا کړم، او هم به ئې دا راته ویل: اې عائشې: د اسامه سره محبت کوه، ځکه چي دی ډېر زیات پر ما باندي ګران دی.

حضرت عائشه مبارکه وایي: چي یو ځل پېغمبر ﷺ ته خبر راغلی: چي اسامه د سفر څخه راورسېدی، پېغمبر ﷺ په داسي بې تابي کي د ده مخ لره راوواتی، چي ما هیڅکله په دغه شان دی مبارک د چا لپاره راوتونکی نه وو لیدلی.

## د فاطمې رضي الله عنها د علي رضي الله عنه کورته راتلل:

چیکله پېغمبر ﷺ د ماخستن لمانځه ته روان سو، ام ایمن رضي الله عنها حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها تر لاس ونیوله، او د حضرت علي رضي الله عنه دروازه ئې ور وټکوله، چي هغه راوواتی، دحضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها لاس ئې د هغه په لاس کي ور کړی، ورته وایي: اې علي! پېغمبر ﷺ ویل: چي دغه خپل امانت خوندي کړه، او ماته یو څه انتظار وکړه، زه در لره راځم، دا هغه د دواړو جهانو د سردار د لور دخپل پلار دکور څخه رخصتېدل او ودېدل وو.

- نه هلته ډول او باجه وه.
- او نه اتڼ او میله وه.
- او نه ورا او تماشه وه.

هغې چي پخپل کور کي عامي کمي جامې اغوستلې، په هغه جامو کي د خپل پلار د کور څخه رخصت، او دخاوند تر کوره پوري ورسېدله.

نه د هغې سره پلار ملګری وو، چي زه به دا دخاوند تر کوره پورئ ورسوم، نه مور وه، حالانکه پدې وخت کي د هغې هغه مقدسي مندي چي د ټولو مؤمنانو مندي وې، هغه موجودي وې.

---

(۱) سنن ترمذي، حدیث نمبر ۳۸۱۸

- حضرت عائشه مبارکه.
- حضرت جویریه مبارکه.
- حضرت ام سلمه مبارکه.

د دې مبارکاتو د موجودیت سره پیغمبرﷺ د ام ایمنؓ مینځې په لاس حضرت فاطمة الزهراءؓ د حضرت علیؓ تر کوره پورې ورسوله.
حالانکه پیغمبرﷺ پدې وخت کې بنو هاشم ټول راطلب کولای سو، چې تاسو راسئ! زما د لور واده دی، بنو هاشم خو څه کوي، پیغمبرﷺ ټوله صحابه را طلب کولای سو، لیکن بیا ئې هم داسې و نکړل، پدې خاطر چې د امت و غریبانو ته دخپلو لوڼو په واده کولو کې آسانې وي.

## د پیغمبرﷺ راتلل:

د ماخستن د لمانځه څخه وروسته پیغمبرﷺ د هغوی مبارکانو کورته راغلی، حضرت علیؓ او فاطمة الزهراءؓ ئې دواړه خپل مخته کښېنول.
یو ځل ئې حضرت فاطمة الزهراء ته وفرمایل: ته ماته یو څه اوبه راوړه، چیکله هغې په یو پیاله کې یو څه اوبه ورته راوړې، نو ده مبارک پر هغه اوبو دم وکړی، او هم ئې د خپل خولې یو څه لاړې ور واچولې، او دې ته ئې وویل: ماته رانزدې سه، چیکله هغه رانزدې سوه، نو ده یو څه اوبه د هغه پر سر او سینه ور وه پرخلې، او بیا ئې ورته وویل: ته شا ماته راوګرځوه، او یو څه اوبه ئې د وږو په مابین کې ور وه پرخلې.
او د هغه څخه ئې وروسته دا دعا ورته وکړه: اې الله! زه فاطمه او د هغې اولاد د شیطان مردود د شر څخه ستا په پناه کې درکوم، او د هغه څخه وروسته ئې باقي پاته اوبه پدې باندې وچیښلې.
او بیا ئې حضرت علیؓ ته وویل: چې ته هم یو څه اوبه راوړه، هغه هم اوبه ورته راوړلې، پیغمبرﷺ د دم کولو څخه وروسته د خپلې خولې لاړې یو څه ورکې واچولې، او بیا ئې داغه رنګه د حضرت علیؓ پر اندامو باندې ور وه پرخلې، لیکن ده ته ئې د دواړو وږو په مابین کې نه ور وه پرخلې، او باقي پاته اوبه ئې د چیښلو لپاره ورکړې، او هغه ته ئې هم دعا وکړه.

په یو روایت کي راځي: چي پیغمبر ﷺ چیکله د دوی کور ته ورغلې، نو په یو پیاله کي ئې اوبه په "قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الفلق" او "قُلْ اعُوْذُ بِربِّ النَّاس" باندي ور دم کړې، او بیا ئې د دوی پر اندامو باندي یو څه ور واچولې، او یو څه ئې په وچیښلې.

او بیا ئې ورته وویل: په دغه نورو اوبو باندي تاسو اودس وکړی، د هغه څخه وروسته ئې د نیک او سعادت مند اولاد دعا ورته وکړه، او یو څه نوري ئې ښې دعاګاني ورته وکړې، او ورته وئې ویل: الله تعالی دي تاسو ته زندګي د خیر او برکت سره او هم د پاکۍ او طهارت سره در نصیب کړي.

د دغه دعاګانو کولو څخه وروسته ئې حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها او علي رضي الله عنه په کور کي پرېښوول، او دی پر خپل طرف ځني ولاړی.

دا د هغه نکاح مختصره طریقه وه: چي د هغه نکاح تړونکی د دواړو جهانو سردار او دکم چا چي ئې نکاح ور تړله، هغه د جنت د ټولو زنانو سرداره وه، او چي د کم چا سره ئې نکاح تړل کېده، هغه څلورم(۴) خلیفه راشد وو، چي د هغه په هکله الله تعالی پر عرش دا لیکلي وه: چي: "اَسَدُ الله وَ اَسَدُ رَسُوْلهٗ".

او د ټولو انبیاؤو سردار د خپلي مبارکي لور په څومره سادګي او په څومره اختصار او په څومره سهولت او آساني سره او په څومره معمولي مهر باندي نکاح تړي چي هغه د دې ټوله امت لپاره دا طریقه ښکاره کوي: چي هغه هم د خپلو بچیانو نکاحونه په دغه سهولت او اختصار او آساني سره وکړي، چي د الله تعالی له طرفه په هغه کي برکات راسي.

الله تعالی دي د پیغمبر ﷺ په دغه طریقه او ټولو طریقو باندي د عمل کولو توفیق رانصیب کړي، او الله تعالی دي دا څو خبري پخپل دربار کي قبول او مقبولي وګرځوي.

آمِیْن یَا رَبَّ العَالَمِیْن

وَصَلّٰی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی خَیْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# د نکاح سنت طریقه، (دوهم بیان)

(بیان)


مولوی **اطیع الله** صاحب

استاذالحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحیم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا, يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ﴿عَنْ ضَمْرَةَ بنْ حَبِيْبٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَضَى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى اِبْنَتِهِ الفَاطِمَةِ بِخِدْمَتِ الْبَيْتِ وَ عَلَى عَلِيٍّ مَا كَانَ مِنْ خَارِجِ الْبَيْتِ ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## اسلام د فطرت دين دی:

محترمو حاضرينو ! په تېره جمعه کي مي دا خبره ستاسو حضور ته پېش کړې وه: چي په دنيا کي د انسان زندګي امتحاني ده، خو دغه امتحاني زندګي الله تعالی د دين اسلام په غلاف او پوښ کي پېچلې ده.

د اسلام دين د انساني زندګۍ لپاره د فطرت دين دی، چي انسان ته يو داسي طريقې او لاري ور ښيي: چي په هغه سره انسان په ډېر کاميابه شکل خپل ځان منزل مقصود ته رسولای سي.

بلکه انسان ته داسي احکام او عبادات پېشوي: چي دهغه په ذريعه سره انسان عفيفه او پاکه زندګي تېرولای سي، چي هغه پاکه زندګي د اسلامي معاشرې لپاره بهترينه زندګي بلل کيږي.

(۱) سورة الآحزاب: آيت نمبر ۷۰

(۲) مطالب عاليه: جلد نمبر ۴، صفحه نمبر ۳۹

په هغه احکامو او عباداتو کې یو حکم او عبادت "عقد نکاح" هم دی، چې کله نارینه او زنانه پخپل مابین کې د نکاح عقد سره ولري، نو دوی ته الله تعالی ډېره د سکون او د اطمینان زندګي ور نصیب کوي، او هم داسې بچیان الله تعالی ورکوي، چې هغه د یو ښائستې معاشرې بنیاد جوړ سي.

د نکاح کولو لپاره زموږ په شریعت کې شائسته او بهترینه طریقه سنت طریقه ده، ځکه چې پیغمبر ﷺ پخپله هم نکاح کړېده، او هم ئې د خپلو بچیانو نکاحونه ور کړي دي، او هم ئې د خپلو صحابه وو نکاحونه کړي دي.

بیا خاص هغه عظیمه نکاح چې هغه د انسانیت بهترینه جوړه وه، چې هغه نکاح د حضرت علي رضی الله عنه د حضرت فاطمة الزهراء رضی الله عنها سره وه، چې هغه هم پیغمبر ﷺ کړې ده.

زه ستاسو په مخ کې د تېرې جمعې څخه د هغه نکاح یو څه حصه چې د سیرت په کتابو کې لیکلېده بیانوم، ځکه چې زموږ او ستاسو لپاره په هغه کې ډېر زیات نصیحتونه او عبرتونه دي.

## د فاطمة الزهراء رضی الله عنها د نکاح داستان:

پیغمبر ﷺ د حضرت فاطمة الزهراء رضی الله عنها نکاح د حضرت علي رضی الله عنه سره په مسجد کې وکړه، د هغه نکاح شاهدان مختلف صحابه کرام وو، او څلور سوه (۴۰۰) دراهمه اندازتاً د هغه لپاره مهر مقرر سو.

د نکاح څخه څلور (۴) میاشتې وروسته د ام ایمن رضی الله عنها په لاس دا مبارکه د خپل خاوند حضرت علي رضی الله عنه تر کوره پورې ورسېدله، پیغمبر ﷺ د ماخستن د لمانځه څخه بعد د هغوی کورته ورغلی، یو څه اوبه ئې ور دم کړې، او یو څه نصیحت ئې ورته وکړی، او هم ئې د دوی په مابین کې تقسیم کار ور وکړی، لکه یو صحابي د پیغمبر ﷺ هغه تقسیم کار داسې رانقل کوي:

........عَنْ ضَمْرَةَ بنْ حَبِیْبٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالَی عَنْهُ قَضَی رَسُوْلُ الله صَلّٰی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَلَی اِبْنَتِهِ الفَاطِمَةِ بِخِدْمَتِ البَیْتِ وَ عَلَی عَلِيٍّ مَا کَانَ مِنْ خَارِجِ البَیْتِ﴾.(۱)

(۱) مطالب عالیه: جلد نمبر ۴، صفحه نمبر ۳۹

حضرت ضمره بن حبيب ﷺ فرمايي: چي پيغمبر ﷺ د خپلي لور فاطمة الزهراء ﷺ متعلق دا فيصله وکړه: چي دا به د کور کار کوي، او حضرت علي ﷺ به د کور څخه د باندي کارونه کوي.

ابن قيم رحمة الله عليه په "زاد المعاد" کي د "الواضحه" څخه رانقل کړيدي: چي پيغمبر ﷺ د کور خدمت پر حضرت فاطمة الزهراء باندي کښېښووی، د کور د خدمت څخه مراد وړه اغږل، او پخول، بستره هوارول، او د کور صفائي کول، او د ښاه څخه اوبه راکښل.

چونکه د زناني سره ستر مناسب دی، او په کور کي د ننه په خدمت کولو د هغې د هغه ستر حفاظت کېدلای سي.

او نارينه چونکه په ستر کولو مکلف ندی، نو هغه د کور څخه د باندي هر قسم خدمت د هغه سره مناسب هم وي، او د هغه په وس او طاقت کي راتللای هم سي.

## د کور پر خدمت کولو باندي ثواب:

او د زناني لپاره د خپل کور خدمت کول، ډېر لوی ثواب دی، او هم ډېره لويه صدقه ده، لکه حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ يو روايت رانقل کوي:

﴿...........خِدْمَتُكَ زَوْجَتُكَ صَدَقَةٌ﴾.(١)

د زناني لپاره د خاوند د کور خدمت کول دا صدقه ده، څومره لوی فضيلت دی، لکه څنګه چي اهل او مال د الله تعالی په لار کي قربانول ثواب لري، داغه رنګه د زنانو لپاره د خپلو خاوندانو د کورو خدمت هم ثواب لري.

## ښائسته سوال:

حضرت انس ﷺ يو روايت رانقل کوي: چي د پيغمبر ﷺ حضور ته يو څه زناني راغلې، او دا سوال ئې وکړی:

﴿...........ياَ رَسُوْلَ اللهِ! ذَهَبَ الرِّجَالُ بِالْفَضْلِ فِي الْجِهَادِ فَهَلْ لَنَا مِنْ اَعْمَالِنَا شَيْئٌ نَبْلُغُ بِهِ فَضْلَ الْجِهَادِ﴾.

(١) کنز العمال: حديث نمبر ۴۵۱۳۸

اې د الله رسوله! نارينه خلګ په نيکو اعمالو کې زموږ څخه ډېر مخته دي، ځکه هغه ستاسره په جهادي ترتيبونو کې شراکت لري، او ټوله شپه په ويښه سره د دښمن پر سرحدونو پيرې کوي، او د هغه پر اعمالو الله تعالى هغوى ته ډېر لوى اجرونه ورکوي. موږ چونکه د کور په څلور (۴) دېوالو کې د ننه پابنده يو، يا د کور په خدمت مصروفه يو، او يا د بچيانو په پالنه او تربيت کې اخته يو، د هغوى لپاره خورکه برابروو، او هم ئې د صفائي خيال ساتو، ټوله ورځ او شپه په دغه کې رابانديې تېره سي، موږ د نارينه وو غونديې د دښمن و مخ ته د جهاد په سفرونو کې پيره نسو کولاى، او نه موږ د هغه غونديې جهاد کولاى سو.

او نارينه همېشه مسجدانو لره د لمانځه لپاره ځي، نو چې کله هر قدم اخلي، الله تعالى ئې يوه ګناه معافوي، او يوه ئې نيکي ور اضافه کوي، او هم ئې په جنت کې الله تعالى درجه بلندوي، دا هم زموږ په نصيب کې نه وي.

او نارينه لمونځ په جماعت سره او په مسجدانو کې کوي، او ډېر ځله د تکبير اولى خيال هم ساتي، چې په هغه سره هم دوى ته ډېر لوى اجر او ثواب ور کول کيږي، او موږ غريبانې د دې ټولو ګټو او عباداتو څخه محروم او بې نصيبه پاته يو.

## ښائسته جواب:

چې کله هغه زنانو دغه خپل شکايت او سوال پيغمبر ﷺ ته وړاندې کړى، نو پيغمبر ﷺ په جواب کې ورته وويل:

........﴿مَهْنَةُ إِحْدَاكُنَّ فِي بَيْتِهَا تُدْرِكُ جِهَادَ الْمُجَاهِدِيْنَ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى﴾.(١)

تاسو زنانې چيکله د خاوند په کور کې کار او خدمت کوئ، د دغه ټولو اعمالو ثواب په ډېر آسانه طريقه الله تعالى تاسو ته پخپل کور کې درکوي.

هغه داسې: کچيرې يو زنانه د خاوند په کور کې د خپل بچي د "تى" ور کولو په وجه د شپې څه زمانه وېښه پاته سي، نو الله تعالى هغې ته د هغه مجاهد برابر اجر او ثواب ور کوي: چې ټوله شپه په وېښه سره د دښمن پر سرحد باندې پېره کوي.

(١) کنز العمال: حديث نمبر ۴۵۱۴۶

تاسو ګورئ! يو زنانه په خپل کور کي دننه او په خپله ګرمه کوټه کي پر نرمه بستره باندي ناسته ده، لېکن په دغه آساني کي الله تعالی دې ته د هغه جهاد ثواب ورکوي: چي مجاهدين ئې د يخ او د سختۍ د برداشت کولو په شکل په سنګر کي تېروي.
او چي کمه زنانه د خاوند په کور کي يو شی بې ترتيبه ويني، او دا ئې پورته کړي، او تر خپله ځايه پوري ئې ورسوي، نو الله تعالی پر دغه عمل ورته يوه نيکي ورکوي، او هم ئې يوه ګناه معاف کوي، او په جنت کي ئې يوه درجه بلندوي، اوس به زناني روزانه څومره شيان په خپل کور کي په ترتيب سره ايږدي، الله تعالی پر دې ټولو باندي دې ته دومره لوی اجر او ثواب ورکوي.
او کمه زنانه چي په کور کي ناسته وي، او آذان وسي، دا په خپل مستحب وخت کي په ښه اوداسه سره په بهترينه طريقه سره خپل لمونځ ادا کړي، الله تعالی د هغه نارينه برابر اجر او ثواب ورکوي: چي مسجد لره ورسي، او د جماعت لمونځ په تکبير اولی سره ادا کړي.

## د زناني د ژوند مختلفي درجې:

زه تاسو ته د زنانو د ژوند دمختلفو درجو د اجر او ثواب په باره کي يو څه خبره کوم. چي دا ښکاره سي: چي اسلام د زناني سره د زندګۍ په هر دور کي څومره د آسانۍ او نرمۍ معامله کړېده.

## د زناني پيدائش:

زموږ شريعت دا خبره ښکاره کړېده: کچيري په کور کي زنانه پيدا سي، نو الله تعالی پر هغه کور د رحمت دروازه را خلاصه کړي.
او کچيري دوې(۲) بچياني پيدا سي، بيا خو د پلار لپاره د لوی رحمت ذريعه ګرځي، او پيغمبر ﷺ فرمايي:

.........مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ حَتَّى تَبْلُغَا ، جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَا وَهُوَ كَهٰذَيْ ، وَضَمَّ إِصْبَعَيْهِ﴾ (۱)

---

(۱) الآداب للبيهقي: حديث نمبر ۲۱

کم چاته چي الله تعالی عيال دوې (۲) لوښي ورکړې، او ده لوی والي تر وخته پوري د هغه ښه کفالت وکړی، نو دی به د قيامت په ورځ پداسي شان باندي راځي: چي زه او دی به دومره سره نزدې يو، پيغمبر ﷺ به دوې ګوتي سره ونيولې.

## دوديدو څخه مخکي وفات کېدل:

د حديث شريف مضمون دی: چيکله يو زنانه د ودېدلو څخه مخکي د مور او پلار پر کور باندي وفات سي، نو د قيامت په ورځ به هغه زنانه الله تعالی د شهيدانو په قطار کي دروي.

ځکه چي دا واده سوې نه وه، د مور او پلار په کور کي وسېدله، او دې د خپل عزت او عفت حفاظت کاوی، او د پلار په کور کي چونکه د زناني ژوند د مسافر غوندي وي، ځکه د دې حقيقي کور د خاوند کور بلل کيږي.

او د خاوند په کور کي چي کم عيش او آرام وو، هغه دې نه وليدی، نو يو قسم د سفر او د محروميت د ژوند په حالت کي وفات سوه، نو الله تعالی پر دې دغه مهرباني وکړه، چي ودې ته ئې په آخرت کي د شهادت درجه ور کړه.

زه منم! په دنيا کي خو دغه زنانه ته په شهيد نه ويل کيږي، او نه د شهيد حکم په شريعت کي پر جاري کيږي، مګر د حديث د رويه به ئې د قيامت په ورځ کي الله تعالی په شهيدانو کي را پورته کوي، او هم به ئې د شهيدانو په قطار کي دروي.(۱)

## دودېدلو څخه وروسته په اجر او ثواب کي اضافه:

د دې څخه چي يو قدم مخته ورسې، کچيري دغه زنانه د خپل کور څخه د نکاح په شکل رخصت سي، او د خاوند کور ته ورسي، او دا د خپل خاوند فرمانبرداري هم کوي، او د هغه سره د الله تعالی عبادت هم کوي.

نو فقهاؤو دا مسئله ليکلې ده: چي د ودېدلو څخه مخکي د مور او پلار په کور کي چيکله زنانه لمونځ کوي، نو پر يو لمانځه کولو الله تعالی دې ته بس د داغه يوه لمانځه ثواب ورکوي.

(۱) خطبات فقير. جلد نمبر ۲، صفحه نمبر ۲۱۲

او د ودېدلو څخه وروسته چيکله دا دخاوند په کور کي لمونځ کوي، نو الله تعالی پر يو لمانځه د يوويشت(٢١) لمنځو ثواب ورکوي.
هغه ځکه چي ددې پر ذمه اوس دوې(٢) ذمه دارۍ راغلې. يو د خاوند خدمت، او يو دا لله تعالی عبادت چي د هغه په وجه اوس دا د تر دوو(٢) بوجو لاندي سوه، چيکله د خاوند خدمت کوي، او د الله تعالی عبادت کوي، نو الله تعالی د هغه عبادت اجر او ثواب ور زياتوي، نو پر يو لمانځه کولو دا د يوويشت(٢١) لمنځو ثواب پيدا کوي.(١)

## د الله تعالی سفارش:

الله تعالی په قرآن کريم کي نارينه وو ته د زنانو سفارش کوي، او ورته وايي:
.........وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ﴾.(٢)
تاسو د زنانو سره په ښه طريقه ژوند کوئ.
ګورئ! په دنيا کي د يو چا سفارش د هغه پلار کوي، او کله ئې مور کوي، کله ئې ورور او نور قريبان کوي، لېکن د زنانو سفارش الله رب العزت پخپله په قرآن کي کوي، او نارينه وو ته وايي: تاسو به د زنانو سره په ښه اخلاقو او په ښه طريقه باندي زندګي تېروئ.

## د حمل په وخت کي د ګناهونو بخښنه:

حضرت انس رضي الله عنه يو روايت رانقل کوي: چي پېغمبر صلى الله عليه وسلم به فرمايل: کچيري زنانه د خاوند سره په ښه طريقه خپل ژوند تېروي، او په دې دوران کي د دې په نس کي حمل پيدا سي، او خاوند د دې څخه راضي هم وي.
.........أَنَّ لَهَا مِثْلُ أَجْرِ الصَّائِمِ اَلقَائِمِ فِي سَبِيْلِ الله﴾.
الله تعالي دې ته دومره ثواب ورکوي: لکه هغه روژه نيونکی چي دالله تعالی په لار کي يعني په جهاد کي ئې روژه نيولې وي.

---

(١) خطبات فقير: جلد نمبر ٢، صفحه نمبر ٢١٢
(٢) سورة النساء: آيت نمبر ١٩

........فإذا أصابها الطَّلْقُ لَمْ يعْلَمْ أهلُ السَّمَاءِ وَأهْلُ الأرْضِ مَا أُخفِي لَهَا مِنْ قُرَّةِ أعْيُنٍ﴾.

چیکله و دې ته د بچي دولادت درد ور ولاړ سي، نو نه آسماني فرشتې او نه د مځکي مخلوق پدې خبر دي: چي الله تعالی د دې د سترګو د خنکوالي لپاره دې ته څه تیار کړي دي.

..فإذا وَضَعَتْ لَمْ يَخرُجْ مِنهَا جُرْعَةٌ مِنْ لَبَنِهَا وَلَمْ يَمَصَّ مَصَّةً إلَّا كَانَ لَهَا بِكُلِّ جُرْعَةٍ مصَّة حَسَنَةٌ﴾.

او چي کله دد دې بچی پیدا سي، نو د دې د سینې څخه یو قطره د شېدو را وتلې نه وي، او نه دد دې بچي څېبنلې وي. مګر الله تعالی دې ته پر هر ځاځکي د شېدو باندي نیکي ور کوي.

........فَإنْ أسْهَرَهَا لَيْلَةً كَانَ لَهَا مِثْلُ أجْرَ سَبْعِينَ رَقَبَةً تُعْتِقُهُنَّ فِي سَبِيْلِ اللهِ سَلَامَةً﴾.(١)

او چي کله د شپې پر بچي باندي راکښېني، نو الله تعالی و دې ته د اویا (٧٠) صحیح او سالمو غلامانو د الله تعالی په لار کي د آزادولو ثواب ور کوي.
او چي کله د دې په نس کي بچی وي، او په دغه دوران کي دا ګرځي، او د خپل خاوند د کور خدمت او کار کوي، او د ستړیا په وجه د دې دخولې څخه کله د ځګېروي او ستړیا اواز راووزي.
نو په حدیث شریف کي راځي: چي الله تعالی فرشتو ته وايي: دا زما یو بنده دی، او تر دېر بوج لاندي دی، او د تکلیف په وجه د دې د خولې څخه آواز راوزي، نو د هغه آواز په بدله کي تاسو د دې په عملنامه کي د "سبحان الله" او د "الحمد لله" او د "الله اکبر" ثواب لیکئ.

## بچي پیدا کېدلو پر درد اجر او ثواب:

که چیري د بچي د پیدا کېدلو وخت رانژدې سي، نو په دې وخت کي زنانه په خپل بدن کي یو څه درد ونه محسوسوي.
د حدیث شریف مضمون دی: چي هر ځل دغه زنانه ته درد ور ولاړېږي، د هغه په بدله کي الله تعالی ذ یو عربي النسل غلام آزادولو ثواب ورکوي.

---

(١) مجمع الاوسط: جلد نمبر ۴، صفحه نمبر ۳۰۸، طبراني

حالانکه په نورو احادیثو کي راغلي دي: چي کم چا يو غلام آزاد کړی، هغه به الله تعالی د جهنم څخه بري کړي.
تاسو ګورئ! د زناني سره الله تعالی څومره د نرمۍ او آسانۍ معامله کړېده، چي صرف د درد راتللو په عوض کي دې ته د غلام آزادولو بلکه د جهنم څخه براأت په عملنامه کي ور ليکي.

## د بچي د پيدا کېدلو پر وخت د زناني مرګ شهادت:

که چيري د بچي د پيدا کېدلو په وخت کي دغه زنانه وفات سي.
نو په حديث شريف کي راځي: چي ظاهراً خو دغه زنانه مړه سوه، لېکن د قيامت په ورځ به الله تعالی دغه زنانه د شهيدانو په قطار کي ودروي.

## دبچي پر پيدا کېدلو د ګناهونو بخښنه:

که چيري هغه بچی په صحيح طريقه سره پيدا سي، او مور او بچی دواړه الله تعالی په خيريت سره کړي.
نو بيا خو په حديث شريف کي راځي: چي الله تعالی يو فرشته ته حکم وکړي، چي هغه راسي، دې زناني ته وايي: اې موري! الله تعالی ته اوس د ګناهونو څخه داسي پاکه کړې، لکه په کمه ورځ چي ته د خپلي مور څخه پيدا سوې وې.
تاسو ګورئ! هغه زناني د بچي په خاطر تکليف پورته کړی، او الله تعالی هغه زنانه ته دومره لوی اجر ورکړی، چي د هغه تېر ټوله ګناهونه الله تعالی د دې د عملنامې څخه داسي پاک کړل، لکه څنګه چي دا کم وخت د مور څخه پيدا سوه، د دې عملنامه د ګناهونو څخه پاکه وه.

## بچي ته د "الله" لفظ ور ازده کول:

که چيري دغه زنانه د خپل بچي ښه تربيت وکړي، هغه ته الله، الله لفظ ور ازده کړي.
نو په حديث شريف کي راځي، چي کم بچی په خپل ژوند کي دټولو څخه مخکي د خپلي ژبي څخه د الله لفظ راباسي، الله تعالی به د ده د مور او پلار تېر ټول ګناهونه ور معاف کړي.

ځو مره آسانه خبره ده: چي بچی دالله لفظ ياد کړی، او د هغه په عوض کي ئې مور او پلار دومره لوی اجر پيدا کړی.

نن خو زموږ ميندي او خويندي د بچيانو و مخته رنګارنګ الفاظ يادوي، او هغوی ته هغه رنګ الفاظ ور ازده کوي، حالانکه هغوي ته دا معلومه نه ده: چي که چيري موږ د دغه بچي و مخته دالله، الله لفظ ووايو، او دغه بچی د ټولو څخه مخکي د الله لفظ په ژبه ادا کړي، نو په هغه سره به زموږ ټول ګناهونه معاف سي.

## بچي ته د قرآن ناظره ازده کول:

که چيري زنانه دغه بچی د قرآن کريم د ويلو لپاره مدرسې ته ور واستوي، نو کچيري هغه بچی د قرآن کريم ناظره ازده کړي، نو په کم ګړي چي ده د قرآن کريم ناظره ازده کړه، الله تعالی به په دغه وخت کي دده د مور او پلار ګناهونه ور معاف کړي.

## بچي ته د قرآن پاک د حفظ کولو فضيلت:

کچيري زوی يا لور د قرآن کريم د حفظ لپاره مدرسې ته واستول سي، هغه زوی حافظ سي، يا هغه لور قرآن کريم حفظ کړي.

نو په حديث شريف کي راځي:

.........مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ وَعَمِلَ بِمَا فِيهِ أُلْبِسَ وَالِدَاهُ تَاجًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ضَوْؤُهُ أَحْسَنُ مِنْ ضَوْءِ الشَّمْسِ فِي بُيُوتِ الدُّنْيَا لَوْ كَانَتْ فِيكُمْ فَمَا ظَنُّكُمْ بِالَّذِي عَمِلَ بِهَذَا﴾.(١)

چي کوم چا د قرآن قرأت ازده کړی، او هم ئې په هغه باندي عمل وکړی، الله تعالی به ئې مور او پلار ته د قيامت په ميدان کي داسي تاج ور پر سر کړي، چي د هغه رڼا به د دنيا د لمر څخه ډېره زياته وي، چي مور او پلار لره ئې دا اجر دی، نو چي په خپله کم څوک په قرآن عمل کوي، د هغه به څو مره اجر وي.

په يو بل حديث کي بيا راځي: چي د دغه تاج و رڼا ته به ټوله اهل قيامت حيران وي، هغه به پوښتنه کوي، چي دا څوک دي؟ ايا انبياء، او اولياء او که شهداء دي، هغه ته به جواب ور کول کيږي: چي دا نه انبياء دي، او نه شهداء دي، بلکه دا هغه نيک بخته

(١) سنن ابي داود: حديث نمبر ۱۴۵۵

مور او پلار دي، چي هغوی پخپله لوریا زوی د قرآن کریم حفظ کړی وو، نن الله تعالی د نور څخه جوړ سوي تاجونه د دوی پر سر ایږدي.
نو زنانه ته الله تعالی قدم پر قدم ډېر لوی اجر او ثواب په ډېره آسانه طریقه سره ور کوي، چي په هغه آسانه طریقه سره د نارینه هغه اجر او ثواب نه په نصیب کیږي.

## د زناني هر عمل ثواب دی:

نو ما درته وویل: چي زنانه چي د خاوند په کور کي هر عمل کوي، الله تعالی به ئې په عملنامه کي یوه نیکي ور لیکي، او هم به ئې یوه ګناه ور معافوي، او هم به په جنت کي درجې ور بلندوي، خو صرف یوه خبره ضروري ده: چي د زناني په دغه خدمت کولو کي د نیت تصحیح وسي.
نن سبا خو زنانو غریبانو ته دا معلومه نده: چي موږ به د خپل کور کار په کم نیت سره کوو؟ نن سبا چیکله زناني د خپل کور صفائي کوي، نو پدې نیت باندي ئې کوي: چي خلګ به وایي: یا د نورو کورو زناني به راځي، و هغه به ماته د یو ګنده زناني په نظر ګوري، نو ځکه دا ټوله ورځ د کور او د عیال پر صفائي باندي تېره کړي.
او په دغه نیت چي دا په دغه صفائي کي هرڅومره محنت وکړي، و دې ته هیڅ ثواب نه ور کول کیږي.

## د کور صفائي په کم نیت کول؟

عموماً مادرته وویل: چي زناني د کور صفائي پدې نیت کوي: چي سبا خلګ بد راپسي وایي.
بلکه زه خو دا وایم: چي زنانه باید د کور صفائي پدې نیت سره وکړي: چي الله تعالی فرمایي:
.... ......إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ﴾.(١)
بېشک الله تعالی د توبه کونکو سره هم محبت کوي، او د صفائي کونکو سره هم محبت کوي.

---

(١) سورة البقره، آیت نمبر ٢٢٢

په توبه سره چونکه د زړه صفائي راځي، نو دې ته صفائي باطني ویل کیږي، او طهارت ظاهري صفائي ته وایي، نو ګویا الله تعالی د هغه چا سره محبت کوي، چي ظاهراً او باطناً دواړه الله تعالی صفائي ور نصیب کړېوي.

نو د زنانو لپاره مناسب دي: چي د کور جارو کولو په وخت کي دا نیت وکړي: چي د الله تعالی پاکي او صفائي ډېره خوښه ده، نو زه هم د الله تعالی د خوښي پخاطر د خپل کور صفائي کوم.

او د شریعت دا حکم دی: چي:

............الطُّهُورُ شَطْرُ الإِيمَانِ﴾.(۱)

صفائي د ایمان یو حصه ده.

نو زنانه په زړه کي باید دا نیت وکړي: چي زه ځکه صفائي کوم: چي پېغمبر ﷺ صفائي د ایمان یو حصه بللېده، او د صفائي کونکو سره الله تعالی محبت کوي، نو په دغه نیت سره عمل کول، او کار کول، او صفائي کول، د زناني لپاره د ډېر لوی اجر او ثواب ذریعه ګرځي.

## د نیت تصحیح ډېره اهمه مسئله ده:

نیت صحیح کول، دا یو مستقله مسئله ده، نن زموږ په مابین کي زنانو ته د صحیح نیت ور ښوولو څه ترتیب نسته، چي دا به د خاوند د کور خدمت په کم نیت سره کوي، دا یو ښکاره خبره ده: که نیت صحیح وي، پر هر عمل ثواب دی، او که نیت صحیح نوي، بیا هیڅ هم نسته.

## د نیت د تصحیح یو مثال:

نیت صحیح کول چونکه اهمه مسئله ده، نو ځکه زه ستاسو په حضور کي په یو مثال سره د هغه وضاحت کوم.

علماؤ لیکلي دي: کچیري یو سړی کور جوړوي، او د حجرې په دیوار کي روښندان جوړوي، مګر نیت ئې دا وي: چي د دغه روښندان څخه به زما حجرې ته هوا او رڼا

(۱) لسنن الکبري للبیهقي: حدیث نمبر ۱۸۹

راځي، نو دغه انسان خو به هوا او رڼا پیدا کړي، مګر ثواب ئې یوه ذره نسته، ځکه چي ده نیت د هوا او رڼا کړی وو، هغه ده پیدا کړو.
مګر یو دوهم سړی هم خپله حجره جوړوي، هغه بیا روښندان په دیوال کي پدې نیت لګوي: چي ماته به د دې روښندان څخه د آذان آواز را رسیږي، او زه به پر خپل وخت د لمانځه تیاري کوم.
نو علماؤ لیکلي دي: چي پر دغه عمل به ده ته الله تعالی اجر او ثواب هم ورکوي، او رڼا او تازه هوا به ده ته په مفته کي راځي.

## دوهم مثال:

یا د دې یو بل مثال زه تاسو ته پېشوم: چي یو زنانه په کور کي سالن پخوي، کچیري د سالن پخېدلو په وخت کي دا یوه کاچوغه اوبه زیاتي ور واچوي.
نو علماؤ دا مسئله لیکلېده: چي څومره اوبه د سالن سره مناسب وې، او د کور د انسانانو لپاره کافي کېدلې د هغه څخه بعد دې یوه کاچوغه نوري ور واچولې.
پدې نیت باندي چي شاید زما کورته به میلمه راسي، یابه یو همسایه ته یو څه سالن ور واستوو. نو پدې نیت چي دې دغه یوه کاچوغه اوبه په سالن کي واچولې، نو الله تعالی به دې ته د میلمه لپاره د سالن پخولو ثواب ور کړي.
اوس تاسو دا ووایاست: چي هغه به کمه زنانه وي: چي دغه ثواب نسي پیدا کولای، بلکه ټولي زناني دغه ثواب پیدا کولای سي، لېکن د دین دعلم او د مسئلې د نه معلومات په وجه دا د دغه ثوابونو څخه محرومه او بې نصیبه پاته سي.

## دودېدو څخه وروسته د مور او پلار کورته راتلل:

عام طور زناني د خاوند دکور څخه کله د مور او پلار کورته دعغوی د ملاقات لپاره راځي، اکثریت وخت بس د دوی دغه نیت وي: چي د مور او پلار ملاقات لره ورځم.
حالانکه په حدیث شریف کي راځي: چي د کمي زناني واده وسي، او دا د مور او پلار زیارت لره د مور او پلار کورته د خاوند د اجازت اخیستلو وروسته راځي، او په زړه کي ئې دا نیت وي: چي پر دې عمل به الله تعالی زما څخه راضي سي، نو پر هر قدم الله

تعالى سل(۱۰۰) نیکیاني ور کوي، او سل(۱۰۰) ئې ګناهونه معافوي، او په جنت کي سل(۱۰۰) درجې ور بلندوي.

او په حدیث شریف کي دا هم راځي: کچیري دا د مور او پلار کورته راسي، او د هغه و مخته د محبت په نظر وګوري، نو الله تعالى پر هر نظر دغه زناني ته د یو حج یا عمرې ثواب ور کوي.

صحابه وو د پیغمبر ﷺ څخه پوښتنه وکړه: چي اې دا الله نبي! کم سړی چي خپل مور او پلار ته بار بار د محبت او عقیدت په نظر سره ګوري، نو پیغمبر ﷺ په جواب کي ورته وویل: چي څومره واره ورته ګوري، الله تعالى د هغومره حجو او عمرو ثواب ور کوي.

## موضوع ته اعاده:

نو پر حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها باندي د حضرت علي رضي الله عنه په کور کي پیغمبر ﷺ د کور خدمت کښېښوی، او ورته وئې ویل: چي بچیه! ته به د کوردننه خدمت کوې، او حضرت علي رضي الله عنه به د کور دباندي خدمت کوي.

نو دې مبارکي د حضرت علي رضي الله عنه په کور کي خپله زندګي روانه کړه، چي هر څومره مشکلات راتلل، یا مسکنت وو، یا لوږه وه، هغه ئې په ډېره حوصله او صبر سره برداشتول.

## د علي رضي الله عنه په کور کي د فاطمة الزهراء حالت:

یو ځل حضرت علي رضي الله عنه تولـه ورځ د مزدورۍ په تلاش کي وګرځېدی، او د ورځي څه مزدوري ورته پیدا نسوه، ماښام دغسي خالي لاس کورته راغلی، او په کور کي هیڅ نسته.

نو حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها ته وایي: چي اې فاطمې! نن خو په کور کي څه نسته، زه به صبر وکړم، او ته به هم صبر وکړې، چونکه حسن او حسین دواړه ماشومان دي، هغه په صبر نه پوهیږي، نه معلوم چي هغه به نن څنګه صبر کړو.

آخر ورته وایي: اې فاطمې! ته ورسه! که درسول الله په کور کي څه وو، نو د دغه ماشومانو لپاره به ئې راوړې، چي د هغوی شپه په ماړه نس باندي تېره سي.

د ماښام د لمانځه څخه بعد پېغمبرﷺ په خپله حجره کي پر نفل لمانځه باندي ولاړ دی، حضرت فاطمة الزهراء دروازه وټکوله، پېغمبرﷺ لمونځ مختصر کړی، او ام ایمن ته ئې وویل: دغه د دروازې ټکول د فاطمې دی، الله تعالی دي خیر کړي، دا وخت خو د دې د راتللو نه وو، نه معلوم چي د کمي مجبورۍ په خاطر دا راغله، ته ورسه دروازه ور خلاصه کړه.

ام ایمن چي کله دروازه ور خلاصه کړه، نو حضرت فاطمة الزهراءرضي الله عنها راغله، د پېغمبرﷺ و حضورته کښېنستله، یو ساعت کی ئې د سترګو مبارکو اوښکي توی کړې، او بیا ئې پېغمبرﷺ ته ویل: اې د الله رسوله! فرشتې خو به تسبیح وایي، او په هغه سره به د خپل ځان ګوزاره کوي، فاطمه به څنګه ګوزاره وکړي، چي نن څو همه ورځ ده، چي د هغې نس ته یوه ګوله هم نده ورغلې.

او حسن و حسین وږي دي، ټوله ورځ راباندي ژاړي، د هغوی د خورک لپاره هم زما په کور کي څه نسته، آخر ئې د لاس تناکي ور ښکاره کړې، لکه په روایت کي راځي:

......جَاءَتْ فَاطِمَةُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَشْكُوْ مَجْلَ يَدَيْهَا﴾.(۱)

حضرت فاطمې پېغمبرﷺ ته د لاس تناکي ور ښکاره کړې، چي زه ټوله ورځ په دغه لاسو پر غرګي او شاڅه باندي ور بشي کوتم، اې د الله رسوله! ټولي مدینې ته خادمان ور کول سوه: که فاطمې ته هم یو خادم ور کول سي، نو په دي کي به څه نقصان وي؟

پېغمبرﷺ ورته وایي: بچیه! ته صبر وکړه، ستا د پلار منصب بادشاهت ندی، بلکه نبوت دی، چي تر څو پوري د مدینې ټولو کورو ته خادمان او مینځي رسېدلي نه وي، ستا د پلار کور ته نسي رسېدلای.

وروسته حضرت فاطمې د خپلو بچیانو د لوږې شکایت ورته وکړی، نو پېغمبرﷺ ورته وایي: بچیه! زما په کور کي پنځه(۵) بُزې ولاړي دي، ستا خوښه ده، هغه در سره بیائې، او که د آخرت لپاره یو پنځه کلمات در وښیم، چي په هغه کي به ستا لپاره ډېره لویه نفع او ګټه وي.

حضرت فاطمة الزهراءرضي الله عنها پدې باندي پوه سوله، چي زما پلار زما امتحان اخلي، نو دا نه ورته وایي: چي پلاره بُزې هم راکړه، او کلمې هم راوښیه، بلکه هغې ته منشا د

(۱) جامع الاصول في احادیث رسول للجزري: حدیث نمبر ۲۲۴۰

نبوت ور معلومه وه، چي زما د پلار مقصود امتحان اخیستل دي، نو ورته وايي: چي بس هغه پنځه دعاوي راوښیه، نو پیغمبرﷺ ورته وايي: بچیه! چیکله لاس پورته کړې، دغه پنځه دعاوي وایي، دا به ستا لپاره د هر څه څخه بهتره دي.

..............يَا أَوَّلَ الأَوَّلِينَ وَيَا آخِرَ الآخِرِينَ وَيَا ذَا القُوَّةِ الْمَتِيْنِ وَيَا رَاحِمَ الْمَسَاكِيْنِ وَيَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنِ﴾.

دغه پنځه دعاګاني وایه، دا ستا لپاره ډېره لویه ګټه او ثواب لري، دا مبارکه واپس را روانه سوه، چیکله راغله، نو حضرت علي رضی الله عنه ده کور په دروازه کي انتظار کوي، چیکله ئې دا ولیدله، ورته وايي: فاطمې! د بچو لپاره دي څه راوړل؟ دا مبارکه په جواب کي ورته وايي:

..............ذَهَبْتُ مِنْ عِنْدِكَ لِلدُّنْيَا وَأَتَيْتُكَ بِالْآخِرَةِ﴾.

اې علي! د دنیا په تلاش کي ولاړم، خو ستا کور ته مي آخرت راورساوی، حضرت علي رضی الله عنه ورته وايي:

..............خَيْرُ أَيَّامِكَ خَيْرُ أَيَّامِكَ﴾.(١)

اې فاطمې! چي څومره زندګي الله تعالی در کړېوه، په هغه ټوله کي دي دا بهترینه ورځ ده، چیکله ستا مخ ته د دنیا او آخرت د دواړو ترتیب راغلی، نو تا دنیا پرېښووله، او آخرت دي زما تر کوره راورساوی.

## درې ورځي په لوږه:

چونکه د دې مبارکي د پیغمبرﷺ سره ډېر محبت وو، نو دوهمه ورځ بیا پر داغه وخت د پیغمبرﷺ کورته راغله، نو هغه ورته وايي: بچیه! څنګه راغلې؟ دې د خپل پړوني د کونج څخه یو څه د وربشو ډوډۍ د پیغمبرﷺ و مخته پېش کړه.

ورته وايي: اې د الله تعالی رسوله! حضرت علي رضی الله عنه نن یو څه مزدوري کړېوه، او کورته ئې وربشي راوړې، هغه مي میده کړلې، او څلور(۴) ټوکوني مي ځني پاخه کړل، یو حضرت علي رضی الله عنه وخواړي، او یو مي حسن او حسین ته ور نیمی کړی، او یو یو سائل راغلی، هغه ته مي ورکړی.

(١) جامع الاحادیث لجلال الدین السیوطي: حدیث نمبر ۳۲۲۲۷

او دغه زما حصه ده، چیکله مي مخته کښېښوله، اویوه ګوله مي ځني وکړله، په خدای قسم تر ستوني مي نه تېرېدله، په زړه کي مي دا راغله: چي نه معلوم! پېغمبر ﷺ به نن د خوړک لپاره څه پیدا کړي وي، او کنه، نو هغه مي د تحفې په شکل دغه دی ستا حضور ته راورساوی، اې د الله تعالی رسوله! ته ئې را څخه قبول کړه.

پېغمبر ﷺ ورته وویل: اې فاطمې! زما دي د الله تعالی په ذات قسم وي:

............﴿أَمَّا إِنَّهُ أَوَّلُ طَعَامٍ دَخَلَ فَمُ أَبِيكَ مُنْذ ثَلَاثَة أَيَّامٍ﴾.(١)•

دغه اوله ګوله ده، چي ستا د پلار خولې ته ورځي، د درو(٣) ورځو څخه، یعني: چي ما هم په دا درې ورځي څه نه دي خوړلي.

## د حضرت فاطمة الزهرا ﷺ ناجوړي:

حضرت فاطمة الزهرا ﷺ د حضرت علي ﷺ په کور کي بیماره ده، پېغمبر ﷺ د هغه پوښتني ته راځي، نو د دروازې څخه حال ور استوي، ورته وایي: بچیه! ته لږ پرده وکړه، زما سره د قریشو سردار عمران ابن حصین را سره دی، موږ به پوښتني لره درسو.

دا مبارکه د دننه څخه حال ورته را استوي، چي اې د الله تعالی رسوله! په خدای قسم! زما په کور کي دومره ټکری نسته، چي زه ځان په پټ کړم، نو زه په څه باندي پرده وکړم.

پېغمبر ﷺ د خپلي ورې پټو ور استوي، ورته وایي: بچیه! ته یو ځل پدي کي ځان خوندي کړه، موږ به پوښتنه درباندي وکړو.

زموږ په عقیده کي به دا څومره سترې کوروو: چي د زناني د پردې لپاره ټکری نه وي، او د بچیانو د خوړک لپاره ګوله نه وي، او په کور کي زنانه ناجوړه وي، د هغه لپاره څه علاج نه وي.

(١) المعجم الکبیر للطبراني: حدیث نمبر ٧٥٠

لېكن په حقيقت كي زموږ د غه عقيده عين جهالت دی، دا هغه كور وو: چي د دې زنانه د جنت د ټولو زنانو سرداره وه، او د دې بچي د جنت د ټولو بچيانو سرداران وو، او د دې د خاوند متعلق الله تعالى پر عرش دا ليكلي وو: "عَلِيٌّ اَسَدُاللهِ وَاَسَدُ رَسُوْلِهٖ" چي علي د الله تعالى او د الله تعالى د رسول ﷺ زمری دی.

چيكله پېغمبر ﷺ كښېناستى، نو دا مباركه په پټو كي پېچلې د حجرې په كونج كي ناسته ده ژاړي، پېغمبر ﷺ پوښتنه ور باندي كوي، دا جواب نسي ور كولای.
پېغمبر ﷺ ورته وايي: بچيه! ولي ژاړې؟ دا مباركه په ژړا كي ورته وايي: اې دالله تعالى رسوله! په كور كي بېماري ده، د علاج بندوبست نسته، او بچي وږي دي، د هغوی د خورک بندوبست نسته، او په كور كي زيات مسكنت دی، دا ټول برداشت كولای سم، خو يوه خبره مي ډېره ژړوي، او هيڅ مي په برداشت كي نه راځي.

هغه دا: چي ستاسو غوندي عزتمند مېلمانه زما كورته راغلو، او زما په كور كي دومره څه نسته، چي ستاسو و مخته ئې كښېږدم، دا خبره هيڅ رقم نسم برداشت كولای.
پېغمبر ﷺ و ځان ته را نږدې كړه، او پخپله غيږ پوري ئې ونيوله، او د دې پر ژړا د پېغمبر ﷺ په سترګو كي هم اوښكي راغلې.
ورته وايي: بچيه! كه ستا په كور كي لوږه ده، ستا د پلار په كور كي هم لوږه ده، زما د الله تعالى په ذات قسم وي: چي زما نس ته هم نن دريمه ورځ ده، چي ګوله نده ور داخله سوې.

آخر ورته وايي
............عَرَضَ عَلَيَّ رَبِّيْ لِيَجْعَلَ لِيْ بَطْحَاءَ مَكَّةَ ذَهَبًا﴾.
الله تعالى دا پيغام راكړی: چي د مكې ټوله غرونه به درته سره زر كړم، چي ستا مالي كفايت به په كيږي.

............ﻗُﻠْﺖُ ﻟَﺎ ﻳَﺎرَبِّ وَلَكِنْ أَشْبَعُ يَوْمًا وَأَجُوْعُ يَوْمًا﴾.

ما الله تعالی ته دا عرض پېش کړی: یا الله تعالی داسي ژوند غواړم: چي یوه ورځ وږی یم، او یوه ورځ موړ یم.

............فَإِذَا جُعْتُ ضَرَعْتُ إِلَيْكَ وَذَكَرْتُكَ وَإِذَا شَبِعْتُ شَكَرْتُكَ وَحَمِدْتُكَ﴾.(١)

په کمه ورځ چي وږی سم، نو تا ته به خپله عاجزي پېش کړم، او هم به تا یاد کړم، او چي په کمه ورځ موړ یم، نو په هغه ورځ به ستا شکر او حمد ادا کړم.

هغه ځکه چي زما په امت کي به اکثر خلک فقیران راځي، د هغوی په کورو کي به د بچیانو لپاره نفقه نه وي، او نه به د اغوستلو لپاره جامه وي، او نه به د بیمارۍ په وخت کي د علاج څه بندوبست وي، نو د هغوی به دغه تسلي وي، چي دغه حالات که نن پر موږ دي.

نو دا حالات د پیغمبر ﷺ په کور کي هم تېر سوي دي، نو په دغه حوصله به ئې دوی برداشت کوي.

نو حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها د حضرت علي رضي الله عنه په کور کي په ډېر صبر او برداشت سره زندګي تېره کړله، او پیغمبر ﷺ به دې مبارکي ته همېشه دعاګاني کولې، او هم به پیغمبر ﷺ ته ډېره ګرانه وه.

الله تعالی دي زموږ زنانو ته د حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها پر نقشه باندي زندګي ور نصیب کړي، او که به چیري د هغوی په کورو کي مسکنت او سخت حالات وي.

(١) سنن ترمذي: حديث نمبر ٢٣٢٧

نو الله تعالی دې ئې د حضرت فاطمة الزهراء ﷞ د زندګۍ اوربدلو په حوصله باندې د برداشت کولو توفیق ور نصیب کړي، او الله تعالی دې دغه مذاکره پخپل دربار کې قبوله او مقبوله وګرځوي.

آمِیْن یَا رَبَّ العَالَمِیْن

وَصَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی خَیْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ.

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# د محرم د میاشتي فضائل

(بیان)


مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْـــمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿ إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللّٰهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : ﴿لَمَّا صَامَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ يَوْمَ عَاشُورَاءَ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ قَالُوا : يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّهُ يَوْمٌ تُعَظِّمُهُ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى ، فَقَالَ : فَإِذَا كَانَ عَامُ الْمُقْبِلِ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ صُمْنَا الْيَوْمَ التَّاسِعَ. قَالَ : فَلَمْ يَأْتِ الْعَامُ الْمُقْبِلُ حَتَّى تُوُفِّيَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## دمحرم د میاشتې متعلق یو څو خبرې:

محترمو حاضرینو! د محرم الحرام میاشته شروع سوې ده، دا د اسلامي کال اوله میاشته ده، ځکه اسلامي کال دوولس(١٢) میاشتې دی، چې د هغې اوله میاشت د محرم الحرام ده، او آخره میاشته ئې د ذوالحجې ده.

هسې خو دغه دوولس(١٢) میاشتې ټولې الله تعالی هغه وخت پیدا کړې دي، چې کله ئې سمان او ځمکه پیدا کول، خو په دغه دوولس(١٢) میاشتو کې څلورو(۴) میاشتو ته الله تعالی خاص فضیلت ور کړی دی، چې هغه ته الله تعالی "اشهر الحرم" ویلي دي، په ټولو میاشتو کې د هغوی درجه ډېره لوړه ده.

(١) سورة التوبه: آیت نمبر ٣۶

(٢) رواه مسلم بحواله مشکوة: صفحه نمبر ٢٨٠

## څلور (۴) محترمي میاشتي:

به هغه څلورو میاشتو کي درې (۳) میاشتي پر له پسې او مسلسلي راځي:

۱. ذوالقعده.
۲ ذوالحجه.
۳. محرم الحرام.
۴ او یوه میاشته جلا ده، چي هغه "رجب المرجب" ده.

د حضرت آدم علیه السلام څخه ونیسې، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم تر زمانې پوري چي څومره شریعتونه الله تعالی د آسمان څخه را نازل کړیدي، په هر شریعت او د هر نبي په زمانه کي دغه څلورو (۴) میاشتو ته قدر او احترام ورکول سوی دی.

## د دې میاشتو د احترام مطلب:

د احترام او حرمت مطلب دا دی: چي پدې څلورو (۴) میاشتو کي انسان د الله تعالی عبادت وکړي، او وخت په نیکو اعمالو کي تېر کړي، او خپل ځان د ګناهونو څخه محفوظه وساتي.

په مخکنیو شریعتو کي پدې څلورو (۴) میاشتو کي جنګ او جدال کول، حتی چي د کفارو سره جهاد کول هم حرام او منعه وو، د کال په اتو (۸) میاشتو کي جهاد کېدلای سو. لېکن پدې څلورو (۴) میاشتو کي الله تعالی انسانان د جهاد څخه هم منعه کړي وو، د دې څخه هم دا معلومېږي: چي الله تعالی دغه میاشتو ته څومره قدر او احترام ورکړی دی.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم چیکله دنیا ته راغلی، د ده په شریعت کي هم د دغه میاشتو احترام باقي ور، لکه پدې آیت کي هم دا خبره الله تعالی ښکاره کړېده.

البته د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په شریعت کي بیا وروسته هغه د جهادي منعي حکم منسوخه ګرځېدی، او پدې میاشته کي الله تعالی دې امت ته دجهاد کولو اجازت ور کړی دی.

بلکه که سړی اسلامي تاریخونه وګوري، چي الله تعالی مسلمانانو ته کم فتوحات ور کړيدي، اکثر په دغه میاشتو کي راغلي دي، لکه زموږ او ستاسو په علاقو کي اوسني فتوحات هم زه د دې میاشتي او د دې ورځو برکت بولم.

نو چي کم سړی پدې میاشته کي و نیکو اعمالو او عباداتو ته متوجه سي، او هم د ګناهونو څخه د حفاظت پوره اهتمام وکړي، نو هیڅ بعیده نده: چي الله تعالی به د کال په باقي اتو (۸) میاشتو کي هم و ده ته زیات د نیکو اعمالو توفیق ور کړي، او هم به ئې په باقي اتو (۸) میاشتو کي د ګناهونو څخه حفاظت ور نصیب کړي.

## دې ورځي ته ولي عاشورا وایي؟

فقیه ابو لیث سمرقندي رحمۃ اللہ علیہ فرمایلي دي: چي د دې ورځي د نامه ایښوولو وجهي علماؤو مختلفي بیان کړيدي، یوه وجه خو دا: چي دا د محرم د میاشتي لسمه(۱۰) ورځ ده، او لسو(۱۰) ته په عربي کي عاشوره وایي، نو ځکه د دې ورځي نوم هم عاشورا مسمٰی سو.

بعضو نورو علماؤو بیا لیکلي دي: چي پدې ورځ کي الله تعالی لسو(۱۰) انبیاء علیہم السلام ته لس(۱۰) کرامتونه ور نصیب کړيدي:

۱. حضرت آدم علیہ السلام ته الله تعالی په جنت کي زندګي ورکړه، خو دا ئې ورته وویل: چي دغه خاص درختي ته به نه ور نزدې کېږې.

شیطان جنت لره ورغلی، او ده ته ئې د هغه درختي د خوړلو وسوسه ور واچوله، د درختي د خوړلو څخه وروسته د جنت څخه الله تعالی را ویاستی، ده پر دغه خپله خطا باندي درې سوه(۳۰۰) کاله الله تعالی ته ژړا وکړه، او هم ئې دېرش(۳۰) ځله پیدل پر بیت الله باندي حج وکړی، د هغه څخه وروسته ئې الله تعالی په دغه ورځ د عاشورا د ده توبه قبوله کړه، نو د دتوبې قبولیت لوی کرامت وو، چي الله تعالی په دغه ورځ ده ته ور نصیب کړی.

۲. حضرت ادریس علیہ السلام ته الله تعالی لوړ مقام ورکړی، لکه الله تعالی قرآن کریم کي وایي:

............﴿وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا﴾.(١)

موږ ادريس علیه السلام لوړ مقام ته پورته کړی.

د رواياتو څخه معلوميږي: حضرت ادريس علیه السلام په دنيا کي يو فرشته ملګري درلوده يوه ورځ ده پوښتنه څني وکړه: چي زما مرګ به کله راځي، نو هغې ورته وويل: چي د دې معلومات به د حضرت عزرائيل علیه السلام څخه وکړو، نو ادريس علیه السلام ئې د ځان سره روان کړی، په څلورم(۴) آسمان باندي دوی لره حضرت عزرائيل علیه السلام په مخه ورغلی، نو هغه فرشتې د ادريس علیه السلام د ژوند پوښتنه څني وکړه، نو حضرت عزرائيل علیه السلام ورته وويل: چي د ادريس علیه السلام د روح اخيستلو لپاره خو زه اوس دا يم روان يم.

نو هلته حضرت عزرائيل علیه السلام د ده روح قبض کړی، او الله تعالی ده ته دوباره په څلورم(۴) آسمان کي ژوند او استوګنه ور نصيب کړه.(٢)

اوس دغه ورځ چي د ده روح قبض کېدی، او بيرته الله تعالی ژوند ور کاوی، او هم ئې په آسمانو کي زندګي ور نصيب کړه دغه ټول کرامتونه د عاشورې په ورځ باندي وو.

٣. حضرت نوح علیه السلام چيکله قوم ته ډېره زياته زمانه دعوت وکړی، په هغه کي ډېرو کمو انسانانو پر ده باندي ' مان راو ړی، او چيکله دی نااميده سو، نو ئې د الله تعالی په حضور دا غوښتنه وکړه:

............﴿وَقَالَ نُوحٌ رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا﴾.(٣)

يا الله! د مځکي پر مخ د دې کافرانو څخه يو کلی هم مه پرېږده، يعني ټول هلاک کړه.

الله تعالی حضرت نوح علیه السلام ته امر وکړی: چي ته زموږ په نګراني کي يو کښتۍ جوړه کړه، چيکله کښتۍ جوړه سوه، نو حضرت نوح علیه السلام د هغه

---

(١) سورة مريم؛ آيت نمبر ۵٧

(٢) حاشيه جلالين شريف؛ سورة مريم؛ آيت نبر ۵٧

(٣) سورة نوح: آيت نمبر ٢۶

مسلمانانو ملګرو او د يوې يوې جوړې حيوانانو او مرغانو او د مځکې د ټولو حشراتو سره کښتۍ ته پورته سول.
او د مځکي ټوله سر الله تعالى په اوبو ونيوى، د دغه کښتۍ د مخلوقاتو څخه سوا نور ټول پر مځکه باندي په اوبو کي غرق سول، او دغه کښتۍ شپږ(۶) مياشتي د اوبو پر سر ګرځېدله، شپږ(۶) مياشتي وروسته الله تعالى پر "جودي" غره باندي ودروله، نو په کمه ورځ چي کښتۍ ودرېده، او نوح علیہ السلام ته الله تعالى نجات ور نصيب کړى، نو دغه کرامت هم د عاشورې د ورځي برکت وو، يعني دغه هم د عاشورې ورځ وه.
۴. حضرت ابراهيم علیہ السلام ته الله تعالى په يو "بت پرسته" کورنۍ کي ژوند ورکړى، او بيا ډېر لوى امتحانات ور باندي راغلل، او ده په هغه کي ډېر زيات استقامت وکړى، د هغه په برکت الله تعالى ده ته د ابوالانبياء او شجر الانبياء لقب ورکړى، او چي د ده په نسل کي الله تعالى لس زره(۱۰۰۰۰) انبياء کرام پيدا کړل، نو د ده پيدا کېدل، او هم الله تعالى ده لره د خپل ځان خليل جوړول، او بيا د نمرود د اور څخه خلاصېدل، دا ټول کرامتونه د عاشورې په ورځ وو.
۵. حضرت داؤد علیہ السلام د الله تعالى ډېر غوره نبي وو، يوه ورځ يو دوه(۲) کسانو خپله دعوه ورته راوړله، چي يو د پسو مالک وو، او بل د کښت مالک وو، چي د پسو د مالک حيواتانو د هغه بل کښت ټول پېولى وو، نو حضرت داؤد علیہ السلام فيصله وکړه، چي پسونه ټول د کښت د مالک سو، او د پسو مالک د هر څخه خلاص سو.
دوى چيکله راوتل، نو په لاره کي سليمان علیہ السلام د فيصلې پوښتنه ځني وکړه، نو دوى چيکله هغه صورتحال ورته بيان کړى، نو هغه بيا فيصله داسي وکړه: چي پسونه دي في الحاله د کښت مالک بوزي د هغه د شيدو او د وړيو ټول منافع دي دى اخلي، او د پسو مالک دي، د ده په کښت کي محنت وکړي، چيکله کښت بيرته خپل زاړه حالت ته ورسېدى، نو د پسو و مالک ته دي خپل پسونه ورکړي، او دى دي خپل کښت واخلي.

چونکه د دواړو انبیاؤو فیصله په اجتهاد وه، او یا د وحي په ذریعه وه، خو ثاني ناسخه او اوله فیصله منسوخه سوه، خو دا د داؤد علیہ السلام یو قسم خطا وه. او په بعضو روایاتو کي بیا د حضرت داؤد علیہ السلام په بل شکل باندي خطا ذکر سوې ده، خو بهرحال د حضرت داؤد علیہ السلام چي هره خطا وه، خو الله تعالی ئې د هغې خطا څخه توبه قبوله کړه، او د ده د توبې د قبولیت ورځ هم [illegible] رې مبارکه ورځ وه.

٦. حضرت عیسی علیہ السلام ته الله تعالی بغیر د پلاره وجود ورکړی، چي دا د الله تعالی د قدرت یوه لویه نښانه وه.

او زموږ عقیده دا ده: چي الله تعالی دی آسمانو ته پورته کړی دی، او اوس په آسمانو کي ژوند لري، که څه هم د صلیبیانو دا عقیده ده: چي دی پر سولی باندي په دار سوی دی، خو د ده د آسمانو ته پورته کېدلو کرامت هم الله تعالی د عاشورې په ورځ ورکړی دی.

٧. حضرت موسی علیہ السلام ته الله تعالی د فرعون د مقابلې امر کړی دی، او حضرت موسی علیہ السلام دیرش (٣٠) کاله مسلسل په مصر کي د فرعون مقابله وکړه، چي کله هغه د ده په مقابله کي د زور لار خپله کړه، نو ده او بني اسرائیلو ته الله تعالی د "قلزم" د دریاب څخه نجات ورکړی، او فرعون د خپل قوم قبطیانو سره د "قلزم" په دریاب کي غرق سول، نو د موسی علیہ السلام نجات او د فرعون غرقېدل هم د عاشورې په ورځ باندي وو.

٨. حضرت یونس علیہ السلام د الله تعالی د اجازت څخه بغیر د خپل قوم څخه وواتی، او بیا "دریاب" ته ورغلی په دې نیت: چي د کښتۍ په ذریعه د خپل قوم څخه ولاړ سي، او بل طرفته خپله زندګي تېره کړي، نو الله تعالی دی د ماهي په نس کي واچاوی، اوس روایات ډېر مختلف دي: چي د ماهي په نس کي ده څومره وخت تېر کړی، بهر حال چي په کمه ورځ الله تعالی ده ته د ماهي د نس څخه نجات ورکړی، یعني دی د ماهي د نس څخه الله تعالی راویاستی، دا هم د عاشورې ورځ وه.

۹. حضرت سلیمان علیہ السلام ته الله تعالی د ہر عظیم بادشاهت ور کړی وو، چي تر هغه بادشاهت لاندي انسانان او جنات ټوله وو، او ده ته په هغه بادشاهت کي الله تعالی پر هوا باندي د تللو لپاره تخت ور کړی، چي د یو سهار مزل ئې د یوې میاشتي وو، او د یو ماځیگر مزل ئې هم د یوې میاشتي وو، نو دغه سلطنت ور کول او دغه کرامت د سلیمان علیہ السلام په نصیب کېدل، هم د عاشورې په ورځ وو.

۱۰. د یو روایت مطابق د پېغمبر ﷺ پیدائش هم د عاشورې په ورځ باندي سویدی.(۱)

## د عاشورې د نامه بله وجه:

د بعضو نورو علماؤ وینا ده: چي دې ورځي ته ځکه عاشوره وایي: چي الله تعالی دې امت ته کم فضیلتونه ورکړي دي، د دې ورځي فضیلت ئې لسم(۱۰) دی.

۱. اول فضیلت د "رجب" میاشته ده، چي الله تعالی د دې امت لپاره دعزت او شرافت ذریعه جوړه کړېده، او د دې فضیلت پر نورو میاشتو باندي داسي دی: لکه د دې امت فضیلت چي پر نورو امتو باندي دی.

۲. د "شعبان" میاشته ده، چي دا هم د دې امت لپاره د لوی فضیلت ذریعه ده، او په روایاتو کي راځي: چي د شعبان د میاشتي فضیلت پر نورو میاشتو باندي داسي دی: لکه د نبي اکرم ﷺ فضیلت پر نورو انبیاؤ باندي چي څومره دی.

۳. او د "رمضان المبارک" میاشته ده، چي په هغه کي یو نفلي عبادت الله تعالی په فرضي عبادت شماري، او فرضي عبادت یو په اویا(۷۰) باندي بنده ته ور شماري.

او د هغه فضیلت پر نورو میاشتو باندي داسي دی: لکه د الله تعالی فضیلت پر ټوله مخلوق باندي.

(۱) تنبیه الغافلین (پښتو): صفحه نمبر ۳۱۰

۴. د لیلة القدر شپه ده، چي کم چاته الله تعالی دهغه یوې شپې عبادت ور نصیب کړي، نو د ده په عملنامه کي تر زر(۱۰۰۰) میاشتي زیات عبادت لیکل کیږي، چي دهغه مقدار غالباً څلور اتیا(۸۴) کاله شا او خوا راځي.

۵. د کوچني اختر ورځ ده، چي هغه د مسلمانانو د اجرت او د مزدورۍ ورځ ده، چي په هغه ورځ کي الله تعالی د بندګانو په ذریعه پر ملائکو باندي فخر کوي، او الله تعالی بندګانو ته وايي: اې زما بندګانو! زما څخه غوښتنه وکړئ، زمادي په خپل عزت او جلال قسم وي: چي نن ورځ تاسو زما څخه د دین او دنیا متعلق څه غواړئ، زه به هغه تاسو ته در کوم.

٦. د ذوالحجې لس(۱۰) مبارکي ورځي دي، چي د هغوی هره شپه د لیلة القدر سره برابره ده، او په هغه کي الله تعالی ته عبادت کول تر هر وخت زیات محبوب او خوښ دی.

۷. دعرفات ورځ ده، چي ددې ورځي روژه نیول، د دوو(۲) کالو د ګناهونو کفاره جوړیږي، او پر یوه روژه باندي الله تعالی انسان ته د سلو(۱۰۰) غلامانو آزادولو او هم د سلو(۱۰۰) اوښانو قربانولو او د سلو(۱۰۰) آسانو مجاهدینو ته د برابرولو ثواب ورکوي.

او د اتم په ورځ دغه ثواب د سلو(۱۰۰) پر ځای زرو(۱۰۰۰) ته رسیږي، او دعرفات د روژې نیولو په وجه دغه ثواب دوو زرو(۲۰۰۰) غلامانو آزادولو او دوو زرو(۲۰۰۰) اوښانو قربانولو او دوو زرو(۲۰۰۰) آسانو مجاهدینو ته ورکولو ته رسیږي.

۸. د قربانۍ ورځ ده، چي د ابراهیم علیه السلام یادګار دی، او پر هر ببښته ئې الله تعالی د انسان په علمانامه کي نیکي جمعه کوي.

۹. دجمعې مبارکه ورځ ده، چي د ټولو ورځو سرداره ده، او پدي کي یو ګړی داسي راځي: چي الله تعالی د بنده هره دعا د دنیا او که د آخرت قبلوي ئې.

۱۰. د عاشورې ورځ ده، چي د دې ورځي روژه د یو کال د ګناهونو کفاره ده.

غرض دا: چي په دې ورځو کي کم فضیلتونه دي، چي الله تعالی د امت دګناهونو د کفارې ذریعه جوړ کړي دي، په هغوی کي لسم(١٠) فضیلت د عاشوریٰ ورځ ده، چونکه دا لسم فضیلت دی، نو په دې وجه و دې ته د عاشورې ورځ وایي.

## د عاشورې دورځي اعمال:

اول عمل د عاشوریٰ په ورځ دا دی: که چیري د انسان همت وي، نو روژه نیول، په تېرو شریعتو کي د عاشورې د ورځي روژه فرض وه، او د اسلام د دین په ابتداء کي هم چي کله د روژې د میاشتي فرضیت لا نه وو راغلی، د عاشورې روژه فرض وه.

چي کله الله تعالی د روژې د میاشتي روژې پر انسانانو فرض کړلې، نو د عاشورې د ورځي د روژې فرضیت منسوخه سو، البته د دې استحباب او لوی ثواب او د دې سنت والی اوس هم پاته دی.

لکه د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه هم یو روایت رانقل سوی دی:

﴿أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَدِمَ الْمَدِيْنَةَ فَوَجَدَ الْيَهُوْدُ صِيَامًا يَوْمَ عَاشُوْرَاءَ ......... فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: مَا هَذَا الْيَوْمُ الَّذِي تَصُوْمُوْنَهُ ؟ فَقَالُوا : هَذَا يَوْمٌ عَظِيْمٌ : أَنْجَى اللهُ فِيْهِ مُوْسَى وَقَوْمَهُ وَغَرَّقَ فِرْعَوْنَ وَقَوْمَهُ فَصَامَهُ مُوْسَى شُكْرًا فَنَحْنُ نَصُوْمُهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : فَنَحْنُ أَحَقُّ وَأَوْلَى بِمُوْسَى مِنْكُمْ فَصَامَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ﴾.(١)

پېغمبر صلی الله علیه وسلم چي کله مدینې منورې ته راغلی، نو یهودو به دعاشورې د ورځي روژه نیوله، پېغمبر صلی الله علیه وسلم د هغوی څخه پوښتنه وکړه، چي تاسو د دې ورځي روژه ولي نیسئ؟

هغوی په جواب کي ورته وویل: چي دا ډېره عظیمه ورځ ده، الله تعالی په دې ورځ موسی علیه السلام او د ده قوم بني اسرائیلو ته نجات ورکړی دی، او فرعون او د هغه قوم ئې غرق کړی دی، او موسی علیه السلام د شکر په طریقه د دې ورځي روژه نیولې ده، نو موږ هم د ده د اتباع په خاطر د دې ورځي روژه نیسو.

پېغمبر ﷺ ورته وفرمایل: چي مونږ خو تر تاسو موسی علیه السلام ته ډېر قریب یو، نو مونږ د دې حقداره یو: چي باید روژه ونیسو، نو ده به په خپله هم روژه نیوله، او صحابه وو ته به ئې هم د روژې نیولو تاکید کاوی.

د حضرت عائشې مبارکې وینا ده: چي قریشو به د جاهلیت په دور کي دعاشورې د ورځي روژه نیوله، او پېغمبر ﷺ هم په مکه مکرمه کي د دې ورځي روژه نیوله، چي کله دی مبارک مدینې منورې ته راغلی، او پر ده د رمضان المبارک روژې فرض سوې، نو ده به فرمایل: چي ما خو تاسو ته دعاشورې د ورځي د روژې نیولو حکم کاوی، اوس درته اختیار دی: که ئې څوک نیسي، خو ښه خبره ده، او که ئې نه نسي، نو پر ده باندي څه ملامتیا نسته.

حضرت جابر رضی الله عنه یو روایت رانقل کوي:

........كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَأْمُرُ بِصِيَامِ يَوْمِ عَاشُوْرَاء وَيَحُثُّنَا عَلَيْهِ وَيَتَعَاهَدُنَا عِنْدَهُ فَلَمَّا فَرَضَ رَمَضَانُ لَمْ يَأْمُرْنَا وَلَمْ يَنْهَنَا عَنْهُ وَلَمْ يَتَعَاهَدْنَا عِنْدَهُ ﴾.(۱)

نبي کریم ﷺ به مونږ ته د عاشورې د ورځي د روژې نیولو حکم کاوی، او مونږ به ئې پر هغه باعث کول، او هم به ئې مونږ ته د دغه روژې ډېر تاکید کاوی.

چي کله د رمضان المبارک روژې فرض سوې، نو بیا به ده مونږ ته نه د نیولو حکم کاوی، او نه به ئې څني منع کول.

## د عاشورې دورځي د روژې فضیلت:

فقیه ابو لیث سمرقندي رحمة الله علیه په خپل سند سره د حضرت ابن عباس رضی الله عنه روایت کوي: چي پېغمبر ﷺ به فرمایل:

کوم څوک چي د عاشورې د ورځي روژه ونیسي، الله تعالی به هغه ته د زرو (۱۰۰۰) فرشتو د اعمالو کولو ثواب ورکوي.

او چي څوک د عاشورې د ورځي روژه ونیسي، هغه به د لس زره (۱۰۰۰۰) حج کونکو او عمره کونکو ثواب پیدا کړي، او هم به الله تعالی د لس زرو (۱۰۰۰۰) شهیدانو مرتبه ورکړي.

(۱) مشکاة المصابیح للتبریزي: حدیث نمبر ۲۰۶۹

او چي څوک د عاشورې په ورځ د يو يتيم پر سر لاس ور تير کړي، الله تعالی به د هر ورېښته په عوض کي ده ته درجه ور بلنده کړي.
او چي څوک د عاشورې په ماښام د يو مسلمان د روژمات بندوبست وکړي، هغه داسي دی: چي ټوله امت محمديه ﷺ ته په ماړه نس د ډوډی بندوبست وکړي.
صحابه وو د پېغمبر ﷺ څخه عرض وکړی: اې د الله تعالی رسوله! ايا الله تعالی د عاشورې ورځي ته پر ټولو ورځو فضيلت ور کړی دی؟ ده مبارک په جواب کي ورته وويل: هو، هغه ځکه چي الله تعالی آسمانونه او مځکي د عاشورې په ورځ پيدا کړي دي، غرونه او دريابو نه، لوح او قلم، جنت او جهنم، آدم او حوا عليهما السلام ئې هم په دغه ورځ پيدا کړي دي.
نو دا ډېره مبارکه ورځ ده، او د زيات ثواب پيدا کولو يو موقع ده، چي کوم چاته الله تعالی همت ور کړی وي، نو بايد په دې ورځ باندي روژه ونيسي.
ځکه چي په متعددو احاديثو کي د دغه روژې زيات فضيلت راغلی دی، چي د هغه خلاصه دا ده:
چي پېغمبر ﷺ فرمايلي دي: چي کوم سړی د عاشورې د ورځي روژه ونيسي، زما د الله تعالی د رحمت څخه اميد دی: چي الله تعالی به د ده د تېر يو کال ګناهونه ور معاف کړي.(١)

## دوې روژې نيول:

خو لېکن يوه خبره ضروري ده: هغه دا: چي پکار دا ده: چي انسان کم ازکم دوې(٢) روژې ونيسي، يوه د نهم د ورځي، او دوهمه د لسم د ورځي، يا يوه د لسم د ورځي، او دوهمه د يوولسم د ورځي.
لکه د پېغمبر ﷺ په بعضو احاديثو کي دې ته ضمناً اشاره سوې ده: حضرت عبدالله ابن عباس يو حديث د پېغمبر ﷺ څخه په دغه باره کي رانقل کړی دی:

(١) تنبيه الغافلين: صفحه نمبر ٣٠٩

........حِيْنَ صَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَوْمَ عَاشُوْرَاءَ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ قَالُوْا : يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّهُ يَوْمٌ يُعَظِّمُهُ اَلْيَهُوْدُ وَالنَّصَارَى . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : لَئِنْ بَقِيْتُ إِلَى قَابِلٍ لَأَصُوْمَنَّ التَّاسِعِ ﴾.(١)

چيکله پېغمبرﷺ د عاشورې د ورځي روژه ونيوله، نو صحابه وو پوښتنه ځني وکړه: چي اې د الله تعالى رسوله! يهود او نصارى د دغه ورځي ډېر زيات تعظيم کوي.

پېغمبرﷺ ورته وفرمايل: که چيري ماته الله تعالى تر را روان کاله پوري ژوند رانصيب کړی، نو زه به د عاشورې د ورځي سره د نهم د ورځي روژه هم نيسم.

بهر حال: پېغمبرﷺ په را راوان کال کي د لسم د ورځي سره د يوې بلي روژې نيولو اراده درلودله، چي هغه بعضي رواياتو د نهم ورځ او بعضو بيا د يوولسم ورځ ذکر کړېده.

لېکن په را روان کال د ربيع الاول په مياشته کي پېغمبرﷺ د دنيا څخه رخصت سو، او يوه زياته روژه ئې نه ونيوله.

نو ځکه علماء کرامو دا ليکلي دي: چي ښه خبره دا ده: چي کوم څوک د محرم د ورځي روژه نيسي، نو دي يوه بله هم ورسره ونيسي، هغه بيا د ده خوښه ده، د نهم د ورځي يا د يوولسم د ورځي روژه دي ورسره ملګرې کړي.

او دا افضل عمل دی، ځکه يوازي د عاشورې د ورځي روژه نيول، علماؤ مکروه تنزيهي او خلاف اولٰى علماؤ ليکلې ده.

لېکن که چيري د چا همت کم وي، بس! د دغه يوې ورځي روژه دي ونيسي، چي بالکل د دغه ثواب څخه محروم او بې نصيبه پاته نه سي.

## د دوو (٢) روژو نيولو حکمت:

علماء کرامو دا ليکلی دی: چي د پېغمبرﷺ په عبادت کي هم د نورو قومو سره مشابهت خوښ نه وو، ځکه يهودو يوه روژه نيوله، نو د ده دا خوښه نسوه، چي مسلمان دي هم يوه روژه ونيسي، او د يهودو سره دي مشابهت وکړي.

(١)مشکاة المصابيح للتبريزي، حديث نمبر ٢٠٤١

دا ډېره د فکر خبره ده: چې پېغمبر ﷺ په یو نیک عمل کې هم د نورو قومونو سره مشابهت نه خوښوی، نو زموږ پر حال دې الله تعالی رحم وکړي، موږ خو نن په لباس بلکه د زندګۍ په اکثرو خبرو کې د هغوی سره مشابهت کوو.
ډېر ځله زموږ د سر وریښتان او ږیره او زموږ لباس د پتلون او ټائي په شکل ټوله دهغوی د مشابهت په وجه په دغه شکل وي، او موږ په دغه کې ډېره لا وباله زندګي تېره وو، هسې نه: چې د قیامت په میدان کې دغه زموږ د پېغمبر ﷺ د شفاعت څخه د محرومۍ ذریعه و ګرځي.

## د عاشورې په ورځ پخپل کور کې وسعت:

دوهم عمل د دغه ورځې: لکه د یو ضعیف حدیث څخه ثابت دی: چې کوم سړی د خپل کور پر انسانانو په نفقه کې فراخي راولي، نو الله تعالی به په ټوله کال کې د ده په رزق کې برکت ور واچوي.
لکه زموږ د عامو بزرګانو هم په دې باره کې تصریحات راغلي دي، او هغوی خپلې تجربې ذکر کړې دي.
حضرت محمد بن میسره رحمة الله علیه فرمایلي دي: موږ اورېدلي دي: چې څوک پر خپل اولاد په نفقه او خورک کې فراخي وکړي، الله تعالی به ټوله کال د هغه لپاره رزق فراخ راواستوي.
ځکه دا په آسمانو کې د رزق د لیکلو ورځ ده، نو چې کله په دې ورځ پر مځکه د انسان رزق د فراخۍ په شکل باندې استعمال سي، نو الله تعالی به را راوان ټوله کال رزق دغسې فراخ او وسیع ور لره ولیکي.
حضرت سفیان ثوري رحمة الله علیه لیکلي دي: چې موږ په دغه خبره باندې بار بار تجربه کړې ده: او دا خبره مو یقیناً صحیح او صادقه پیدا کړې ده.

## یو څو اهم هدایات:

نو دغه خبره خو د پېغمبر ﷺ په احادیثو ثابته ده، خو البته په دې کې په بعضو خبرو سر خلاصول ضروري دي:

۱. اول خبره دا ده: چي دا هيڅ ضروري نه ده: چي انسان به خامخا د خپل کور د انسانانو سره په نفقه کي د وسعت او فراخئ معامله کوي، که دی تنګدسته وي، او که قرضداره وي.
دا صرف يو فضيلت دی: څه ضروري خبره نه ده، که يو څوک عمل په وکړي، نو سبب د فضيلت خو دی، او که ئې نه په وکړي، نو پر دې هيڅ ګناه نسته.

۲. دوهمه خبره دا ده: چي د دغه ورځي لپاره يو خاص نفقه برابرول ضروري نه دي، لکه په بعضو علاقو او په بعضو قومونو کي رواج راغلی دی، چي په دغه ورځ به خاص دغه نفقه برابريږي:
بلکه هر انسان دي، د خپل طبيعت او حيثيت مطابق د ځان لپاره ښه نفقه برابره کړي، چي څنګه د ده په وسع کي راځي، په شريعت کي د څه خاص نفقو ضروري والي نه دی راغلی.

## د مرګ تياري کول:

او دا ورځي د انسان د مرګ د تيارۍ ورځي دي، چي په آسانه طريقه په ډېر لږ عبادت انسان د خپل مرګ لپاره ډېره لويه تياري برابرولای سي.
او مرګ يو داسي حقيقت دی: چي انسان په هيڅ شکل د هغه څخه نسي خلاصېدلای، که انسان په دنيا کي هر څومره لوی مال او دولت پيدا کړي، يا هر څومره منصب او حکومت پيدا کړي، او که هر څومره د علم او دانائي مالک سي، بيا هم د مرګ څخه څوک خلاصېدلای نه سي.
د شيخ ابو علي ابن سينا رحمۃ اللہ علیہ څخه چا پوښتنه وکړه: چي د انسان د مرګ سبب څه دی؟ نو هغه په جواب کي ورته وويل: د انسان د مرګ سبب د انسان ژوندګي ده، چي کم چا ته الله تعالی په دنيا کي ژوندګي ور کړه، نو ګويا: د هغه د مرګ سبب موجود سو، او چي سبب موجود سو، نو مرګ به يوه ورځ خامخا ورله راځي.
حضرت ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ به فرمايل: که څيري يو سړی بغير د توبې څخه او بغير د توبې څخه د مرګ تر منګول لاندي راسي، او د قبر و توره کنده ته ور غوځېږي سي، نو

داسي دی: لکه یو انسان چي په یو بې پایانه دریاب کي بغیر د کښتۍ څخه غوټه سي، لکه د ده مبارک وینا ده:

.......... ﴿مَنْ دَخَلَ الْقَبْرَ بِلَا زَادٍ فَكَأَنَّمَا رَكِبَ الْبَحْرَ بِلَا سَفِينَةٍ﴾.

چي کله څوک د قبر توري کندي ته بغیر د توبې او توښې ور غوټه سو، نو داسي ئې بوله: لکه دریاب ته چي بغیر د کښتۍ څخه ور غوټه سي، خو دا د اوبو دریاب نه. بلکه د الله تعالی دعذابونو دریاب دی، هلته به دی د داسي حالاتو سره مخامخ سي:

.......... ﴿مَالَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ﴾.(۱)

چي نه به سترګو لیدلي وي، او نه به غوږونو اورېدلي وي، او نه به د انسان په دل او دماغ کي دهغه فکر او تصور راغلی وي.

نو دغه قبر تیاري غواړي، او د تیارۍ لپاره ئې زموږ او ستاسو سره دغه ډېره بهترینه موقع ده، او هم بهتریني ورځي دي، چي په ډېر لږ عبادت سره الله تعالی په قبرونو کي زموږ او ستاسو سره ډېره آساني کوي.

## د مرګ عجیب منظر:

موږ او تاسو یو څه! او زموږ څه حقیقت دی؟ مرګ هغه شی دی: چي دهغه په راتلو سره ډېري لوړي هستۍ ډېري زیاتي وارخطا پاته سوي دي.

د امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه متعلق په کتابو کي لیکلي دي: چي کله ئې آخري وخت راورسېدی، نو بچیان ورته ناست دي، د ده د بدن څخه دومره خوله راوزي: چي د کپړو څخه ئې د باندي مڅکي ته راورسېدله.

بچیانو ورته وایي: اې پلار جانه! ته خو د وخت امام ئې، او ټوله زندګي دي په پرهیزګاري او تقوی کي تېره کړه، او د لکونو احادیثو حافظ ئې، آخر ولي دومره غم کوې، او هم دومره پرېشانه ئې؟

ده په جواب کي ورته وویل: بچیانو! تاسو ته څه معلومه ده؟ اوس لږ زمانه بعد زما د الله تعالی دربار کي پېشي ده، نه معلوم! چي زما سره به هغه څه معامله وکړي؟ ځکه

(۱) المعجم الاوسط لابو القاسم الطبراني: حدیث نمبر ۱۶۳۷

هغه: ﴿فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ﴾ يعني: ډېر بې نيازه ذات دی، هسې نه: چې زما سره د بې نيازۍ معامله وکړي، او زه د سختو حالاتو سره مخامخ سم.

حضرت سفيان ثوري رحمة الله عليه د خپل وخت ډېر لوی قطب ابدال وو، او د خپل وخت عظيم محدث او ولي الله وو، چې کله ئې آخري وخت راورسېدی، نو خلک ورته ناست دي، ده خپل تندی پر مځکه مښوو ی، او ژړل ئې.

خلکو پوښتنه ځني وکړه: چې حضرت! ولې دومره پرېشانه ئې؟ ده په جواب کي ورته وويل: چې د الله تعالی څخه ډېر بېرېږم، هغه خلکو ورته وويل: چې تاته خو الله تعالی د ولايت درجه در کړې ده، او ته کامل ولي ئې، بيا هم په څه وجه د دومره بېري سره مخامخ ئې؟

ده ورته وويل: ولي به نه بېرېږم! ځکه چې: ﴿إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ﴾ ځکه چې د رب رانيول ډېر سخت دي، زه بېرېږم: هسې نه: چې د قيامت پر بعضي مواقعو ماد سختۍ په شان راونيسي.

امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په خپل وخت کي درو پنځوس(۵۳) حجونه ادا کړل، او څلوېښت(۴۰) ځله ئې د خپل کور څخه تر بيت الله پوري پياده د حج سفرونه وکړل، په آخري حج کي ئې په يوه لاس سره د کعبې غلاف نيولی دی، او په بل لاس سره ئې خپله سپينه ږيره نيولې ده، او په ډېره ژړا سره دا دعا کوي: اې زما مالکه! ما ستا لمن نيولې، او دا وايم: زما سر، نيک اعمال خو نسته، زما پر دغه سپينه ږيره رحم وکړه، او ما معاف کړه.

امام زين العابدين رحمة الله عليه د الله تعالی د بيري څخه په يوه شپه کي زر(۱۰۰۰) رکعات نفلونه کول.

داسي هم وسول: چې يو ځل د يخ په موسم کي اور ئې په نغري کي بل کړی، او دروازه ئې بنده کړه، پر لمانځه ودرېدی، او د قرآن تلاوت ئې شروع کړی.

دهغه انګېټي څخه د اور يو بڅرکی راوغورځېدی، چې دهغه څخه د حجرې سامان اور واخيستی، خلکو د دباندي خوا څخه د دروازې خلاصولو کوشش وکړی، چې ډېره زمانه تېره سوه، او دروازه نه خلاصېدله، نو د هغه خلکو دا ګمان سو: چې دی کي سوځلی او شهيد سوی دی.

چي کله ئې دروازه ماته کړله، نو د حجرې سامان او چت ټوله سوځل سوي دي، مګر دی مبارک پر لمانځه ولاړ په اطمینان سره د قرآن کریم تلاوت کوي.

نو هغه خلګو پوښتنه ځني وکړه: حضرت! تا لمونځ ختم نه کړی، او دا ټوله سامان درته وسوځل سو، او ته مطلقاً په خبر نه سوې؟

ده په جواب کي ورته وویل: تاسو دهغه اور پرېشانی په مخه اخیستي یاست، چي هغه په اوبو باندي مړه کیږي، او تاسو ئې هم مړه کولای سئ، او زه دهغه اور په فکر کي وم، چي هغه د نیکو اعمالو څخه بغیر په بل هیڅ شي نه مړه کیږي.(۱)

نو مرګ ډېره درنه حادثه ده، چي پر هر انسان باندي راځي، او د قبر زندګي ډېره اوږده ده، چي هر انسان ته ګوري، او د قیامت یوه ورځ پنځوس زره(۵۰۰۰۰) کاله ده، او د الله تعالی په حضور کي حساب او کتاب پېشول دي، او د پېغمبر ﷺ ملاقات ته ور تلل دي.

او دا ټول ډېره درانه حالات او کیفیات دي، د دغه حالاتو او کیفیاتو د آسانه کولو لپاره دا د عاشورې او دمحرم د ورځي عبادت یو بهترین فرصت دی، چي الله تعالی موږ او تاسو ته را نصیب کړی دی.

الله تعالی دي موږ او تاسو ته پدې ورځو کي د نیکو اعمالو او د ښو عباداتو توفیق رانصیب کړي.

او د دې ورځي دعبادت پخاطر دي هم په دنیا کي د رزق او د زندګی د نورو ضروریاتو متعلق د آسانی معامله را سره وکړي.

---

(۱) موت کی تیاری ایسی کرے: صفحہ نمبر ۷۹

او هم دي د آخرت ټول منازل راته آسانه کړي، الله تعالی دي د اڅو خبري قبولي او مقبولي وګرځوي.

آمِیْن یَا رَبَّ العَالَمِیْن

وَصَلَّی اللهُ تَعَالی عَلی خَیْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# د عصبيت څخه ځان ساتل

(بیان)

مولوی **اطیع الله** صاحب

استاذالحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الحَمْدَ لِلّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَستَعِينُهُ، مَن يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْــــمِ اللّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : ﴿كُلُّكُمْ لآدَم ، وَآدَمَ مِنْ تُرَاب ، وَأَكْرَمُكُمْ عِنْدَ الله أَتْقَاكُمْ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلى ذٰلكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو! ستاسو په حضور کي ما د سورة الحجرات د يو آيت تلاوت وکړی، الله تعالی پدې آيت کي د اسلامي دين يو بنيادي اصول بيان کړيدي، چي د هغه په ذريعه د اسلام دين د نورو اديانو او مذاهبو څخه ممتاز ګرځېدلی دی.
کچيري انسان ته الله تعالی پر هغه اصول باندي عمل ور نصيب کړي، نو بيا خو به د معاشرې څخه ډېر نفرتونه او ډېري فتنې ختم سي.
زه د ټولو څخه مخکي ستاسو و حضور ته يو ځل د هغه آيت ترجمه پېشوم، او د هغه څخه وروسته بيا د هغه يو څه تشريح کوم، الله تعالی دي ما ته د صحيح تشريح کولو توفيق راکړي، او هم دي موږ او تاسو ټولو ته پر هغه باندي د عمل کولو توفيق رانصيب کړي.

(۱) سورة الحجرات: آيت نمبر ۱۳
(۲) اخبار مكة للأزرقي: حديث نمبر ۷۱۳

پدې آيت کي الله تعالی فرمايي: اې انسانانو! پدې آيت کي خطاب صرف مسلمانانو ته نه دی، بلکه الله تعالی ټوله انسانيت ته خطاب کوي.
چي: تاسو ټوله مور د يو نارينه او زنانې شخه پيدا کړي ياست، نارينه حضرت آدم عليه السلام او زنانه حضرت حوا عليها السلام ده، چي ثومره انسانيت د دې مځکي پر کره ژوند لري، هغه ټول د دغه نارينه او زنانه اولاد دي، يعني: ټوله انسانيت د يو مور او پلار شخه ابتداءً پيدا سوي دي.
د هغه شخه وروسته ئې بيا مور او تاسو لره مختلف قبائل او قومونه جوړ کړي دي، يعني هسي خو په ابتدا کي د يو مور او پلار شخه پيدا سوي ياست، وروسته بيا په مختلفو شعبو او قومو کي سره تقسيم سوي ياست:

- ثوک عرب دي، او ثوک عجم دي.
- ثوک تور دي، او ثوک سپين دي.
- ثوک سره دي، او ثوک غنمرنگه دي.
- ثوک مشرقي دي، او ثوک مغربي دي.

خو د دغه خانداني او قومي تقسيم صرف يوه وجه ده، هغه دا: چي تاسو يو د بل سره وپېژنئ، نو صرف د شناخت او پېژندلو پخاطر تاسو په مختلفو قومونو او قبيلو کي تقسيم سوي ياست.

## قوم او خاندان صرف د شناخت لپاره دي:

مثلاً ستاسو مختہ کله درې(۳) کسان راسي، چي د هر يوه نوم: عبدالله وي، نو ته حيران سې، چي دا به او س زه څنگه پېژنم؟ چي دا کوم عبدالله دی؟
نو ددغه درو په مابين کي د پېژندلو او شناخت لپاره د هغه قوم او خاندان جوړ سوی دی، مثلاً يو هغه عبدالله دی: چي عرب دي، بل هغه عبدالله دی: چي ترکي دی، او دريم هغه عبدالله: چي هغه بيا د بل قوم او قبيلې سره تعلق لري.
نو قوميت صرف د دغه شناخت لپاره الله تعالی پيدا کړی دی، د قوميت په وجه هيڅ يو انسان پر بل انسان يا يو قبيله پر بله قبيله، يا يو خاندان پر بل خاندان يو قسم فضيلت نه لري، او نه ئې پيدا کولای سي، بلکه ټولي قبيلې او ټول قومونه سره برابر دي.

بلکه د فضيلت معيار الله تعالى پخپله بيانوي: چي:

........﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ﴾.(۱)

په تاسو کي د کرامت او د عزت خاوندان هغه دي: چي هغوی ته الله تعالى د تقوىٰ او پرهيزګارۍ زندګي ور نصيب کړېوي، هغه چي د هر خاندان سره تعلق لري، او د هر قوم او قبيلې فرد وي، چي الله تعالى تقوىٰ ور نصيب کړه، هغه زيات عزتمند بلل کيږي.

## زموږ د معاشرې حالت:

نن زموږ او ستاسو په معاشره کي د انسانانو په دماغونو کي د عزت او دفضيلت معيار کله مال او دولت وي، يعني: چي د کم چا سره مال او دولت ډېر وي، نو هغه خلک په معاشره کي عزتمند بولي.

يا د عزت معيار خلک منصب او حکومت بولي، چي کم چا ته لوړ منصب او حکومت ورکول سوي وي، نو دوی هغه ته د عزت په نظر ګوري.

او بعضي خلک بيا دعزت په ترتيب کي ډېره ترجيح عصبيت او قوميت ته ورکوي، د هغوی په عقيده کي دا وي: چي دا قوم عزتمند دی، او د دې په مقابل کي فلان قوم دومره عزت نه لري.

لېکن زه دا وايم: چي دا زموږ د عقل کمزوري ده، ځکه کچيري د عزت معيار مال او دولت وګرځي، نو بيا خو به د سړي په عقيده کي "قارون" تر موسى عليه السلام زيات عزتمند وي، ځکه چي د "قارون" د خزانو د کيليو وړلو لپاره بسته قافلې وي، او موسى عليه السلام د هغه په مقابل کي غريب او مسکين دی، چي د يو لنګ څخه ماسوا نور هيڅ هم نه لري، او په دغه عقيده باندي ډېر ځله د انسان ايمان ته خلل رسيږي.

او که حکومت او منصب دعزت معيار سي، نو بيا خو به زموږ په عقيده کي "فرعون" تر موسى عليه السلام ډېر عزتمند وي، ځکه "فرعون" چي پر کم تخت ناست دی، د هغه بدن ټول په سرو زرو کي پېچلی وي، او دا دعوىٰ کوي:

........﴿أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ الْأَنْهَارُ تَجْرِي مِن تَحْتِي﴾.(۱)

---

(۱) سورة الحجرات: آيت نمبر ۱۳

ايا زما سره د مصر حکومت نه دی؟ او دغه نهرونه زما د محل څخه لاندي نه تيريږي؟ موسی څه لري؟ چي زما مقابله کوي.

او موسی علیہ السلام ته الله تعالی يو لنګ ور کړی دی او چي کله خيرن سي، نو ليري يو ځای ولاړ سي، پر چينه باندي هغه لنګ پرېمنځي، او دی ورته ناست وي، چي کله هغه وچ سي، نو بيا ئې پر بدن وتړي، او د فرعون مقابلې ته راځي، نو په دغه عقيده باندي، هم د انسان ايمان ته نقصان رسيږي.

او که قوميت او عصبيت د عزت معيار سي، نو بيا خو به زموږ په عقيده کي ابو جهل چي د قريشو سردار دی، دا به تر حضرت بلال حبشي رضی اللہ عنہ چي يو غلام دی، فضيلت ولري، او دغه عقيده هم د مسلمان لپاره د خطرې څخه خالي نه بلل کيږي.

بلکه د عزت معيار په حقيقت کي تقوٰی ده، او پرهيز دي، او ښه عبادت کول، او د الله تعالی د دين خدمت کول، چي کم چاته الله تعالی دا ورکړل، نو هغه په معاشره کي عزت مند بلل کيږي، که څه هم په دنيا کي د هغه زندګي ستړې وي، خو دغه د عزت حالت به ئې د قيامت په ميدان کي ښکاره کيږي.

د قيامت په ميدان کي چي کله دغه خلګو ته اعزازات او انعامات ور کول کيږي، نو کم خلګ چي په دنيا کي ئې د تقوٰی زندګي نه وي تېره کړې، او نه ئې پر دين باندي او د دين پر خدمت باندي ځان ستړی کړی وي، نو هغه به دا تمنّی کوي:

............﴿لَوْاَنَّ جُلُودَهُمْ قُرِضَتْ بِالْمَقَارِيضِ﴾.(۲)

کاش! زموږ بدنونه په دنيا کي په غچيانو پرې سوي وای، يعني: تکليفونه مي ډېر ليدلي وای، خو دغه اعزازات او انعامات نن زموږ په نصيب وای.

## د علماؤو او امامانو او مؤذنانو مقام:

په روايانو کي راځي: چي کله د قيامت ميدان جوړ سي، ټول انسانان به د حساب او کتاب ور کولو په سختي کي غرق وي، د الله تعالی د طرفه به يو اعلان وسي:

............﴿اَيْنَ الْفُقَهَاءَ، اَيْنَ الْاَئِمَّةَ، اَيْنَ الْمُؤَذِّنُونَ اَطْوَلُ النَّاسِ اَعْنَاقًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾.(۱)

علماء چيري دي، امامان چيري دي، او آذان کونکي چيري دي؟ الله تعالی به دغه طبقاتو ته دومره عزت ورکړي، چي په ټول اهل قيامت کي به د دوی غاړي تر ټولو لوړي وي.

## د آذان کولو فضيلت:

پيغمبر ﷺ يو ځل د آذان کولو فضيلت ذکر کوی، حضرت عمر رضي الله عنه ورته وفرمايل: اې د الله رسوله! د دې خو دا معنی ده: چي ستا څخه وروسته به موږ د آذان کولو لپاره يو د بل په مقابل کي توري سره را اخلو.

پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل: عمره! زما پر امت به داسي زمانه راسي، چي په دوی کي څوک ظاهراً تر ټولو د کمي درجې والا وي، هغه به د آذان لپاره مقرر کړئ‌ي.

د قادسيه په جنګ کي چيکله موذن زخمي سو، نو د عربو سردارانو د آذان کولو د وظيفې لاس ته راوړلو په خاطر يو د بل په مقابل کي توري سره راپورته کړې، بيا حضرت سعد رضي الله عنه د هغوی په درميان کي قرعه اندازي ورو کړه، او د اذان لپاره ئې په هغه سره د يو سړي انتخاب وکړی.

نو د قيامت په ميدان کي به عام مالداران او د لوړ منصب او حکومت خاوندان او د لوړ مقام او مرتبې مالکان د حساب ور کولو په ترتيب کي پخپلو خولو کي غرق وي، خو دغه درې(۳) ډلي به د عزت پر ممبرونو ورته ناست وي، او د عامو خلکو به ننداره کوي.

الله تعالی به اهل قيامت ته وايي :

........﴿اِنَّكُمْ جَعَلْتُمْ نَسَباً وَ جَعَلْتُ نَسَبِیْ، اِنِّی قُلْتُ اِنَّ اَكْرَمَكُمْ اَتْقَاكُمْ وَ لَكِنَّكُمْ اَبَيْتُمْ وَ قُلْتُمْ اِنَّ فُلَانِ بْنَ فُلَانٍ خَيْرٌ مِنْ فُلَانِ بْنَ فُلَانٍ، اَلْيَوْمَ اَرْفَعُ نَسَبِیْ وَ اَضَعُ نَسَبَكُمْ﴾. (۲)

اې خلکو! تاسو هم ځان لره په دنيا کي يو نسبنامه او مفکوره جوړه کړېوه، او زما هم يو نسبنامه وه، ما به ويل: په تاسو ټولو کي عزتمند هغه څوک دی: چي زندګي ئې په تقوی کي تيريږي.

---

(۱) اتحاف الخيرة المهرة، حديث نمبر ۸۸۵

(۲) بيانات جميل، صفحه نمبر ۳۵

او تاسو به ویل: چي فلان د فلانکي زوی مال او دولت لري، یا منصب او حکومت لري، نو دا تر هغه چا عزتمند دی: چي د هغه سره مال او دولت او منصب او حکومت نه وي.
نن به زه خپله نسبنامه ته اعتبار ور کوم، او هم به ئې د عزت معیار ګرځوم، او ستاسو نسبنامه به کښته کوم، او نه به ئې اعتبار ورکوم، او نه به ئې د عزت معیار بولم، نو به الله تعالی اعلان وکړي: "اَيْنَ الْمُتَّقُوْنَ" چي د کم چا زندګي په دنیا کي په تقوٰی کي تېره سوه، هغه نن چیري دي؟
نو په دنیا کي دعزت معیار زموږ په اسلامي دین کي هغه تقوٰی ده، چي د کم چا سره تقوٰی ور سره وه، هغه به د قیامت په میدان کي عزت پیدا کوي، که په مالي لحاظ په دنیا کي هر څومره سټرې زندګي تېره کړي.
او چي د کم چا سره تقوٰی نوه، د هغه زندګي به د قیامت په میدان کي د ذلت په شکل تېرېږي، که په دنیا کي هر څومره مال او دولت او منصب او حکومت ولري.

## یو قوم هم پر بل قوم فوقیت نلري:

د قرآن کریم پدې آیت کي الله تعالی د انسانیت توجه د دوو(۲) خبرو و طرفته راګرځولېده.
اوله خبره دا: چي هیڅ یو سړی د خپل خاندان او د قبیلې او قومیت په وجه پر بل چا باندي خپله لوئي باید نه وکړي، او نه دي دا فکر کوي: چي زه خو د لوړ خاندان یو فرد یم، أو دوهم سړی د کښته خاندان فرد دی، نو زه عزتمند یم، او دی عزت والا نه دی.
ځکه چي الله تعالی وایي: چي دغه خاندانونه صرف د دې لپاره جوړ سویدي، چي تاسو یو بل سره وپېژنئ، نو دا د معرفت ذریعه ده، او د فضیلت ذریعه نه ده، د فضیلت ذریعه که ده، هغه صرف په انسانانو کي تقوٰی ده.
د دې خبري په ذریعه باندي قرآن کریم د یو لوی فتنې مخ نیولی دی، هغه دا: چي د بعضي خلکو په زړو کي لوئي او تکبر په دې وجه پیدا کیږي: چي موږ خو لوی خلک یو، ځکه چي د ډېر لوړ خاندان سره زموږ تعلق دی، نو په دې وجه دی پر نورو انسانانو

لوئي کوي، او نورو ته په سپک نظر ګوري، چي د هغه په وجه د انسانانو په مابين کي نفرت پيدا کيږي، او په معاشره کي د لوی فساد او د فتنو ذريعه ګرځي.
نو قرآن کريم انسانيت ته دا خبره ښکاره کړه: چي کم لوئي او تکبر چي د خاندان او قوم او قبيلې په وجه وي، دا زموږ د دين د اصولو بالکل خلاف عمل دی، بايد يو مسلمان د دې څخه ځان وساتي.

## د عربو لوئي او تکبر:

تاسو ګورئ! پيغمبر ﷺ چي دې دنيا ته تشريف راوړی، الله تعالی د ده بعثت په عربو کي وکړی، او د ده مخاطب عرب خلګ وو.
او عرب هغه قوم وو: چي د جاهليت د زمانې څخه د دوی په طبعيت کي دا خبره ناسته وه: چي په ټوله دنيا کي دوی و ځان ته زيات فضيلت ورکاوی، او د دوی دا عقيده وه: که يو څوک عرب وي، نو دوی به د ځان ورور بللی، او هغه ته به ئې د عزت په نظر کتل، او چي کم څوک به د عربو د قوم څخه نه وو، نو هغه ته به د عزت په نظر نه کتل، او نه به ئې د ځان ورور بللی، او د ځان په مقابله کي به ئې د هغه حيثيت ډېر کم بالی.
تر دې حده پوري چي عربو به نورو قومونو ته عجم ويل، د عجم مطلب دا وو: چي عرب نه وي، او د عجم لفظي معنی ده: ګونګی، ګويا عربو د خپل ځان څخه علاوه ټولي دنيا ته د ګونګي په نظر کتل.
په عربو کي دا تصور وو: که به چا عربي ژبه ويله، نو د هغه په باره کي به دوی دا ويل: چي دا خبره ده، او هم به ئې غوږ ورته نيوی، او که به چا د عربي څخه علاوه بله ژبه ويله، نو دوی به ويل: چي د دې سړي خبره ، خبره نه ده، په دې کي خو هسي بړهاري ځي، او نه به ئې د هغه و خبره ته غوږ نيوی.
تر دې حده پوري د دوی په زړو کي د خپل عربي قوميت يو خودپسندي او يو تکبر او يو لوئي وه، چي د دوی په ټوله معاشره کي د دغه خبري اثر درلودی، چي عرب عزت مند دی، او غير عرب د هغه هيڅ حيثيت نسته.

## د پیغمبر ﷺ طرز عمل:

چي کله پیغمبر ﷺ دنیا ته تشریف راوړی، نو دده بعثت خو په عربو کي وو، لیکن ده پخپل قول او عمل سره دغه تکبر او خودپسندي د عربو د ذهن څخه لیري کړله.

حتی: چي د حجة الوداع پر موقع باندي چي د پیغمبر ﷺ آخرنی حج وو، او یولک څلرویښت زره(۱۲۴۰۰۰) زیات او کم صحابه کرام موجود وو، ده کومه خطبه پیش کړه، په هغه کي ده هغه بنیادي اصول بیان کړل، چي پر هغه باندي زموږ دین ولاړ دی.

او په هغه کي ده هغه ټولي فتنې ښکاره کړې: چي د هغه په وجه مسلمان یو وخت په مصیبت کي واقع کیدلای سي.

او وئې فرمایل: زه پر تاسو پدې وجه نه ببریږم: چي زما څخه وروسته به تاسو په "بت پرستي" کي اخته سئ، لیکن زما سره دا بېره سته: چي شیطان تاسو ګمراه نه کړي، او د دنیا محبت ستاسو په زړو کي دروا نه چوي، او هسي نه چي ستاسو په مابین کي فتنې پیدا نه کړي، او تاسو یو د بل ویني توی نه کړئ.

په آخر کي ئې وفرمایل: په دې ښه سر خلاص کړئ!

.........فَلَيْسَ لِعَرَبِيٌّ عَلَى عَجَمِيٌّ فَضْلٌ، وَلَا لِعَجَمِيٌّ عَلَى عَرَبِيٍّ فَضْلٌ، وَلَا لِأَسْوَدَ عَلَى أَبْيَضَ فَضْلٌ، وَلَا لِأَبْيَضَ عَلَى أَسْوَدَ فَضْلٌ، إِلَّا بِالتَّقْوَى،﴾.(۱)

یو عربي پر عجمي څه فضیلت نه لري، او نه عجمي پر عربي فضیلت لري، نه تور پر سپین فضیلت لري، او نه سپین پر تور فضیلت لري.

فضیلت په معاشره کي الله تعالی هغه چاته ور نصیب کړی دی: چي د هغه زندګي د تقوی سره تیریږي، هغه که عرب وي، او که عجم وي، او که تور وي او که سپین وي، دا د پیغمبر ﷺ آخري پیغام وو، چي ټول امت ته ئې بیان کړی.

او پیغمبر ﷺ په ډېرو مختصرو الفاظو کي ټوله حقیقت ښکاره کړی، چي: اې انسانانو! تاسو به یو پر بل باندي څنګه ځان افضل وبولئ؟ او یو پر بل باندي به څنګه تکبر او لوئي وکړئ؟ حالانکه تاسو ټول د یو نارینه او زنانه څخه پیدا سوي یاست،

(۱) کنز العمال: حدیث نمبر ۳۰۴۴

ستاسو د ټولو اصل او بنياد يو دی: يعني حضرت آدم عليه السلام او حضرت هوا عليها السلام، نو تاسو دغه د فوقيت او فضيلت خبره د دماغ څخه ليري کړئ.
او د خطبې په آخر کي پيغمبر ﷺ ورته وايي:
............ كُلُّكُمْ لِآدَمَ ، وَآدَمَ مِنْ تُرَاب ، وَأَكْرَمُكُمْ عِنْدَ الله أَتْقَاكُمْ ، ﴾.(۱)
تاسو ټوله د يو آدم څخه الله تعالی پيدا کړي ياست، او آدم عليه السلام الله تعالی د خاورو څخه پيدا کړی دی، نو په تاسو کي عزتمند انسان د تقوی والا دی.
نو پيغمبر ﷺ د عربو د هغه تکبر او نخوت خلاف پخپله وينا باندي هم مخالفت وکړی، او هم ئې په عمل کي د عربو د دغه طبيعت مخالفت ښکاره کړی.

## د حضرت بلال حبشي رضي الله عنه عزت:

چيکله په مکه مکرمه کي د پيغمبر ﷺ ژوند تېرېدی، نو حضرت بلال حبشي رضي الله عنه چي د حبشې استوګن وو، په رنګ باندي تک تور وو، او زندګي ئې آزاده هم نوه، بلکې د اميه بن خلف غلام وو.
ليکن چيکله ئې دا کلمه وويله:
............أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ الله﴾.
نو هغه تور رنګه حبشي پيغمبر ﷺ پخپله سينه پوري ونيوی، او د خپل خاندان پر انسانانو يعني: پر "ابوجهل" او "ابو لهب" ئې ده ته فوقيت او فضيلت ورکړی، او هم ئې دا درجه ورکړه: چي په هر ځای او هر وخت کي به دی، د پيغمبر ﷺ سره ملګری وو، او په کائناتو کي د لمانځه لپاره د آذان ورکولو د ټولو څخه مخکي اعزاز هم د ده په نصيب سو.
چيکله "مکه مکرمه" فتحه سوه، نو د ټولو عربو د لوړو لوړو درجو خلک او د لوړو خاندانو سره تعلق لرونکی انسانان موجود وو، لېکن پيغمبر ﷺ د حضرت بلال حبشي رضي الله عنه انتخاب وکړی، او ده ته ئې وفرمايل: چي اې بلاله! د کعبې پر چت پورته سه، او آذان وکړه، نو د کعبې پر چت د ټولو څخه مخکي آذان کول، هم د حضرت بلال حبشي رضي الله عنه په قسمت کي راغلل.

---
(۱) اخبار مکة للأزرقي: حديث نمبر ۷۱۳

چي کله پېغمبر ﷺ کعبې ته داخل سو، او په دې وخت کي د ده د قبيلې ډېر لوی لوی خلګ موجود وو، چي مسلمانان هم وو، او د صحابيت مقام هم ور سره وو، لېکن پېغمبر ﷺ کعبې ته دننه د ځان سره حضرت بلال حبشي ملګری کړی، چي د ده سره ئې يو ځای په کعبه کي دننه نفل لمونځ ادا کړی.

## په جنت کي د حضرت بلال رضی الله عنه قدمونه:

پېغمبر ﷺ يوه ورځ حضرت بلال حبشي رضی الله عنه ته وفرمايل: چي اې بلاله! دا راته ووايه: ته کم داسي عمل کوې: چي د هغه په وجه الله تعالی تاته دومره لوړه درجه در کړې ده؟ چي د معراج پر موقع ماته الله تعالی دجنت سيررانصيب کړی، نو ما ستا د قدمونو ږغ هلته په جنت کي دخپل ځان څخه مخکي واورېدی، نو ستا هغه کم عمل دی: چي د هغه په وجه الله تعالی تاته دغه مقام در کړی دی؟

چي د دې معنی دا ده: چي په جنت کي به هم الله تعالی حضرت بلال حبشي رضی الله عنه ته د پېغمبر ﷺ څخه و مخته د يو لار وړونکي سعادت ور نصيب کړي، چي دی به د پېغمبر ﷺ څخه مخته مخته روان وي.

حضرت بلال حبشي رضی الله عنه په جواب کي ورته وويل: اې د الله رسوله! زما سره خو نور هيڅ عمل نسته، خو البته: دغه يو عادت لرم: چي کله هم اودس وکړم، نو په هغه سره دوه رکعته "تحية الوضوء" لمونځ ضرور ادا کوم.

بهرحال الله تعالی هغه تور رنګ والا حبشي غلام ته دغه مقام ور نصيب کړي، حالانکه دی عرب نه وو، او ټولو عربو به و ده ته دحقارت په نظر باندي کتل، لېکن پېغمبر ﷺ و ده ته دا اعزاز ورکړی.[1]

## حضرت سلمان رضی الله عنه زما د خاندان يو فرد دی:

حضرت سلمان فارسي رضی الله عنه چي د ايران استوګن سړی وو، او د حق په تلاش کي ئې ډېر زيات تکليفونه، مشقتونه او سفرونه برداشت کړل، او د ډېرو مشقتو څخه وروسته په يو طريقه ئې ځان مدينې ته راورساوی، او الله تعالی ده ته د اسلام دولت ور نصيب

---

(۱) مصنف ابن ابي شيبه: حديث نمبر ۳۲۲۳۵

کړی، او په مدينه کي ئې ژوند د پيغمبر ﷺ په غلامي کي تېر کړی، او پيغمبر ﷺ به د ده په باره کي ويل:

........سَلْمَانُ مِنَّا أَهْلَ الْبَيْتِ﴾.(۱)

سلمان زموږ د خاندان يو فرد دی، اوس هم د حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه قبر په عراق کي موجود دی، او د هغه پر تخته باندي دغه حديث ليکلی دی.

د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کي چي کله پر ايران باندي حمله کېدله، نو حضرت عمر رضي الله عنه چي هلته کم لښکر روان کړی، دهغه امير ئې حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه جوړ کړی، په هغه لښکر کي ډېر د عربو مشران هم موجود وو، چي هغه ټول د سلمان فارسي په قيادت کي روان وو.

چي کله حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه د ايران و بادشاه او اميرانو ته خبره کوله، نو ئې ورته وويل: چي گورئ! زه د ايران يو اوسېدونکی يم، زما په لښکر کي دعربو ډېر لوی لوی خلګ زما تر امارت لاندي دي، او هم زما اطاعت کوي، د هغه وجه دا ده: چي موږ ته الله تعالیٰ يو داسي دين را کړی دی: چي په هغه کي د تور او سپين فرق نسته او نه دعربو او عجمو فرق کي سته.

## د قوميت تصور:

د جاهليت په دور کي خو د قوميت تصور ډېر زيات وو، او اوس زموږ په معاشره کي هم دهغه يو څه رښې پاته دي، چي د ډېرو انسانانو په دماغونو کي اوس هم دا خبره ځای لري: چي هغه خپل قوم ته په لوړ نظر گوري، او د بل و قوم ته په کښته نظر گوري.

چي کم څوک د ده د قوم وي، دهغه سره دی ښه رويه او سلوک کوي، او چي د ده د قوم نه وي، نو هغه ته بيا دی د نفرت او کرکي په نظر گوري، خو دغه ترتيب د قرآن کريم هم خلاف دی، او د پيغمبر ﷺ د وينا هم خلاف دی، او هم د پيغمبر ﷺ د عمل خلاف دی.

تاسو گورئ! ابو لهب د پيغمبر ﷺ اکا وو، لېکن دهغه په باره کي د قرآن کريم آيت رانازليږي، او د هغه په هکله قرآن دا وينا کوي:

............﴿تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ﴾.(١)
د ابو لهب لاسونه دي مات سي، او دی دي هلاک سي، نو قرآن کريم دی تر قيامته پوري رسوا کړی.
بل طرفته حضرت بلال حبشي رضی الله عنه او حضرت صهيب رومي رضی الله عنه پيغمبر صلی الله علیه وسلم پخپل زړه پوري نيسي، او د حضرت سلمان فارسي رضی الله عنه په باره کي دا وايي: چي دا زما د خاندان يو فرد دی، نو يوه نکته خو د قرآن کريم په دغه آيت کي انسانانو ته دغه ښکاره سوه.

## د اتحاد بنياد به پر څه وي؟

او په دې آيت کي الله تعالی انسانانو ته دوهمه نکته دا هم بيان کړه: چي مسلمانان بايد داسي و نه کړي: چي پخپل مابين کي د قبيلې او قوميت او خاندان پر بنياد باندي اتحاد جوړ کړي، او سره راټول سي، بلکه که اتحاد قائموي، او که ډله جوړوي، او که سره راټوليږي، نو بايد هغه اتحاد او راټولېدل، د تقوی پر بنياد وي.
نن زموږ په معاشره کي دا هم يو لويه فتنه ده: چي د جاهليت د زمانې څخه راروانه ده، او تر ننه پوري ئې ريښې زموږ په معاشره کي موجودي دي، الله تعالی دي موږ ټولو ته د هغه څخه نجات رانصيب کړي.
هغه دا: چي زموږ په زړو کي دا تصور او فکر دی: چي کم سړی زما د قوم او قبيلې سره تعلق لري، يا هغه زما سره په ژبه کي شريک دی، او يا زما هم وطن دی، نو هغه زما خپل دی.
او چي کم سړی زما د قوم او قبيلې سره تعلق نه لري، او نه زما د ژبي سره د ده تعلق وي، او نه زما د وطن باشنده وي، نو هغه زما څخه پردی دی.
نو د دغه تصور پر بنياد زموږ په معاشره کي ډلي جوړيږي، او پارټۍ برابريږي، او پر دغه تصور باندي اتحادونه قائميږي، چي د هغه نتيجه دا وي: چي کم څوک زه خپل بولم، او د خپل قوم او قبيلې فرد ئې بولم، نو په هر شکل به زه د هغه ملګرتيا کوم، هغه که حق وي، او که ناحقه وي، هغه که ظلم کوي، او که ناجائز کوي، خو زما لپاره د هغه د ملګرتيا څخه څه چاره نسته، چي زه به ئې کوم.

او چي کم څوک زما د قبيلې نه دی، زما د وطن ندی، او نه زما په ژبه راشريک دی، زه به د هغه مخالفت کوم، او هم به د هغه په مقابله کي دريږم.
دغه زما د قوم او وطن سړی که د بل چا سره په جګړه او معرکه کي راغلی، نو زه به همېشه دده مرسته کوم، او چي زما دژبي او وطن ملګری دی، نو به زه د ده ملا مضبوطه وم، او د ده په مقابل کي چي کم څوک وي: که حق دی، که ناحقه، زه به د هغه مخالفت کوم، د جاهليت د زمانې څخه دغه تصور را روان دی.

## د جاهليت په زمانه کي معاهده:

بلکه د جاهليت په زمانه کي به داسي هم کېدل: چي د مختلفو خاندانونو به پخپل مابين کي معاهدې وې، چي موږ به په هر حال کي يو د بل سره دريږو، اوس که زما د خاندان يا دهغه چا چي زما ور سره معاهده ده، د بل چا سره جګړه راغله، نو دهغه معاهدې پر بنياد پر ما لازمه ده: چي زه به دده ملګرتيا کوم، که دی پر حق وي، او که پر ناحقه، او که دی مظلوم وي، او که ظالم، خو زه د ده مرسته کولو ته مجبوره يم.
ليکن چي کله پېغمبر ﷺ دنيا ته تشريف راوړی، نو دهٔ مبارک دا عظيم انقلابي اعلان وکړی:
......﴿لاَ حِلْفَ فِي الإِسْلاَمِ﴾.(١)
په اسلام کي دغه قسم هيڅ معاهده کېدلای نه سي، چي زه به په هر حال کي ستا سره دريږم، نه به حق ته ګورم، او نه باطل ته او نه به د جائز او ناجائز خيال ساتم.

## د خپل ورور مدد کول: ليکن هغه څنګه؟

د جاهليت په زمانه کي يو مشهوره مقوله وه: هغه به دوی د ځان لپاره يو اخلاقي اصول بلل، هغه دا:
.............﴿انْصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا، أَوْ مَظْلُومًا﴾.

(١) اتحاف الخيره المهره: حديث نمبر ٥١٤٢

يعني دخپل ورور مدد كوه، هغه كه ظالم وي، او كه مظلوم، د ورور څخه مراد هغه دی: چي ستا د قوم او قبيلې څخه وي، او ستا د خاندان سره ئې تعلق وي، نو د هغه مدد كوه، او د هغه ملګری کېږه، نور د هغه ظلم کولو او ناجائز کولو ته مه ګوره.
پيغمبر ﷺ چيکله دنيا ته تشريف راوړی، نو ده مبارک وفرمايل: چي زه هم داغه وايم، او هم دا مقوله تسليموم:
............انصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا، أَوْ مَظْلُومًا قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، هَذَا نَصَرْتُهُ مَظْلُومًا فَكَيْفَ نَنْصُرُهُ ظَالِمًا؟ قَالَ: تَمْنَعُهُ مِنَ الظُّلْمِ﴾.
چي د خپل ورور مدد كوه، هغه كه ظالم او كه مظلوم، صحابه وو پوښتنه ځني وکړه: چي اې د الله تعالی رسوله! د مظلوم مدد كول، خو صحيح خبره ده، د ظالم مدد به انسان څنګه وکړي؟
ده مبارک په جواب کي ورته وفرمايل: چي د ظالم مدد په دا شان وکړه: چي هغه د ظلم څخه راوګرځوه، او د هغه لاس ونيسه، چي زه تاو ظلم کولو ته نه ورپرېږدم.
نو کچيري د انسان د قوم او قبيلې يا د انسان د ژبي او د وطن يو سړی ظلم کوي، نو ته د هغه دا رنګه مدد مه کوه، چي د هغه سره په ظلم کولو کي ملګری سې، بلکه د هغه د مدد طريقه دا ده: چي د هغه ظالم لاس ونيسه، او ورته ووايه: چي زه دي ظلم ته نه پرېږدم.
نو پيغمبر ﷺ هم د دغه مقولې:
............انصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا ، أَوْ مَظْلُومًا﴾.
تائيد وکړی، لېکن د هغه تشريح ئې ور بدله کړه، چي د ظالم مدد کول، ظالم تر لاس نيول، او د ظلم څخه رامنعه کول دي.

## عظيم انقلاب راوستل:

بهر حال پيغمبر ﷺ چيکله دنيا ته راغلی، نو يو ډېر لوی انقلاب ئې د انسانانو په مزاج کي راوستی، په عربو کي دا تصور کيدلای نه سو: چي يو سړی دي د خپل قوم د انسانانو خلاف د بل قوم د انسانانو مدد وکړي.

لېکن پيغمبر ﷺ عملاً په ټوله جزيره عرب کي دا خبره انسانانو ته ښکاره کړه، چي زه به د خپلي قبيلې دانسانانو لاس نيسم، که هغه پر يو چا باندي د ظلم کولو اراده ولري، زه به ئې د هغه څخه راګرځوم.

## قومي او نسلي تعصب لويه تباهي ده:

ما مخکي هم دا خبره ښکاره کړه: چي د قوميت او نسليت تعصب د جاهليت د دور څخه را روان دی، تر اوسه پوري هم په بعضي قومونو کي د هغه اثرات پاته دي، د پيغمبر ﷺ په دور کي ده مبارک په ډېر حکمت او بصيرت سره د هغه زمانې د مسلمانانو دماغونه د قومي او نسلي تعصب څخه راګرځول.

يو ځل پيغمبر ﷺ د خپلو صحابه وو سره چي غالباً د "غزوه بنو مصطلق" څخه واپس را روان وو، يو ځای ئې قافله واړوله، د سهار وخت وو، د صحابه کرامو اوبو ته ضرورت وو، او نږدې يو ځاه وه، مهاجرينو خپل غلام "جهجاه بن مسعود" هغه ځاه ته د اوبو راوړلو لپاره واستوی.

او انصارو صحابه وو هم خپل غلام "سنان بن وبر جهني" دغه ځاه ته د اوبو راوړلو لپاره ور واستوی، د دغه دوو (۲) صحابه وو پخپل مابين کي پر اوبو راوړلو باندي سره جنګ سو، نو هغه د مهاجرو غلام يو لرګی پورته کړی، او په سر کي هغه د انصارو غلام وواهی، چي د هغه سر مات سو، او وينه ئې پر بدن باندي را توی سوه، هغه "جهني" ناري کړې: يا للانصار او انصار ئې د خپل مدد لپاره را وبلل، او "جهجا" هم په لښکر د يا للمهاجرين نعره وکړه، يعني اې د مهاجرو ډلې! او مهاجر صحابه ئې د خپل مدد لپاره را طلب کړل.

نو په دې دوران کي د مهاجرو او انصارو په مابين کي اشتعال پيدا سو، او اختلاف ډېر شدت اختيار کړی، او خلګ د جنګ څخه هم را روان وو، او ټول په اسلحه مسلح وو.

پيغمبر ﷺ ژر د دوی مابين لره راغلی، او هم ئې د دوی په مابين کي مداخلت وکړی، او يوه ډله ئې د بلي څخه بېله کړله.

په دې دوران کې د مسلمانانو د لستونړي مار "رئيس المنافقين" عبد الله ابن ابی بن سلول چې دهغه سره د انصارو يو څه کسان هم ملګري وو، په غصه کې راغلی، او وئې ويل: ايا دې خلګو يقيناً زموږ سره ډېر زياتی وکړی؟ او دا په موږ کې نفرت اچوي، او زموږ په علاقه کې پر موږ باندې تسلط راولي، او موږ چې دوی هر څومره پالو خو ددوی اول تجاوز پر موږ باندې وي، نو هغه خبيث خپلو ملګرو ته دا واضح پيغام ورکړی:

..............﴿لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ﴾.(١)

که چيري موږ په دې ځل و مدينې ته واپس ورسېدو، نو موږ معزز خلک يعني د مدينې اصلي باشندګان به دغه ذليل خلک يعني مهاجرين د مدينې څخه باسو.

بيا ئې د خپل قوم خلګو ته وويل: دا ټوله ستاسو د خپل عمل نتيجه ده، تاسو دې خلګو ته په خپل وطن کې ځای ورکړی، او هم مي مالونه ور شريک کړل، چې نن ئې نتيجه تاسو په سترګو وينئ، د دې څخه بعد به:

.............. ﴿لَا تُنْفِقُوا عَلَى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ حَتَّى يَنْفَضُّوا﴾.(٢)

دې خلګو ته به نه مال ور کوئ، نه به زيره او نفقه ور کوئ، چې پر خپلو لارو ځله ولاړ سي.

نو په دې شکل هغه منافق دهمکۍ ويلې، او خلک ئې په غصه کې راوستل، او پر څنګ ئې منافقين د ده په حمايت او نصرت کې ور سره ولاړ وو، او د ده خبرو ته ئې غوږ نيولی وو، او هم ئې دده سره پدې خبرو کې موافقت ښکاره کاوی.

په دغه مجلس کې يو بچی حضرت زيد بن ارقمؓ هم ولاړ وو، د دوی دا ګمان وو، چې دا په خبره نه پوهيږي، ليکن هغه ډېر هوښيار وو، او ددوی خبري ئې په غور واورېدلې، او په منډه راغلی، دخپل اکا په ذريعه ئې پيغمبرﷺ ته د منافقينو ټوله خبره ښکاره کړه.

---

(١) سورة المنافقون: آيت نمبر ٨

(٢) سورة المنافقون: آيت نمبر ٧

حضرت عمر ﷺ د پیغمبر ﷺ سره نږدې ناست وو، نو هغه ډېر په غصه کې راغلی، چې دغه منافق دغه جرأت څنګه وکړی؟ چې د پیغمبر ﷺ او د مهاجرو صحابه وو متعلق ئې داسې بې هوده وینا کړېده.

د ده په ګمان باندې د "ابی بن سلول" په قتل کولو سره د دغه فتنې ریښې ختمیږي، لیکن مناسب ئې دا بلله: چې "ابن سلول" دمهاجرو پر ځای د انصارو په یو سړی باندې قتل کړي.

حضرت عمر ﷺ پیغمبر ﷺ ته وویل: اې دالله تعالی رسوله! "عباد بن بشر انصاري" ته حکم وکړه: چې هغه ابن سلول قتل کړي، او د دغه فتنې خاتمه وکړي، د پیغمبر ﷺ په ذهن کې د "ابن سلول" قتل کول، د حکمت خلاف وه.

ده ورته وفرمایل: عمره! بیا به خلګ څه وایي؟ چې محمد (ﷺ) خپل ملګري پخپل لاس قتل کوي، دا مناسب نه ده، بلکه اې عمره! د قافلې انسانانو ته د قافلې د بارولو حکم وکړه، چې قافله روانه سي.

د حضرت عمر ﷺ په وینا سره فوراً قافله روانه سوه، عبدالله بن ابی بن سلول ته د خبرې معلومات وسو، چې زموږ مجلس پیغمبر ﷺ ته "زید بن ارقم" ماشوم رسولی دی، نو راغلی، پیغمبر ﷺ ته ئې وویل: چې ما داسې نه دي ویلي، او هم ئې پر هغه باندې قسمونه وخوړل، او وئې ویل: چې دغه ماشوم بچي تاته درواغ ویلي دي.

د "عبدالله بن ابی شمار" چونکه د قوم په سردارانو او لویو خلګو کې کېدی، د انصارو یوې ډلې هم وویل: اې د الله تعالی رسوله! کیدای سي: چې دغه هلک په خبره کې غلط سوی وي، او دی د "ابن سلول" په خبره سم پوه سوی نه وي.

پیغمبر ﷺ پر خپله لار باندې روان وو، او خپل تګ ته ئې دوام ورکړی، او د دوی پر خبره ئې څه غوږ نه و نیوی.

په دې دوران کې د انصارو یو سردار اسید بن حضیر ﷺ د پیغمبر ﷺ طرف ته راغلی، او سلام ئې وکړی، د سلام څخه وروسته ئې وویل: اې دالله تعالی رسوله! نن خو دې پداسې نامعلومه وخت کې قافله ته د بارېدلو حکم وکړی، د دې څخه مخکې دې تر اوسه پورې داسې نه وو کړي.

پیغمبر ﷺ اسید بن حضیر رضی الله عنه ته وکتل، او ورته وئې فرمایل: چي ستا ملګري چي کم مجلس کړی دی، ایا هغه تا اورېدلی دی؟ هغه پوښتنه څني وکړه: چي زما کم ملګري؟ ده مبارک ورته وویل: ”عبدالله بن ابی بن سلول“.

حضرت اسید بن حضیر رضی الله عنه وویل: ته راته ووایه: اې دالله تعالی رسوله! چي هغه څه ویلي دي؟ پیغمبر ﷺ ورته وویل: چي ده خپلو ملګرو ته دا ویلي دي: کچیري موږ مدینې ته ورسېدو، نو موږ د مدینې عزتمند خلګ به دغه ذلیل خلګ د خپل وطن څخه باسو.

پر دې خبره اورېدو باندي اُسید بن حُضیر رضی الله عنه ته ډېره زیاته غصه ورغله، او وئې ویل: چي زما په الله قسم! اې دالله تعالی رسوله! که ستا اوس زړه غواړي، نو موږ به دی دمدینې څخه دستي وباسو، په الله تعالی قسم! چي تر ده په ټوله مدینه کي ذلیل نسته، او تر تا په ټوله مدینه کي عزتمند نسته.

حضرت اسید رضی الله عنه چي څه وویل، په هغه سره د پیغمبر ﷺ د زړه بوج یو څه سپک سو، او بیا ئې پیغمبر ﷺ ته وویل: ته د ده سره یو څه نرمي وکړه، هغه ځکه: چي الله تعالی کله ته موږ ته راوستې، نو خلګو به د ده د تاج پوشي لپاره ملغلري او جواهرات پېودل، نو د ده دا ګمان دی: چي ستا په راتګ سره د ده هغه ټول عزت او بادشاهت د خاورو سره خاوري سو.

پیغمبر ﷺ په خاموشي سره خپله قافله روانه کړېوه، د خلګو په مابین کي خبري کېدلې، چا به ویل: چي ”ابن سلول“ داسي څه ویلي دي؟ او پیغمبر ﷺ به د ده سره څه سلوک وکړي؟ ایا د ”ابن سلول“ خبره چي پیغمبر ﷺ ته رسېدلې ده: رښتیا ده، او که دروا غ؟

ټوله لښکر په دغسي تشویشي حالت کي روان وو، پیغمبر ﷺ ته دا وېره وه: چي هسي نه: صورتحال نور خراب سي، ده پدې غرض چي د خلګو ذهن د مسئلې څخه وارر ... ورځ د تګ حکم کړی وو.

چیکله لمر ولوېدی، د قافلې د عامو انسانانو دا ګمان وو: چي اوس به نو د لمانځه څخه بعد موږ دلې آرام وکړو، لېکن پیغمبر ﷺ د لمانځه کولو څخه وروسته متصل

بیا قافلې ته د کوچ کولو حکم وکړی، چې ټوله شپه تر سهاره پورې د قافلې سفر روان وو.
پیغمبرﷺ د سهار لمانځه ته قافله ودروله، اولمونځ ئې وکړی، او د لمانځه بعد ئې دوهمه ورځ هم د قافلې و انسانانو ته د تګ کولو حکم وکړی، قافله تر غرمې پورې روانه وه، عام انسانان سخت د ستړیا په حالت کې وو، او د لمر ګرمي هم تیزه وه، پیغمبرﷺ چیکله پر خلګو باندې د ستړیا زیات اثرات ولیدل، او پر دې خبرو باندې نور د تبصرو کولو همت د دوی سره نه وو، نو ئې د قافلې انسانانو ته وویل: تاسو آرام وکړئ.
چیکله انسانان مځکې ته ورغلل، نو په داسې خواږه خوب ټوله بیده سول: چې بیا و هیڅ خبره کولو ته ور فارغه نه وو.
ده مبارک دا دومره مسلسل سفر صرف پدې وجه وکړی: چې د خلګو توجه د "ابن سلول" د مجلس څخه واوړي، او ښه ارام وکړي، چې کله د قافلې خلګ را بیداره سول، نو قافله روانه سوه، تردې حده چې "مدینې منورې" ته راورسیدل، او خلګ ټوله خپلو کورو ته سره ولاړل، او الله تعالی په دغه دوران کې "سورة المنافقین" رانازل کړی، او په هغه کې ئې د منافقینو هغه مجلس ټوله پیغمبرﷺ ته ور ښکاره کړی.
پیغمبرﷺ دغه "سورة مبارک" صحابه وو ته تلاوت کړی، او حضرت زید بن ارقم ئې د شفقت په شکل تر غوږ ونیوی، او وئې فرمایل: دا هغه انسان دی: چې د ده د غوږو اورېدلې خبره الله تعالی رشتونې وګرځوله.
اوس خلګو ابن سلول ته بدې ویناګانې کولې، او هم ئې پر ده لعنت کاوی، او هم ئې دی ملامت کاوی، نو پیغمبرﷺ حضرت عمرؓ ته وویل:
اې عمره! ستا څه خیال دی: کچیرې دی ماپه هغه ورځ قتل کړی وای، چې په کمه ورځ ده دا مجلس کړی وو، نو د ډېرو خلګو پزې به د غصې څخه سرې اوښتې وای، او کچیرې زه نن هغه خلګو ته د "ابن سلول" د قتل حکم وکړم، نو هغه به د ده پر قتل هیڅ سرفه و نکړي.(١)

(١) مزید الایمان و کنز الجواهر: صفحه نمبر ۱۳۶

نو پېغمبر ﷺ د يو ډېرې مشکلې مسئلې څخه د وتلو لار په ډېر اسانه سره برابره کړه، او په حکمت او بصیرت سره ئې د مشکلاتو سخته مقابله وکړه، او کامیابي پر هره موقع الله تعالی د ده په نصيب کړه.

نو د منافقینو کردار همېشه دا وي: چې مسلمانان د يو اسلامي اتحاد پر ځای پر يو قومي او نسلي او عصبي اتحاد باندي سره راجمعه کوي.

او دا د هغه وخت خبره نه ده، تر او سه پوري په هر دور کي دغه منافقين وجود لري، او هغه خپلي دسيسې پر کار اچوي، نو د مسلمانانو لپاره د دوی مقابله په ډېر حکمت او بصيرت سره پکار ده، چي د دوی د فتنې څخه په آسانه طريقه خپل ځان خلاص کړي، لکه پېغمبر ﷺ چي هم د دوی د دسيسو مقابله په ډېر حکمت او بصیرت سره کوله، او هم به ئې د دوی د مکرونو څخه مسلمانان محفوظه ساتل.

الله تعالی دي زموږ د اسلام د منافقینو د دسیسو څخه حفاظت وکړي، چي دوی د مسلمانانو په مابين کي کم نسلي او قومي تعصب پيدا کوي، هرګز دي الله تعالی دوی په دغه خپل مقصد کي کامیابي ته نه رسوي، الله تعالی دي موږ او تاسو ته زندګي د پېغمبر ﷺ پر نقشه او د هغه پر اُصولو او پر سنت طريقو باندي رانصيب کړي.

آمِيْن يَا رَبَّ العَالَمِيْن

وَصَلّٰی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآيه)

# د علماؤو عظمت

(بیان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحیم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾.(۱)

وقال الله تعالى في مقام آخر: ﴿ يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ﴾.(۲)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : ﴿طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ﴾.(۳)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د انسان د پیدائش مقصد:

محترمو حاضرينو ! الله تعالى انسان ته په دنيا کي په خپل کامل قدرت سره وجود ور کړی دی، خو د انسان د وجود راتلو څخه مخکي الله تعالى د انسان د نفعي لپاره ډېر عظيم مخلوقات پيدا کړي دي.

- ځمکه او آسمان.
- لمر او سپوږمی.
- غرونه او درې.
- دريابونه او چشمې.

(۱) سورة الذاريات: آيت نمبر ۵۶
(۲) سورة المجادله: آيت نمبر ۱۱
(۳) اتحاف الخيره المهره: حديث نمبر ۲٦٠

دا ټوله دانسان د فائدې او د ضروریاتو د پوره کولو لپاره پیدا سوي دي، خو انسان بیا الله تعالی د خپل عبادت او معرفت لپاره پیدا کړی دی، لکه حدیث قدوسي دی:

........يَابَنِيْ آدَمَ خَلَقْتُ الْاَشْيَاءَ كُلَّهَا لَكَ وَلِاَجْلِكَ وَ خَلَقْتُكَ لِاَجْلِي﴾. (۱)

اې د آدم اولاده! ما دا ټوله مخلوقات ستا لپاره پیدا کړي دي، چي دا به ټول ستا د نفعي او فائدې لپاره استعمالیږي.

لېکن ته مي د خپل عبادت او معرفت لپاره پیدا کړی ئې، چي ته به زندګي زما په معرفت او عبادت کي تېروې، چي په هغه سره به ته ولایت پیدا کوې، او هم به د الله تعالی د قرب و مقاماتو ته رسېږې.

هسي خو الله تعالی پر دې هم قادر دی، چي انسان په عالم الارواح کي لا د ولایت مقام ته ورسوي، او خپل قرب او نزدېکت ور نصیب کړي، مګر د الله تعالی عادت داسي دی: چي هغه د خپل قرب او نزدیکت لپاره یو لاره او طریقه ټاکلېده، چي پر هغه لار باندي او پر هغه طریقه باندي د تګ کولو څخه وروسته انسان د الله تعالی قرب او ولایت مقام ته رسېدلای سي.

- الله تعالی انسان ته سر ور کړی دی، خو د سجدې لګولو لپاره ئې مځکه ور ته پیدا کړې ده.
- او انسان ته الله تعالی پښې ور کړي دي، خو د عبادت لپاره ئې مسجد ور ته انتخاب کړی دی.
- او انسان ته الله تعالی لاس ور کړی دی: خو د صدقې کولو لپاره ئې مال او دولت ور ته برابر کړی دی.
- او الله تعالی انسان ته اندامونه ور کړي دي، خو د هغه لپاره ئې د عبادت ترتیب د پېغمبر ﷺ طریقه انتخاب کړې ده.

نو انسان به په دنیا کي زندګي په عبادت کي تېروي، او د پېغمبر ﷺ پر سنت لاره به تګ کوي، د هغه څخه وروسته به دی لوړو مقاماتو ته رسیږي.

څکه د ولایت پیدا کولو لپاره دا شرط نه دی:

- چي انسان به په هوا کي الوزي.
- يا به انسان د اوبو پر سر تګ کوي.
- يا به "خارق العادت" کرامات د انسان څخه ښکاره کيږي.

بلکه د ولايت لپاره لوى شرط دا دى: چي د انسان زندګي به په عبادت کي تيريږي، او هغه عبادت به د پيغمبر ﷺ پر طريقه باندي وي.

د حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه سره يو مريد وو، د ده سره ئې لس(۱۰) کاله تېر کړل، يوه ورځ ئې رخصت اخيستى، ده مبارک ته وايي: نور زه ځم، ماته رخصت راکړه.

حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه ورته وويل: چي ولي ځې! پر څه باندي دي طبيعت خراب سو؟

نو ده ورته وويل: چي زه خو دلته په ډېر لوى نيت باندي راغلى وم: چي کراماتونه به وي، او کشفونه به وي، او "خارق العادت" ترتيبونه به زه وينم، او هغه مي هيڅ نه وليدل، نو ښه خبره دا ده: چي خپل کورته ولاړسم، نور ژوند هلته تېر کړم، چي په کمه طمعه راغلى وم، هغه طمعه مي نه سوه پر ځاى.

حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه ورته وويل: سړيه! پدې لس(۱۰) کاله کي دي زما زندګي بغير د عبادته ياد پيغمبر ﷺ د طريقې مخالفه وليدله؟ هغه ورته وويل: نه، نو ده مبارک هغه ته وويل: چي د دغه څخه لوى ولايت او کرامت په دنيا کي نه سي کېدلاى: چي د انسان زندګي د الله تعالى په عبادت کي وي، او هغه عبادت بيا د پيغمبر ﷺ پر طريقه هم برابر وي.

نو د انسان ښه زندګي هغه ده: چي په هغه کي د الله تعالى بندګي وي، او بغير د بندګۍ د انسان زندګي سراسر ګندګي او شرمندګي ده.

لکه يو شاعر فرمايي:

زندگی آمد برائی بندگی زندگی بے بندگی شرمندگی

## د علم ضرورت:

نو د ولايت او د الله تعالى د قرب لپاره چي الله تعالى په دنيا کي د کومي لاري انتخاب کړى دى، خو هغه لار يو څو قدمه لري ده، په هغه قدمونو کي اولنى قدم: علم دى،

چي تر څو پوري انسان ته الله تعالی علم په نصیب نه وي ور کړی، نو هغه پر دغه لار باندي قدم نه سي پورته کولای، لکه يو شاعر وايي:

چو شمع از پی علم باید گداخت که بے علم نتوان خدارا شناخت

يعني: انسان لره مناسب د علم کوشش کول دي، ځکه: چي بغير د علم الله تعالی څوک نه سي پيږندلای، ګويا: علم د دغه لاري اولنی قدم او اهم ضرورت دی.

موږ د دين په ټولو لارو کي د هغه لاري بالکل قائل نه يو: چي انسان د علم څخه راګرځوي، که د يو چا څخه د يو وقتي ضرورت پخاطر علم پاته سي، دا جلا خبره ده، او بالکل د علم مخالفت کول، او په هغه طريقه کي يو څوک د علم څخه راګرځول، دا زموږ د دين حصه نه بلل کيږي.

چونکه د انسان سره په ژوند او د ژوند په چارو کي خو هر وخت عالم او مفتي ملګری نه وي، نو بيا و ده ته نه ور معلوميږي، چي په شريعت کي د دې خبري اجازت سته او کنه.

نو ځکه د دين د ضرورياتو علم حاصلول د هر انسان لپاره هر وخت ضروري دي، لکه پيغمبر ﷺ فرمايلي دي:

.........طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ﴾.(۱)

د علم طلب پر نارينه او زنانه باندي فرض دی، نو بايد د ټولو څخه مخکي انسان د علم په زده کړه باندي ابتدا و کړي.

لکه آداب المتعلمين والا دا شان هم ليکلي دي:

............ووَقْتُ الطَّلَبِ: مِنَ الْمَهْدِ إِلَى اللَّحْدِ﴾.(۲)

د علم د طلب وخت د انسان د زندګی د ابتدا څخه شروع کيږي، او انتها به ئې د انسان پر مرګ باندي راځي.

ډېر داسي خلک سته: چي پر خپل جهالت د پردې اچولو په خاطر د يو بزرګ داسي کلام پيش کړي، چي هغه په يو خاص حالت کي کړی وي، او ويلي ئې وي: چي د علم ضروت نسته، او دی په هغه سره د خپل ځان تائيد کوي.

(۱) اتحاف الخيره المهره: حديث نمبر ۲٦۰
(۲) آداب المتعلمين للبوسيفي: صفحه نمبر ۱۱

او دېر ځله داسي هم سوي وي: چي سياق او سباق ئې ځني غور ځولي وي، صرف هغه قدر جمله راوړي، چي په هغه سره دی د خپل ځان پر جهالت باندي پرده واچوي او دا په ثابته کړي: چي بغير د علم څخه هم انسان د ولايت او د الله تعالى د قرب مقام ته رسېدلای سي.

حالانکه يو خو دا د هغه بزرګ سره خيانت وي، چي د هغه صحيح خبره دی نه پېشوي، او دوهم دا هم وي: چي پر هغه غريب باندي د هغه په نه خبرتيا کي الزام ولګيږي، چي د علم بغير انسان لوړ درجات پيدا کولای سي.

حضرت حسن بصري رحمة الله عليه فرمايلي دي: چي موږ دوه(٢) دوستان وو، او موږ دواړه د سلوک او طريقت په لاره کي په ډېر جذبه سره لګيا وو.

لېکن الله تعالى ماته د هغه څخه مقام ډېر لوړ او ژر رانصيب کړی، د هغه وجه دا وه: چي په کومه پيمانه زما سره علم وو، د هغه سره په هغه پيمانه علم نه وو ور سره.

## د انساني بدن اندامونه درې(٣) قسمه دي:

الله تعالى د انسان په بدن کي درې(٣) قسمه اندامونه پيدا کړي دي:

١. دعلم اندامونه.
٢. د عَمل اندامونه.
٣. د مال اندامونه.

د علم د حاصلولو درې(٣) اندامونه دي:

١. غوږونه.
٢. سترګي.
٣. او دماغ.

په دغه درو(٣) لارو انسان علم حاصلوي، ځکه ډېر ځله علم انسان په اورېدلو حاصلوي، تاسو ګورئ! بچی چي کله ماشوم وي، نو هغه چي د مور او پلار څخه ازده کوې، هغه په اورېدلو سره وي.

ډېر ځله مور کلمه ورته وايي، يا بسم الله ورته وايي، نو دغه په اورېدلو سره د ده په دماغ کي کښېني، بياهم دی کلمه ويلای سي، او هم د هر عمل په سر کي بسم الله وايي.
او دغه رنګه د لېدلو په لار باندي هم انسان ډېر څه ازده کوي، او هم د دماغ په ذريعه باندي دی ډېر څه ځان ته معلوموي.

## د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه عجيبه وينا:

حضرت امام ابو حنيفه رحمة الله عليه فرمايلي دي: که چيري يو سړی ټوله زندګي په يو غره کی تېره کړي، نه څه ويني، او نه څه واوري، بيا هم په دماغ سره پر ده باندي د الله تعالی د ذات معرفت او وحدانيت پېژندل فرض دي.
ځکه دی مبارک فرمايي:
............اَلْبِعْرَةُ تَدُلُّ عَلَى الْبَعِيْرِ، وَ ذَاتُ الْأَقْدَامَ تَدُلُّ عَلَى الْمَسِيْرِ، فَهٰذِهِ السَّمَاءُ ذَاتَ اَبْرَاجٍ، وَالْاَرْضَ ذَاتُ فِجَاجٍ كَيْفَ لَا تَدُلُّ عَلَى الْعَلِيْمِ الْخَبِيْرِ﴾.
چي کله يو ځای فچه پرته وي، نو هغه ددې نښاني وي: چي دلته حيوان تېر سوی دی، او چي کله يو ځای قدم لګېدلی وي، نو دا ددې نښانه ده: چي دلته انسان تېر سوی دی، نو يوه فچه بغير د خيوان څخه نه کيږي، نه يو قدم بغير د انسان څخه لګيږي.
نو دغه دومره اسمانونه چي ډېر غټ برجونه لري، او دومره لويه ځمکه چي غرونه او درې لري، دا به څنګه بغير د مالکه وچليږي، نو دا ضرور د مالک پر وجود او وحدانيت باندي دلالت کوي، او دغه علم و انسان ته خپل دماغ ور کوي.
نو د علم د تحصيل درې(۳) ذرائع دي، او د قيامت په ورځ به الله تعالی د دغه اندامو او ذرائعو څخه سوال کوي، لکه په قرآن کريم کي راځي:
.............إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا﴾.(۱)
الله تعالی به د قيامت په ميدان کي د غوږ او سترګو او زړه په باره کي پوښتنه کوي: چي ايا په دې سره دي ددين علم حاصل کړی، او که دي هسي په بې وقعته او معمولي شيانو کي ضائع کړل.

دوهم قسم اندامونه د عمل دي، يعني چي انسان په هغه سره عمل کوي، لکه: پښې، لاسونه، او يا بعضي نور اندامونه.
او دريم قسم: اندامونه د مال دي، لکه: د انسان معده، يا د انسان رګونه، ګويا: په دي کي د انسان د جسم د چلولو مال جمعه کيږي.

## د اندامونو په ترکيب کي حکمت:

د علم اندامونه چونکه زيات وقعت او عزت لري، نو ځکه الله تعالی هغه د ټولو څخه لوړ په سر کي لګولي دي، تاسو نه ګورئ! چي د انسان سماعت، بصارت، او عقل دا ټول د انسان په سر کي دي.
او د عمل اندامونه چونکه د يو مزدور حيثيت لري، نو په هغه کي زيات وقعت او عزت نه معلوميږي، نو ځکه هغه د ټولو څخه کښته دي، لکه: لاسونه او پښې، دا د بدن په ټولو اندامو کي مځکي ته نږدې وي، او د مال اندامونه الله تعالی په مابين کي ګرځولي دي.

## علم يو نور دی:

امام مالک رحمة الله عليه په خپله "موطا" کي يو حديث رانقل کړی دی: علم يو نور دی، او ددې برعکس که ورته وګورې، نو جهالت يو تاريکي ده.
لېکن تاريکي چي هر ځای راسي، د هغه علاج په بل يو شي باندي نه کيږي، چي تر څو پوري هغه ځای ته نور نه وي راغلی، او چي کله نور راغلی، نو تاريکي په خپله ختميږي.
دغه رنګه چي په کومه معاشره کي جهالت راسي، نو د هغې علاج چي هر څومره تدبيرونه وکړې، نه کيږي، چي تر څو پوري په هغه معاشره کي علم نوي راغلی، او چي کله علم راغلی، نو بيا به هغه جهالت خود بخود ختميږي.

## د علماء کرامو احسان:

نو د ولايت د لاري اولنی قدم علم دی، او چي کوم چا دغه قدم واخيستی، نو هغه د ډېري لوړي درجې والا انسان بلل کيږي.

حضرت سفیان ثوري رحمة الله علیه فرمایلي دي: کچیري د علم طلب کونکي انسان ته الله تعالی صحیح نیت ور نصیب کړي، نو بیا په موجوده دور کي چي څومره مخلوقات دي د ټولو څخه دی غوره بلل کیږي.
او د دغه انسانانو پر امت باندي دېر لوی احسان وي، ځکه که دغه نه وي، نو بیا خو د انسانانو زندګي په جهالت کي راځي، او بیا هغه زندګي یو حیواني زندګي وي.
او حیواني زندګي چیکله په معاشره کي شروع سي، نو بیا خو پر هغه معاشره باندي الله تعالی قیامت قائمه وي، لکه د احادیثو د تصریحاتو څخه هم دا معلومیږي:
......﴿يَتَهَارَجُوْنَ كَمَا يَتَهَارَجُ الْحُمُرُ ، فَعَلَيْهِمْ تَقُوْمُ السَّاعَةِ﴾.(۱)
چیکله علم لیري سي، او جهالت راسي، او د معاشرې څخه انساني زندګي ټوله سي، او په معاشره کي حیا ختمه سي، انسانان د لارو او کوڅو په سرو کي یو پر بل باندي داسي غورځي، لکه: حیوانان چي پر له غورځي، نو بیا الله تعالی پر دغه انسانانو قیامت راولي.
نو د عالم د بقا لوی سبب الله تعالی په معاشره کي علم ګرځولی دی، او د علم بقا چونکه په علماؤو سره وي، نو د عالم د بقا لویه ذریعه الله تعالی علماء ګرځولي دي، نو یدې وجه علماء پر معاشره باندي دېر لوی احسان بلل کیږي.

## د عالم په هکله د پیغمبر ﷺ قول:

پیغمبر ﷺ د عالم په هکله فرمایلي دي:
......﴿فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِي عَلَى أَدْنَاكُمْ﴾(۲)
د عالم مرتبه د بې علمه عابد څخه دومره زیاته ده، لکه: د پیغمبر ﷺ مرتبه چي پر یو ادنی امتي باندي څومره زیاته ده.
او د پیغمبر ﷺ خو هغه مرتبه ده، چي د ده د مرتبې لېدلو پخاطر ټوله انبیاء او ملائکي حیراني دي، پخپله حضرت جبرائیل علیه السلام قسم خوري، او فرمایي: چي زه د مشرق څخه تر مغربه د جنوب څخه تر شماله د ځمکي څخه تر آسمانه ګرځېدلی یم، هر

(۱) جامع الاصول في احادیث رسول، حدیث نمبر ۷۸۴۰
(۲) اتحاف الخیرة المهرة: حدیث نمبر ۲۸۸

څه مي ليدلي دي، خو دالله تعالى په ذات قسم! چي ستا د مرتبې سره برابر مي هيڅ څوک ندی پيدا کړی.
او پېغمبر ﷺ پخپله ژبه هم خپله مرتبه داسي بيانوي:
............انا اوّلُ النّاسِ خرُوجاً إذا بُعِثُوا وانا خَطِيبُهُمْ إذا وَفَدُوا وانا مُبَشّرُهُمْ إذا ايِسُوا لِواءُ الحَمْدِ يَوْمَئِذٍ بِيَدِي وانا اكْرَمُ وَلَدِ آدَمَ على رَبّي ولا فَخرَ﴾.(١)
زه د قيامت په ورځ د ټولو څخه مخکي د قبر څخه راپورته کېږم، چيکله د انبياؤو وفد الله تعالى ته ورځي، د هغه خطيب او ويناند به زه يم.
چيکله دوی باندي د نااميدئ کيفيت راځي، نو دوی ته به زيری زه ور کوم، په دغه ورځ به د حمد جنډه زما په لاس کي وي، او زه د آدم عليه السلام په ټوله اولاد کي پر الله تعالى باندي ډېر قدر لرم، او زه پدې باندي فخر نه کوم.

## دعالم د فضيلت وجه:

علم دا د الله تعالى صفت دی، چي هغه د ټولو کائناتو شهنشاه او بادشاه دی، او عبادت د بنده صفت دی، چي هغه د الله تعالى غلام دی، نو چي کم فرق د شهنشاه او غلام په مابين کي وي، نو هغه به د عالم او عابد په مابين کي هم وي.
نو ديندار عالم د ځان څخه جوړول، دا بادشاهي ده، او صرف په عبادت کي وخت تېرول دا غلامي ده.
زموږ په معاشره کي زه دا وايم: د چا محبت دعلماؤو سره وي، او د چا محبت د صوفياء کرامو سره وي، او د چا محبت د دعوت او تبليغ والا سره وي، او دچا محبت د مجاهدينو سره وي، ﴿وَلِلنّاسِ فِيمَا يَعْشقُونَ مَذَاهِبُ﴾ د هر چا د محبت جلا ترتيبونه وي، خو دا ټوله محترمي ډلي دي، او د دې سره محبت کول، د اجر او ثواب ذريعه او سبب جوړيږي.
خو زه بنا بر بصيرت دا خبره کوم: چي دالله تعالى په ذات قسم! چي کم د سردارئ او دعزت شان او مرتبه الله تعالى د علماؤو په نصيب کړېده، هغه مرتبه بيا پدې امت کي د بل چا نده په نصيب سوې.

(١) جامع الصغير لجلال الدين السيوطي، حديث نمبر ٢٦٨٩

## انسان د علم په وجه اشرف المخلوقات دی:

تاسو ګورئ! انسان ته الله تعالی په اوله ابتدا کي د خاوري څخه وجود ور کړی دی، لکه الله تعالی فرمايي:

............وَبَدَأَ خَلْقَ الْإِنْسَانِ مِنْ طِينٍ﴾.(۱)

د انسان ابتدا الله تعالی د خټي او د خاوري څخه کړې ده، ځکه چي د ټوله انسانيت پلار حضرت آدم علیه السلام الله تعالی دخاوري څخه پيدا کړی دی.

او بيا د هغه اولاده الله تعالی د يو ګنده او ناپاکه نطفې څخه پيدا کړېده، لکه الله تعالی فرمايي:

............أَلَمْ نَخْلُقكُمْ مِنْ مَاءٍ مَهِينٍ﴾.(۲)

ما تاسو د يو ډېري ناپاکه او ضعيفه او ګنده اوبو څخه پيدا کړئ ياست.

اوس سوال دا دی: چي کم انسان په ابتدا کي د خاوري څخه پيدا سوی دی، او بيا وروسته عام انسانان د يو ګنده او ناپاکه نطفې څخه پيدا سوي دي، نو د دوی اصل يا توره خاوره ده، يا ناپاکه نطفه ده، اوس دغه عزت او شرافت ده د کمي وجي څخه پيدا کړی، چي ده ته اشرف المخلوقات ويل کيږي، او د ده فضيلت پر ملائکو او پر عامو مخلوقاتو باندي زيات سو.

د دغه سوال جواب حضرت علي رضي الله عنه په خپلو کلماتو طيباتو کي په ډېر صراحت سره بيان کړی دی:

............اَلنَّاسُ مِنْ جِهَةِ التِّمْثَالِ اَكِفَاءٌ اَبَوَاهُ آدَمَ وَ حَوَا﴾.

انسانيت په صورت او شکل کي ټوله سره برابر دي، ټوله د يو پلار آدم او د يوې مور حوا اولاده ده.

............فَإِنْ يَكُنْ لَهُمْ مِنْ اَصْلِهِمْ شَرَفٌ يُفَاخِرُوْنَ بِهِ فَالطِّيْنُ وَ الْمَاءُ﴾.

کچيري د دوی اصليت ته وګورې، نو يو شی هم په دوی کي قابل فخر نسته، ځکه چي هغه اوبه او توري خټي دي.

---

(۱) سورة السجده، ايت نمبر ۷

(۲) سورة المرسلات: آيت نمبر ۲۰

.........لَافَضْلَ اِلَّا لِاَهْلِ العِلْمِ اِنَّمَا عَلَى الْهُدٰى مَنِ هْتَدٰى﴾.
اولاً خو په دوی کي هيڅ فضيلت نسته ، هو! که فضيلت دی، هغه صرف د علماؤو دی، ځکه چي هغه د امت لار ښوونکي او هدايت کونکي دي.
.........يَقُمْ بِعِلْمٍ وَ لَا يَبْتَغِي لَهُ بَدَلًا، فَالنَّاسُ مَوْتٰى وَ اَهْلُ العِلْمِ حَيَاءٌ﴾.
تاسو د علم د زده کړي لپاره ودرېږئ، او د علم څخه سوا بل هيڅ عمل مه کوئ، ټوله انسانيت چي بې علمه وي، هغه مړه دي، او اهل علم په دوی کي ژوندي دي.(۱)
دا يو صريحه او ناطقه فيصله ده: چي د عقل او نقل مطابقه ده، او د دې خلاف هيڅ څوک څه ويلای نه سي.
نو زه دا وايم: چي کم چا ته الله تعالی علم ور کړی، نو حقيقي نور او حقيقي حيات او ژوند د هغوی په نصيب سو، هغه په حقيقت کي د ټولي معاشرې سترګي بلل کيږي، چي د هغوی په ذريعه معاشره هدايت پيدا کوي، او د الله تعالی د قرب او د ولايت منازلو ته ځان رسوي.

## د آدم علیه السلام د فضيلت وجه: هم علم دی:

سورة البقره کي الله تعالی د آدم علیه السلام د پيدائش تاريخي قصه په ډېر صراحت سره بيان کړېده، انسان چيکله په هغه کي لږ غور او فکر وکړي، نو هم به د علم فضيلت په ډېر واضح شکل ور ښکاره سي.
چيکله الله تعالی په مځکه کي د آدم علیه السلام او د هغه د اولاد د پيدا کولو اراده وکړه، نو ئې دا خپله اراده د مشورې په شکل د ملائکو و مخته پېش کړه، او هغوی ته ئې دا خبره ښکاره کړه:
.........اِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً﴾.
زه په مځکه کي يو بشر پيدا کوم، او هغه ته خپل خلافت ور کوم، چي هغه به زما احکام په مځکه کي نافذوي، او هم به زندګي زما په عبادت کي تېروي.
.........قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ﴾.

(۱) مواعظ ابراهيمي، احسن المواعظ، صفحه نمبر ۲۳۶

ملائکو چونکه د دې ځمکي د جناتو د فسادونو حالات لیدلي وو، نو هغوی الله تعالی ته جواب ورکړی: چي ته په ځمکه کي داسي څوک پیدا کوي: چي هغه به فسادونه جوړوي، او هم به یو د بل ویني تویوي.

.........وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ﴾.

کچیري ستا د عبادت لپاره د پیدا کولو اراده وي، خو موږ ستا عبادت کوو، او ستا تسبیح او تقدیس ادا کوو، ته موږ خلیفه جوړ کړه، چي زموږ غوندي تابعداره مخلوق وجود لري، نو بیا د یو فساد جوړونکي خلیفه به څه ضرورت وي.

الله تعالی په جواب کي ورته وایي:

.........قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾.

چي زه په کم څه باندي علم لرم، نو ستاسو سره هغه علم نسته، زه به هغه ته داسي علم ور نصیب کړم: چي تاسو به بالکل په هغه باندي اګاه نه یاست.

په تاریخ خمیس کي راځي، حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمایي:

.........لَمَّا اَرَادَ اللهُ اَنْ يُّظْهَرَ فَضْلُ آدَمَ عَلَى الْمَلَائِكَة عَلَّمَهُ مَا لَا يَعْلَمُوْنَ﴾.

چي کله الله تعالی د آدم علیه السلام فضیلت پر ملائکو باندي ښکاره کاوی، نو ئې ده ته داسي علم ور کړی، چي د ملائکو سره هغه نه وو.

لکه الله تعالی د ملائکو او د آدم علیه السلام په مابین کي د فضیلت ښکاره کولو لپاره علمي امتحان کښېښووی، او آدم علیه السلام ته ئې د بعضي شیانو چي په هغه سره د انسان ضرورت پوره کېدی، علم ور کړی، او د هغه نومان ئې ور وښوول، چي ملائکي بالکل په هغه نه پوهېدلې.

لکه الله تعالی فرمایي:

...........وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلَائِكَةِ فَقَالَ أَنْبِئُونِي بِأَسْمَاءِ هَؤُلَاءِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ﴾.

الله تعالی آدم علیه السلام ته د ټولو شیانو د نومونو علم ور کړی، او بیا ئې آدم علیه السلام د ملائکو و مخته پېش کړی، چي اوس ستاسو او د آدم په علم کي مقابله ده، نو اول ځل ئې د ملائکو څخه د هغه شیانو د نومونو پوښتنه وکړه، ملائکو ته هیڅ معلومات نه وو، نو دوی د ستي خپله بې خبري ښکاره کړه، لکه چي دوی وویل:

........سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ﴾.
یا الله! ته پاک ذات ئې، زموږ سره د دې خبرو هیڅ علم نسته، او نه پدې پوهیږو، موږ خو ستا د تسبیح او د تقدیس څخه علاوه په بل څه نه یو خبر، علم او حکمت ټوله ستا سره دی، او ته علیم او حکیم ذات ئې.
نو الله تعالی آدم علیه السلام ته متوجه سو، او ورته وئې ویل:
............يَا آدَمُ أَنبِئْهُم بِأَسْمَائِهِمْ فَلَمَّا أَنبَأَهُم بِأَسْمَائِهِمْ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾.
اې آدمه! ته د دغه شیانو نومونه ملائکو ته ور وښیه، آدم علیه السلام په یوه لمحه کي د ټولو شیانو نومونه وروښوول.
الله تعالی ملائکو ته و فرمایل: ما نه درته وویل: چي زه د مځکي او آسمان په ټولو پټو رازو باندي خبر او اګاه یم.
نو هغه دخاورو څخه جوړ مخلوق آدم د هغه نوراني مخلوق ملائکو څخه میدان وګاټی، او په امتحان کي ځني مخته سو، او دغه د آدم علیه السلام د ملائکو څخه مخته کېدل، او پر هغوی باندي شرافت پیدا کول او د امتحان میدان ګټل دا ټول دعلم په ذریعه سره د آدم علیه السلام نصیب سول.
په دنیا کي هم دا قانون دی: چي کم څوک په امتحان کي کامیابه راسي، نو هغه د انعام مستحق بلل کیږي، اوس الله تعالی آدم علیه السلام ته پر دغه امتحاني کامیابي باندي انعام اعلانوي، هغه پدې شکل، چي ټولو ملائکو ته امر کوي:
...........اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا﴾.
تاسو به ټوله ملائکي آدم علیه السلام ته سجده کوئ، نو هغه ملائکو ټولو حضرت آدم علیه السلام ته سجده وکړه.
تاسو دې ته اندازه ولګوئ! آدم علیه السلام الله تعالی د خاورو څخه پیدا کړی وو، او ملائکي الله تعالی د نور څخه پیدا کړي وې، نو آدم علیه السلام خاکي مخلوق وو، او ملائکي نوراني مخلوق وې.
صرف د آدم علیه السلام سره د زندګی د ضروریاتو پوره کولو یو څو شیانو د نومونو علم راغلی، او هغه علم د ملائکو سره نه وو.

نو د هغه علم په خاطر الله تعالی ملائکو ته د آدم علیه السلام د تعظیم په خاطر د سجدې حکم کوي، او د آدم علیه السلام فضیلت پر دوی باندې ښکاره کوي.

نن چې دوه (۲) کسان وي، او هغه دواړه د خاورو او نطفې څخه پیدا وي، او یوه ته الله تعالی د خپل ذات او صفاتو علم ور نصیب کړی وي، او هغه بل د دغه علم څخه محروم او بې نصیبه وي، نو دلته به د هغه علم والا فضیلت پر بې علمه څنګه نه وي.

حالانکه د ملائکو اصلیت نور وو، چې هغه د آدم علیه السلام پر اصلیت ډېر اعلی وو، او هلته علم هم د یو څو معمولي شیانو د نومونو وو، او دلته خو اصلیت د دواړو انسانانو برابر دی، او علم چې کوم یوه ته الله تعالی ور کړی دی، هغه د الله تعالی د ذات او د صفاتو علم دی، چې هغه د ټولو علومو څخه اعلی علم دی.

نو ځکه پېغمبر صلی الله علیه وسلم د غه فضیلت په دغه الفاظو ښکاره کوي:.

............فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِي عَلَى أَدْنَاكُمْ﴾.(۱)

د عالم فضیلت پر عابد بې علمه باندې داسې دی: لکه زما فضیلت زما د امت پر یو ادنی فرد باندې.

## آدم علیه السلام ته د سجدې کولو کیفیت:

د هغه سجدې کیفیت په مواهب لدنیه د علامه قسطلاني کې چې د بخاري شریف شارح دی، او په تاریخ الخمیس کې او علامه زرقاني په شرح د مواهب کې لیکلی دی:

............لَمَّا خَلَقَ اللهُ آدَمَ، رَفَعَهُ عَلَى السَّرِيْرِ الْمُكَرَّمِ وَ حَمَلَهُ عَلَى اَكْتَافِ جِبْرَئِيْلَ وَ مِكَائِيْلَ وَ اِسْرَافِيْلَ وَ عَزْرَائِيْلَ ثُمَّ اَمَرَهُمْ انْ يُطُوْفُوا بِهِ فِي السَّمَاوَاتِ﴾.

چېکله الله تعالی آدم علیه السلام پیدا کړی، نو د شرافت پر تخت ئې کښېناوی، او ملائکو ته ئې وفرمایل: چې د آدم دغه تخت په ټوله جهان کې وګرځوئ، چې د آدم لوړ شان او بزرګي ټوله جهان ته معلومه سي.

آدم علیه السلام ملائکو په ټولو آسمانو وګرځاوی، چې پر هر ځای به د ملائکو ډله وه، نو ده به سلام علیکم ورته وایي، او ملائکو به دهغه جواب ورکاوی، بیا ملائکو دآدم علیه السلام هغه تخت دالله تعالی د عرش و مخته کښېښووی.

الله تعالی ملائکو ته حکم وکړی: چې تاسو آدم ته د تعظیم لپاره سجده وکړئ، نو ټولي ملائکي و ده ته په سجده کي شوې.

د ټولو څخه مخکیني سجده حضرت اسرافیل علیه السلام وکړه، او دوهم نمبر جبرائیل علیه السلام سجده وکړه.

لکه په روایاتو کي راځي:

......﴿اَوَّلُ مَنْ سَجَدَهُ لِآدَمَ اِسْرَافِيْلَ فَرَفَعَ رَأْسَهُ ، وَ قَدْ ظَهَرَ الْقُرْآنَ كُلُّهُ مَكْتُوبًا عَلَى جَبْهَتِهِ كَرَامَتًا لَهُ﴾.

اوله سجده اسرافیل علیه السلام وکړه، چې کله ده سر راپورته کړی، نو د الله تعالی له طرفه ټوله قرآن کریم د ده پر تندي د ده د عزت په خاطر لیکل سوی وو.

......﴿ثُمَّ جِبْرَئِيْلَ، فَاَكْرَمَهُ اللهُ بِاِنْزَالِ الْوَحِيْ وَ الرِّسَالَةِ عَلَى النَّبِيِّيْنَ﴾.

دوهم نمبر سجده حضرت جبرائیل علیه السلام وکړه، چې الله تعالی د ده انتخاب د ټولو انبیاؤو او رسولانو د رسالت لپاره وکړی.

او دریم نمبر سجده عزرائیل علیه السلام وکړه، چې الله تعالی د ټوله انسانیت د روحانو قبض کول د ده په اختیار کي ورکړل، او د ټولو انبیاؤو روحان الله تعالی په ده سره قبض کړلو.

او څلورم نمبر سجده حضرت اسرافیل علیه السلام وکړه، چې الله تعالی د ده انتخاب د قیامت په میدان کي د شفیلی پوه کولو، چې په هغه سره به پر ټوله انسانیت باندي قیامت برپا کیږي.

د هغه څخه وروسته بیا ټولو مقربو فرشتو سجده وکړه، چې د هغه په صله او عوض کي دوی ټولي دالله تعالی درحمت مستحقي وګرځېدلې، او د الله تعالی د لعنت څخه محفوظه سوې.

نو ملائکو د آدم علیہ السلام و ذات ته نه وکتل، چي دی د خاورو څخه پیدا سوی دی، او نه ئې خپل ذات ته وکتل، چي مونږ د نور څخه پیدا سوي یو، بلکه هغوی د آدم علیہ السلام د علم قدر وکړئ، او د هغه علمي قدر په خاطر ټولو ده ته عاجزي ښکاره کړه.

لېکن ابلیس ظالم د سجدې څخه انکار وکړی، ځکه چي هغه د آدم علیہ السلام د علم قدر نه وکړی، بلکه د هغه و ذات ته ئې وکتل، نو دستي ئې د خولې څخه دا خبره راوایستله: چي:

............أَنَا خَيْرٌ مِنْهُ خَلَقْتَنِي مِنْ نَارٍ وَخَلَقْتَهُ مِنْ طِينٍ﴾.

زه د ده څخه خیر یم، ځکه: زه د اُور څخه پیدا سوی یم، او آدم د خاورو څخه پیدا سوی دی، نو هغه ظالم پدې وخت کي د علم قدر نه وکړی، بلکه د ده نظر د آدم علیہ السلام پر ذات او سرشت باندي وو، نو الله تعالی ده پر ورته په غصه سو، او ورته وایي:

............فَاخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ، وَإِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِي إِلَى يَوْمِ الدِّينِ﴾.

ته ووزه، د ملائکو د ډلي څخه، ځکه چي ته سرکښه ئې، او پر تا به تر قیامته پوري زما لعنت وي.

............قَالَ رَبِّ فَأَنْظِرْنِي إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ﴾.

ابلیس د الله تعالی څخه یو خواست کوي: چي یا الله! ماته تر قیامته پوري ژوند راکړه.

............قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِينَ، إِلَى يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُومِ﴾.

الله تعالی ئې دستي هغه خواست منظوروي، ورته وایي: بس تاته تر قیامته پوري ژوند دی.

دی چیکله پدې پوه سو، چي اوس خو الله تعالی تر قیامته پوري زما د ژوند فیصله وکړه، او بیا ئې نه بدلوي، نو د خپل ضد ښکاره کولو لپاره وایي:

............قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ﴾.

زما دي ستا په عزت قسم وي! چي ټوله انسانان به ګمراه کوم.

............إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ﴾.

مګر چي کم ستا مخلص بندګان وي، هغه به زما څخه محفوظه وي.

الله تعالی هم په جواب کي ورته وایي:

............﴿قَالَ فَالْحَقُّ وَالْحَقَّ أَقُولُ، لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ أَجْمَعِينَ﴾.(۱)

زه حق ذات یم، او حقي فیصلې کوم، زما دي پخپل ذات قسم وي: چي زه به په تا او ستا په تابعدارانو ټولو جهنم ډکوم.(۲)

ابلیس چونکه د علم عزت نه وکړی، نو په دنیا کي چي کم څوک دعلماؤو عزت نلري، او نه هغه ته د قدر او احترام په نظر ګوري، نو هغه ټوله په دغه عمل کي دابلیس متبعین بلل کیږي، هسي نه! چي د قیامت په میدان کي د ابلیس سره یو ځای پاته نه سي.

## د علماؤو قدر کول:

او ملائکو د علم قدر وکړی، نو ځکه هغوی ته الله تعالی د قدر په نظر وکتل، نو په دنیا کي چي هم څوک دعلماؤو قدر کوي، نو الله تعالی به په قیامت کي لوړي درجې ور نصیب کوي، ځکه د عالم پدې امت کي مثال د نبي وي، او د عالم د ژوند مثال د نبي د ژوند مثال وي، د عالم د مرګ مثال د نبي د مرګ مثال وي، او د عالم د زندګۍ مقصد هم د نبي د زندګۍ مقصد بلل کیږي.

لکه په حدیث شریف کي راځي:

............﴿مَنْ زَارَ عَالِمًا فَكَأَنَّمَا زَارَنِي، وَمَنْ صَافَحَ عَالِمًا فَكَأَنَّمَا صَافَحَنِي، وَمَنْ جَالَسَ عَالِمًا فَكَأَنَّمَا جَالَسَنِي، وَمَنْ جَالَسَنِي فِي الدُّنْيَا أَجْلَسَهُ اللَّهُ مَعِيَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي الْجَنَّةِ﴾.(۳)

چي کم څوک د عالم زیارت وکړي، نو پیغمبرﷺ وایي: چي داسي دی: لکه زما زیارت چي وکړي، او چي کم څوک د عالم سره مصافحه وکړي، نو داسي دی: لکه زماسره چي مصافحه وکړي، او چي کم څوک د عالم په مجلس کي کښېني، نو داسي دی: لکه زما په مجلس کي چي کښېني. او چي کم چاته الله تعالی په دنیا کي زما ناسته ور نصیب کړه، الله تعالی به ئې په جنت کي هم زما ملګری جوړ کړي.

---

(۱) سورة ص: آیت نمبر ۷۶-۸۴
(۲) مواعظ ابراهیمي: صفحه نمبر
(۳) تنبیه الغافلین باحادیث سید الانبیاء: حدیث نمبر ۶۸۵

## د عالم امداد کول:

او عالم ته الله تعالی داسي قدر او احترام ور کړی دی: چي زموږ په دین کي یو څو شیانو ته صرف کتل هم عبادت بلل کیږي:

۱. د عالم مخته دا احترام په نظر کتل.

۲. د مور او پلار مخته د محبت په نظر کتل.

۳. په حرم شریف کي بیت الله ته کتل.

۴. د قرآن کریم و الفاظو ته کتل.

او د پېغمبر ﷺ په احادیثو کي دا هم راغلي دي: که چیري پر یو عالم باندي کمزوري راسي، جسماني کمزوري وي، او که مالي کمزوري وي، یو سړی دعالم د مدد لپاره راوړاندي سي، نو الله تعالی پر هر قدم باندي د یو غلام د آزادولو ثواب ورکوي.(۱)

او په بل ځای کي پېغمبر ﷺ فرمایلي دي: چي د یو غلام پر آزادولو د الله تعالی له طرفه د جنت وعده ده.

او یو بل حدیث کي داسي هم راځي: که چیري د محبت په خاطر یو سړی دعالم پر تندي مچه ور کړي، نو د عالم پر بدن چي څومره ورېښان دي، الله تعالی به د ده په عملنامه کي دومره نیکیاني جمعه کړي. (۲)

نو زه دا وایم: چي دعالم ذات ته مه ګورئ! چي دا د کم قوم او قبیلې سره تعلق لري، او نه دهغه عمل ته ګورئ! چي ښه دی، که بد دی، صرف د عالم د علم په خاطر د هغه اکرام وکړئ، ځکه الله تعالی هغه ته علم ور کړی دی، او علم د اکرام قابل صفت الله تعالی ګرځولی دی، الله تعالی دي زموږ او ستاسو په زړو کي دعلماؤو اکرام پیدا کړي، او هم دي مي الله تعالی د علماؤو سره د بغض کولو یا د عناد پیدا کولو څخه محفوظه وساتي، الله تعالی دي دغه څو مختصري خبري په خپل دربار کي قبولي وګرځوي. آمِیْن یَا رَبَّ الْعَالَمِیْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی خَیْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ و اصحابه اجمعین.

---

(۱) خطبات فقیر: جلد نمبر ۵، صفحه نمبر ۲۰۳

(۲) خطبات فقیر: جلد نمبر ۵، صفحه نمبر ۲۰۳

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیه)

# علم د انبیاؤو میراث دی

(بیان)


مولوی **اطیع الله** صاحب

استاذالحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

تقریر : الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ ھ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحیم

إنَّ الْحَمْدَ لِلّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْه فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ﴿مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى عُتَقَاءِ اللهِ مِنَ النَّارِ فَلْيَنْظُرْ إِلَى الْمُعَلِّمِيْنَ الْعِلْم فَوَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ مَا مِنْ مُتَعَلِّمٍ يَخْتَلِفُ إِلَى عَالِمٍ إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ بِكُلِّ قَدَمٍ عِبَادَةُ سَنَةٍ وَبَنَى لَهُ بِكُلِّ قَدَمٍ مَدِيْنَةً فِي الْجَنَّةِ وَيَمْشِي عَلَى الْأَرْضِ وَالْأَرْضُ تَسْتَغْفِرَ لَهُ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهید:

محترمو خاضرینو! الله تعالی انسان ته په دنیا کي ژندګي ور کړېده، خو د هر انسان دا تمنٰی وي، او هم ئې د زړه غوښتنه وي: چي زما ژندګي په عزت کي تېره سي.

د هغه عزت په تلاش کي دی شپه او ورځ محنت کوي، او هم جدجهد کوي، خپل آرام قربانوي، او پر خپل ځان باندي تکلیف او مشقت تېروي، خو دی د عزت ژندګي لاس ته راوړي، او دغه ئې د خپل زړه غوښتنه او تمنٰی وي، چي په هر شکل کیږي، دی ئې پوره کوي.

پر انساني معاشره چي کله انسان نظر واچوي: نو انسان ته دا ور ښکاره کیږي: چي د عزت پیدا کولو مختلفي ذرائع دي:

- مال او دولت.

(۱) سورة مجادله: آیت نمبر ۱۱

(۲) نزهة المجالس و منتخب النفائس: جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۳۵ ٤

- حکومت او منصب.
- علم او عمل.

ځکه زموږ په معاشره کې چې دچا سره مال او دولت وي، د هغه سره ښه کور او سوارلي وي، او هم ئې پر بدن باندې ښائسته لباس وي، نو زموږ د معاشرې خلک دغه ته د عزتمند په نظر ګوري.
لېکن کم عزت چې د مال او دولت په ذریعه سره وي، هغه ډېر پائیداره نه وي، ځکه مال او دولت کله وي، او کله نه وي، کله ډېر وي، او کله لږ وي، ځکه د الله تعالی دا فیصله ده:
......﴿لَهُ مَقَالِيدُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ وَيَقْدِرُ﴾.(۱)
د آسمانو او د ځمکو خزانو کلی او اختیار د الله تعالی سره دی، الله تعالی کله یو چا ته رزق فراخ ورکوي، او کله بیرته پر هغه سړي باندې د رزق تنګي راولي، نو مال او دولت د انسان سره دائمي نه وي، نو دغه ذریعه د عزت پیدا کولو هم دائمي نه ده.
او زموږ په معاشره کې چې دکم چا سره منصب او حکومت وي، ډېر ځله هغه ته هم خلک د عزت په نظر ګوري، او هغه عزتمند بولي.
خو دغه ذریعه د عزت هم ډېر ځله همېشه نه وي، ځکه زموږ او ستاسو معاشره کې ډېر داسې راځي: چې یوه ورځ یو سړی د یو ملک "وزیر اعظم" وي، او بله ورځ بیا هغه په داغه ملک کې "اسیر اعظم" وي.
او چې کم چاته الله تعالی په معاشره کې علم او عمل ور کړي، نو ډېر ځله دینداره خلک هغه ته د عزت په نظر ګوري.
خو البته دا یوه خبره ده: چې کم عزت د علم او عمل په ذریعه وي، هغه همېشه وي، او هغه عزت دوام پیدا کوي، ځکه علم د الله تعالی صفت دی، او علم د انبیاؤو صفت دی، او د نیکو مؤمنانو صفت دی، لکه الله تعالی هم دا فرمایي:
......﴿وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ﴾.(۲)

---
(۱) سورة الشوری: آیت نمبر ۱۲
(۲) سورة المنافقون: آیت نمبر ۸

عزت د الله تعالى لپاره دی. او د هغه د رسول لپاره دی، او د ټولو مؤمنانو لپاره دی، چونکه علم د انسان سره دائمي صفت دی، نو دغه ذريعه د علم هم دائمي ده. او په دغه ذريعه سره چې چا ته الله تعالى عزت ورکړي، نو هغه به په معاشره کې همېشه عزتمند وي.

## د علم فضيلت:

علم چونکه د انبياء کرامو ميراث دی، او انبياء کرامو ته الله تعالى د علم په ذريعه سره عزتونه ور نصيب کړي دي.

په تېره جمعه کې ما د دې خبرې مذاکره کړې وه: چې حضرت آدم عليه السلام ته الله تعالى د فرشتو په مقابل کې د صنعت او د حرفت او د کښت او کروندې علم ور کړی، چونکه دا په دنيا کې د ده ضروريات او د دې څخه بغير ده په دنيا کې ژوند کولای نه سو.

او ملائکو چونکه دې امورو ته ضرورت نه درلودی، نو ځکه د هغوی سره د دې شي علم هم نه وو.

خو د دغه علم په ذريعه الله تعالى آدم عليه السلام ته پر ملائکو باندې دېر لوی فضيلت ور کړی، چې دی ئې د ټولو ملائکو لپاره مسجود وګرځاوی.

دلته عارفينو يو نقطه ليکلې ده: چې د انسان سره صرف د ضرورت د اشياؤو د نومونو علم راغلی، نو هغه انسان د ټولو ملائکو مسجود جوړ سو، نو ستاسو څه ګمان دی: چې کم انسان ته الله رب العزت د خپلو نومونو او صفاتو علم ورکړي، نو د هغه مقامات به بيا په معاشره کې څومره لوړ وي، او هغه ته به الله تعالى څومره لوړې درجې ور نصيب کوي.

حضرت ادريس عليه السلام ته الله تعالى د قلم او ليکلو علم ور کړی، د ده څخه مخکې د تعليم سلسله صرف په نطق او وينا سره وه، لېکن ده ته الله تعالى د قلم چلولو او د عربي او سرياني ژبو د تحرير کولو تعليم ور کړی.

چې د هغه په ذريعه الله تعالى ده ته دېر لوړ مقام ور کړی، لکه قرآن کريم د هغه ذکر کړی دی:

.........﴿وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا﴾.(١)

موږ ده ته ډېره لوړه درجه ورکړه.

لکه په بعضو روایاتو کې راځي: چې الله تعالی یو ملائکه دنیا ته راواستوله، د حضرت ادریس علیه السلام د هغه سره دوستي جوړه سوه، حضرت ادریس علیه السلام یوه ورځ د هغه ملائکي څخه پوښتنه وکړه: چې ته په ما باندي د مرګ څکه وکړه، هغه ملائکي د الله تعالی په اجازت یو ځل پر ده باندي مرګ راوستی، لږ ګړي وروسته بیرته روح ورته راوګرځېدی.

حضرت ادریس علیه السلام د هغه ملائکي څخه دا وغوښتل: چې په ما باندي یو ځل د جهنم منظره وکړه، چیکله ده د جهنم منظره ولېدله، نو بیا ئې د هغه ملائکي څخه غوښتنه وکړه: چې یو ځل جنت هم راباندي ووینه.

نو هغه ملائکي دی په خپلو وزرو کې پورته کړی، او اووم آسمان ته ئې ورساوی، او بیا ئې جنت ته ور داخل کړی.

د جنت لېدلو څخه وروسته هغه ملائکي د ده څخه د راوتلو غوښتنه وکړه، خو ده انکار وکړی، او ورته وئې ویل: چې هر بنده د مرګ څکه کوي، او ما د مرګ څکه کړېده، او د مرګ څخه وروسته چي کم څوک جنت ته ورسي، نو د الله تعالی فیصله داده:

.........﴿وَمَا هُمْ مِنْهَا بِمُخْرَجِينَ﴾.(٢)

چي جنتیان یو ځل جنت ته ور داخل سي، بیا هیڅ کله د جنت څخه نه را وزي، نو زما دي هم په الله قسم وي: چي زه به هیڅ کله د جنت څخه نه وزم، نو دا د ده لپاره لوړه مرتبه وه، علماؤو لیکلي دي: چي الله تعالی دغه درجه د علم په ذریعه سره ده ته ورکړه.(٣)

او حضرت نوح علیه السلام ته الله تعالی د شریعت علم او د حلالو او حرامو د مسئلو علم ورکړی وو، لکه الله تعالی فرمایي:

.........﴿شَرَعَ لَكُمْ مِنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا﴾.(٤)

---

(١) سورة مریم: آیت نمبر ٥٧

(٢) سورة الحجر: آیت نمبر ٤٨

(٣) حاشیه جلالین: سورة مریم: ایت نمبر ٥٧

(٤) سورة الشوری: آیت نمبر ١٣

ما تاسو ته هغه دين او شريعت در کړی دی، چې د هغه تعليم مي. حضرت نوح عليه السلام ته ور کړی وو.
او د دې سره الله تعالى ده ته د نجارۍ د کار د زده کړې علم او تعليم ور کړی وو. چې ده د هغه علم په ذريعه کښتۍ جوړه کړه، چې په هغه کې ده او د ده متبعينو او ډېرو مخلوقاتو ته د طوفان څخه نجات ور کړی، او دغه نجات د طوفان څخه حضرت نوح عليه السلام هم الله تعالى د علم په ذريعه ور کړی وو، چې نور ټوله مخلوقات غرق سول. صرف دی او د ده متبعين د غرقيدو څخه محفوظه و ګرځېدل.
حضرت ابراهيم عليه السلام ته الله تعالي د مناظرې علم ور کړی وو، چې د هغه په ذريعه دی پر نمرود باندي غالب سو، او د هغه په ذريعه الله تعالى ده ته د خليل مرتبه ور کړله، لکه په سورة البقره کي ذکر سوي دي:
........﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رَبِّهِ أَنْ آتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ﴾.
حضرت ابراهيم عليه السلام چې په کم کلي او کور کي پيدا سو، هغه ټوله بت پرسته وو. د حضرت ابراهيم عليه السلام د بتانو د عبادت څخه طبعاً نفرت وو، او ده به پر هر مقام باندي د بتانو عيبونه بيانول، او هم به ئې د هغه د عبادت څخه بېزاري ښکاره کوله.
يوه ورځ چې د هغه قوم خلګ د اختر په ورځ ميلې ته وتلي وو، نو دی د هغوی بت خانې ته راغلی، او ټوله بتان ئې په تبر باندي مات کړل، او تبر ئې د هغه غټ بت پر ووږه باندې کښېښووی.
چيکله د هغه قوم خلګو ته د خپلو بتانو د دغه حالت خبر ورغلی، نو ټول راغلو، او بت خانې ته ور ننوتل، چې بتانو ته ئې وکتل، نو دستي ئې دا سره وويل:
........﴿مَنْ فَعَلَ هَذَا بِآلِهَتِنَا إِنَّهُ لَمِنَ الظَّالِمِينَ﴾.
چې کم چا زموږ د خدايانو سره دا عمل کړی دی، هغه يقيناً ظالم دی، او زموږ د خدايانو سره ئې ظلم کړی دی.
آخر دوی په خپل مابين کي سره وويل:
........﴿سَمِعْنَا فَتًى يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُ إِبْرَاهِيمُ﴾.
چې دلته خو يو ځوان ګرځېدی، نوم ئې: ابراهيم وو، هغه به همېشه زموږ پر خدايانو عيب لګاوی، نو دا عمل که کړی وو، هغه به کړی وي.

نو دغه حال دوی دستي نمرود بادشاه ته ورساوی، او دغه د ابراهیم علیه السلام قصه ئې هم ور ته وکړه، نمرود ډېر لوی دربار جوړ کړی، چي په هغه کي ئې د خپل حکومت ټول مشران او وزیران راجمعه کړل، او دوی ته ئې وویل:

........﴿فَأْتُوا بِهِ عَلَى أَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُونَ﴾.

تاسو دغه ابراهیم نامي ځوان دې دربار ته راحاضر کړئ، چي ټول خلک ئې ووینې، نو شاید چي دی به وپېژني، او هم به د ده پر دغه عمل باندي ګواهي پېش کړي.

نو ابراهیم علیه السلام دې وخت کي نوجوان اولس(۱۷) یا اتلس(۱۸) کلن عمر والا د یو مجرم په شکل چي په لاس او پښو کي ځنځیرونه او په غاړه کي طوق د نمرود و مخته په عام دربار کي دوی پېش کړی.

نمرود او د هغه درباریانو پوښتنه ځني وکړه:

........﴿أَأَنتَ فَعَلْتَ هَذَا بِآلِهَتِنَا يَا إِبْرَاهِيمُ﴾.

اې ابراهیمه! ایا تا زموږ د خدایانو سره دغه عمل کړی دی؟

ده په جواب کي ورته وویل:

........﴿بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا فَاسْأَلُوهُمْ إِنْ كَانُوا يَنطِقُونَ﴾.

چي ما خو اورېدلي دي: تبر د هغه لوی بت پر اوږه باندي پروت وو، کچیري هغه خبري کولای سي، تاسو د هغه څخه پوښتنه وکړئ، شاید دا عمل به هغه کړی وي.

دوی د ده د خبري څخه ډېر په فکر کي ولوېدل، چي دا زموږ خدایان خو خبري نه سي کولای، نو ئې ده ته وویل: چي دا خو موږ د ډېرو څخه په خپل لاس تراشلي دي، نه خبري کولای سي، او نه ئې اورېدلای سي، نو د دې څخه موږ څنګه پوښتنه وکړو، او د دې د جواب به موږ څنګه انتظار ولرو.

ابراهیم علیه السلام د نمرود په عام دربار کي ورته وایي:

........﴿أَفَتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمْ شَيْئًا وَلَا يَضُرُّكُمْ ، أُفٍّ لَكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ﴾.

تاسو د داسي چا عبادت کوئ: چي پخپله خوله دا اقرار کوئ، چي د هغوی سره د نفعې او د ضرر هیڅ اختیار نسته، او بیا بیرته د هغه څخه خپل حاجتونه غواړئ، نو

تاسو او ستاسو خدایان دي دواړه غرق او هلاک وي، چي په دومره ناپوهي کي پر تاسو باندي ژوند تېرېږي.
نمرود ورته وایي: چي ستا رب نو څوک دی؟ چي ته د هغه عبادت کوې، او هغه د نفعي او نقصان مالک بولې.
..............﴿رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ﴾.
ده په جواب کي ورته وویل: زما رب هغه ذات دی: چي د ټوله انسانیت ژوند او مرګ د هغه په قبضه قدرت کي دی.
نمرود ورته وویل:
..........﴿أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ﴾.
ژوند او مرګ ور کول، که دچا د خدائي علامه وي، نو دا خو زه هم کولای سم، دستي ئې یو سړی چي د مرګ لائق وو، هغه ئې آزاد کړی، ویل ئې: دې ته مي دا دی ژوند ور کړی، او یو بل سړی چي هغه هیڅ جرم کړی نه وو، هغه ئې قتل کړی، ویل ئې: دا دی دې ته مي مرګ ور کړی.
څنګله د نمرود په هغه کاږه دماغ کي د ابراهیم علیه السلام دغه دلیل رانغلی، او د الله تعالی د ذات کامل قدرت په واضحه طریقه پر ده باندي ښکاره نه سو، نو ابراهیم علیه السلام بل داسي قوي دلیل په خپله مناظره کي ورته پېشوي: چي دی د هغه په جواب کي هک بک حیران پاته سو.
..........﴿فَإِنَّ اللَّهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ﴾.(۱)
ابراهیم علیه السلام ورته وایي: زما رب هغه ذات دی: چي هغه پر ټوله عالم باندي "لمر" د مشرق د جانب څخه را پورته کوي، او ته که ځان د هغه په مقابل کي رشتیا خدای بولې نو ته دغه "لمر" د مغرب د جانب څخه را پورته کړه.
د دې په مقابل کي نمرود لا جواب پاته سو، نو دا هغه د مناظرې علم وو، چي الله تعالی ابراهیم علیه السلام ته ور نصیب کړی وو، او د دې په وجه ده ته د "خلیل الله" لقب ور کول سو، او هم پر ده باندي د نمرود اور ګل ګلزار سو، او الله تعالی پر ده باندي داسي

(۱) سورة البقره: آیت نمبر ۲۵۸

برکت کښېښووی، چې د ده په نسل کې لس زره(۱۰۰۰۰) انبیاء راغلل، او د ده لقب ابوالانبیاء او شجر الانبیاء و ګرځېدی، او وروسته چې څومره ادیان راتلو، د هغوی اهل به د ابراهیم علیه السلام بنه صفتونه بیانول.

حضرت یوسف علیه السلام ته الله تعالی د خوبونو د تعبیر علم ور کړی وو، چې د هغه په ذریعه دی د مصر د وزارت خزانه پر مسند کښېناستی، او بیا د عزیز مصر پر ځای د ټوله مصر د حکومت مالک او مختار جوړ سو، چې د هغه علم په ذریعه ده د راتلونکي کاختی بهترین انتظام جوړ کړی، چې د هغه په وجه په لکونو انسانان د هلاکت څخه محفوظه وګرځېدل، او د مصر خزانه د خورکي موادو څخه مالامال او ډکه وه.

د تواریخو او معتبرو تفسیرو په حواله چیکله حضرت یوسف علیه السلام د عزیز مصر په کور کي د یو غلام په شکل استوګنه کوله، او د هغه زناني دی پر یو غلط حرکت کولو باندي مجبوره کړی، لېکن ده د خپل خانداني عصمت په خاطر د هغه څخه د هر څومره مجبوره کولو باوجود په شدت سره انکار وکړی.

نو د عزیز مصر زناني خپل خاوند د ده خلاف را وپاروی، او پر ده باندي ئې بد ترین تهمت و تړی، چې د هغه په سزا کي دی تر جیله پوري ولاړی، او ډېره زندګي ئې په جیلخانه کي تېره کړه.

الله تعالی ده ته هلته د خوبونو د تعبیر علم ور نصیب کړی، نو قیدیان به په جیلخانه کي همېشه ده ته راتلل، او د خپلو خوبونو تعبیر به ئې څني غوښتی، ده چې به څنګه تعبیر ورکړی، هغه به رشتونی ختی.

یو ځل د قرآن کریم وینا ده: چې ده ته یو دوه(۲) کسان راغلل، چې هغه د جیلخانې قیدیان وو، او ده ته ئې داسي خوب بیان کړی:

﴿............قَالَ أَحَدُهُمَا إِنِّي أَرَانِي أَعْصِرُ خَمْرًا وَقَالَ الْآخَرُ إِنِّي أَرَانِي أَحْمِلُ فَوْقَ رَأْسِي خُبْزًا تَأْكُلُ الطَّيْرُ مِنْهُ﴾.(۱)

یوه ورته وویل: چې ما د انګورو څخه شراب جوړول، او هغه بل ورته وویل: چې ما پر سر ډوډی اخیستې وه، چې مرغانو د هغه څخه خورک کاوی، نو هغه دواړو د ده څخه د دغه خپل خوبونو تعبیر وغوښتی.

(۱) سورة یوسف، آیت نمبر ۳۶

ده د هغه خوب تعبير داسي ور کړی:

.........أَمَّا أَحَدُكُمَا فَيَسْقِي رَبَّهُ خَمْرًا وَأَمَّا الْآخَرُ فَيُصْلَبُ فَتَأْكُلُ الطَّيْرُ مِنْ رَأْسِهِ قُضِيَ الْأَمْرُ الَّذِي فِيهِ تَسْتَفْتِيَانِ﴾.(١)

يو په تاسو کي به خلاصون پيدا کړي، او هغه به د بادشاه په کور کي د بادشاه لپاره د شرابو جوړولو خدمت پر غاړه ولري.

او هغه بل به په دار سي، او د هغه د سر غوښي به مرغان خوري، دا فيصله د هغه خوب د تعبيرونو ده، چي تاسو ئې زما څخه غوښتنه کړې وه، ده چي څنګه تعبير ور کړی، هغه دواړه هغه حالت ته په لږ زمانه کي ورسېدل.

## د مصر د بادشاه خوب ليدل:

په دغه دوران کي د مصر بادشاه هم يو ځل خوب وليدی، چي اوه(۷) چاغ او زورور غوايان د "درياب نيل" څخه راووتل، او د هغه تر شا بيا اوه(۷) ډنګر غوايان پسي راغلل، او د هغه غاښونه د زمريانو غوندي وو، او هغوی هغه چاغ غوايان په خپلو غاښو سره څيري کړل، او وئې خوړل، او دا د غوايانو د عادت خلاف عمل وو، ځکه چي په عادت کي يو غويی بل نه خوري.

او په دغه خوب کي بادشاه دا هم وليدل: چي د "نيل د درياب" څپې وي، ليکن يو دم د هغه اوبه وچي سي، او د ريګ څخه ئې اوه(۷) وړي زرغونه پيدا سي، او يو ګړی بعد اوه(۷) وچ وږي د هغه ريګ څخه راپورته سي، او پر هغه زرغونو وږو باندي راوپېچل سي، هغه وسوځي، او وچ ئې کړي.

د مصر بادشاه د دغه خوب څخه ډېر زيات پرېشانه او په وېره کي وو، سهار ئې د خپل دربار ټوله کاهنان او نجوميان راطلب کړل، او خپل خوب ئې و هغوی ته بيان کړی، او هم ئې د خوب تعبير ځني وغوښتی.

هغه چونکه د دغه رنګه خوبونو سره ډېر ناواقفه وو، نو ئې په جواب کي ورته وويل: بادشاه سلامت! دا ګډ وډ خوبونه دي، کله د انسان د خورک سره کار لري، او کله بيا د

(١) سورة يوسف: آيت نمبر ۴۰

انسان د سوچ او فکر په وجه راځي، موږ په دې نه پوهیږو، نو هغه ټولو د تعبیر ور کولو څخه انکار وکړی.
هغه د قید څخه راخلاص سوي سړی هم په دغه مجلس کي د بادشاه په دربار کي حاضر وو، نو هغه ته سم دستي حضرت یوسف علیه السلام او د هغه د خوبونو صحیح تعبیر ورکول ور په یاد سو، نو بادشاه مصر ته راوړاندي سو، او سلام ئې ور ته وکړی، او ورته وئې ویل: چي ما ته یو سړی داسي رامعلوم دی: چي هغه به ستا د دغه خوب صحیح تعبیر در کړي، خو ته ماته تر جیله پوري د تګ کولو اجازت راکړه.
هغه سړی د بادشاه په اجازت جیل ته راغلی، او حضرت یوسف علیه السلام ته ئې د بادشاه خوب بیان کړی، ده مبارک په دغه وخت کي تعبیر ورته ښکاره کړی.
چي اوه(۷) کاله به آبادي او بارانونه ډېر زیات وي، او غله به هم په زیات مقدار وسي، او د هغه څخه وروسته به بیا اوه(۷) کاله قحط سالي وي، چي په هغه کي به د تیرو اوو کلو غله ټوله ختم سي، او انسانان به ډېر بد حالت ته ورسیږي، او اتم(۸) کال به بیا بیرته داسي کال وي، چي په هغه کي به بیا بارانونه اوریږي.
بادشاه ته چیکله د دې خوب تعبیر راورسېدی، نو د هغه سره د هغه قحط سالي لپاره د یو تدبیر کولو ډېر زیات فکر پیدا سو، بیا ئې زړه دا فیصله ورکړه، چي کم سړي د دغسي مشکل خوب تعبیر ښکاره کړی، نو هغه سړی د دغه کاختی لپاره د تدبیر کولو هم ضرور معلومات لري.
نو ئې سمدستي حکم وکړی: چي ور سئ، هغه قیدي تر ما پوري راولئ، چنانچه حضرت یوسف علیه السلام بادشاه ته راوستل سو، او بادشاه د هغه سره مجلس و کړی، او د هغه دغه تدبیرونه ئې واورېدل، نو ئې دستي، د خزانې وزارت په لاس ورکړی، او هم ئې د ټوله ملک تر مرګه پوري مالک جوړ کړی، د مصر ټول تور او سپین د ده په اختیار کي راغلل.

## د حسن او علم فرق:

زما مقصود دلته دا وو: چي تاسو ګورئ! دا خبره خو ښکاره هم ده: او تاسو به هم ډېر زیاته اورېدلې وي، چي حضرت یوسف علیه السلام ته الله تعالی داسي حسن ور کړی وو:

چي هغه په دغه حسن كي خپل ثاني نه درلودى، چيكله به دى د نقاب څخه بغير دباندي راوواتى، نو چي به كم چا ليدى، هغه به د ده عاشق جوړېدى، او ډېر څله د كمزوري طبيعت والا خلگ به بېهوښه پر مځكه غوځارېدل، لكه اوس هم د يوسف عليه السلام حسن "ضرب المثل" دى. او د حسن په دنيا كي ډېر قدر وي، ډېر څله مال او دولت هم د هغه و مخته بې حقيقته ښكاره سي.

ليكن چي كم عزت او قدر الله تعالى علم ته ور كړى دى، نو د هغه بيا يو حصه حسن ته هم نه ده ور كول سوې، څكه د الله تعالى قرآن پر دى باندي شاهد او گواه دى.

چيكله حضرت يوسف عليه السلام ته الله تعالى صرف حسن ور كړى وو، او د هغه سره د علم صفت لا په پوره پېمانه نه وو راغلى، نو بيا د هغه قدر دغه وو: چي قرآن ئې بيانوي:

.........وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍ بَخْسٍ دَرَاهِمَ مَعْدُودَةٍ﴾.(۱)

ورونو يوسف عليه السلام په يو څو كوټه دراهمو باندي خرڅ كړى، او بيا د قافلې سالار په مصر كي په بل قيمت خرڅ كړى، خو مقصد مي دا دى: چي د دې دومره حسن سره دى د غلامانو غوندي خرڅېدى، او د هغه حسن په وجه آخر جيلخانې ته ورسېدى.

لېكن چيلكه الله تعالى ده ته په جيلخانه كي د خوبونو د تعبير علم وركړى، د هغه علم په بركت الله تعالى د جيل څخه د وزارت پر مسند او چوكۍ كښېناوى، او د "مصر" د هر څه اختيار د ده په لاس كي راغلى. (ببين تفاوت راه از كجاست تا بكجا)

## د علم او طلب علم فضائل:

نو دا يو حقيقت دى: چي په معاشره كي كم چا ته الله تعالى د علم اراده وكړي: نو د هغه زندگي د علم په طلب كي روانه كړي، او هم هغه ته علم وركړي، او د علماؤو په صف كي ئې شمار كړي، او دا ډېر د فضيلت مقام بلل كيږي.

حضرت انس رضي الله عنه د پيغمبر صلى الله عليه وسلم يو روايت رانقل كوي:

.........مَنْ اَرَادَ اَنْ يَّنظُرَ اِلَا مَنْ هُوَ عَتِيْقُ اللهِ مِنَ النَّارِ فَلْيَنْظُرْ اِلَى مَنْ هُوْ فِيْ طَلَبِ الْعِلْمِ﴾.

(۱) سورة يوسف: آيت نمبر ۲۰

که یو څوک دا غواړي: چي زه د مځکي پر مخ داسي څوکووینم، چي هغه الله تعالی د جهنم څخه آزاد کړی وي، نو هغه دي هغه چاته و ګوري: چي کم څوک د علم په تلاش کي روان وي.
او پیغمبر ﷺ دا هم فرمایي: چي کم څوک د علم د حاصلولو په نیت د یو عالم دروازې ته ورسي، نو هغه ته الله تعالی د هر حرف ازده کولو او د هر قدم اخیستلو په عوض کي د یو کال عبادت ثواب ورکوي، او د هغه لپاره په جنت کي یو ښار آبادوي.
او چي تر کمه ځایه پوري د ده قدمونه اخیستل کیږي، نو هغه مځکه د ده لپاره استغفار او بخښنه غواړي، او سهار او ماښام فرشتې د ده د مغفرت اعلان په داسي الفاظو کوي:

............هَؤُلَاءِ عُتَقَاءُ اللهِ مِنَ النَّارِ﴾.

دا هغه خلګ دي: چي الله تعالی د جهنم څخه آزاد کړي دي.(۱)
نو تاسو ګورئ! چي د علم په طلب کي پیغمبر ﷺ د انسانانو لپاره کم فضیلت بیان کړی دی، زما د عقیدې مطابق: د دین په یوه لاره کي به هم دغه فضیلت انسان حاصل نه کړي.
لکه حضرت ابوهریره ﷺ او حضرت ابوذر ﷺ دواړه دا د پیغمبر ﷺ دا حدیث رانقل کوي:

.........حُضُوْرُ مَجْلَسَ عِلْمٍ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاةِ أَلْفِ رَكْعَةٍ﴾.

د علم مجلس ته حاضرېدل، دا تر زر (۱۰۰۰) رکعته نفل لمانځه کولو افضل دي.

.........وَحُضُوْرُ مَجْلِسُ عِلْمٍ أَفْضَلُ مِنْ عِيَادَةِ أَلْفِ مَرِيْضٍ﴾.

او هم د زرو (۱۰۰۰) مریضانو د عیادت او پوښتني کولو څخه افضل دي.

.........وَحُضُوْرُ مَجْلَسَ عِلْمٍ أَفْضَلُ مِنْ شُهُوْدِ أَلْفِ جَنَازَةٍ﴾.

او هم د زرو (۱۰۰۰) جنازو د شرکت کولو څخه افضل دي.
یو صحابي پوښتنه ځني کوي:

............ومِنْ قِرَاءَةِ القُرْآنِ﴾.

(۱) تنبیه الغافلین بحواله: تحفة الطلباء و العلماء: صفحه نمبر ۶۸

ای د علم مجلس ته حاضرېدل د قرآن کریم تر تلاوت کولو هم افضل عمل دی؟
پیغمبر ﷺ په جواب کي ورته وایي:
......... ﴿هَل تَنفَعُ قِرَاءَةُ القُرآنِ إلَّا بِالعِلمِ﴾. (۱)
ګوره! د قرآن کریم تلاوت که نفعه رسوي، هغه هم په علم سره وي، بغیر د علم انسان د قرآن کریم پر تلاوت کامله نفعه نسي اخیستلای.
او یو بل حدیث هم دغه دوه صحابه مبارکان را نقل کوي:
............ ﴿بَابُ العِلمِ تَعَلُّمُهُ اَحَبُّ اِلَینَا مِنْ اَلفِ رَکعَةٍ سَمِعْنَا رَسُولَ اللهِ ﷺ یَقُولُ: اِذَا جَاءَ طَالِبَ العِلمِ اَلْمَوْتُ وَ هُوْ عَلَی ذَالِکَ فَهُوَشَهِیْدٌ﴾.
د علم یو باب ازده کول، او په یوه مسئله سر خلاصول دا تر زر (۱۰۰۰) رکعته لمانځه کولو بهتر دی، ځکه موږ د پیغمبر ﷺ څخه اورېدلي دي: کچیري چا لره د طالب علمۍ په زمانه کي مرګ راغلی، نو هغه مرګ د شهادت بلل کیږي.

## د یو طالب العلم د مرګ عجیبه واقعه:

کفایت الاتقیاء کي ابن منیر رحمة الله علیه د حضرت یحیی رحمة الله علیه څخه یو روایت را نقل کوي: چي هغه به موږ ته ویل: چي د ټولو څخه مخکي دغه واقعه امام مالک رحمة الله علیه د حدیثو د درس په دوران کي بیان کړېده:
چي یو نوجوان طالب العلم د شام د علاقې څخه د حدیثو د زده کړي لپاره راغلی، او د امام مالک رحمة الله علیه د حدیثو زده کړه ئې کوله، لږ زمانه بعد هغه وفات سو، د ټوله ښار علماء، فضلاء، او نیک خلګ د هغه په جنازه کي شریک سول، او هغوی ټولو په ښه عزت سره دی و خاورو ته وسپاری.
امام مالک رحمة الله علیه فرمایي: چي دوهمه ورځ هغه طالب العلم ماته په خوب کي راغلی، چي د هغه مخ ډېر روښانه وو، او پر یو ښائسته او قیمتي آس باندي سپور وو، او زرغونه لنګوټه ئې تړلې وه، او د آسمان څخه و ځمکي ته راښوه سو، ګویا: هغه د الله تعالی له طرفه یو استازی موږ ته راغلی، چي خپل حالت موږ ته بیان کړي.

(۱) احیاء علوم الدین لمحمد الغزالي: باب بیان ما بدل من الفاظ العلوم: صفحه نمبر ۳۵

امام مالک رحمۃ اللہ علیہ وایي: چي ما پوښتنه ځني وکړه: چي الله تعالی څه در سره وکړل؟ ده په جواب کي راته وفرمایل: چي الله تعالی ماته د هري مسئلې په بدله کي د جنت یو محل رانصیب کړی، او دا مرتبه دعلماؤو څخه سوا الله تعالی بل چاته نه کړه ور نصیب.

چیکله زما ټول مراتب او مقامات ختم سول، نو الله تعالی ملائکو ته امر وکړی:

............ زَیِّدُوا وَارِثَ الاَنۡبِیَاءِ فَقَدۡ حَطَمۡتُ عَلَی نَفۡسِی اِنَّهُ مَنۡ مَاتَ وَ هُوَ عَالِمٌ بِسُنَّتِی وَ سُنَّتِ اَنۡبِیَائِی اَوۡ طَالِبٌ لِذٰلِکَ اَنۡ اَجۡمَعَهُمۡ فِيۡ دَرَجَةٍ وَاحِدَةٍ﴾.

اې ملائکو ! زما دې بنده ته یو څه نوره زیات مرتبه ورکړئ: ځکه دا زما د انبیاؤو وارث دی، ما پر خپل ځان دا لازمه کړېده: چي کم سړی زما احکام او زما د انبیاؤو د سنتو څخه واقف او خبر وي، هغه که عالم وي، او که طالب العلم، زه به دی د انبیاؤو سره یو ځای را پورته کوم.

نو اوس بس زما او د پیغمبر ﷺ په مابین کي صرف د دوو (۲) درجو فرق دی: یوه درجه خو خاص الخاص د پیغمبر ﷺ د نبوت ده، چي پر ده باندي ټوله انبیاء راګرځېدلي دي، او دوهمه درجه د ده د صحابه وو ده، چي د ده سره ټوله صحابه او د ټولو انبیاؤو سره خپل حواریین موجود دي.

او دریم درجه زموږ د ټولو علماؤو ده، چي په هغه کي د امت د علم خادمان هغه که د علماؤو په شکل وي، او که د طلباؤو په شکل وي، موجود دي.

............وَعَدَنِیۡ رَبِّیۡ اَنۡ یَحۡشُرَنِیۡ مَعَ النَّبِیِّیۡنَ فَاَنَا مَعَهُمۡ اِلَی یَوۡمِ الۡقِیَامَةِ﴾.

بیا زما رب زموږ سره دا وعده کړېده: چي تاسو به د انبیاؤو سره د قیامت په میدان کي یو ځای را پورته کوم، او زه اوس تر قیامته پوري د انبیاؤو سره یو ځای یم.

............فَاِذَا کَانَ یَوۡمُ الۡقِیَامَةِ قَالَ تَعَالٰی یَا مَعۡشَرَ الۡعُلَمَاءِ هٰذِهِ جَنَّتِیۡ قَدۡ اَبَحۡتُهَا لَکُمۡ﴾.

چیکله د قیامت ورځ سي، نو الله تعالی به و فرمایي: اې د علماؤو ډلي! دا زما جنت دی، ماتاسو ته مباح ګرځولی دی، چي هر ځای ا وسیږئ، هلته په کي وه اوسیږئ.

............وَ هٰذَا رِضۡوَانِیۡ قَدۡ رَضِیۡتُ عَنۡکُمۡ﴾.

او دا زما رضا ده: چي زه اوس ستاسو څخه راضي یم، او زما رضا ستاسو په نصیب سوه.

.........فَلَا تَدْخُلُ الْجَنَّةَ حَتَّى تَقِفُوْا فَتَشْفَعُوْا﴾.

خو الله تعالی به د دوی څخه دا یوه غوښتنه وکړي: چي تاسو جنت لره مه ورځئ، یو ځل و دریږئ، د قیامت په میدان کي چي څومره خلګ دي، د هغوی لپاره شفاعت وکړئ.

.........فَأُعْطِيكُمْ مَا شِئْتُمْ وَ اشْفَعُوكُمْ مِمَّنْ اشْفَعْتُمْ لَهُمْ﴾.

چي تاسو څه غواړئ، نن به زه هغه تاسو ته در کوم، او چي د کم چا په حق کي تاسو شفاعت کوئ، زه به ستاسو شفاعت قبلوم، او هم به ستاسو په شفاعت هغه ته بخښنه کوم.

.........لِأَرَى عِبَادِيْ كِرَامَتَكُمْ و مَنْزِلَتَكُمْ﴾.

چي زه خو دقیامت د میدان انسانانو ته ستاسو مرتبه او ستاسو کرامت او ستاسو عزت ور ښکاره کړم.

چي ما تاسو ته د علم په برکت څومره لوی کرامت او عزت در نصیب کړی دی، او هم مي د علم په خاطر تاسو ته دجنت څومره لوړ مقامات در کړي دي.(۱)

نو علم یقیناً ډېر لوی صفت دی، او ډېره لویه نیکبختي ده، او ډېر لوی عزت دی، چي په معاشره کي ئې الله تعالی و چا ته ور نصیب کړي.

بیا خو خاص د دې فتنو په دور کي د انسان او د انسان د بچیانو دحفاظت یوازیني ذریعه ده، چي د هغه په وجه به انسان د زمانې د هر قسم ظاهري او باطني فتنو څخه حفاظت پیدا کوي، او که چیري د علم د تعلیم او تعلم په وخت کي مرګ ورته راسي، نو به ئې مرګ د شهادت وي.

او د مرګ څخه وروسته به هم الله تعالی د عامو انسانانو څخه زیات انعامات او اعزازات عالم ته ور نصیب کوي.

الله تعالی دي موږ او تاسو په دنیا او آخرت کي د حقاني علماؤو په ډله کي شمار کړي، او هم دي مي د قیامت په میدان کي د محمد رسول الله ﷺ د "لواء الحمد"

---

(۱) کفایت الاتقیاء: بحواله مواعظ ابراهیمي احسن المواعظ: صفحه نمبر ۲۵۲

لاندي د ده په ډله کي راپورته کړي، او الله تعالی دي دا څو خبري قبولي او مقبولي وګرځوي.

آمِیْن یَا رَبَّ العَالَمِیْن

وَصَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی خَیْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# د علمي سوال فضيلت

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹہ

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ھ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «اَللّٰهُمَّ انْفَعْنِيْ بِمَا عَلَّمْتَنِيْ وَعَلِّمْنِيْ مَا يَنْفَعُنِيْ وَزِدْنِيْ عِلْمًا. وَالْحَمْدُ لِلّٰه عَلَى كُلِّ حَالٍ».(٢)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهید:

محترمو حاضرینو ! د الله تعالی ډېر لوی کرم او احسان دی، چي زموږ او ستاسو زندګي ئې د یو لک څلورویشت زره(۱۲۴۰۰۰) انبیاؤ د امتونو پر ځای د محمد رسول الله ﷺ په امت کي کښېښوو له.

زما عقیده داده: که ټوله زندګي په سجده کي تېره کړو، د الله تعالی د دغه نعمت شکر پای ته نه سو رسولای، ځکه دې امت ته چي الله تعالی پر نورو امتونو باندي څومره فضیلت او احسان ور کړی دی، ډېر ځله دانسان عقل او دماغ د هغه ادراک کولو ته عاجزه پاته سي.

حضرت موسی علیه السلام ته الله تعالی تورات آسماني کتاب ور کړی وو، او په هغه کي د دې امت فضیلت لیکلی وو، چي حضرت موسی علیه السلام به د هغه په وجه همېشه د دې امت غوښتنه کوله.

---

(١) سورة النحل: آیت نمبر ۴۳

(٢) سنن ابن ماجه: حدیث نمبر ۲۵۱

........رَبِّ اِنِّيْ اَجِدُ فِي الْاَلْوَاحِ اُمَّةً هُمْ خَيْرُ اُمَّةٍ اَنَاجِيْلُهُمْ فِيْ صُدُوْرِهِمْ يَقْرَؤُوْنَهَا رَبِّ اجْعَلْهُ اُمَّتِيْ﴾.

يا الله! زما په کتاب تورات کي ما د يو امت ذکر ليدلی دی، چي هغه به خير امت وي، او د هغوی صفت به دا وي: چي هغه به د آسماني کتاب عالمان او حافظان وي، نو هغه امت ما ته را نصيب کړه.

الله تعالی په جواب کي ورته وايي: چي اې موسی! ستا او د هغه امت په زمانه کي ډېر فرق دی، ته ډېر مخته ئې، او د هغه امت زمانه ډېره وروسته را روانه ده.

د حضرت موسی علیہ السلام چيکله طمعه و ختله، چي هغه امت زما نه په نصيب کيږي، نو د الله تعالی په دربار کي آخر دا خواست پېشوي:

........رَبِّ اجْعَلْنِيْ مِنْ اُمَّةِ اَحْمَدَ﴾.

يا الله! زه تورات او نبوت نه غواړم، ما صرف په دغه امت کي شمار کړه.

نو دا هغه امت دی: چي ډېرو انبياؤو په دې امت کي په دعاګانو شموليت غوښتی دی، په هغه کي صرف د حضرت عيسی علیہ السلام دعا قبوله سوې ده، چي د دې امت په آخره دور کی به راځي، او په دې امت کي به شمارل کيږي، او قبر به ئې د پېغمبر ﷺ په حجره مبارکه کي جوړيږي، لکه ابو مودود محدث ليکي: چي اوس هم په حجره کي يو د قبر ځای د عيسیٰ علیہ السلام لپاره خالي ولاړ دی.

**د علم والا امت:**

په تورات کي د دې امت يو خصوصيت دا هم ليکلی دی: چي د دې امت انسانانو ته به الله تعالی قوي حافظې او دماغونه ور نصيب کړي وي، ځکه چي دا امت به د خپل آسماني کتاب حافظان جوړيږي.

د دې امت نارينه او زنانه، مشران او کشران، ته به الله تعالی د خپل آسماني کتاب د حفظ او يادولو استعداد او توفيق ور نصيب کوي.

لکه اوس دا خبره زموږ په دې امت کي الحمدلله په پوره پېمانه سره وجود لري، زنانه حافظاني سته. بلکه د دې امت اولنی حافظ د قرآن حضرت عائشه مبارکه وه.

او داغه رنګه نارينه حافظان د کشرانو، مشرانو او بوډاګانو په شکل ډېر په دې امت کي وجود لري.

## د حضرت ابوهريره رضی الله عنه حافظه:

حضرت ابوهريره رضی الله عنه په دې امت کي د عجيبي حافظې والا انسان تېر سوی دی، مروان ډېر لوی حاکم وو، حضرت ابو هريره رضی الله عنه ئې را طلب کړی، او ورته و ئې ويل: چي ما ته د پيغمبر صلی الله علیه وسلم احاديث واوروه، او يو کاتب او ليکونکی ئې د پردې تر شا پټ ورته کښېنوی، ده مبارک په سوونو احاديث پر هغه ځای باندي ورته پېش کړل.
يو کال او دوه چيکله تېر سو، نو بيا ئې يو ځل را طلب کړی، او ورته ئې ويل: هغه تېر احاديث يو ځل بيا راته پېش کړه، زموږ څخه هير سوي دي، ده په دغه شکل د هغه امتحان اخيستی، چي: دی خو به په احاديثو کي تغير نه راولي.
حضرت ابو هريره رضی الله عنه هغه احاديث بيا ورته شروع کړل، او هغه کاتب د پردې تر شا ورته ناست دی، او ټوله احاديث د تير دور سره ګوري، چيکله هغه ټول احاديث ده پېش کړل، نو په ټولو احاديثو کي ئې يو لفظ خو څه کوې؟ د يو اعراب غلطي هم رانغله.
نو الله تعالی هغه انسانانو ته داسي صلاحيتونه او پخې حافظې ور کړي وې.
که زه په نورو الفاظو دغه خپله خبره تعبير کړم، نو د دې معنی دا: چي دا امت د علم والا امت دی، او الله تعالی د دې امت په ټولو افرادو کي د علم استعداد ايښی دی.
په تېرو امتونو کي به علم د هغه امت د يو څه خاص راهبانو او پادريانو سره وو، او عام انسانان به د علم څخه ليري وو، يعني خاص خاص کسان به د علم څخه برخمند وو، لېکن په دې امت کي الله تعالی علم سره غوړولی دی، او هر فرد ته ئې د علم استعداد ور کړی دی، ځکه پدې امت کي علم حاصلول فرض دي، لکه پيغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايي:
..........طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ﴾.(۱)

(۱) مشكاة المصابيح: حديث نمبر ۲۱۸

دومره علم چي دی خپل ځلرويشت(۲۴) ساعته زندګي کي تېرولای سي، او د الله تعالی په احکامو ځان پوه کوي. پر مطلقاً مسلمان فرض دی، په هغه کي د نارينه او زنانه تفاوت نه دی راغلی.

## د علم حاصلول د الله تعالی په نظر کي:

او د علم حاصلول الله تعالی ته ډېر زيات محبوب عمل دی. تاسو ګورئ!د الله تعالی له طرفه چي دې امت ته اولنی کم پيغام راځي، نو هغه پيغام د "اقرء" په عنوان دی، يعني: وينا کول، قرأت کول، دا ټوله عبارت د علم حاصلولو څخه دی، نو ګويا! اولنی پيغام دې امت ته د علم او قرأت کولو ور کول سوی دی.

حالانکه دا هم ممکنه وه: چي الله تعالی دي، اولنی پيغام د لفظ د "توحيد" دې امت ته پيش کړی وای، ځکه چي توحيد هغه څه دي: چي د هغه بغير د انسان ايمان ممکن نه وي، الله تعالی هره ګناه معاف کوي، لېکن د توحيد مقابل چي د شرک ګناه ده، هغه هيڅ کله نه معافوي، نو توحيد هم د دې امت اهمه عقيده ده، لېکن الله تعالی اولنی پيغام د هغه په شکل پېش نه کړی.

دا هم ممکنه وه: چي اول پيغام دي، د لفظ "رسالت" متعلق وای، چي تاسو پر پېغمبر ﷺ ايمان راوړی، او دا ډېره اهمه ده، ځکه پېغمبر ﷺ فرمايلي دي: چي په تاسو کي يو سړی ايـمان والا تر هغه وخته جوړېدای نسي: چي تر څو پوري زه و ده ته د ده پلار او اولاد او د ټولي دنيا تر انسانانو او تر خپل ځان زيات ورته محبوب نه سم.

يا خو اول پېغام دې امت ته د "قيامت" متعلق پېش سوی وای، ځکه چي د قيامت د تصور څخه بغير نور هيڅ نيک عمل کېدای نه سي، او نه انسان د قيامت د تصور څخه بغير د ګناهونو څخه ځان محفوظه کولای سي، نو د هر انسان په دماغ کي د قيامت فکر او تصور ضروري دی.

لېکن نه اول پيغام د توحيد راغلی.

او نه اول پيغام د رسالت راغلی.

او نه اول پيغام د قيامت متعلق راغلی.

که راغلی: نو هغه د اقرأ په عنوان سره راغلی، چي د هغه تعلق د علم او وینا سره دی، د دې څخه دا معلومه سوه: چي علم کول الله تعالی ته ډېر محبوب عمل دی. لکه: پیغمبر ﷺ فرمایلي دي:

..........﴿مَنْ يُرِدْ اللّٰهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ﴾.(۱) چي کم چاته الله تعالی د خیر اراده وکړي، نو هغه ته د دین علم ور نصیب کړي.

او هم دغه رنګه پیغمبر ﷺ دا هم فرمایلي دي:

..........﴿طَلَبُ العِلْمِ أَفْضَلُ عِنْدَ الله مِنْ الصَّلاةِ والصِّيامِ والحَجِّ والْجِهادِ فِي سَبِيلِ الله عَزَّ وَجَلَّ﴾.(۲) د علم طلب د الله تعالی په حضور کي دا تر نفلي لمانځه او روژې، او حج، او جهاد کولو ډېر فضیلت لري.

## د علم فضیلت، د اکابرو اقوال:

د علم د تحصیل د رغبت په خاطر د امت اکابرینو او علماؤ په ډېر ښائسته الفاظو د هغه فضیلت بیان کړی دی.

- ..........حضرت عیسی علیه السلام فرمایلي دي:

..........﴿مَنْ تَعَلَّمَ وَعَلَّمَ وَعَمِلَ فَذَاكَ يُدْعَى عَظِيمًا فِي مَلَكُوتِ السَّمَاءِ﴾.(۳) چي کم څوک زده کړه وکړي، او علم حاصل کړي، او عمل ور باندي وکړي، هغه په آسماني مجلسو کي په ډېر عظیم انسان باندي یادیږي.

- ..........حضرت ابو درداء رضی الله عنه فرمایي:

..........﴿مَثَلُ العُلَمَاءِ فِي النَّاسِ كَمَثَلِ النُّجُوْمِ فِي السَّمَاءِ يَهْتَدِيْ بِهَا﴾. په انسانانو کي د علماؤ مثال داسي دی: لکه په آسمان کي ستوري، یعني: لکه د ستورو په لېدلو سره خلګ ځان ته رهبري او هدایت حاصلوي، لکه په قرآن کي هم راغلي دي:

(۱) صحیح البخاري: حدیث نمبر ۷۱
(۲) کنز العمال: حدیث نمبر ۲۸۶۵۵
(۳) التبصره لابن الجوزی: المجلس الاول في فضائل العلم و العمل: صفحه نمبر: ۱۷۴

..........وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ﴾.(۱) داغه رنګه په علماؤو سره هم انساني معاشرې ته رهنمائي حاصليږي.
د آسمان زينت په ستورو سره وي، د مځکې زينت په دغه پرهيزګاره علماؤو سره وي، او دا د مځکې ستوري بلل کيږي.

- ..........حضرت امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه فرمايي:

..........النَّاسُ إِلَى العِلْمِ أَحْوَجُ مِنهُمْ إِلَى الطَّعامِ والشَّرَابِ، لِأَنَّ الرَّجُلَ يَحْتَاجُ إِلَى الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ فِي اليَوْمِ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ، وَحَاجَتُهُ إِلَى العِلْمِ بِعَدَدِ أَنْفَاسِهِ﴾.(۲) انسانان تر خوركې او څيښلو زيات و علم ته محتاجه دي، ځكه چې خوركه ته د انسان ضرورت په ورځ كي يو ځل يا دوه ځله پيښيږي، او علم ته د انسان ضرورت دومره زيات وي، لكه: دى چي څومره ساه اخلي.

- ..........حضرت علي رضي الله عنه خپل شاګر ته فرمايي:

..........يَا كُمَيْلُ، اَلعِلْمُ خَيْرٌ مِنَ الْمَالِ، اَلعِلْمُ يَحْرُسُكَ وَأَنْتَ تَحْرُسُ الْمَالَ، وَالعِلْمُ حَاكِمٌ وَالْمَالُ مَحْكُومٌ عَلَيْهِ، وَالْمَال تَنْقُصُهُ النَّفَقَةُ وَالعِلْمُ يَزْكُوْ بِالْإِنْفَاقِ،﴾.
اې كميله! د علم حاصلول تر مال ډېر زيات خير دي،(دليل ئې دا دى:) چي علم ستا حفاظت كوي، او ته به د مال حفاظت كوې، علم همېشه حاكم وي، او مال د هغه محكوم وي، مال چيكله خرڅوې، نو هغه كميږي، او علم په خرڅېدلو سره زياتيږي.
او بل ځای دی مبارک دا هم فرمايي:

..........اَلعَالِمُ أَفْضَلُ مِنَ الصَّائِمِ القَائِمِ الْمُجَاهِدِ، وَإِذَا مَاتَ العَالِمُ ثُلِمَ فِي الْإِسْلَامِ ثُلْمَةٌ لَا يَسُدُّهَا إِلَّا خُلُفُ مِنْهُ،﴾.(۳) چي كم چا ته الله تعالى د

---

(۱) سورة النحل: آيت نمبر ۱۶
(۲) الابحار في جمع الاسفار، صفحه نمبر ۷
(۳) احياء علوم الدين: صفحه نمبر ۷

علم صفت ور کړی، او هغه عالم سو، نو د الله تعالی په دربار کي تر روژه نیونکي او تر تهجد کونکي او هم تر جهاد کونکي افضل دی.
او چیکله یو عالم وفات سي، نو په اسلام کي یو درز راسي، او هغه درز تر هغه وخته پوري نه بندیږي، چي تر څو پوري د هغه عالم جانشین راغلی نه وي، او چیکله راسي، نو بیا به هغه درز بندیږي.

## د علم اعزاز:

ما مخکي هم دا خبره په څو ځله ښکاره کړېده: چي کم چا ته الله تعالی علم ورکړي، هغوی په معاشره کي عزتمند بلل کیږي، که څه هم د عمر په لحاظ باندي کم وي.
په بخاري شریف کي د حضرت عبدالله بن عمر ﵄ څخه یو روایت رانقل سوی دی:
........﴿إِنَّ مِنَ الشَّجَرِ شَجَرَةً لَا يَسْقُطُ وَرَقُهَا وَإِنَّهَا مَثَلُ الْمُسْلِمِ فَحَدِّثُونِي مَا هِيَ﴾.
یو ځل پیغمبر ﷺ د علمي امتحان اخیستلو په خاطر د صحابه کرامو څخه پوښتنه وکړه: چي دا راته ووایاست: یو درخته ده: د هغې پاڼي هیڅکله نه تویږي، د هغه درختي ډېري خبري د انسان سره نه بلکه د مسلمان سره مشابه دي، تاسو راته ووایاست! هغه به کمه درخته وي؟
........﴿فَوَقَعَ النَّاسُ فِي شَجَرِ الْبَوَادِي﴾. نو د خلکو فکر د ځنګله درختو ته ورغلی، نو چا به یوه درخته یادوله، او چا به بله درخته یادوله.
........﴿قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ وَوَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ فَاسْتَحْيَيْتُ﴾.
حضرت عبدالله بن عمر ﵄ فرمایي: چي زما په زړه کي خو دا راغله: چي هغه به دخورما درخته وي، لېکن چونکه مشران صحابه کرام ولاړ دي، نو د هغوی په مخ کي دحیا او ادب په خاطر ما هیڅ نسو ویلای.
........﴿ثُمَّ قَالُوا حَدِّثْنَا مَا هِيَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ هِيَ النَّخْلَةُ﴾.
آخر صحابه کرامو د پیغمبر ﷺ وغوښتل، اې د الله تعالی رسوله! ته راته وواېه: چي هغه نو کمه درخته ده؟ پیغمبر ﷺ ورته وفرمایل: چي هغه د خورما درخته ده.
حضرت عبدالله بن عمر ﵄ وایي: ما خپل پلار حضرت عمر ﵁ ته وویل: چي زما په زړه کي خو دا راغلو، چي هغه د خورما درخته ده، او زه به دا خبره پیغمبر ﷺ ته

ښکاره کړم، لېکن چونکه ډېر مشران صحابه موجود وو، نو د هغوی څخه د حیا کولو په خاطر زه خاموشه پاته سوم.

حضرت عمر رضی الله عنه چیکله دا واورېدل، نو ورته وايي: بچیه! که تا په هغه وخت کي پېغمبر صلی الله علیه وسلم ته دغه صحیح جواب پېش کړی وای، زه به دومره خوشحاله سوی وای، که یو چا و ماته ډېر لوی مال او دولت راکړی وای، نو به هم دومره نه وای خوشحاله سوی.

ګورئ! دا دعلم قدر دی، کچیري هغه بچي د پېغمبر صلی الله علیه وسلم دسوال صحیح جواب پېش کړی وای، نو پلار په مال او دولت دومره نه خوشحاله کېدی، لکه د یو علمي مسئلې په حل کولو چي څومره خوشحاله کېدی.

د هغه وجه دا وه: چي د دنیا خوشحالي، د دنیا دولت او عزت دا فاني او ژر ختم کېدونکی دی، د دې په مقابل کي د علم عزت او دولت او خوشحالي دا همېشه وي. بیا خاص هغه علم چي د الله تعالی د معرفت سره ئې تعلق وي، د دین او آخرت سره ئې تعلق وي، هغه خو بیا دومره احترام لري، چي کم ځای د دغه علم مذاکره کیږي، نو هغه ځای ته حضرت جبرائیل علیه السلام او ملائکي سمدستي ځان رارسوي.

لکه په تنبیه الغافلین کي یو روایت د محمد ابن سیرین رحمة الله علیه څخه رانقل دی: چي دی وايي:

......دَخَلْتُ مَسْجِدَ الْبَصْرَةِ فِيْهَا حَلْقَةٌ يُذَاكِرُوْنَ الفِقْهَ فَقُلْتُ لَوْ اَتَيْتُ حَلْقَةَ الفِقْهِ اَسْمَعُ كَلِمَةً لَمْ اَسْمَعْهَا فَاَعْمَلُ بِهَا اِلَى اٰخِرِهِ...﴾.

زه یوه ورځ د بصرې جامع مسجد لره راغلم، که ګورم: یو څه خلګ ناست دي، د دین د مسائلو مذاکره سره کوي، ما په دې خپل زړه کي وویل: چي زه هم یو ساعت ور سره کښېنم، شاید د دېن یوه خبره رامعلومه سي، چي مخکي نه وه رامعلومه، او پر هغه باندي عمل کول رانصیب سي.

لېکن دیو عذر په وجه نه کښېنستلم، چي کله شپه راغله، نو خوب وینم، چي یو سړی راته راغلی، او راته وئې ویل: اې محمد ابن سیرینه! که ته چیري په هغه حلقه کي چي د دین د مسائلو تذکره کېدله، کښېنستلی وای، نو ستا لپاره به ډېر زیات دخیر عمل

واى، ځکه چي حضرت جبرائيل عليه السلام هم په هغه حلقه کي ناست وو، نو د هغه صحبت به دي په نصيب سوى واى.
نو چي په کم ځاى کي د علم مذاکره وي، نو هغې ته ډېر نوراني مخلوق راځي، چي د هغه په صحبت سره انسان ډېر زيات فضيلت او نورانيت حاصلولاى سي.

## د طالب العلم فضيلت:

حضرت حسن بصري رحمة الله عليه د پېغمبر صلى الله عليه وسلم يو حديث مبارک د هغه چا په فضيلت کي رانقل کوي: چي هغه د علم تلاش کوي. چي:
............مَنْ خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ فِيْ طَلَبِ العِلْمِ حَفَتْهُ الْمَلَائِكَةُ بِاجْنِحَتِهَا وَ صَلَّتْ عَلَيْهِ الطُّيُورُ فِيْ جَوِّ السَّمَاءِ وَ السِّبَاعُ فِي البَرِّ وَ الْحِيْتَانُ فِي الْبَحْرِ، وَ اٰتَاهُ اللهُ الْاَجْرَ ثِنْتَيْنِ وَ سَبْعِيْنَ شَهِيْدًا﴾.
چي کم څوک د علم په تلاش کي د کو رڅخه راووزي، د هغه پر سر ملائکي په خپلو وزرو سره سايه کوي.
په يو روايت کي بيا راځي: چي د هغه تر قدمو لاندي ملائکي وزر غوړوي، او په هوا کي مرغان ده ته د خير دعاګاني کوي، او په ځنګلو کي وحشي حيوانان او په اوبو کي ماهيان وده ته دعا کوټکي وي، بيا د الله تعالى له طرفه و ده ته د دو اويا(۷۲) شهيدانو اجر او ثواب ورکول کيږي.
د هر جاندار او بې جان د دعا سبب دا دى: چي تر څو پوري د ځمکي پر مخ د دين علم پاته وي، نو تر هغه وخته پوري د الله تعالى ياد باقي وي، او چي تر څو د الله تعالى ياد باقي وي، نو به ټوله دنيا باقي وي، او هر جاندار او بې جانه به په دنيا کي وجود ولري، نو د دين د علم د طالب په ذريعه سره الله تعالى د ټوله مخلوقاتو زندګي باقي لري، نو ځکه د طالب العلم د زندګۍ لپاره دغه مخلوقات ټوله دعاګويه وي.

## د انسان کرامت:

الله تعالى په قرآن کريم کي د انسان متعلق فرمايلي دي:
............وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدمَ﴾.(۱)

موږ په ټولو مخلوقاتو کي انسان ته کرامت او شرافت ور کړی دی، چي دی د ټوله مخلوقاتو څخه اشرف مخلوق دی.

امام غزالي رحمة الله عليه فرمايلي دي:

..........إِنَّ الْخَاصِيَةَ الَّتِى يَتَمَيَّزُ بِهَا النَّاسُ عَنْ سَائِرِ الْبَهَائِمِ وَهُوَ الْعِلْمُ﴾. د کم خاصيت په خاطر چي الله تعالى انسان ته شرافت او کرامت ور کړی دی، هغه خاصيت علم دی.

..........لَا لِاَجْلِ الْقُوَّةِ﴾. د انسان د شرافت وجه قوة او زوربازو ندی.

..........فَاِنَّ الْجَمَلَ قَوِیٌّ مِنْهُ﴾. ځکه کچيري شرافت په قوت او طاقت سره ولای، نو بيا خو بايد اوښ په ټولو مخلوقاتو کي اشرف وای، ځکه هغه د انسان څخه د زيات قوت والا دی.

..........وَ لَا بِعَظْمَتِهِ﴾. او نه په لوی والي سره انسان ته شرافت ور کول سوی دی، چي دی زيات جسيم او غټ بدن والا دی.

..........فَاِنَّ الْفِيْلَ اَعْظَمُ مِنْهُ﴾. ځکه که په لوی والی سره شرافت وای، نو بيا خو فيل په جسم کي د انسان څخه ډېر غټ دی، بايد هغه اشرف المخلوقات وای.

..........وَلَا بِشُجَاعَتِهٖ﴾. او نه د انسان شرافت د شجاعت او دلاورۍ په وجه دی.

..........فَاِنَّ الْاَسَدَ اَشْجَعُ مِنْهُ﴾. ځکه چي زمری هغه د انسان څخه په شجاعت کي زيات دی، نو بايد زيات شرافت او کرامت د هغه په نصيب وای.

..........وَ لَا بِاَكْلِهٖ﴾. نه د انسان شرافت په خورک سره دی.

..........لِاَنَّ الثَّوْرَ اَوْسَعُ بَطْنًا مِنْهُ﴾. ځکه چي غويی د انسان څخه په خورک کولو کي ډېر زيات دی، چي هغه زيات خورک کوي، نو بايد شرافت د هغه وای.

..........وَلَا بِجِمَاعٍ﴾. نه په جماع کولو سره انسان ته شرافت او کرامت حاصل دی.

..........فَاِنَّ اَخَسَّ الْعَصَافِيْرِ قَوِيَّةٌ عَلَى السِّفَادِ مِنْهُ﴾. ځکه: چي کثرت جماع کي هغه کوچني جسم والا مرغی هم د انسان څخه زيات قوت لري.

نو په حقيقت کي انسان د يو صفت په وجه پر نورو مخلوقاتو شرافت او کرامت لري، هغه هغه صفت دی: چي د انسان پيدائش د هغه لپاره سِوی دی، او هغه صفت د علم دی.(۱)

لکه پيغمبر ﷺ يو حديث قدوسي رانقل کوي، چي الله تعالی فرمايي:

......... ﴿كُنتُ كَنزًا مَخفِيًّا فَخَلَقتُ الخَلقَ لِاَعرِفَنِيْ﴾ .(۲)

زه يو پټه خزانه وم، نو انسان مي د دې لپاره پيدا کړی: چي په دې کائناتو کي زما معرفت وکړي، نو د انسان د پيدائش اصل مقصد او سبب معرفت او علم دی، او د انسان د شرافت سبب هم داغه معرفت او علم دی.

## د بادشاهانو په حضور کي دعمل اعزاز:

د علماؤو عزت او مرتبه د الله تعالی په کلام کي او د پيغمبر ﷺ په احاديثو کي خو ډېره زياته ده، لېکن د دنيا خلفاؤو او بادشاهانو به هم د اهل علم د مرتبې ډېر لحاظ کاوی.

امير المؤمنين حضرت عمر فاروق رضي الله عنه چي هغه ته الله تعالی ډېر زيات زهد او تقوٰی ور کړيوه، ده به اکثره وخت د مسائلو پوښتنه د حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه څخه کوله، کڅه هم هغه په عمر کي ډېر کم وو، چونکه هغه ته پيغمبر ﷺ دا دعا کړيوه:

............ ﴿اَللّٰهُمَّ عَلِّمْهُ الكِتَابَ وَ الْحِكْمَةَ﴾. يا الله ته عبدالله بن عباس رضي الله عنه ته د کتاب او حکمت علم ور کړه، د هغه دعا په وجه د ده علمي معلومات ډېر زيات وو، چي د ده لقب: رئيس المفسرين وګرځېدی.

## ځلور سوالونه:

يو ځل يو نصراني بادشاه يو څو سوالونه حضرت عمر رضي الله عنه ته ليکلي راواستول، او دا غوښتنه ئې ځني وکړه: چي ته به ما ته ددغه سوالونو جوابونه د آسماني کتابو د معلوماتو مطابق را کوې.

---

(۱) احياء العلوم: بحواله مواعظ ابراهيمي، احسن المواعظ: صفحه نمبر ۲۵۶

(۲) مرقاة المفاتيح شرح مشکاة المصابيح: باب الايمان بالقدر: صفحه نمبر ۴۴۲

۱. اول سوال: د یوې مور د نس څخه دوه (۲) بچیان په یوه ورځ، په یوه وخت کي، پیدا سول، بیا په یوه ورځ دواړه وفات سول، د یوه عمر د هغه بل څخه سل(۱۰۰) کاله زیات وو، او د هغه بل عمر سل(۱۰۰) کاله کم وو، یعني: یو پر هغه بل سل کاله مشر وو. حالانکه پیدائش او وفات د دواړو په یوه ورځ سوېدی، دا څوک وو؟ او دا څنګه کېدای سي؟

۲. دوهم سوال: هغه کمه ځمکه ده: چي د پیدائش څخه تر قیامته پوري پر دې باندي یو ځل لمر لګېدلی دی، نه د دې څخه مخکي لګېدلی وو، او نه بیا تر قیامته پوري ور باندي لګېدلای سي؟

۳. دریم سوال: هغه کم قبر دی: چي د هغه مړی ژوندی او قبر هم ژوندی، او قبر دغه خپل مدفون اخیستی پر لره ګرځیي، او بیا هغه مړی ژوندی د قبر څخه راوزي، او بیا وفات کېږي؟

۴. څلورم سوال: هغه کم قیدي دی: چي هغه ته په قیدخانه کي د ساه اخیستلو اجازت نسته، او هغه د ساه اخیستلو بغیر ژوند کوي؟

حضرت عمر رضي الله عنه حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه را طلب کړی، او دغه سوالونه ئې د هغه و مخته کېښېښوول، او د قرآن کریم د معلوماتو مطابق ئې د هغه څخه جوابونه وغوښتل، حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه بغیر د څه سوچ او فکره هغه جوابونه په دا شکل لیکلي ورکړل:

## څلور جوابونه:

۱. اول جواب: هغه دوه (۲) ورونه: چي پیدائش او وفات ئې په یوه ورځ وو، او بیا یو تر بل په عمر کي سل(۱۰۰) کاله مشر وو، حضرت عزیز او عزیر علیهما السلام وو، په یوه ورځ د مور څخه پیدا سول، او وفات ئې هم په یوه ورځ وو، لېکن په مابین کي حضرت عزیر علیه السلام ته الله تعالی په خپل قدرت کامل سره سل کاله مرګ ور کړی. او بیا ئې بیرته راژوندی کړی، لکه په قرآن کریم کي د دې ذکرسته:

............فأماتهُ اللّٰهُ مائةَ عامٍ ثُمَّ بعثهُ﴾. )
الله تعالی ده ته سل کاله مړ کړی، ا بیا ژوندی سو، خپل کور ته راغلی، د یو څو ورځې ژوند کولو څخه وروسته دی او د ده ورور په یوه ورځ وفات سول، نو ځکه حضرت عزیر علیہ السلام سل(۱۰۰) کاله په عمر کي دَ حضرت عزیز علیہ السلام څخه کشر وو.

۲. دوهم جواب: هغه مځکه چي پر هغه باندي یو ځل لمر رابنکاره سویدی، هغه مځکه د ''قلزوم'' دریاب خاوره وه، چي په کم ځای کي فرعون غرق سو. او حضرت موسیٰ علیہ السلام د خپل قوم سره ور باندي تېر سو.

د حضرت موسیٰ علیہ السلام معجزه وه: چي د ده په لکړه وهلو سره دریاب الله تعالی وچ کړی، او د هغه دریاب مځکه الله تعالی په لمر سره ډېر ژر وچه کړله، چي حضرت موسیٰ علیہ السلام ته په تېرېدلو کي تکلیف نه وي، چي کله دی تېر سو، نو فرعون الله تعالی د دریاب پر هغه مځکه غرق کړی، پر دغه مځکه په ټوله عمر کي صرف دغه یو ځل لمر ولګېدی، نه مخکي لګېدلی وو، او نه تر قیامته پوري بیا ور باندي لګیږي.

۳. دریم جواب: هغه قبر چي د هغه مړی هم ژوندی، او قبر هم ژوندی وي، د حضرت یونس علیہ السلام ماهی وو، چي د هغه نس د ده لپاره قبر وو، نو دی په هغه قبر کي ژوندی او هغه ماهی چي د ده قبر وو، هغه هم ژوندی، او هغه ماهي دی اخیستی وو، او پر لره ګرځوی ئې. بیا دی د ماهي د نس څخه را ووتی، یو څه زمانه ژوندی وو، بیا وفات سو.

۴. څلورم جواب: هغه قیدي چي په قیدخانه کي بغیر د ساه اخیستلو ژوند کوي، هغه بچی دی، چي د مور نس د ده لپاره یو قیدخانه ده، الله تعالی د ده د ساه اخیستلو ذکر نه کړی دی، او نه دی ساه اخلي، لیکن بیا هم ژوندی وي.

حضرت عمر ﷛ هغه جوابات ليکلي نصراني بادشاه ته ور واستول، هغه چي کله وکتل، نو دا گمان ئې سو: چي شايد په مسلمانانو کي تر اوسه پوري نبي ژوندی دی، ځکه د دې سوالو جواب د نبي بغير بل څوک کولای نه سي.(۱)

لېکن حضرت عبدالله بن عباس ﷛ د علم په سبب د هغه جواب وکړی، ځکه چي په دې امت کي علماؤ د انبياؤ د علم وارثان دي، لکه پېغمبر ﷺ فرمايي:

..........الْعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الأَنْبِيَاءِ ، إِنَّ الأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِينَارًا ، وَلاَ دِرْهَمًا ، وَلَكِنَّهُمْ وَرَّثُوا الْعِلْمَ﴾. د دې امت علماء دانبياؤو وارثان دي، او د انبياؤو څخه په ميراث کي مال او دولت نه دی پاته سوی، بلکه د هغوی ميراث علم دی، چي علماؤو ته ور پاته سوی دی.

..........فَمَنْ أَخَذَ بِالْعِلْمِ فَقَدْ أَخَذَ بِحَظِّهِ﴾. چي کم چا ته علم ور نصيب سو، نو هغه ته د خپل نبي د ميراث لويه حصه په لاس ورغله.

..........مَوْتُ الْعَالِمِ مُصِيبَةٌ لاَ تُجْبَرُ ، وَثُلْمَةٌ لاَ تُسَدُّ ﴾. کچيري د دې امت يو عالم له مرگ راسي، دا د دې امت لپاره دومره لوی مصيبت دی: چي جبيره ئې هيڅکله نه سي کېدلای، او دا داسي درز دی: چي بيا هيڅکله نه گنډل کيږي.

..........وَهُوَ نَجْمٌ طُمِسَ ﴾. او عالم په انساني معاشره کي يو ځلېدونکی ستوری بلل کيږي، لکه د ستوري څخه چي انساني معاشره هدايت او لاربښوونه اخلي، نو عالم هم د انساني معاشرې لپاره د هدايت لويه ذريعه بلل کيږي.

..........مَوْتُ قَبِيلَةٍ أَيْسَرُ مِنْ مَوْتِ عَالِمٍ.﴾.(۲)

کچيري: په انساني معاشره کي پر يو پوره قبيله باندي مرگ راسي، د هغه برداشت کول او د هغه نقصان زغمل اسانه دي، لېکن کچيري پر يو عالم باندي مرگ راسي، نو د هغه زغمل او د هغه نقصان برداشت کول ډېر درانه وي.

---

(۱) مواعظ ابراهيمي: احسن المواعظ: صفحه نمبر ۲۶۲

(۲) اتحاف الخيره المهره: حديث نمبر ۲۹۳

## د ذهن کمال:

کله خو په معاشره کي الله تعالی یو چاته کامل ذهن او دماغ ور کړي، او هغه دغه خپل ذهن او دماغ او استعداد پر علم باندي خرڅ کړي، نو بیا خو الله تعالی په معاشره کي هغه ته ډېره لوړه درجه ور نصیب کړي.
خلیفه مامون عباسي د خپلي لور ام فضل رح نکاح د محمد بن جواد رحمة الله علیه سره کول غوښتل.
چونکه دی د وخت خلیفه او بادشاه وو، او هغه غریب او مسکین سړی وو، نو د ده د کورنۍ ډېر خلګ مزاحم جوړ سول، او هغوی پر دغه نکاح کولو باندي اعتراضونه وکړل، او خلیفه ته ئې وویل: چي زموږ دخاندان یو زنانه داسي غریب ته ور کول مناسب نه دي، چي د هغه هیڅ خصوصیت موږ ته نه را معلومېږي.
خلیفه مامون په جواب کي هغه انسانانو ته وویل: چي ما پخپله زندګي کي دغه شان علم چي د محمد بن جواد رحمة الله علیه سره دی، نه لیدلی وو، او نه مي اورېدلي وو، نو دغه د ده امتیازي خصوصیت دی، په دې وجه د خپلي لور نکاح د ده سره مناسب بولم.
آخر هغه انسانانو ته د قناعت ور کولو لپاره ده یحیٰ بن اکثم رحمة الله علیه چي د خپل وخت ډېر لوی او مشر عالم او فقیه وو، هغه ئې را طلب کړی، چي د ټولو انسانانو په مخ کي به د محمد ابن جواد رحمة الله علیه څخه یو څو پوښتني کوي، چي په هغه سره د هغه د علم اندازه د بادشاه د کور انسانانو ته ور ښکاره سي.
چیکله محمد بن جواد رحمة الله علیه د یحیٰ بن اکثم رحمة الله علیه سره مخا مخ سو، نو هغه یو څو علمي پوښتني ځني وکړې، چي محمد بن جواد رحمة الله علیه په ډېر علمي انداز د هغه جوابونه پېش کړل، او په هغه سره د بادشاه د کورنۍ اطمینان وسو.
د مجلس د ختمېدلو په دوران کي خلیفه مامون محمد بن جواد رحمة الله علیه ته وویل: چي ده خو ستا څخه ډېر سوالونه وکړل، او تا بهترین جوابونه ورکړل، زه مناسب دا بولم: چي ته هم یوه پوښتنه او سوال د ده څخه وکړې.
محمد بن جواد رحمة الله علیه په اول ځل کي چونکه د هغه د مشرتوب په خاطر عذر وغوښتی، چي دی تر ما مشر عالم دی، لېکن مامون مجبوره کړی، او دا قانون ئې:

چي: ""الْاَمْرُ فَوْقَ الْاَدَبِ"" نو بادشاه د امر په وجه ده ته وویل: زه صرف یوه پوښتنه ځني کوم، د هغه جواب دي راکړي، نو ئي هغه خپله پوښتنه په دې شکل ځني وکړه:

........مَا تَقُوْلُ فِيْ رَجُلٍ نَظَرَ اِلىٰ امْرَءَةٍ فِي اَوَّلِ النَّهَارِ شَهْوَةً فَكَانَ النَّظَرُ اِلَيْهَا حَرَامًا عَلَيْهِ فَلَمَّا اِرْتَفَعَ النَّهَارُ حَلَّتْ لَهُ﴾. ته څه وایه! په هغه سړي کي: چي یو زناني ته په شهوت سره نظر کول، د ورځي په اول کي ورته حرام وو، لېکن چي لمر راپورته سو، حلال وګرځېدل.

........فَلَمَّا زَالَتِ الشَّمْسُ حُرِمَتْ عَلَيْهِ فَلَمَّا كَانَ وَقْتُ الْعَصْرِ حَلَّتْ لَهُ﴾. بیا چیکله لمر تر سر واوښتی، نو هغه نظر بیرته حرام سو، او چي ماځیګر وخت راورسېدی، بیرته حلال سو.

........فَلَمَّا غَرَبَتِ الشَّمْسُ حُرِمَتْ عَلَيْهِ، فَلَمَّا دَخَلَ الْعِشَاءُ حَلَّتْ لَهُ﴾. چیکله لمر ولوېدی، بیا حرام سو، او دماخستن په وخت کي بیرته حلال سو:

........فَلَمَّا اِنْتَصَفَ اللَّيْلُ حُرِمَتْ عَلَيْهِ فَلَمَّا طَلَعَ الْفَجْرُ حَلَّتْ لَهُ فَبِمَاذَا حَلَّتْ لَهُ وَ بِمَاذَا حُرِمَتْ عَلَيْهِ﴾.

چیکله شپه نیمائي ته رسېده، بیا هغه نظر حرام سو، او د سهار په وخت کي بیرته حلال سو، دغه حرمت په څه باندي وو، او دغه حلالوالی بیرته ځنګه راغلی.

یحی بن اکثم رحمة الله علیه د خپل ډېر علم باوجود د هغه د جواب څخه عاجز پاته سو، نو ئې محمد بن جواد رحمة الله علیه ته وویل: کچیري د دغه مسئلې لږ موږ ته وضاحت وکړې، نو زموږ سره به دي زیات احسان وي.

محمد بن جواد رحمة الله علیه د هغه مسئلې په حل کي ورته وفرمایل:

دغه زنانه په حقیقت کي د یو چا مینځه وه، نو دغه اجنبي سړي لپاره هغې ته په بد نظر کتل حرام وو، مګر چي لمر راپورته سو، نو ده هغه مینځه رانیوله، نو اوس نظر ورته کول، حلال سو.

د ماپښېن په وخت کي ده هغه مینځه آزاده کړه، نو دی اوس د هغه مینځي څخه غیر محرم سو، نو ځکه کتل بیا ورته حرام سو، د ماځیګر په وخت کي ده د هغه زناني سره نکاح وکړه، نو ځکه نظر ورته کول بیرته حلال سو.

دماښام په وخت کي ده د هغه خپلي منکوحې زناني سره ظهار وکړی. يعني: چي ته پر ما باندي دخپل مور غوندي حرامه ئې. نو د ظهار په وجه کتل حرام سو. مګر د ماخستن په وخت کي ده د ظهار په کفاره کي غلام آزاد کړی. نو د ظهار حکم ساقط سو، نو ځکه کتل ورته حلال سو.

چيکله شپه راغله، نو ده هغه زناني ته طلاق ور کړی، نو بيا حرام سو. د سهار په وخت کي ئې بيرته رجوع ورته وکړه. نو بيا ورته کتل حلال سو.

خلګو چيکله دده هغه علمي کمال وليدی، نو ټول ورته حيران سو. مامون خليفه د دغه سوال په انعام کي په عام دربار کي دخپلي لور دنکاح تړلو اراده د ده سره وکړه، او ټوله خاندان په خوشحالي سره اجازت ورکړی، نو ځکه په هغه مجلس کي عقد دنکاح وسو، او ام فضل زنانه دمحمد بن جواد رحمة الله عليه کورته ورسېده.(۱)

## د علماؤو صحبت:

نو د دې امت دعلماؤو مثال دانبياؤو دی، د دوی په صحبت کي کښېنستل، او د دوی مجلس لره راتلل، او ددوی خبري اورېدل، او د دوی سره محبت کول، دا په دنيا کي د انسان لپاره د ډېري لوی نيکبختئ ذريعه بلل کيږي، ځکه دا په دنيا کي د هدايت څراغان دي.

نو چي کم څوک په دنيا کي د علماؤو سره نزدې زندګي تېروي، د قيامت په ميدان کي د شفاعت په اعتبار دعالم مقام چونکه دنبي وي، نو هلته به د ده د عالم شفاعت په نصيب کيږي، او په جنت کي به هم دعلماؤو و رهبري ته د امت د انسانانو ضرورت وي.

لکه په کنز العمال جلد نمبر څلورم کي حضرت جابر رضي الله عنه د پيغمبر صلى الله عليه وسلم يو حديث رانقل کوي: چي دی مبارک فرمايي:

لکه څنګه چي په دنيا کي خلګ و اهل علم ته په رهنمائي کي محتاجه دي، داغه رنګه په جنت کي هم دهغه رهنمائي ته محتاجه کيږي.

---

(۱) مواعظ ابراهيمي، احسن المواعظ: صفحه نمبر ۲۶۲

ځکه د جنتيانو ځخه هره ورځ الله تعالى پوښتنه کوي، چي تاسو څه غواړی، هغه وغواړئ، نو جنتيان به علماؤو ته راځي، او د هغه ځخه به پوښتني کوي، چي نور اوس موږ د الله تعالى ځخه د څه غوښتنه وکړو.

علماء به ورته وايي: چي اوس د الله تعالى ديدار وغواړئ، او د الله تعالى رضا وغواړئ، او نور د نعمتونو متعلق به هلته دوی ته معلومات ور کوي، نو د علماؤو شرف او مرتبه به هلته هم نه کميږي، د دوی تر احساناتو به په جنت کي هم انسانان لاندي وي.

الله تعالى دي موږ او تاسو په حقيقي علماؤو کي شمار کړي، او که علماء نه يو، نو بيا دي الله تعالى په دنيا کي د حقاني علماؤو صحبت او محبت او قرب او نزدېکت رانصيب کړي، او هم دي موږ د قيامت په ميدان کي د دوی د شفاعت ځخه نه محرومه کوي، او الله تعالى دي زموږ د ټولو علماؤو حفاظت وکړي، او الله تعالى دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي وګرځوي.

آمِيْن يَا رَبَّ العَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالى عَلى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الايه)

# د غلطۍ اقرار کول

(بيان)

مولوی **اطیع الله** صاحب

استاذالحديث جامعه اسلاميه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانيه الهاشميه

کانسی روډ کوئټه

تقریر : الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ ابمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿ وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : ﴿عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَرَقَهُ وَفَاطِمَةَ فَقَالَ أَلَا تُصَلُّونَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّمَا أَنْفُسُنَا بِيَدِ اللَّهِ فَإِذَا شَاءَ أَنْ يَبْعَثَهَا بَعَثَهَا فَانْصَرَفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قُلْتُ لَهُ ذَلِكَ ثُمَّ سَمِعْتُهُ وَهُوَ مُدْبِرٌ يَضْرِبُ فَخِذَهُ وَيَقُولُ: وَكَانَ الْإِنْسَانُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو ! ستاسو په حضور کي زه د پيغمبر ﷺ د زندګۍ يو خبره پېشوم: چي حضرت علي رضي الله عنه رانقل کړېده.

چونکه د پيغمبر ﷺ په هر قول، عمل او فعل کي زموږ او ستاسو لپاره د حکمتونو او نصيحتونو خزانې پرتې دي، او زموږ او ستاسو لپاره د هدايت او رهنمائي لويه ذريعه بلل کيږي.

کومه خبره چي حضرت علي رضي الله عنه رانقل کړېده، په هغه کي هم زموږ او ستاسو لپاره لوی نصيحت او عبرت دی، هغه دا ده:

(١) سورة طه: آيت نمبر ١٣٢

(٢) الادب المفرد لمحمد البخاري؛ حديث نمبر ٩٥٥

چې حضرت علي رضي الله عنه فرمايي: چې يو ځل د شپې په آخره حصه کې پېغمبر ﷺ زموږ کورته راغلی، او دروازه ئې راوټکوله.

د حضرت علي رضي الله عنه د کور څخه مراد هغه کور وو: چې د پېغمبر ﷺ د حجرې مبارکې و شاته د "مسجد نبوي" سره متصل مکان وو، چې په هغه کې حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها د ده سره اوسېدله.

د دروازې ټکېدلو څخه وروسته حضرت علي رضي الله عنه وايي: چې اول ځل زما سترګې را روڼې سوې، زه چې کله دروازې ته ورغلم او دروازه مې خلاصه کړه، نو پېغمبر ﷺ ورته ولاړ دی، چې کله ئې زه ولېدم. نو دی مبارک راته وايي:

.........﴿أَلَا تُصَلُّونَ﴾.

ايا تاسو لمونځ نه کوئ؟ ماچې کله د پېغمبر ﷺ دا خبره واورېدله، نو مې په جواب کې ورته وويل:

.........﴿يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّمَا أَنْفُسُنَا بِيَدِ اللّٰهِ فَإِذَا شَاءَ أَنْ يَبْعَثَهَا بَعَثَهَا﴾.

اې د الله تعالی رسوله! زموږ روحان د الله تعالی په قبضه کې دي، چيکله الله تعالی وغواړي، نو موږ را بيدراه کوي، او چيکله د الله تعالی اراده نوي سوې، نو موږ نه سو بېداره کېدلای دغسي بېده پاته سو.

پېغمبر ﷺ چې کله زما خبره واورېدله، نو واپس روان سو، او په داسي شکل روان دی: چې خپل ځنګون مبارک په لاس باندي وهي، او د قرآن دا آيت وايي:

.........﴿وَكَانَ الْإِنْسَانُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا﴾.

يعني انسان ډېر جنجالي دی، او زيات بحث او مباحثه کونکی دی، حضرت علي رضي الله عنه چې کمه خبره وکړه، نو ده پر هغه باندي ناخوښي ښکاره کړه، چې انسان د خپلې غلطۍ د تأويل کولو لپاره لوی لوی دليلونه پېشوي.

## د پېغمبر ﷺ عادت:

د دغه حديث په ذريعه حضرت علي رضي الله عنه دا خبره ښکاره کوي: چې پېغمبر ﷺ ته يو خو دا زما جواب خوند ور نه کړی، او د دې سره د دې حديث څخه دا خبره هم ښکاره

کيږي، چې د پيغمبر ﷺ عادت دا نه وو: چې د هغه سره به صرف د ځان فکر وو، بلکه د هغه سره د خپل کور د ټولو انسانانو فکر ور سره وو.
د هغه عادت دا نه وو: چې هغه به صرف د خپلو لمنځونو کولو اهتمام کاوی، بلکه د خپل کور انسانان او خپل قريبان او چې څومره انسانان د ده تر تربيت لاندې وو، د هغوی ټولو ئې د لمانځه لپاره د راپورته کولو اهتمام کاوی.
ځکه د پيغمبر ﷺ مخته د الله تعالى دا فرمان پروت وو، چې الله تعالى په قرآن کريم کې ذکر کړی دی:
........يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ﴾.(۱)
اې ايمان والاوو! تاسو خپل ځانونه او خپله کورنۍ د اور څخه وساتئ، هغه داسې اور دی: چې د هغه بلېدل په انسانانو او په کاڼو باندې دی، او پر هغه باندې الله تعالى داسې تندخويه او سخت مزاجه ملائکې مقررې کړې دي: چې الله تعالى د کومې خبرې حکم ورته کوي، دوی د هغه هيڅکله نافرماني نه کوي، او د الله تعالى حکم پر ځای کوي.
دې آيت کې دا خبره الله تعالى ښکاره کړېده: چې د انسان لپاره دا خبره کفايت نه کوي: چې دی صرف خپل ځان د جهنم څخه وساتي، او پر هغه باندې اطمينان وکړي، چې بس ما خو خپل کار وکړی، بلکه د هغه لپاره خپل اهل او عيال هم د جهنم څخه ساتل ضروري دي.
نن زموږ په معاشره کې دا منظر په کثرت سره ښکاره کيږي، چې انسان خو د خپل ذات تر حده پورې ديندار وي، د لمنځونو اهتمام کوي، او په صف اول کې حاضر وي، روژې نيسي، زکوٰة ادا کوي، د الله تعالى په لار کې صدقې کوي، او چې څومره اوامر او نواهي دي، په هغوی ټولو د عمل کولو کوشش کوي.
لېکن چې د هغه کور ته وګوري، د هغه اولاد ته وګوري، او د هغه د کور ماحول ووينې، نو د ده او د هغه په مابين کې د مځکې اوآسمان فرق وي، د ده مخ د مشرق طرف ته وي، او د هغه دا د مغرب طرف ته وي، د هغه سره نه دلمانځه فکر وي، نه د

(۱) سورة التحريم: آيت نمبر ۶

دین د احکامو فکر وي، بلکه د سهار څخه تر ماښامه پورې د ګناهونو په سیلاب کې غرقه زندګي تېروي.
دی صاحب پر دې باندې مطمئن دی: چې زه خو لمونځ په جماعت کوم، او عبادت سر ته رسوم.
خو ګورئ! په دې خبره ښه سر خلاصول: چې تر څو پورې انسان د خپلې کورنۍ د جهنم څخه د ساتلو فکر نه وي کړی، پخپله د انسان د ذات حفاظت د جهنم څخه نه سي کېدلای، انسان په دې وینا باندې ځان نه سي خلاصولای: چې زه خو د خپل عمل مالک یم، اولاد که پر بل طرف ځي، نو زه څه وکړم؟
بلکه د هغوی د جهنم څخه ساتل او د ګناه څخه راګرځول، دا هم د انسان ذمه داري بلل کیږي، کچیري دی په هغه کې کوتاهي وکړي، نو د ده څخه به د قیامت په میدان کې د دې پوښتنه کیږي.
نو دا ښکاره مسئله ده: چې د اولاد ښه تربیت او پر عبادت راګرځول، او د ګناه څخه ساتل، دا د پلار او د کور د مشر د ذمه داریو یو حصه ده، کچیري د ده څخه کوتاهي وسي، نو بیا خو دی مأخوذه بلل کیږي.

## د حضرت عمر رضي الله عنه د دور واقعه:

په روایاتو کې راځي: د حضرت عمر رضي الله عنه حضور ته یو سړی راغلی، او د خپل زوی شکایت ئې پېش کړی: چې هغه زما نافرماني کوي.
حضرت عمر رضي الله عنه هغه سړي ته وویل: چې ته ورسه! هغه زوی تر ما پورې راوله، او عمر رضي الله عنه و هغه ته د زجر ور کولو لپاره دُره برابره کړه.
چې کله پلار هغه زوی ده ته راوستی، نو ده د پلار ډېر حقوق ورته بیان کړل، او هغه ته ئې وویل: چې د پلار پر تا باندې ډېر زیات حقوق دي، باید چې ته د هغه نافرماني په هیڅ وخت کې و نه کړې.
هغه زوی چې د ده خبره واورېدله، نو ورته وئې ویل: امیر المؤمنین! ایا د زوی هم پر پلار باندې څه حق سته؟ حضرت عمر رضي الله عنه ورته وویل: چې هو! د زوی هم پر پلار باندې درې(۳) حقه دي.

- اول حق دا دی: چې پلار به دغه بچي لره ښه مور پیدا کوي، یعني د یو معمولي ښځي سره به واده نه کوي، لپاره د دې: چې زوی د هغه مور د وجهي څخه سبا په معاشره کي شرمنده نه وي.
- دوهم حق دادی: چې پر هغه باندي به ښه نوم ایږدي، ځکه د ښه نامه د انسان پر ژوند باندي ښه اثر راځي.
- دریم حق دا دی: هغه ته به د قرآن کریم تعلیم ور کوي، چې هغه د خپل ژوند تېرولو په اسلامي طریقو باندي پوه سي.

زوی چې کله دا واورېدل، نو ورته وایي: اې امیر المؤمنین! د الله تعالی په ذات دي مي قسم وي: ده زما د مور انتخاب د ښه خاندان څخه ندی کړی، بلکه هغه یو مینځه ده، چې ده په څلور سوه (۴۰۰) دراهمه اخیستې ده.

او نه ده زما لپاره د ښه نامه انتخاب کړی دی، زما نوم ئې: "جُعل"(د نجاست چینجی) ایښی دی.

او هم دا رنګه ئې د الله تعالی د کتاب د یو آیت تعلیم ماته نه دی راښوولی، او نه ئې زه د دین په احکامو بلد کړی یم.

حضرت عمر ﷺ چې کله دا واورېدل، نو هغه پلار ته متوجه سو، او وئې فرمایل: چې ته خو وایي: چې زما زوی زما حق نه پر ځای کوي، او حقیقت دا دی: چې د هغه حق تلفي د تولو څخه زیاته تا پخپله کړېده، او هم دي د هغه حقوق ضائع کړي دي، نو کومه دُره چې ما دده لپاره برابره کړېوه، زیاته حق دادی: چې په هغه دُره سره زه ستا اصلاح وکړم.

نو اولاد ته ښه تربیت ور کول، او لمانځه او عباداتو ته متوجه کول، او هغه بېداره کول، او د خوب څخه ورته راکښېنول، دا د پلار ذمه داري ده، لکه الله تعالی د قرآن کریم په یو آیت کي په دې باندي تصریح کړېده:

..............وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ﴾.(1)

(1) سورة طه: آیت نمبر ۱۳۲

د خپل کور انسانانو ته د لمانځه حکم کوه، او پخپله هم د لمانځه پابندي کوه، نو د انسان ذمه داري صرف پخپله په لمانځه کولو سره سر ته نه رسیږي. بلکه چي کم څوک د ده په کور کي وي، مثلاً د ده زنانه د ده بچیان او اولاد د هغوی د لمانځه فکر کول، هم د ده په ذمه داري کي داخل دي.
کچیري د لمانځه وخت راسي، هغه په مجلس باندي اخته وي، یا په ټیلیفون باندي مصروفه وي، یا د لمانځه پر وخت باندي ببده وي، نو د هغوی د لمانځه لپاره راولاړول، او د خوب څخه را کښښول، چي هغه هم پر وخت باندي خپل لمونځ ادا کړي.

## پر دې عمل استقامت کول:

د بچیانو د عبادت طرف ته دمتوجه کولو والا عمل ټول عمر کول، بیا که هغه بچیان ستا خبره مني، او که ئې نه مني، یا ستا خبره پر هغوی باندي اثر کوي، او که ئې نه کوي، خو ته به دغه خپل کوشش ټول عمر جاري ساتې.
نن زموږ په معاشره کي اکثریت حالات داسي دي: چي سړی پخپله خو د لمانځه پابنده وي، د صف اول پابنده وي، او مسجد لره پر وخت باندي ځي، لېکن اولاد یا خو بالکل د لمانځه کولو فکر نه لري، یا د جماعت څخه همېشه محرومه پاته وي.
دی پخپله یو څو ورځي په ابتدا کي هغه بچیانو ته یو ځل او دوه ځله خبره وکړي، او کله خو لا تنبیه هم پر دې باندي ورکړي، لیکن چي هغه کله د ده خبره نه ومني، د ده دا فکر جوړ سي: چي اوس نو د څه لپاره بار بار دوی را پورته کوم، یا همېشه ورته خبري کوم، نو په دغه فکر انسان خپل همت د لاسه ورکړي، او د بچیانو اصلاح او د لمانځه او عبادت ته متوجه کول ځني پاته سي.
خو دغه همت بایلل ښه خبره نه ده، بلکه مناسب دادی: چي دوی به پر دغه عمل استقامت کوي، او هم به دا عمل د ژوند تر پایه پوري نه پرېږدي.
زموږ شریعت خو د لمانځه ډېر زیات تأکید کړی دی، لکه د پېغمبر ﷺ حدیث مبارک دی:

.............مُروا أوْلَادكُم بالصَّلَاةِ، وهم أبنَاء سبع سنِين، وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا وهم أبنَاء عشر، وفرّقوا بَينهم فِي الْمضَاجِع.(١)

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه روایت کوي: چي پیغمبر صلی الله علیه وسلم به فرمایل: خپل بچیانو ته د لمانځه حکم کوئ: چیکله هغه اوه(٧) کاله عمر ته ورسیږي، که څه هم شرعاً د ده پر ذمه باندي لمونځ فرض نه دی، لیکن د ده د عادت جوړولو لپاره د اوو(٧) کالو څخه د لمانځه کولو تأکید کول، ورته شروع کوئ.

او چیکله لس(١٠) کاله عمر ته ورسیږي، او بیا هم لمونځ نه کوي، نو تاسو ئې وهئ، او پر لس(١٠) کاله عمر باندي د دوی بسترې ور جلا کوئ، او په یوه بستره کي دوه بچیان مه بیده کوئ.

## د اوو(٧) کالو څخه مخکي تعلیم:

په دې حدیث کي اول حکم دا دی: چي د اوو(٧) کالو د عمر څخه دلمانځه کولو حکم ور ته کوه، د دې څخه دا معلومیږي: چي د اوه(٧) کاله څخه مخکي بچی په یو شي باندي مکلف کول مناسب نه دي.

حکیم الامت اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه فرمایلي دي: چي د حدیث څخه دا ښکاره معلومیږي: چي داوو(٧) کالو عمر څخه مخکي باید پر بچي باندي بوج وانه چول سي.

لکه بعضي خلک په بچیانو باندي د اوو(٧) کالو څخه مخکي روژې نیسي، حضرت تهانوي رحمة الله علیه به د دغه عمل سخت مخالف وو.

ده به فرمایل: چي د اوه(٧) کاله څخه مخکي چي کله الله تعالیٰ هغه په لمانځه باندي چي آسانه عمل دی، نه دی مکلف کړی، نو ته دی په روژه باندي چي ډېر ګران عمل دی، څنګه مکلف کوې.

داغه رنګه د اوه(٧) کاله څخه مخکي بچي ته د لمانځه کولو تأکید کول هم صحیح نه دي، بلکه زه خو دا وایم: چي د اوه کاله څخه مخکي بچی مسجد ته راوستل، مناسب

---

(١) جامع الاصول: حدیث نمبر ٣٢٤٣

عمل نه دی، يو خو ډېر ځله د مسجد دخرابولو خطره وي، او کله خو بچی دخپل شرارت او آواز کولو په خاطر د ټولو لمونځ کونکو انسانانو په لمنځو کي خلل راولي.
البته کله نا کله بچی پدې شرط باندي انسان مسجد لره راوستلای سي: چي د مسجد د خرابولو يا د لمونځ کونکو په لمنځو کي د خلل راوستلو خوف او خطره نه وي، صرف چي بچی د مسجد راتللو عادت ونيسي، نو بيا خو ئې په دغه شرط راوستلای سي.

## په کور کي تعليم ورکول:

بلکه زموږ بزرگانو به دا فرمايل: چي داوو (۷) کالو ځخه مخکي بايد په کور کي په ناز او په بازيو مور او پلار بچي ته تعليم ور کړي، کله په هغه باندي ﴿بِسۡمِ ٱللَّهِ﴾ ايزده کړې، او کله ور باندي کلمه ايزده کړې، او کله بچي ته ويل: چي په راسته لاس باندي ډوډۍ خوره او کله د سلام ويلو عادت ور جوړ کړی.
باقاعده مکتب او مدرسې ته استول، او دی په تعليمي نظام باندي پابنده کول، ښه عمل نه دی، ځکه چي د هغه په وجه د ده پر صحت باندي ډېر اثر راځي، او د ده چي کومه نشونما ده، هغه بيا په پوره طريقه سره سر ته نه رسيږي.
چيکله ئې عمراوه (۷) کاله ته ورسېدی، نو بيا کرار کرار پر ده باندي د تعليم بوج اچول، تر دې حده چي کله دی د لسو (۱۰) کالو سي نو بيا خو صرف دا نه چي تأديباً د ده د وهلو اجازت سته، بلکه زموږ شريعت بيا د وهلو حکم کړی دی، چي کچيري اوس نو دی لمونځ نه کوي، نو ته ئې وهه.

## د بچيانو دوهلو حد:

زموږ شريعت د هر ځه لپاره خپل حدود مقرر کړي دي، استاذ يا مور او پلار چي کله بچی وهي، نو د هغه حد هم شريعت مقرر کړی دی.
چي هغه به داسي وهل وي: چي د هغه په وجه به د بچي پر بدن باندي د وهلو نښان نه پيدا کيږي، او نه به دا وهل بچي ته زيات درد ور کونکی وي.
نن سبا چي کم زموږ په تعليمي ادارو کي بې تحاشا د وهلو ترتيب روان دی، چي په هغه کي د بچي پښې تړل کيږي، او بيا د يو مجرم په شکل هغه ته وهل ور کول کيږي،

او ډېر ځله د هغه څخه د بچي د بدن څخه وینه راوزي، او هم د هغه پر بدن باندي زخم جوړېږي، دا په یو شکل هم انسان جائز نه سي بللای، او نه جائز دي.
داعمل دومره لویه ګناه ده، چي حکیم الامت مولانا تهانوي رحمۃ اللہ علیہ فرمایلي دي: چي زه په دې نه پوهېږم: چي د دغه ګناه د معافۍ شکل به څنګه وي؟ ځکه چي د دغه ګناه معافي به د غه انسان د چا څخه غواړي.
کچیري د هغه معافي د هغه بچي څخه وغواړي، نو هغه خو نابالغه دی، او د معافۍ کولو اهل نه دی، هغه کچیری دی معاف هم کړي، نو په شریعت کي د هغه معافي هیڅ اعتبار نه لري، نو ځکه به ده دا فرمایل: چي د دغه معافۍ هیڅ لار زما په دماغ کي نه راځي، نو دا دومره خطرناکه ګناه ده.
نو د استاذ او مور او پلار لپاره مناسب دا دي: چي بچی به داسي نه وهي: چي د هغه پر بدن باندي زخم یا نښان جوړ سي.
خو البته د ضرورت په خاطر کچیري یو ځای د هغه بچي وهل ضروري سي، او انسان ورته مجبوره سي، صرف په هغه وخت کي بیا د وهلو اجازت ورته سته.

## د نفل لمانځه اهتمام کول ضروري نه دي:

نو پیغمبر ﷺ به لکه څنګه چي پخپله لمونځ په پابندي سره کاوی، داغه رنګه به ئې د خپل کور انسانان د لمانځه پر کولو باعثه کول، که به چیري هغه د خوب په حالت کي وو، نو به ئې د لمانځه لپاره راوېښول، لکه دا اوس چي ستاسو مخته د حضرت علي رضی اللہ عنہ روایت پېش سو.
خو البته دغه حکم د فرضي لمنځو په باره کي دی، چي کم نفلي لمنځونه دي، لکه: تهجد، اشراق، څاښت، یا د اوابینو لمونځ دی، د هغه په باره کي دا حکم دی: چي د دغه لمنځو لپاره باقاعده اهتمام کول، او یو څوک د خوب څخه ورته راپورته کول، دا حکم زموږ په شریعت کي نسته.
مثلاً دا حکم نسته: کچیري ته د تهجد د لمانځه لپاره راکښېنې، نو خپل همسایګان هم د هغه لپاره راپورته کوه، چي تاسو هم د تهجد لمونځ وکړئ، ځکه چي د تهجد لمونځ فرض او واجب نه دی.

لېکن چي کم خلګ ستا زیر تربیت دي، مثلاً یا د انسان شاګردان وي، یا اولاد وي، یا مریدان وي، د هغوی د تربیت لپاره که راکښېنول سي، نو مناسب ده، لکه په دې حدیث کي پېغمبرﷺ د حضرت علي او فاطمې رضي الله عنهما کورته ورغلی، او دوی ئې د تهجد د لمانځه لپاره راپورته کړل.

لېکن د پېغمبرﷺ څخه دا ثابته نه ده: چي نور صحابه کرام به ئې د تهجد د لمانځه لپاره راکښېنول، نو ځکه د عامو انسانانو په باره کي د را کښېنولو حکم نسته، لېکن د خپل اولاد او زیر تربیت انسانانو لپاره راکښېنول، او د هغوی عادت جوړول، مناسب عمل بلل سوېدی.

## د هغه جواب نا خوښي:

د راکښېنولو څخه وروسته حضرت علي رضي الله عنه پېغمبرﷺ ته دا جواب ورکړی، چي د هغه خلاصه داوه: اې د الله تعالی رسوله! موږ څه وکړو، زموږ خوب او زموږ ټوله زندګي د الله تعالی په قبضه کي ده، چي کله الله تعالی وغواړي، نو موږ به را کښېنو، او چیکله د الله تعالی اراده او خوښه نه وي، نو موږ به دغسي ویده پاته یو.

پېغمبرﷺ ته دا جواب خوند ور نه کړي، که څه هم خبره خو د هغه دا صحیح وه، ځکه چي ټوله کائنات د الله تعالی په قبضه او قدرت کي دي، لېکن د راکښېنستلو لپاره اسباب برابرول د انسان په اختیار کي دي.

مثلاً: هغه اسباب دا دي: چي کله انسان د شپې بیدیږي، نو د دې خبري دي اهتمام وکړي: چي پر صحیح وخت زه راکښېنم، یا دي یو چاته ووایي، چي پر دې وخت ما را کښېنوه، نن سبا خو ډېري زیاتي طریقې د دې لپاره سته.

ټیلیفون دی، په هغه کي دي ګړی او ساعت پر وخت ودروي، چي هغه ده ته زنګ(الارم) ووهي، نو راکښېنستل که د انسان اختیاري نه دي، لېکن د راکښېنستلو اسباب د انسان په اختیار کي دي، نو ځکه د پېغمبرﷺ دا جواب ناخوښه وګرځېدی.

## د خپلې غلطۍ تأویل کول:

او د جواب د ناخوښۍ بله وجه دا هم وه: چې کله یو مشر خپل کشر ته هدایت رکړي، یا د یو خبرې تعلیم ورکړي، چې دا کار کوه، یا پر یو غلطي باندې تنبیه ورکړي، چې دا ښه کار نه دی.

نو پر دغه موقع باندي د کشر لپاره مناسب دا وي: چې د مشر خبره په غور سره واوري، او په هغه سر خلاص کړي، چې زما غلطي څه ده؟ او هغه خپله غلطي قبوله کړي، لېکن د خپلې غلطۍ لپاره تأویل پېشول، او د هغه د دفاع لپاره دلیل پېشول، او دا عادت جوړول، د ادبو خلاف عمل بلل کیږي.

که چیري بالفرض یو عذر وي، نو فوراً پر هغه ځای عذر نه پېشول، بلکه د مشر خبره اورېدل، او د قبولیت په شکل غوږ ورته نیول، او د هغه څخه وروسته بیا یو ورځ هغه عذر پېشول، چې د فلان عذر په وجه ما دغه کار کړی وو.

اوس که مشر تاته د تنبیه لپاره یو خبره وکړي، چې دا کار دي غلط کړی دی، او ته سمدستي جواب ورکړې، چې یا مي دا کار نه دی کړی، او یا مي د دې وجهي څخه کړی دی، دا د ادب خلاف عمل دی.

## او د غلطۍ اقرار کول:

په دغه طرز عمل کي ډېر لوی حکمت دی، چېکله مشر خپل کشر پر یو غلطي باندي راوګرځوي، نو اول رد عمل باید د هغه کشر دا وي: چې په خپل ګرېبان کي وګوري، چي ایا واقعتاً زما څخه دغه غلطي سوېده، او دا سړی ماته صحیح خبره کوي، باید چي زه ئې واورم، دا نه: چي په اوله مرحله کي بیا انسان د خپلې دفاع کولو کوشش وکړي.

حضرت مفتي شفیع رحمۃ اللہ علیہ به همېشه دا خبره کوله: چي کله یو سړی دوهم سړي ته د یو غلطۍ متعلق تنبیه ورکړي، نو په اوله مرحله کي د هغه د دفاع کولو پر ځای د یو ګړي لپاره دا فکر کول: چي دا سړی ماته صحیح خبره کوي.

کیدای سي: زما په عمل کي یو غلطي وي، او زه په هغه نه پوهېږم، او الله تعالی زما د اصلاح لپاره د ده په زړه کي دا خبره ور اچولې وي.

نو په اوله مرحله کې د دفاع او په غلطۍ کې د تأویل کولو پر ځای ښه خبره دا وي: چې سړی د خپل عمل متعلق فکر او سوچ وکړي، او د خپل غلطۍ د اصلاح کوشش وکړي، او د هغه سړي احسان و مني، او هغه د ځان لپاره محسن وبولي.
که چیري بالفرض د فکر کولو باوجود د انسان په دماغ کې پخپل عمل کې یو غلطي نه ور معلومیږي، نو بیا هم زه دا وایم: چې فوراً تردید نه کول، فوراً د خپل ځان دفاع نه کول، بلکه پر دغه موقع اول د هغه سړي خبره اورېدل.
بیا چیکله خبره سره سي، نو بیا په هغه وخت کې هغه ته دا ویل: چې حضرت! د فلان عذر په وجه ما دغه کار وکړی، اوس معلومه نه ده: چې زما دغه عذر صحیح دی، او که غلط؟ ته راته ووایه: کچیري هغه عذر صحیح دی، نو زه به مطمئن سم، او که صحیح نه دی، نو بیا ماته زما په غلطي سر را خلاص کړه.

## زما څخه غلطي نه سي کیدلای:

نو دغه طرز عمل چې په کم ځای کې یو څوک انسان ته د اصلاح خبره وکړي، او یا ئې غلطۍ ته متوجه کړي، نو فوراً د هغه جواب ورکول، او فوراً د هغه په باره کې تأویل پېشول، او عذرونه لټول، د انسان لپاره دا ډېره هلاک کونکې ناجوړي او بیماري ده.
دا ځکه چې د دغه انسان په دماغ کې دا خبره ناسته ده: چې زما څخه غلطي نه سي کیدای، او چیکله د انسان په دماغ کې دغه خبره ځای ونیسي، نو بیا به د دغه انسان اصلاح څنګه وسي.
چې کم ناجوړه پخپله ناجوړي نه پوهیږي، بلکه دا ئې فکر وي: چې زه خو جوړ یم، نو دغه بیمار به خپل علاج څنګه وکړي؟ ډاکټر ته خو به هغه بیمار ورځي، چې د هغه سره د خپلي بیمارۍ احساس وي، او چې د کم چا سره د بیمارۍ احساس نه وي، نو هغه د خپل علاج فکر نه لري.
کچیري یو طبیب او ډاکټر د هغه تشخیص وکړي، او د تشخیص څخه وروسته ووایي: چې په تا کې دغه ناجوړي سته، او ته په جواب کې ورته ووایه: چې ته غلط وایي، په ما کې دغه ناجوړي نسته، نو د هغه به دا نتیجه راوزي: چې بیماري به ورځ په ورځ زیاتیږي، او تا به هلاکت ته رسوي.

## د خپل سوچ او فکر څخه بدګمانه کېدل:

حضرت سهل بن حنیف رضي الله عنه بدري صحابي دی، او په غزوه بدر کي الله تعالی شهادت ور کړی، ده یو ډېره مبارکه جمله فرمایلې ده: چي د انسان لپاره ډېره فائده منلاه ده، هغه دا:

............اِتَّهِمُوْا رَأْيَكُمْ﴾.

تاسو همېشه خپله رأیه متهمه بولئ، او د خپلي رأیي څخه همېشه بدګمانه اوسېږئ، یعني چي ستا په زړه کي د خپل ځان متعلق یو ګمان پیدا سو، چي زه خو داسي یم،او په ما کي فلانکی کمال او یا فلانکې خوبي ده، نو خپله دغه رأیه همېشه د تهمت څخه ډکه بولئ، یعني: په خپل زړه کي دا خبره راګرځوئ: چي شاید زما دغه رأیه به غلطه وي، کچیري یو بل سړی تا و خپله غلطي ته متوجه کړي، نو د هغه خبره په غور سره اورېدل او پخپل زړه کي هغه ته ځای ورکول.

نو خلاصه دا: چیکله یو څوک تا و خپله غلطي ته متوجه کړي، یا و تاته یو خبره وکړي، نو ستا به اول رد عمل دا وي: چي دغه سړی چي ماته کمه خبره کوي، نو زه به اول په خپل ګرېوان کي و ګورم: چي په ما کي دغه عیب سته، او کنه، نو د خپل ځان دفاع کول یا د خپل عمل لپاره تأویل پېشول، او خپل ځان د هغه څخه خلاصول، دا مناسب عمل نه وي.

دغه رد عمل به ستا هغه وخت وي: چیکله هغه خبري کونکی ستا دوست او خیرخواه وي، بلکه کچیري هغه خبري کونکی ستا خیرخواه نه وي، او هغه خبره ستا د دښمن د طرفه تاته راسي، یا د یو داسي چا د طرفه وي: چي هغه ستا سره بغض او عناد لري، لا هم باید ستا طرز عمل دا وي: چي د هغه خبره اورېدل، کېدای سي: چي هغه معاند او بغض کونکي زما متعلق داسي خبره کړې وي: چي هغه په ما کي وي، او ماته نه رامعلومېږي.

## د حضرت گنگوهي رحمة الله علیه عادت:

حضرت مولانا گنگوهي رحمة الله علیه چي زموږ د سلسلې يو عظيم انسان وو، او الله تعالی هغه ته د تصوفو په دنيا کي هم لوی بصيرت ور کړی وو، او هم علم په پوره پېمانه ور سره وو.

د ده يوه واقعه حضرت مولانا يحيٰ رحمة الله علیه چي د حضرت مولانا زکريا رحمة الله علیه پلار دی، بيان کړېده:

چي ده د حضرت گنگوهي رحمة الله علیه سره ډېر وخت تېر کړی وو، او د هغه د حالاتو څخه ډېر باخبر انسان وو.

هغه واقعه دا وه: چي د حضرت گنگوهي رحمة الله علیه يو مخالف عالم وو، چي تعلق ئې د برېلوي مسلک سره وو، نو هغه به همېشه زموږ پر علماؤ د کفر فتوی کوله، چنانچه هغه پر حضرت گنگوهي رحمة الله علیه باندي هم د کفر فتوی کړې وه.

او هغه به همېشه په دوی پسي دا پروپاگند کاوی: چي دا خلک د پېغمبر ﷺ په شان کي توهين کوي، او د الله تعالی په شان کي گستاخي او بې ادبي کوي.

حضرت گنگوهي رحمة الله علیه چي د دين د صحيح تشريح لپاره کم کتابونه ليکلي وه، هغه برېلوي عالم به همېشه د هغه په ترديد کي کتابونه ليکل، او په هره هفته کي به ئې يوه رساله چاپوله، چي په هغه کي به ئې حضرت گنگوهي رحمة الله علیه ته پوچ او رد ويلي او ليکلي وه.

په آخر عمر کي چي کله د حضرت گنگوهي رحمة الله علیه د سترگو بينائي کمه سوه، نو ده به پخپله کتاب نسو ويلای، نو چي به کله ډاکي خطونه راوړل، نو يا به يو رساله راغله، نو ده به بيا په خپلو ملگرو هغه ويل، او ده به اورېدل.

خو د دغه کار لپاره حضرت مولانا يحی رحمة الله علیه مقرر وو، چيکله به د هغه برېلوي عالم له طرفه هغه رساله راغله، نو مولانايحی رحمة الله علیه به هغه حضرت گنگوهي رحمة الله علیه ته ويله، او هغه به اورېدله.

څه زمانه بعد حضرت مولانا يحی رحمة الله علیه د ځان سره دا فکر وکړی: چي دا خو يو فضوله رساله ده، او د بدو خبرو څخه بغير په دي کي نور هيڅ نسته، د دې حضرت ته د ويلو څه فائده؟ چنانچه يو څه زمانه ده هغه رساله حضرت گنگوهي رحمة الله علیه ته نه ويله.

چیکله یو څو ورځي تیري سوې، نو یوه ورځ حضرت مولانا ګنګوهي رحمۃ اللہ علیہ حضرت مولانا یحی رحمۃ اللہ علیہ ته وفرمایل: چي هغه زموږ دوست اوس موږ هیر کړي یو، چي هغه رساله نه رااستوي، ډېري ورځي وسوې، چي هغه رساله بیا نه ده راغلې، او نه ما اورېدلي دي.
حضرت مولانا یحی رحمۃ اللہ علیہ په جواب کي ورته وویل: چي هغه خو زموږ یادول پرې ایښي نه دي، هغه رساله اوس هم راځي، لېکن زما فکر دا وو: چي هغه رساله د فضول خبرو او ښکنځلو څخه ډکه وي، د هغې په اورولو سره خواه مخواه ستا وخت ولي خرابوم، نو ځکه زه ئې اوس نه درته وایم.
حضرت ګنګوهي رحمۃ اللہ علیہ ورته وویل: چي داسي مه کوه، چي کمه رساله او خط راسي، هغه ماته ضرور وایه، زه یقیناً درته وایم: چي زه ئې په دغه نیت سره اورم: چي شاید هغه به واقعتاً زما یو غلطي ماته ښوولي وي، او زه به په هغه خپله غلطي نه پوهېږم، د ده د ښوونې څخه وروسته به د هغه اصلاح وکړم.
که ته راته وایي: چي په هغه کي خو ښکنځل لیکلي وي، نو زه دا وایم: چي هغه د لیري ښکنځل دئ، ماته هیڅکله نه رارسیږي.
تاسو د دې اندازه ولګوئ! چي د یو مخالفي ډلي انسان چي مسلکاً او عقیدتاً د سړي سره برابر نه وي، او هغه انسان ته همېشه ښکنځل کوي، او د هغه د یوې یوې لیکي څخه د عناد او ضد بوی را ولاړېږي.
لېکن د هغه خبره چیکله اوري، نو د هغه رد عمل دا نه وي: چي زه به جواب ورکړم، یا به د ده په ښکنځلو باندي پرېشانه سم، بلکه رد عمل دا وي: چي کیدای سي: الله تعالی به پر ده باندي زما یو غلطي کشف کړېوي، چي زما په دماغ کي هغه غلطي نه راځي، او الله تعالی به دی زما د اصلاح ذریعه جوړه کړېوي، نو په دې غرض سره زه هغه رساله اورم.
دغه ده صحیح طریقه، او یو بهترین طرز عمل، کچیري یو دښمن هم تا ستا پر غلطي باندي راوګرځوي، نو اولنی طرز عمل دا اختیاروه: چي شاید واقعتاً به هم زما څخه غلطي سوې وي، نو د ده په ذریعه به د خپل ځان اصلاح کوم، نو کچیري یو خیرخواه

انسان پر يو غلطي باندي انسان ته تنبيه ور کړي، نو بيا خو په طريقه اولی دا عمل اختيارول.

## د حضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه طريقه:

صحابه کرامو رضي الله عنهم به همېشه د خپلي غلطۍ کېدلو څخه په وهم او بېره کي وو، چي هسي نه زموږ څخه يو غلطي وي، او موږ په هغه باندي نه پوهيږو.
چنانچه په حديث شريف کي راځي:

يو ځل پيغمبر صلى الله عليه وسلم پخپل غاښ سره خپله شونډه مبارکه نيولې وه، نو فوراً د حضرت ابوذرغفاري رضي الله عنه دماغ دې طرف ته ولاړی، چي هسي نه زما څخه يو غلطي سوې نه وي، حالانکه پيغمبر صلى الله عليه وسلم په ژبه هيڅ ويلي نه وو، صرف په خپل غاښ سره ئې شونډه نيولې وه.
نو ده سمدستي د پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه: چي اې د الله تعالی رسوله! زما څخه خو به يو غلطي سوې نه وي، چي ستا داسي د تعجب کيفيت دی؟

## د ابو ذر غفاري رضي الله عنه واقعه:

دغه حضرت ابوذرغفاري رضي الله عنه خپله يوه واقعه بيانوي: چي يو ځل "مسجد حرام" ته راغلم، دې وخت کي پيغمبر صلى الله عليه وسلم د کعبې مبارکې سره ناست دی، چي زه ئې کله راتلونکی وليدلم، نو ئې سمدستي دا جمله وفرمايله:
............هُمُ الْأَخسَرُونَ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ﴾.
د کعبې په رب دې مي قسم وي: هغه خلګ په لوی نقصان کي دي، دغه جمله ده مبارک دوه ځله راوګرځوله، زما په زړه کي فوراً دا خيال پيدا سو، چي شايد زما په باره کي د قرآن کريم يو آيت رانازل سوی دی، چي په هغه کي پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته ويل سوي دي: چي زه خراب انسان يم.

د دغه جملې په اورېدو سره زما بدن د بېري څخه بلګ واخستی، چي نه ده معلومه: زما سره به څه کيږي، او زما په باره کي قرآن کريم کمه فيصله کړېده.
چنانچه د بيري په حالت کي د پېغمبر ﷺ خدمت ته راغلم، او پوښتنه مي ځني وکړه، اې د الله تعالی رسوله! ته د چا په باره کي دا وايې: چي دوی ډېر په خساره او نقصان کي دي؟

تاسو ګورئ! د حضرت ابوذرغفاري ﷺ اولنی رد عمل دا وو: چي کله ئې د پېغمبر ﷺ څخه د خسارې او نقصان خبره واورېدله، دا ئې ګمان سو: چي هغه به زه يم، نو ځکه په بېره او خوف کي د پېغمبر ﷺ خدمت ته حاضر سو، او پوښتنه ئې ځني وکړه.
په دې وخت کي پر پېغمبر ﷺ باندي د وحي نازلېدلو کيفيت وو، او په وحي کي د الله تعالی دطرفه ده ته ويل کېدل: چي دغه خلګ په خساره او نقصان کي دي: چي الله تعالی ډېر مال ور کړی وي، او د مال حقوق ئې پر ده باندي اينبي وي، او دی ئې نه ادا کوي، او بيا ئې وفرمايل:
......إلاّ مَنْ قَالَ بِالْمَالِ هَكَذَا وَهَكَذَا﴾.
يعني سوا د هغه مالدارانو څخه چي خپل مالونه په دا رنګه او دا رنګه ور کوي، يعني: پخپلو مالو سره او صدقو سره د خلګو مدد او کومک کوي، د دوی څخه علاوه نور ټول مالداران په خساره او نقصان کي دي.

بهر حال اول رد عمل چي د حضرت ابوذرغفاري ﷺ په زړه کي پيدا سو، هغه دا وو: چي شايد دغه جمله به زما په باره کي ادا سوې وي.
حالانکه پېغمبر ﷺ دا نه وو ورته ويلي: چي ته په خساره او نقصان کي ئې، د هغه باوجود د ده په زړه کي دا خيال راغلی، چي شايد د پېغمبر ﷺ مراد به زه يم.[1]

[1] لسنن الكبرى للبيهقي: حديث نمبر ۷۵۳۴

## د حضرت عمر رضي الله عنه فکر:

حضرت عمر رضي الله عنه غوندي انسان چي د هغه په باره کي به پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایل: کچیري زما څخه وروسته نبي وای، هغه به عمر وای.
دی مبارک فرمایي: چي یو ځل د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره په سفر کي وم، ده ماته حال راواستاوی، چي مالره راسه، حضرت عمر رضي الله عنه وایي: په ټوله لار کي چي د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پوري ورتلم، زما په دماغ کي دا خیالونه او فکرونه راګرځېدل: چي هسي نه: زما څخه یو غلطي سوې وي، او زه په هغه نه یم پوه سوی، چي د هغه په وجه الله تعالی په قرآن کریم کي دا نازل کړي وي: چي عمر صحیح انسان نه دی، او ټوله لار مي په دماغ کي دا خیالونه او فکرونه راتلل.

## د منافقینو په لست کي خو به زما نوم نه وي!

بهر حال دغه حضراتو به همېشه د خپل ځان جائزه اخیستله، او هر وخت به ئې د خپلو غلطیو و طرف ته نظر وو، او همېشه به ئې دا فکر وو: چي د خپلو غلطیو اصلاح به څنګه وکړي.
حضرت عمر رضي الله عنه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه په خپلو غوږو دا خبره اورېدلې وه: چي عمر به په جنت کي وي، د هغه باوجود ډېرځله به دی حضرت حذیفه بن یمان رضي الله عنه ته ور تلی، او هغه ته به ئې عجز کاوی، چي اې حذیفه! د الله تعالی په خاطر دا راته ووایه: چي د منافقینو کم لست پیغمبر صلی الله علیه وسلم تاته در ښوولی دی، په هغه کي خو به زما نوم نه وي.

نو چي د کم چا په دماغ کي دا خبره وي: چي نه معلوم: زما څخه به یو وخت غلطي سوې وي، چي د هغه په وجه زه د الله تعالی د دربار څخه محروم وګرځم، دغسي سړی چیکله یو بل څوک پر غلطي باندي راوګرځوي، نو هغه به بیا څنګه د خپلي غلطۍ تأویل کوي، بلکه د هغه به اول عمل دا وي: چي شاید دا سړی به صحیح وایي، نو دی د خپلي غلطۍ لیري کولو فکر په مخه اخلي.

## د خپلي غلطۍ فورا تاویل نه کول:

نو زه دا وایم: د خپلي غلطۍ فوراً او ځای پر ځای تأویل نه کول، چي څنګه یو چا د یو غلطۍ ښوونه درته وکړه، ته فوراً د هغه تأویلات شروع کړې، دا صحیح طرز عمل نه دی.
بلکه پخپله ګریبان کي کتل، او په ساړه دماغ سره پخپلو اعمالو کي فکر کول، او د هغه څخه وروسته کچیري تاته در معلومه سوه: چي دغه سړي ته یو غلط فهمي سوېده، او زما غلطي نسته، نو هم دستي او فوراً تردید نه کول، نه فوراً خپله دفاع شروع کول.

بلکه د هغه سړي خبره اورېدل، چي کله معامله سره سي، نو په هغه وخت کي که دي زړه غوښتل، نو بیا هغه سړي ته ویل: چي حضرت! د فلانکي عذر په وجه مادا کار کړی وو، اوس ماته نه معلومیږي: چي زما دغه عذر غلط وو، که صحیح وو، دا ته راته ووایه.

نو دا طرز عمل اختیارول، او د خپلي غلطۍ تردید فوراً نه کول، بلکه خبره د خپل ځان د اصلاح په خاطر اورېدل، او د خپل ځان اصلاح ته متوجه کېدل، دا زموږ د دیني تعلیماتو یو حصه ده.

الله تعالی دي موږ ته پر ټولو دیني تعلیماتو په کامله طریقه د عمل کولو توفیق نصیب کړي.
او الله تعالی دي زموږ اجتماعي او انفرادي زندګي زموږ تجارت او زموږ معاشرت او زموږ قرابت ټوله د پیغمبر ﷺ پر تعلیماتو برابر کړي.

او الله تعالی دې دغه څو خبرې په خپل دربار کې قبولې او مقبولې وګرځوي.

آمِيْن يَا رَبَّ العَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالى عَلى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الايه)

# مجاهده كول ضروري دي

(بيان)

مولوی اطیع اللّٰہ صاحب

استاذالحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبہ سلطانیہ الھاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ھ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إنّ الحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ﴿الْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ لِلّٰهِ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو! ستاسو په حضور کي ما د قرآن کريم يو آيت مبارک پېش کړی، او هم مي د پېغمبر ﷺ يو روايت پېش کړی، چي په هغه دواړو کي د انسان څخه د يو خصلت او خوی غوښتنه سوېده، د هغه خصلت او خوی نوم: مجاهده ده، چي انسان پخپل مزاج کي د مجاهدې عادت او استعداد پيدا کړي.

د مجاهدې اجمالي معنی دا ده: چي د خپل نفس د خواهشاتو مقابله کول، او د الله تعالی پر احکامو باندي خپل ژوند روانول، دا خو د مجاهدې اجمالي معنی او خلاصه ده.

خو زه ستاسو په حضور کي نن د دې يو څه تفصيل عرض کوم، چي زموږ او ستاسو په دماغ کي د اخبره ښه کښېني، چي مجاهده ولي ضروري ده؟ او مجاهده څنګه کيږي؟ او د هغې حقيقت څه دی؟

(۱) سورة العنکبوت: آيت نمبر ۶۹

(۲) اتحاف الخيره المهره: حديث نمبر ۷۳۲۲

## د دنيا په كارو كي مجاهده كول:

د دين هيڅ يو كار د مجاهدې بغير نكيږي، بلكه انسان كه په خبره كي فكر وكړي، د دنيا يو كار هم د مجاهدې څخه بغير نسي كيدلاى.
كه يو سړى د خپل ځان او بچيانو رزق پيدا كوي، نو د هغه لپاره هم محنت او مشقت كول، او د خپل نفس خواهشات او تقاضې تر پښو لاندي كول ضروري وي، ځكه چي د نفس تقاضا خو داوي: چي زه په آرام سره په كور كي ژوند تېر كړم، نه محنت او نه مشقت او نه بله ستړيا ووينم، لېكن بېرته انسان دا سوچ وكړي: كه زه د غسي ژوند تېر كړم، نو بيا به زما د بچيانو نفقه د كمي خوا څخه ماته راځي.

## د ماشوموالي څخه د مجاهدې عادت جوړول:

هسي د انسان عادت د مجاهدې كولو د ماشوموالي څخه جوړيږي، كوچنى ماشوم چيكله په ابتدا كي د سبقه لپاره مور او پلار مكتب يا مدرسې ته استوي، نو د ده د طبيعت زيات خلاف وي، او پر ده باندي دېر بوج وي، او د سبق وه ويلو ته ئې زړه نه ور غواړي.
لېكن مور او پلار چار او لاچار د ده د طبيعت خلاف دى سبقه تللو ته مجبوره كوي، د دې څخه د ده په دماغ كي د مجاهدې استعداد پيدا كيږي.
نو د تعليم حاصلول او د رزق پيدا كول، بلكه د دنيا ټوله مقاصد لاس ته راوړل، انسان د خپل طبيعت او د نفس و مخالفت ته مجبوره كوي.
كچيري انسان د ځان سره دا فكر وكړي: چي زه به پخپل ژوند كي د طبيعت او نفس مخالفت نه كوم، بلكه ټوله ژوند به د نفس پر خواهشاتو تېروم، زما عقيده داده: چي دغه سړى نه د دنيا يو مقصد لاس ته راوړلاى سي، او نه د دين يو مقصد حاصلولاى سي.

## درې (۳) عالمه:

الله تعالى په دې كائناتو كي درې (۳) عالمه پيدا كړي دي، يو عالم هغه دى: چي په هغه كي به د انسان د نفس هر خواهش پوره وي، او هلته به د نفس د خواهشاتو مخالفت كولو ته انسان نه مجبوره كيږي.

چي زړه ئې څه غواړي، هغه به ده ته موجود وي، او د ده نفس به د خپلو خواهشاتو پوره کولو لپاره آزاد وي، او هغه ته به ټول مواقع هم میسر وي، هغه عالم "جنت" دی.
چي د هغه په باره کي قرآن کریم فرمایلي دي:
.........وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ﴾.(۱)
یعني: چي ستاسو زړه څه غواړي، هغه به وي، او چي ستاسو نفس د کم شي طلب کوي، هغه به تاسو ته در کول کیږي.
په بعضو روایاتو کي لا دا هم راغلي دي: چي مثلاً یو سړی به ناست وي، خو د داغه ناستي په دوران کي به د ده په زړه کي د انارو د جوس چیښلو خواهش پیدا سي.
او حالانکه نه به هلته انار وي، او نه به د انارو درختي وي، او نه به د هغه څخه د جوس برابرولو څه ترتیب وي، لېکن چي څنګه د ده په زړه کي دا خواهش راوګرځي، عیناً په دغه وخت کي به الله تعالی پخپل قدرت سره د انارو جوړ جوس ده ته د جنت د فرشتو په لاس پېش کړي.
نو هلته چي د انسان د زړه غوښتنه څه وي، هغه به پوره کیږي، نه هلته د نفس د یو خواهش د مخالفت کولو ضرورت سته، او نه د انسان د یو غوښتني د نه پوره کېدلو ترتیب سته، او نه انسان ته د مجاهدې کولو ضرورت سته، هغه عالم جنت بلل کیږي، چي څو مره کلمه ویونکي انسانان دي، الله تعالی دي ئې ټولو ته ور نصیب کړي.

## عالم جهنم:

دوهم عالم د دې بالکل برعکس دی. هلته به بیا هر کار د طبیعت خلاف وي، او هر کار به انسان ته پرېشاني ور کوي، او په هر عمل کي به انسان په یو تکلیف او مصیبت کي واقع کیږي، نه به هلته څه آرام وي، او نه به هلته څه راحت وي، او نه به هلته څه خوشحالي وي.
ځکه چي په کم ځای کي د انسان استوګنه وي، د هغه چت به د جهنم سکروټه وي، او د هغې فرش به هم د جهنم د اور څخه او دیوالونه به ئې هم ټول د جهنم د اور څخه جوړ وي.

چي کله انسان تږی سي، نو هغه ته به "حميم" يعني ګرمي اوبه ور کول کيږي، چي دی ئې مخ ته نژدې کړي، د ډېر ګرموالي په وجه به ئې د مخ پوست په هغه کي راتوی سي، او چيکله ئې دی تر ستوني تيري کړي، نو د نس ټول اعضاء به تر بدن لاندي شوه سي، او هغه ګرمي اوبه به غساق وي، يعني د جهنميانو د بدنوويني او زوي.
او خورک به ئې د زقوم درخته وي، چي قرآن کريم د هغه په باره کي فرمايي:
........لَا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِنْ جُوعٍ﴾.(۱)
چي نه به د انسان بدن ته څه ودّه ور کوي، او نه به د انسان د لوږي ضرورت په هغه باندي پوره کيږي، هغه عالم جهنم دی، الله تعالی دي ټوله کلمه ويونکي انسانان د هغه څخه په خپل رحم سره محفوظه وساتي.

## د دنيا عالم:

دريم عالم هغه دی: چي په هغه کي د انسان د طبيعت او دنفس مطابق هم کارونه کيږي، او د انسان د طبيعت او نفس مخالف هم کارونه وي.
کله انسان د خوشحالۍ په حالت کي وي، او کله بيا پر انسان باندي د غم کيفيت وي، کله انسان ته تکليف ورسيږي، او کله بيا انسان د راحت سره يو ځای سي.
په دغه عالم کي هيڅ يو تکليف خالص نه دی، او نه يو راحت خالص سته، د هر راحت سره د تکليف يو اغزی لګېدلی وي، او د هر تکليف سره د راحت يو کونج ور سره وي، چي هغه عالم دنيا بلل کيږي.
په دنيا کي که تاسو د لوی دولت والا انسانانو څخه او يا د هغه چا څخه چي د هغه سره منصب او حکومت ور سره وي، او د ځای لپاره ئې د راحت ډېر وسائل برابر کړي وي، پوښتنه وکړی: چي ايا تاته په دنيا کي يو تکليف رسېدلی دی، او کنه، ايا ستا عمر په آرام او اطمينان سره دی، که يو کله هم پرېشاني درباندي راځي؟
زه خو دا وايم: چي هيڅ يو فرد به انسان داسي پيدا نه کړي: چي هغه دا ووايي: چي ماته هيڅ تکليف نه دی رسېدلی، او نه په دنيا کي يو کار زما د طبيعت خلاف سوی دی، ځکه دا عالم دنيا ده، جنت نه دی، دلته راحت او تکليف دواړه سره تړلي دي.

(۱) سورة الغاشيه: آيت نمبر ۷

که یو سړی په دنیا کې دا فکر ولري: چې زه به مال او دولت پیدا کړم، او یا به منصب او حکومت پیدا کړم، او د ځان لپاره به د راحت اسباب او وسائل برابر کړم، نو زه به زندګي په راحت کې تېره کړم، او هم به هیڅ مشکل نه وینم، نو زه دا وایم: چې دا سړی په حقیقت کې د دنیا د حقیقت څخه ناخبر دی، ځکه د دنیا حقیقت الله تعالی داسې جوړ کړی نه دی: چې په هغه کې انسان پرېشاني او مشکل نهویني.

## د عبرت ډکه واقعه:

په یو کتاب کې لیکلي دي: د یو سړي د حضرت خضر علیه السلام سره ملاقات وسو، حضرت خضر علیه السلام چونکه الله تعالی مستجاب الدعوات ګرځولی دی، یعني: الله تعالی د هغه هره دعا قبلوي.

نو هغه سړي حضرت خضر علیه السلام ته وویل: چې ته ما ته یو دعا وکړه: چې الله تعالی په ما باندې پخپله زندګي کې مشکلات او پرېشانی نه راولي، او زه ژوند په راحت او خوشحالي کې تېر کړم.

حضرت خضر علیه السلام په جواب کې ورته وویل: چې داسې دعا خو نه سم کولای، ځکه چې دنیا الله تعالی داسې جوړه کړې نه ده: چې په هغه کې دې پرېشاني او مشکل نه راځي، او نه په دې دنیا کې الله تعالی داسې انسان پیدا کړی دی: چې هغه دې پرېشاني او مشکل نه ویني.

البته: داسې کولای سم: چې ته په دغه ښار کې وګوره: چې کم سړی دې خوشحاله او په راحت باندې ولیدی، نو ما ته ووایه، زه به د الله تعالی څخه دعا درلره وغواړم، چې الله تعالی د هغه سړي په شان د راحت زندګي در کړي.

هغه سړی ډېر خوشحاله سو، او په ښار کې وګرځېدی، کله ئې پر یو چا د ډېر خوشحاله ګمان راسې، او کله ئې پر بل چا باندې دا فکر سي: چې دا به ډېر خوشحاله وي، خو په آخر کې پر یو زرګر باندې پېښ سو، چې هغه د ښار په بهترینه علاقه کې یو ډېر لوی د زرو دوکان لري، او دی پر د خل ورته ناست دی۔

او یو څو ښائسته ځوانان ئې زامن دي، چې هغه د دوکان خدمت کوي، او د باندې د هغه وخت بهترینه سوارلي ورته ولاړه ده، اوّ د ښار په بهترینه محله کې ئې یو

عالیشانه کور دی، نو دا ئې ګمان سو: چې د دغه سړي زندګي به ډېره په راحت او خوشحالي کي وي. نو د خضر عليه السلام څخه به د دعا په ذریعه د دغه سړي غوندي زندګي د الله تعالی څخه وغواړم.

چیکله لږ ولاړی، نو بیرته فکر ور پیدا سو: چې هسي نه دغه سړی باطناً په یو مشکل او ناجوړي اخته نه وي. چې د ده په شان د زندګۍ غوښتلو په وجه په یو مشکل کي مبتلا نه سم.

آخر هغه زرګر ته راغلی. او خپل مقصد ئې ورته ښکاره کړی، چې زه د خضر عليه السلام په دعا سره د الله تعالی څخه ستا غوندي زندګي غواړم، او ستا څخه یو پوښتنه کوم: چې تاته خو به یو مشکل نه وي، هسي نه چې زه هم په هغه مشکل کي اخته نه سم.

هغه سړي په جواب کي ورته وویل: چې د خدای په خاطر زما غوندي زندګي چې ونه غواړې، ځکه زما عقیده دا ده: چې په ټوله ښار کي زما غوندي په مشکل اخته به یو انسان هم نه وي، چې د هغه مشکلاتو په وجه مي ډېر ځله د الله تعالی څخه مرګ غوښتی دی، خو مرګ پخپله وعده دی، الله تعالی هغه مرګ هم نه راکوي.

آخر ئې د دوکان پسخانې ته بوتلی، او ورته وایي: چې زه به د خپل ژوند یوه خبره درته وکړم، چې هغه زما د زناني بد اخلاقي ده، هغه دا: چې دغه کم بچیان چې ګرځي، دا یو هم زما څخه ندی پیدا سوی، بلکه زما زنانه زناکاره ده، او دا ټول د زنا اولاده ده، چې د دې په لېدلو زما په خدای قسم زما زړه سوځي، او نه زه دوی ته کتلای سم، او نه ئې لیدلای سم.

هغه سړي چې دا واورېدله، نو دستي حضرت خضر عليه السلام ته راغلی، او ټوله واقعه ئې ورته بیان کړه، نو هغه ورته وویل: چې ما مخکي هم درته ویلي ؤو: چې په دنیا کي الله تعالی داسي سړی ندی پیدا کړی، چې هغه په زندګي کي غم او مشکل نه لري.

نو الله تعالی دنیا دا قسم جوړه کړېده، چیکله به پر انسان باندي د غم حالت وي، او کله به انسان د خوشحالی کیفیت ویني، په دې دنیا کي الله تعالی ته د ټولو څخه محبوب مخلوق انبیاء کرام دي، د هغوی په باره کي هم دا راځي:

........أشدُ النّاس بلاءً الأنبياءُ ثمّ الأمثلُ فالأمثلُ﴾.(۱)

(۱) صحیح ابن حبان: حدیث نمبر ۲۹۲۱

زيات امتحانات الله تعالی پر انبياؤو راولي، بيا چي څومره انبياؤو ته ورنژدې انسانان دي، پر هغوی به راځي.

نو په دې دنيا کي هيڅ يو انسان هم د مشکل او تکليف څخه نسي خلاصېدلای، بلکه د دنيا ډېر کارونه به د ده د طبيعت خلاف کيږي، که په دنيا کي انسان پر کفر ژوند تېر کړي، هم به ئې د طبيعت او د نفس خلاف کارونه مخته راځي، او که د ايمان والا ژوند تېر کړي، هم به ئې د طبيعت خلاف خ... ې پېښيږي.

## هر کار د الله تعالی د رضا لپاره کول:

نو چيکله په دې دنيا کي د انسان د طبيعت خلاف خبري راځي، نو بيا د طبيعت د مخالفت کولو دوې(۲) طريقې وي.

۱. يوه طريقه خو دا ده: چي د طبيعت خلاف انسان عمل کوي، تکليف برداشت کوي، او صبر کوي، لېکن د هغه تکليف برداشت کولو په آخرت کي هيڅ نتيجه او فائده نه وي، نه د الله تعالی له طرفه څه اجر او ثواب وي، او نه الله تعالی د انسان څخه راضي کيږي.

۲. دوهمه طريقه دا ده: چي انسان د خپل طبيعت خلاف يو کار کوي، د نفس تقاضا او غوښتنه تر پښو لاندي کوي، د دې لپاره چي خپل آخرت آباد کړي، او د الله تعالی رضا لاس ته راوړي.

لکه د ټولو انبياؤو دعوت هم دا دی: چي په دې دنيا کي د انسان د طبيعت مخالفت خو هسي هم کيږي، که د انسان زړه غواړي، او که ئې نه غواړي، لېکن د ځان سره يو ځل دا فيصله کول: چي د طبيعت خلاف به زه هغه کار کوم: چي په هغه سره زما رب زما څخه راضي سي.

مثلاً پر انسان باندي د لمانځه وخت راسي، د مسجد څخه مؤذن آواز کوي، چي راسئ! لمانځه لره، او راسئ! د کاميابۍ ځای لره، اوس ظاهراً خو دا د مؤذن آواز وي، لېکن په حقيقت کي دا د الله تعالی د ذات اعلان وي، چي د انسان تر غوږه رارسيږي.

ډېره ځله په دې وخت کي د انسان په زړه کي سستي وي، او د مسجد طرف ته ئې تګ کول زړه نه غواړي، نو اوس يوه لارخو داده: چي دی د زړه پر غوښتنه عمل وکړي، او پر بستره باندي دغسي پروت پاته سي.
خو کله په دغه دوران کي يو څوک دروازه و ټکوي، چي کله ماشوم ورسي، نو هغه دروازې ته داسي څوک راغلی وي، چي د هغه لپاره وروتل ضروري وي، نو دی د هغه په خاطر بستره پرېږدي، او هغه ته وروزي.
نو د طبيعت مخالفت وکړي، او د زړه غوښتنه پرېږدي، لېکن پر هغه باندي نه ده ته څه ثواب وي، او نه ئې د الله تعالی رضا په نصيب سي.
نو انسان بايد د ځان سره دا فکر وکړي: چي د طبيعت د مخالفت کولو څخه ځان ساتل زما په وسع او طاقت کي نه دي، نو هسي هم زما د طبيعت او د نفس مخالفت کيږي، نو بايد په داسي کار وکي ئې وکړم: چي الله تعالی را څخه راضي سي، نو په دغه سوچ او فکر سره همت را پورته کول، او د لمانځه طرف ته را ولاړېدل، او لمونځ په جماعت سره کول.
حضرت ډاکټر عبد الحی رحمة الله عليه به عجيبه خبري کولې، چي ډېر ځله به ئې د انسان په زړه کي ځای نيوی، هغه به ويل: کچيري انسان ته د لمانځه په تګ کولو کي سستي وي، يا د دين په يو کار کي د انسان څخه سستي کيږي.
مثلاً د سهار د لمانځه لپاره يا د تهجد د لمانځه لپاره په راپورته کېدلو کي انسان ته مشقت وي، سترګي ئې راروني سي، مګر خوب ور باندي غالب وي، او د بسترې پرېښوولو ته ئې زړه نه ور غواړي.
نو پدې وخت کي د ځان سره دا فکر کول: چي دغه دخوب په حالت کي کچيري ماته د دغه حکومت د سربراه له طرفه يو پيغام راسي: چي زه ستا د کور د دروازې دباندي ستا انتظار کوم، او زه تا ته ډېر لوی اعزاز او انعام درکوم، نو ته دا ووايه: چي بيا به پدې وخت کي د انسان خوب او سستي ترکومه حده پاته وي، دا خو ښکاره خبره ده: چي هغه خوب او سستي به ټوله ختم سي.
هغه ځکه چي ستا په زړه کي د هغه اعزاز قدر او منزلت دی، چي د هغه په وجه ته د طبيعت خلاف کولو ته تيار سوې.

نو چي کله د دنيا د بادشاه د اعزاز په خاطر انسان خوب او سستي او راحت پرېښولای سي، نو بيا خو د الله تعالی د رضا په خاطر او د الله تعالی د اعزاز او انعام ور کولو په خاطر بايد سړی خوب او سستي ښخي د دماغ څخه ليري کړي.

## د تهجد پر وخت دالله تعالی اعزاز:

حالانکه د تهجد پر وخت چي دالله تعالی له طرفه انسان ته کم اعزاز ور کول کيږي، هغه ډېر لوی اعزاز دی، چي الله تعالی تهجد کونکي انسان ته د قيامت په ميدان کي خپل ديدار ور نصيب کوي.

## د دوو (۲) بزرګانو واقعه:

زموږ په بزرګانو کي يو ډېر لوی بزرګ حضرت ابوالاحمد الحواراني دی، ده يو ځل د يو بل بزرګ کورته چي د هغه نوم ابو سلمان داراني دی، چيکله دی راغلی، نو هغه ژاړي، نو حضرت ابو الاحمد الحواراني ورته وايي: چي ته ولي ژاړې؟ دی ورته وايي: ای ابوالاحمده!

.......... اِذَا جَنَّ اللَّيْلُ وَقَدْ خَلَا كُلُّ حَبِيْبٍ اِلَا حَبِيْبِهٖ﴾.

چيکله شپه وغوړيږي، او تياره سي، او شپه آرامه سي، او هر محبوب د محبوب غيږي ته ورسي، نو په دې وخت کي د الله تعالی يو څه داسي بندګان هم وي، چي هغوی ته بستره او هيڅ محبوب آرام نه ورکوي، بلکه هغه د تهجد پر مسئله د خپل رب د ملاقات په شکل کي کښته، پورته کيږي، او خپل اوښکي تويوي.

الله تعالی حضرت جبرائيل علیه السلام ته وايي: اې جبرائيله! ته ورسه! ورته ووايه:

..........مَنْ تَلَذَّذَ بِكَلَامِيْ وَاسْتَرَاحَ اِلَى ذِكْرِى﴾.

چي کم څوک زما په کلام باندي لذت پيدا کوي، او زما په ذکر کي ده ته راحت او آرام وي، نو اې جبرائيله! ورته ووايه: چي تاسو مه ژاړئ! يو دوست بل دوست نه ژړوي، زما دي په خپل عزت او جلال قسم وي: چي د دغه بد خوابۍ او اوښکو تويولو په عوض کي ما ستاسو لپاره په قيامت کي خپل ديدار مباح ګرځولی دی.

نو ـ تهجد په وخت کي الله تعالى د بنده انتظار کوي، او د بنده لپاره په اعزاز او انعام کي خپل ديدار مباح گرځوي، چي هغه د ټولو انعاماتو او اعزازاتو څخه برتر انعام او اعزاز بلل کيږي.
نو دانبياء کرامو د ټولي دنيا انسانيت ته دا پيغام دی: چي د نفس مخالفت خو مي هسي هم کيږي، خو هغه په داسي کارو کي وکړئ، چي الله تعالى ستاسو څخه راضي سي، او هم الله تعالى ستاسو لپاره په مشکلاتو کي لاري خلاصي کړي، او هم مي د الله تعالى معيت او ملگرتيا په نصيب سي، لکه الله تعالى به قرآن کي دا وعده کړېده:
......... وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ﴾.(۱)
چي کم کسان زموږ د دين متعلق مجاهده کوي، نو لاري به زه ورته خلاصوم، او دا انسانان محسنين دي، او الله تعالى همېشه د محسنينو انسانانو ملگری وي.

## ورته آساني راتلل:

نو زه دا وايم: چي په ابتدا کي خو د نفس مخالفت کول انسان ته ډېر دشوار او سخت وي، لېکن چيکله مقصود د الله تعالى رضا وي، او انسان خپل همت راپورته کړي، نو بيا خو هغه لار الله تعالى د انسان لپاره آسانه کوي.
مثلاً يو سړی د لمانځه کولو عادت نه لري، لمونځ کول ورته گران وي، لېکن دی دي د داغه سره خپل لمونځ شروع کړي، الله تعالى به ئې ورته آسانه کړي، او هم به دی د لمانځه کولو عادي جوړ سي، اوس د عادت جوړېدلو څخه وروسته به د ده دا حالت وي: چي بيا به لمونځ کول و ده ته هيڅ تکليف نه ورکوي.
بلکه زه خو دا وايم: که يو څوک و ده ته دا ووايي: چي زه به ډېر لوی انعام در کړم، ته لمونځ پرېږده، نو هغه سړی به بيا هيڅ کله د لمانځه پرېښوولو ته زړه ښه نه کړي.
داغه حال د ټوله دين دی، که انسان ناست وي، صرف فکرونه وهي، او همت پر کار نه اچوي، نو بيا خو ده ته د دين هر عمل مشکل معلومېږي، ليکن چي کله دی همت راپورته کړي، او د دين پر لار تگ روان کړي، بيا به د الله تعالى له طرفه ضرور آساني راځي.

(۱) سورة العنكبوت: آيت نمبر ۶۹

حضرت تهانوي رحمة الله عليه به د دې لپاره يو مثال پيشاوی: چي يو ډېر اوږد سړک وي، او سيده لار وي، او راسته او چپه طرف ته درختي ولاړي وي. اوس که يو سړی پر دې سړک ودرېږي، او دې لار ته داسي وګوري، نو ده ته به داسي ور معلومېږي، د ډېر ليري والي په وجه: چي د درختو دواړه قطارونه سره راغلي دي، او مخته لار بنده ده، اوس دا به د يو سړي حماقت وي، چي دی دا فکر کوي: چي مخته لار درختو بنده کړېده، نو پر دې سړک باندي تګ کول بې ځايه دی، نو بس دی دلته کښېني، نو دغه سړی هيڅ کله دغه لار نسي پرېکولای، او نه هيڅکله خپل ځان منزل ته رسولای سي.
منزل ته به هغه سړی ځان رسوي: چي لار خو بنده ويني، لېکن د هغه باوجود خپل قدم پر مخ اخلي، ځکه چي دی قدم اخلي، نو ده ته دا ور معلومېږي: چي په حقيقت کي لار بنده نه وه، دا صرف زما د سترګو هغه دوکه وه، چي ماته ئې لار بنده را ښکاره کوله.
نو دلته هم د دين پر لار باندي د تګ کولو لپاره قدم پورته کول، او خپل همت پر کار اچول او لاري خلاصول دا د الله تعالی د طرفه وعده ده، خو د تېولو څخه بنيادي شی د خپل همت څخه کار اخيستل، او د طبيعت خلاف د کار کولو عزم کول: چي دې ته "مجاهده" ويل کيږي.
اصل مجاهده خو داده: چي انسان د ناجائز او ناروا کارو څخه خپل نفس راوګرځوي، لېکن چونکه د انسان نفس همېشه د خواهشاتو او لذاتو دومره زيات عادي جوړ سوې وي، که چيري دی د الله تعالی او د شريعت و طرف ته راګرځوې، نو په آساني نه راګرځي.
نو د خپل نفس د تابع کولو لپاره به دی ډېر ځله د مباح او جائز کارو څخه هم راګرځوې، ځکه چي کله دي نفس د جائز کارو څخه راوګرځاوی، نو بيا نفس د لذتو او راحتو پرېښوولو سره عادت کيږي، او بيا د ده لپاره د ناجائز کارو څخه راګرځېدل آسانه وي، د صوفياء کرامو په اصطلاح کي دې ته هم مجاهده ويل کيږي.
مثلاً په ماړه نس سره خورک کول څه د ګناه کار ندی، لېکن صوفياء کرام فرمايي: چي په ماړه نس سره خورک مه کوه، ځکه: چي بيا د انسان په نفس کي غفلت پيدا کيږي، او دی د لذتو او راحتو سره عادت ګرځي، نو د نفس د مشقت سره د عادي کولو په خاطر په خورک کي کمي کول، دا هم د نفس لپاره يو مجاهده وي.

## په جائزو کارو کي مجاهده:

د حضرت مولانا یعقوب نانوتوي رحمۃ اللہ علیہ څخه یو چا پوښتنه وکړه: چي حضرت! دا څنګه خبره ده: ډېره ځله صوفیاء کرام انسانان د جائزو کارو څخه هم منعه کوي، حالانکه هغه الله تعالی د انسان لپاره جائز ګرځولي وي؟

ده په جواب کي ورته وفرمایل: چي ګوره! د دې مثال داسي دی: لکه د یو کتاب ورقه چي ډېره زمانه ئې پر یو طرف باندي کت خوړلی وي، اوس که ته هغه ورقه سیده کوې، نو صرف په سمولو سره نه سیده کېږي، لېکن ته به اوس پر مخالف طرف دې ته یو ځل کت ور کوې، د هغه څخه وروسته به چي دا خپل حالت ته پاته سي، نو به سیده سي.

بیا ئې وفرمایل: چي د نفس مثال هم د هغه کت سوي کاغذ په شان دی، چي دی همېشه د ګناهونو و طرف ته کت سوی دی، اوس که ته د ده سیده کول غواړې، نو هسي نه سیده کېږي، لکه کاغذ چي پر بل طرف لږ کت کول غواړي، نو په نفس باندي هم یو څه مباحات پرېښوول غواړي، چي د هغه په نتیجه کي به لکه څنګه چي کاغذ سیده کېږي، نو نفس به هم راه راست ته راځي، دا هم د نفس یو قسم مجاهده وي.

## څلور مجاهدات:

چنانچه صوفیاء کرام د څلورو مجاهداتو ذکر همېشه په خپلو نصیحتو او کتابو کي کوي.

۱. تقلیل طعام، یعني: لږ خورک کول.
۲. تقلیل کلام، یعني: لږ خبري کول.
۳. تقلیل منام، یعني: لږ ببذه کېدل.
۴. تقلیل الاختلاط مع الانام: یعني: د خلګو سره تعلق لږ ساتل.

## د لږ خورک کولو حد:

تقلیل طعام، یعني لږ خورک کول، په تېرو زمانو کي به صوفیاء کرامو د لږ خوړلو په هکله ډېري لوی لوی مجاهدې کولې، تر دې حده چي ډېري لوږي به ئې برداشت کولې.

حکیم الامت حضرت تهانوي رحمۃ اللہ علیہ فرمایلي دي: چي اوس زمانه د دغه قسم مجاهدو نه ده، اوس خو هسي هم د انسانانو صحتونه کمزوري دي، که ته خورک ور باندي کم کړې، نو نور به هم ناجوړه سي، او چي مخکي ئې څومره عبادت کاوی، هغه به لا ځني پاته سي.

نو ده به فرمایل: چي په اوس دور کي دي انسان د یوې خبري پابندي وکړي، نو دغه مجاهده ته پخپله ځان رسولای سي، هغه دا: چي کله خورکه کوي، نو د خورک په آخر کي یو داسي مرحله راځي، چي د انسان په زړه کي تردد پیدا سي، چي اوس نوره و خورم، او که ئې بس کړم، چیکله دغه تردد پیدا سو، نو په دغه وخت کي خورک پرېښوول داد انسان لپاره د تقلیل طعام د مجاهدې کفایت کوي.

## د عقل او نفس منازعه:

او دغه تردد چیکله پیدا سي، دا په حقیقت کي د عقل او نفس په مابین کي یو منازعه وي، چونکه په خورک کولو کي خوند وي، نو د نفس تقاضا دا وي: چي یو څه لا نوره وخورم.

او د عقل تقاضا بیا دا وي: که دي نوره وخوړله، هسي نه: چي تا ناجوړه کړي، نو ئې بس کړه، د نفس او د عقل په مابین کي چي کمه منازعه ده، د دغه نوم تردد دی، نو پر دغه موقع باندي د نفس تقاضا پر شا غورځول، او د عقل په تقاضا عمل کول، او خورک بس کول.

## وزن به هم کم سي، او الله تعالی به هم راضي سي:

زموږ یو استاد به ویل: چي دا مضمون خو ما ډېر ځله د صوفیاء کرامو په کتابو کي ویلی دی، لېکن بیا مي وروسته د یو ماهر طبیب او ډاکټر مضمون هم تر نظر تېر سو، چي هغه په کي لیکلي وو.

نن سبا خلک د خپل بدن د وزن کمولو لپاره مختلفي نسخې استعمالوي، څوک مطلقاً خورکه پرېږدي، او څوک بیا صرف د غرمې خورک پرېږدي، او دې ته د دوی په اصطلاح کي "ډائیټنګ" وایي، بیا خاص په یورپ کي د دې ډېر رواج دی.

د هغه مقصد دا وي: چي د انسان وزن کم سي، او بیا خاص په زنانو کي د دې دومره رواج دی: چي د وزن کمولو لپاره مختلفي دوایاني استعمالوي. او زیات کوشش کوي، او ډېر ځله د مرګ سره ځان مخامخ کړي.
د هغه ځخه وروسته هغه ډاکټر لیکلي دي: چي زما په ذهن کي د وزن کمولو تر ټولو بهترینه طریقه دا ده: چي انسان نه د یو وخت خورک مستقل پرېږدي، او نه دي خورک کموي، بلکه ټول عمر دي، دا معمول جوړ کړي، چي څومره لوږه ده، تر هغه دي خورک یو څه کم کوي.
د هغه ځخه وروسته هغه ډاکټر بغینه دا غه خبره لیکلې وه: چي د خورک کولو په آخر کي چي د خوړلو او نه خوړلو تردد د انسان په ذهن کي پیدا سي، بس دغه وخت دي خورک پرېږدي، او پر دې دي عمل وکړي، نه به ئې د بدن وزن زیات سي، او نه به د معدې د خرابۍ شکایت ورته پېښ سي، او نه به دی "ورزش" کولو ته مجبوره سي.
اوس داغه خبره حضرت تهانوي رحمۃ اللہ علیہ ډېر کلونه مخکي لیکلې وه، اوس د هر چا خپله خوښه ده، که د وزن کمولو په خاطر په دې باندي عمل کوي، او که د الله تعالی د راضي کېدلو په خاطر په دغه مشوره عمل کوي.
لېکن که د نفس د علاج په خاطر او د الله تعالی د رضا لپاره دا عمل وکړي، نو په دې کار کي به اجر او ثواب هم پیدا کړي، او وزن به ئې هم کم سي، او که صرف د وزن کمولو په خاطر دا عمل وکړي، نو شاید وزن به ئې کم سي، لېکن د اجر او ثواب څخه به بې برخي پاته سي.

## د ماړه نس خرابي:

اوس زه دا وایم: چي په ماړه نس سره خورک کول چي د انسان د نس یوه حصه خالي پاته نه سي، که څه هم په فقهي لحاظ سره ناجائز او حرام نه دي، لېکن د انسان لپاره په جسماني او روحاني لحاظ سره د دواړو قسم ناجوړیو ذریعه او سبب ګرځي.

ځکه چي د انسان څخه په دنيا کي څو مره ګناهو نه کيږي، هغه ټوله د ماړه نس په خاطر وي، کچيري انسان خپل نس زيات موړ نه وساتي، نو بيا انسان د نافرمانۍ او ګناه څخه تر ډېره حده پوري ځان راګرځولای سي.

نن سبا چونکه د فساد او فتنو زمانه ده. ډېر نوجوانان دا رابطې کوي: چي زما زړه د ګناه څخه نه راګرځي، او زه پر خپل شهوت باندي کنټرول نلرم، ماته يو دعا او ذکر راوښيه، چي زما نفس کنټرول سي.

نو زه هغه ته همېشه وايم: چي ګورئ! د نفس کنټرول کولو لپاره او د شهوت قابو کولو لپاره تر ټولو ښه عمل روژه نيول دي، بيا خاص چي د پيغمبر ﷺ پر سنت طريقه و نيول سي.

پيغمبر ﷺ به همېشه په هفته کي دوې (۲) ورځي د دوشنبې او د پنج شنبې په ورځ روژه نيوله، او بيا به ئې په مياشته کي د ايام بيض يعني: ديارلسم، څوارلسم، پنځلسم، د ورځي روژې نيولې.

کچيري انسان د پيغمبر ﷺ دغه طريقه خپله کړي، نو پر نفس او شهوت به ئې هم کنټرول راسي، او د پيغمبر ﷺ د سنت طريقې ثواب به هم پيدا کړي، او د تقليل طعام چي کمه مجاهده ده، په هغه به ئې عمل کول هم نصيب سي.

## لږ خبري کول "مجاهده" ده:

دوهمه مجاهده "تقليل کلام"، يعني: لږ خبري کول، ځکه موږ او تاسو چي د سهار څخه تر ماښامه پوري کمه ژبه چلوو، او چي پر خوله څه راسي، هغه وايو، نو د انسان د روحاني زندګۍ لپاره دا هم يو غلط عمل بلل کيږي، ځکه چي تر څو پوري انسان خپله ژبه کنټرول نه کړي، تر هغه وخته پوري د دغه غلط عمل څخه خپل ځان نه سي محفوظه کولای، ځکه دا يقيني ده:

.............مَنْ كَثُرَ لَغَطُهُ كَثُرَ غَلَطُهُ وَ مَنْ كَثُرَ غَلَطُهُ فَالنَّارُ اَوْلٰى بِهِ﴾.

چي د کم چا مسخرې او خبري زياتي سي، د هغه غلطياني هم زياتي وي، او چي د کم چا غلطياني زياتي وي، هغوی به د خپلو غلطيانو په خاطر ځان جهنم ته رسوي.

او د پيغمبر ﷺ حديث هم دی:

........وَهَلْ يَكُبُّ النَّاسَ عَلَى مَنَاخِرِهِمْ فِي جَهَنَّمَ إِلاَّ حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ﴾.(١)
د انسان په جهنم کي پر مخي غورځونکی شی همېشه د ده ژبه وي.
ځکه چي دی کله ژبه آزاده استعمالوي نو بیا په دروا‌غو او غیبت او دل آزاري کي مبتلا کیږي، او دا ګناهونه ټول د انسان د جهنم د تللو ذریعه وي.
نو انسان چي کمه خبره تر خوله راباسي، نو باید یو ځل په هغه کي فکر وکړي، چي ایا دا خبره زما لپاره مناسب ده، او کنه، او د دې خبري په کولو خوبه زه په ګناه کي نه مبتلا کیږم، کچیري مناسب وه، نو هغه خبره تر خوله را ایستل، او که مناسب نه وه، نو بیا د هغې خبري څخه خپله خوله بندول، لکه حدیث قدوسي کي راځي، الله تعالی بنده ته وایي:
........يَابْنَ آدَمَ جَعَلْتُ لَکَ لِسَانًا، وَ جَعَلْتُ عَلَيْهِ بَابًا، فَانْطِقْ بِلِسَانِکَ مَا اَحْلَلْتُهُ لَکَ، وَ اِلَّا فَاغْلِقْ عَلَيْهِ البَابَ﴾.(٢)
اې د آدم زویه! ماخو تاته ژبه در کړېده، او هم مي پر هغه باندي د دوو شونډانو په شکل دروازه جوړه کړېده، نو ته پخپله ژبه هغه خبري کوه، چي تاته روا وي، او که ناروا خبره ستا خولې لره راتله، نو د شونډانو دروازه پر هغه رابندوه.

## دریمه "مجاهده": کم بیدېدل:

دریمه مجاهده: "تقلیل منام": یعني کم بېدېدل، دا مجاهده هم زموږ څخه مخکي به صوفیاء کرامو په ډېر اهتمام او په ډېر مشقت سره کموله، لکه څنګه چي مشهوره ده: چي امام ابو حنیفه رحمة الله علیه به څلوېښت(۴۰) کاله د ماخستن په اوداسه د سهار لمونځ کاوی، یعني: ټوله شپه به نه بیدېدی.
لېکن زموږ بزرګانو د اوس زمانې متعلق دا لیکلي دي: چي د کم بیدېدلو حد دا دی: چي انسان به په شپه او ورځ کي کم از کم شپږ(۶) ساعته ضرور خوب کوي، او تر شپږ ساعته به ئې نه کموي، ځکه چي بیا د انسان په دماغ کي خُشکي پیدا کیږي.

(١) اتحاف الخیرة المهرة: حدیث نمبر ۳۷
(٢) خطبات جمیل: صفحه نمبر ۴۱

حضرت تهانوي رحمة الله عليه فرمايلي دي: کچيري د يو چا د بې وخته خوب کولو عادت وي، نو بايد هغه ختم کړي، دا هم د کم بيدېدلو په حد کي دا خل بلل کيږي، او دا هم د دې انسان لپاره يو قسم "مجاهده" ده.

## د خلګو سره تعلقات لږ ساتل:

څلورمه مجاهده: "تقليل الاختلاط مع الانام" يعني: د خلګو سره ناسته او ولاړه او تعلق کمول، ځکه چي د انسان څومره زيات تعلقات وي، په هغومره درجه په ګناهونو کي د مبتلا کېدلو انديشه وي، او دا د تجربې خبره ده.
نن سبا زموږ په معاشره کي تعلقات ډېرول باقاعده يو فن او هنر او فيشن جوړ سوی دی، چي دهغه مقصد دا دی: د خلګو سره زيات تعلقات پيدا کول، او خپل اثر او رسوخ ډېرول، او د هغه تعلقاتو پر بنياد خپل کار ايستل.
لېکن زموږ بزرګانو د دې څخه انسانان منعه کړي دي، چي بلا ضرورت به تعلقات انسان نه زياتوي، بلکه د تعلقاتو کمولو به کوشش کوي.

## زړه يو هنداره دی:

ځکه چي الله تعالی د انسان زړه د هنداري غوندي جوړ کړی دی، چي کوم تصوير د انسان مخته تېر سي، د هغه عکس په زړه کي پاتېږي، چيکله د انسان تعلقات زيات سي، نو په هغه کي د ښو کارو خلک هم وي، او دبدو کارو والا هم وي، او چي کله په بدو کارو اخته خلګو سره د انسان ملاقات کيږي، نو د هغه د کارو عکس د انسان پر زړه باندي پاتيږي، او د هغه څخه په زړه کي خرابي راځي.
نو ځکه زموږ د بزرګانو دا وصيت دی: چي د نورو خلګو سره بلا ضرورت تعلقات نه پيدا کول، ځکه چي د انسانانو سره څومره د انسان تعلق کم وي، په هغه درجه د الله تعالی په تعلق کي اضافه او زياتوب راځي.
مولانا روم رحمة الله عليه فرمايلي دي:

تعلق حجاب است وبے حاصلی
چون پیوندہا بگسلی واصلی

یعني دا تعلقات د الله تعالی سره په تعلق قائمولو کي یو حجاب وي، د دنیا چي څومره محبتونه د انسان په زړه کي زیاتیږي، په هغه درجه د الله تعالی په تعلق کي کمی راځي.

البته: چي کم د انسان پر ذمه حقوق العباد دي، هغه ښشکه ادا کول او په هغه کي یوه ذره هم کوتاهي نه کول. لېکن بلا وجه تعلقات د انسانانو سره نه جوړول، د دې نوم "تقلیل الاختلاط مع الانام" دی.

بهر حال دا مجاهدې د دې لپاره کیږي: چي د انسان نفس په قابو کي راسي، او دغه مجاهدې د هر انسان لپاره ضروري او بهتر عمل بلل کیږي.

خو زه همېشه دا وایم: چي ډېره ښه به دا وي: چي دغه مجاهدې د یو ښه رهنما او لار ښوونکي په نګراني کي وسي، پر خپل سر نه کول، ځکه ډېر ځله انسان ته دانه ور معلومیږي، او نه پخپله دا فیصله کولای سي: چي:

- څومره خورم، او څومره نه خورم.
- او څومره بېده سم. او څومره نه بېدېږم.
- او د چا سره تعلق ساتم، او د چا سره ئې نه ساتم.

نو ډېر ځله د انسان څخه په دې کي بې اعتدالي کیدای سي.

لېکن چي کله دیو رهنما په رهنمائي کي دغه مجاهدې انسان کوي، نو انشاء الله همېشه به د اعتدال په حد کي وي، او همېشه به ئې انسان پخپله زندګي کي زیاتي فائدې محسوسوي.

الله تعالی دي په دې خبرو د عمل کولو توفیق رانصیب کړي.

آمِیْن یَا رَبَّ العَالَمِیْن

وَصَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی خَیْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# د فتنې د دور علامې، (اول بيان)

(بيان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ مطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ ورَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : ﴿ فَإِذَا رَأَيْتَ مَكَّةَ قَدْ بُعِجَتْ كَظَائِم ، وَرَأَيْتَ الْبِنَاءَ يَعْلُو رُؤُوسَ الْجِبَالِ ، فَاعْلَمْ أَنَّ الأَمْرَ قَدْ أَظَلَّكَ ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو! ستاسو په حضور کې ما د پېغمبر ﷺ يو حديث مبارک پېش کړې، چې په هغه کې پېغمبر ﷺ يو خاص او اهمې موضوع ته اشاره کړېده، او زه مختصراً ستاسو په مخ کې د هغه يو څه وضاحت پېشوم، الله تعالى دې ماته د صحيح وضاحت پېشولو توفيق راکړې، او الله تعالى دې موږ او تاسو ټولو ته پر ذغه اصلاحې مجالسو باندې د عمل کولو توفيق رانصيب کړې.

يو طرفته زموږ او ستاسو د حالاتو سره د هغه موضوع بيانول ډېر مناسب وې، او بل طرفته په عامو تعليماتو کې د هغه بيان ډېر کم کيږي، نو د اهميت په خاطر زه د هغه موضوع ذکر کول ضروري بولم.

(۱) سورة المائدة: آيت نمبر ۱۰۵

(۲) مصنف ابن ابي شيبه: حديث نمبر ۱۴۳۰۶

الله تعالى پيغمبر ﷺ ته عالمي نبوت ور نصيب کړی دی، او د دې سره د پيغمبر ﷺ د نبوت امتياز دا هم دی: چي دی الله تعالى خاتم النبيين ګرځولی دی، او دده په ذريعه ئې د نبوت د سلسلې تکميل کړی دی.

لکه پيغمبر ﷺ په يو حديث مبارک کي فرمايي:

.........مَثَلِي فِي النَّبِيِّينَ كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنَى دَارًا فَأَحْسَنَهَا وَأَجْمَلَهَا وَأَكْمَلَهَا إِلَّا مَوْضِعَ لَبِنَةٍ ، فَكَانَ مَنْ دَخَلَهَا وَنَظَرَ إِلَيْهَا قَالَ : مَا أَحْسَنَهَا إِلَّا مَوْضِعَ هَذِهِ اللَّبِنَةِ فَأَنَا مَوْضِعُ اللَّبِنَةِ خُتِمَ بِيَ الْأَنْبِيَاءُ﴾.(١)

زما مثال په انبياؤ کي داسي دی: لکه يو سړی چي يو خونه جوړه کړي، او ډېره ښائسته ئې کړي، مګر د يوې خښتي ځای پکښې پاته وي، چيکله يو څوک ورلره راسي، او ورته وګوري، نو وايي: چي څومره ښائسته خونه ده، کاش! دغه د يوې خښتي ځای خالي نه وای، نو هغه خښته زه يم، او زما په راتلو باندي د نبوت خښته کامله سوه، او د نبوت سلسله پر ما باندي ختمه سوه.

تاسو ګورئ! د پيغمبر ﷺ څخه مخکي چي به کم انبياء دې دنيا ته راتلل، نو د هغوی تعلق به د يو خاص علاقې او د يو خاص قوم او قبيلې سره وو، او د هغه نبوت به د هغه تر مرګه پوري وو، چي کله به دی وفات سو، نو نبوت به ئې ختم سو.

لکه حضرت موسى عليه السلام په "مصر" کي بني اسرائيلو ته نبي وو، او د ده په وفات سره د ده نبوت پای ته ورسېدی.

او حضرت شعيب عليه السلام په "مدين" کي او خاص د هغه مدين و خلکو ته نبي وو، چي کله دی هم وفات سو، نو نبوت ئې ختم سو.

او حضرت لوط عليه السلام په مؤتفکه کي خاص قوم ته نبي وو، چيکله د ده وفات زاورسېدی، نو نبوت ئې هم پای ته ورسېدی.

لېکن د پيغمبر ﷺ نبوت نه د يو خاص قوم او قبيلې سره، او نه د يو خاص علاقې او زمانې سره تعلق درلودی، بلکه چي د مخکي پر مخ باندي څومره انسانان وو، او تر

قیامته پورې چې څومره زمانې را روانې دي، هغه ټولو ته دی نبي وو، لکه الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي:
......وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا﴾.(١)
اې نبي ﷺ! موږ ته د ټوله انسانیت لپاره زیری و ر کونکی او هم د ټوله انسانیت لپاره د جهنم څخه بېرونکی دنیا ته استولی ئې، د ټوله انسانیت څخه مراد: هر هغه څوک دي: چې د مځکې پر کُره باندې اوسیږي، او په را روانو زمانو کې تر قیامته پورې راتلونکي دي.
د دې څخه دا معلومه سوه: چې پیغمبر ﷺ صرف عربو ته نبي نه وو، او نه قریشو او بني هاشمو ته نبي وو، بلکه ټوله انسانیت ته نبي وو.
او نه پیغمبر ﷺ صرف مکې والاؤ ته نبي وو، بلکه ټوله عالم ته نبي دی.

## د راروانو حالاتو خبرتیا:

د دې څخه دا معلومه سوه: چې د ده تعلیمات او د ده بیان کړي احکام تر قیامته پورې نافذ العمل دي، نو ځکه ده چې کم تعلیمات موږ ته پېش کړي دي، هغه د زندګۍ پر هره شعبه باندې حاوي دي.
بیا د پیغمبر ﷺ د تعلیماتو دوه اړخه دي، یو اړخ خو د شریعت بیان دی، چې فلانکی شی حلال، او فلانکی حرام دی، فلانکی عمل فرض، واجب او یاسنت او مستحب دی.
او دوهم اړخ دا دی: چې پر دې امت په را روانو زمانو کې کم کم حالات راتلونکي دي، او امت د کمو حالاتو او فتنو سره مخامخ کېدونکی دی، او په دغه حالاتو کې به امت د خپل ځان د نجات لپاره څه کوي.
دغه دوهم اړخ، هم د پیغمبر ﷺ د تعلیماتو اهمه حصه ده، چنانچه د نبوت په نګاه سره راتلونکي حالات لیدلي، او د هغه څخه وروسته امت ته خبر ور کړی دی، چې په راتلونکو زمانو کې دا واقعات پېښېدونکي دي، او دغه حالات راتلونکي دي.

---
(١) سورة سبأ: آیت نمبر ۲۸

او د دې سره سره ده مبارک دا خبره هم امت ته ښکاره کړېده: چې کله د غسې حالات راسي، د يو مؤمن لپاره څه طريقه اختيارول؟ او د ځان د نجات لپاره څنګه بند وبست کول ضروري دي؟ نن به زه ستاسو و مخته پر دغه دوهم اړخ باندي څه مختصره وينا کوم، چي زمونږ او ستاسو په دماغو کي د هغه حالاتو څه معلومات راسي.

## د امت د نجات فکر:

د پېغمبر ﷺ سره د خپل امت داسي فکر ور سره وو: چي دی به همېشه او هر وخت په هغه فکر کي پرېشانه وو، لکه يو حديث شريف کي راځي:

..........كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وسَلَّم مُتَوَاصِلَ الأَحْزَانِ ، دَائِمَ الْفِكْرَةِ﴾.(۱)

يعني: پېغمبر ﷺ به همېشه فکرمند وو، او داسي به معلومېدله: لکه هر وخت چي پر ده باندي يو غم پروت وي.

هغه غم د مال او دولت را جمعه کولو نه وو، او نه د خپل ځان د شان او شوکت پورته کولو وو، بلکه هغه غم د دې وو: چي د کم قوم طرفته زه را استول سوی يم، هغه به څنګه د جهنم د اور څخه وساتم.

## د پېغمبر ﷺ غم:

کچيري انسان د سيرت کتابونه وګوري، نو بيا به د پېغمبر ﷺ هغه غم او فکر ډېر ښه ورته ښکاره سي.

د رواياتو څخه معلومېږي: چيکله به د ورځي ده په "مکه مکرمه" کي دعوت و چلاوی، نو ټوله ورځ به ستړی وو، چيکله به کورته راغلی، او ماښام به پر بستره باندي پروت وو، نو د امت په غم کي به ئې داسي ژړا کوله: چي سينه مبارکه به ئې د "کټوي" په شان خوټکېدله، او د هغه آواز به اورېدل کيدی.

الله تعالی به جبرائيل ؑ ورته را واستاوی، او هغه به د الله تعالی دا پيغام ورته راورساوی، چي:

............وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ﴾.(۱)

اې پیغمبره! ته د خپل رب لپاره صبر کوه، او خپل ځان په دومره بې آرامي او بې قراري کې مه اچوه.

لېکن د پیغمبر ﷺ زړه به صبر او قرار نه کاوی، بیا به ئې هم ژړا کوله، نو بل ځل به بیا جبرائیل علیه السلام راغلی، او دا پیغام به ئې ورته پیش کړی:

............﴿وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا﴾.(۲)

ته د الله تعالی د حکم په خاطر صبر کوه، ته زمونږ په نګراني کې ئې، او مونږ ستا او ستا د قوم ټوله حالات ځارو.

لېکن بیا به هم پیغمبر ﷺ زیات غم کاوی، نو دریم ځل به حضرت جبرائیل علیه السلام الله تعالی د دې پیغام سره راواستاوی:

............﴿وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِاللَّهِ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِي ضَيْقٍ مِمَّا يَمْكُرُونَ﴾.(۳)

ته صبر کوه، ستا د صبر بدله به الله تعالی در کوي، او ته د خپل قوم په باره کې ډېر غم مه کوه، او مه د دوی د مکرونو څخه نفس تنګی کېږه.

لېکن چیکله به بیا هم د پیغمبر ﷺ غم زیات وو، نو به حضرت جبرائیل علیه السلام ډېر ځله دا پیغام ورته راوړی:

............﴿لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَفْسَكَ أَلَّا يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ﴾.(۴)

شاید! ته به خپل ځان په هلاکت کې واقع کړې، کچیري دغه ستا قوم ایمان راوړلو ته غاړه نه کښېږدي، نو دا د پیغمبر ﷺ سره د امت هغه زیات غم او فکر وو، او د دې څخه د پیغمبر ﷺ د خپل امت سره زیات شفقت او محبت ښکاره کیدی.

لکه په یو حدیث کې پیغمبر ﷺ خپل امت ته فرمایي:

............﴿مَثَلِي وَمَثَلُكُمْ كَمَثَلِ رَجُلٍ أَوْقَدَ نَارًا فَجَعَلَ الْفَرَاشُ وَالْجَنَادِبُ يَقَعْنَ فِيهَا وَهُوَ يَذُبُّهُمْ عَنْهَا﴾.

---

(۱) سورة المدثر: آیت نمبر ۷
(۲) سورة الطور: آیت نمبر ۴۸
(۳) سورة النحل: آیت نمبر ۱۲۷
(۴) سورة الشعراء: آیت نمبر ۳

زما مثال د هغه سړي غوندې دی: چې يوچا اور بل کړی دی، او پتنګان او حشرات راځي، په هغه اور کې ځان اچوي، او هغه سړی هغه حشرات او پتنګان د اور څخه راګرځوي، چې په اور کې و نه سوځل سي.

........وَأَنَا آخِذٌ بِحُجَزِكُمْ عَنِ النَّارِ ، وَأَنْتُمْ تَفَلَّتُونَ مِنْ يَدِي﴾.(۱)

داغه رنګه زه هم ستاسو د جهنم د اور څخه د راګرځولو کوشش کوم، او ستاسو ملا نيسم، او د جهنم څخه مي راګرځوم، مګر تاسو زما د لاس څخه ځان خلاصوئ، او جهنم ته ځان ور اچوئ.

نو د پيغمبر ﷺ سره د خپل امت دومره زيات فکر وو، او دا فکر صرف د هغه امت هم نه وو، چې د ده په زمانه کې موجود وو، بلکه تر قيامته پوري چې څومره انسانان راتلونکي دي، د هغوی ټولو فکر د ده سره ور سره وو.

## د راتلونکي زمانې فتنې:

چنانچه ده راتلونکو انسانانو ته دا پيغام پرې ايښی دی، چې پر تاسو به کم حالات او کمې فتنې راځي، تقريباً د احاديثو په ټولو کتابو کې يو مستقل باب د "ابواب الفتن" په نامه موجود دی، چې په هغه کې هغه احاديث راجمعه سوي دي، چې پيغمبر ﷺ د را روانو فتنو په باره کې انسانانو ته اګاهي ور کړېده، چې دغه فتنې به پر تاسو باندي راځي.

چنانچه په يو حديث شريف کې پيغمبر ﷺ فرمايلي دي:

........فَإِنِّي لَأَرَى الفِتَنَ خِلَالَ بُيُوتِكُم كَوَقْعِ الْمَطَرِ﴾.(۲)

زه فتنې وينم، چې ستاسو په کورو کې به د باران په شان راځي، لکه د باران څاڅکي چې وي، داغه رنګه به فتنې وي.

د باران د څاڅکو سره پيغمبر ﷺ ځکه تشبيه ور کړېده، لکه د باران څاڅکي چې څومره په کثرت سره وي، داغه رنګه فتنې به هم په کثرت سره راځي.

(۱) امثال الحديث لابي الشيخ الاصبهاني: حديث نمبر ۲۲۵
(۲) مشكاة المصابيح: حديث نمبر ۵۳۸۷

او لکه د باران په ځاځکو کې تسلسل وي، چې يو ځاځکی وچ سوی نه وي، دوهم ځاځکی ور باندې لوېږي، داغه رنګه به هغه فتنې هم په تسلسل سره راځي، چې يوه فتنه لا ختمه سوې نه وي، دوهمه به رارسيږي، چې دوهمه ختمه سوې نه وي، دريمه فتنه به راځي.

په يو بل حديث کې پيغمبر ﷺ بيا په دغه الفاظو د فتنې ذکر کړی دی:

............سَتَکُونُ فِتَنٌ کَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ﴾.(۱)

ډېر ژر به پر تاسو باندې د شپې د تاريکيو غوندې فتنې راځي.

يعني: لکه څنګه په توره شپه کې انسان ته هيڅ نه ور معلوميږي، چې زه پر کمه ولاړ سم، ډېر ځله انسان د تحير په عالم کې پاته وي، داغه رنګه هغه فتنې به هم انسان داسې په تحير کې اچوي، چې انسان ته به د نجات لاره نه ور معلوميږي.

يا لکه څنګه چې شپه راسي، نو هغه عامه وي، ټوله معاشره او ماحول په ګيره کې اخلي، داغه رنګه به هغه فتنې هم پر ټوله معاشره باندې غوړېدلې وي، هيڅ يو ځای به د هغه څخه خلاص نه وي.

نو ډېر ځله به پيغمبر ﷺ د هغه فتنو څخه د نجات لپاره دُعا په دې الفاظو سره غوښته:

............اَللّٰهُمَّ اِنَّانَعُوذُ بِکَ مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ﴾.(۲)

اې الله! موږ د راتلونکو ظاهري او باطني فتنو څخه ستا په ذات سره پناه غواړو، او دا دعا به همېشه د پيغمبر ﷺ په معمولاتو کې شامله وه.

## فتنه څه ده؟

اوس په دې سر خلاصول: چې "فتنه" کم شی دی؟ او "فتنه" چاته وايي؟ او د "فتنې" په دور کې زموږ لپاره د پيغمبر ﷺ څه تعليمات دي؟ چې موږ به څه کوو؟

---

(۱) اتحاف الخيرة المهرة، حديث نمبر ۳۱

(۲) اتحاف الخيرة المهرة، حديث نمبر ۱۳۷۳

دغه لفظ موږ او تاسو پخپلو محاوراتو او مجالسو کې سهار او ماښام استعمالوو، چې فتنې دي، او ډېر د فتنو دور دی، او په قرآن کریم کې هم د فتنې لفظ څو ځایه راغلی دی، او په یو ځای کې دا الفاظ دي:
......﴿وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ﴾.(١)
یعني: د الله تعالیٰ په حضور کې فتنه د قتل څخه هم سخترین عمل او شی دی، او د پېغمبر ﷺ په احادیثو کې هم د فتنې زیات ذکر سوی دی.

## د فتنې معنی:

فتنه عربي لفظ دی، په لغت کې د دې معنی ده: سره زر یا سپین زر پر اور باندي ویلول، او د هغه کره او کوټ معلومول، ځکه پر اور باندي د ویلېدلو څخه وروسته انسان ته د هغه حقیقت مخته راځي، چې څومره خالص دي، او څومره کوټ دي.
په دې وجه سره دغه لفظ کله د ازمائش او امتحان په معنی کې هم استعمالیږي، چې کله پر انسان باندي یو تکلیف او امتحان راسي، نو د هغه په نتیجه کې هم د انسان د اندروني کیفیت معلومات کیږي.
چې په دې انسان کې څومره د صبر او برداشت استعداد سته، او څومره د ده څخه بې صبري کیږي، نو په دغه امتحان سره د انسان د باطن حالات معلومیږي، نو ځکه دغه امتحان ته هم فتنه ویل کیږي.

## په حدیث شریف کې د فتنې لفظ:

په حدیث شریف کې د فتنې د لفظ استعمال په مختلفو مواردو کې کیږي، چې هغه په لاندې ډول دي:

- کله یو وخت پر انسان باندي داسې حالات راسي: چې حق د انسان څخه مشتبه سي، او د حق او باطل په مابین کې امتیاز کول مشکل سي، انسان ته دا نه ور معلومیږي: چې حق کم دی، او باطل کم دی، نو ویل کیږي: چې دغه د فتنې دور دی.

(١) سورة البقره: آیت نمبر ۱۹۱

- داغه رنګه چيکله په معاشره کي ګناه زياته سي، يعني: فسق او فجور او نافرمانۍ په عامه معاشره کي وجود پيدا کړي، نو دې ته هم په احاديثو کي فتنه ويل سوېده.
- داغه رنګه چي يو شي حق نه وي، هغه حق بلل. او يو شي دليل د ثبوت نه جوړېږي، هغه دليل د ثبوت جوړول، هم يو فتنه وي.

لکه نن سبا حالات داسي دي: کچيري يو چاته د دين خبره وکړې، چي په تجارت کي رشوت مه ورکوه، يا په مجلس کي درواغ مه وايه، نو دی به درته ووايي: چي ياره! ټوله معاشره په دغه عمل کي مبتلا ده، او دا به دی د ځان لپاره د جواز دليل بولي، حالانکه د ټولي معاشرې په يو عمل کي اخته کېدل، د هغه عمل دجواز دليل نه سي جوړېدلای.

کله خو لا دا هم وايي: چي دغه کار خو په سعودي عرب کي هم کيږي، نو د دې مطلب دا: چي يو کار په سعودي عرب کي کيږي، نو هغه يقيني جائز او روا دی، او په سعودي عرب کي کېدل د دغه کار د جواز دليل دی، نو دغه شان دلائل پېشول هم يو فتنه وي.

- ډېر ځله داسي هم وسي: چي په ښار کي مختلف جماعتونه په انتخابات او ووټ کي ودريږي، انسان ته حق او باطل ښکاره وي، لېکن ډېر انسانان د خپل مفاد په خاطر او ډېر ځله د قوميت او عصبيت په خاطر او يا د لسانيت او وطنيت په خاطر انسان د حق څخه سترګي پټي کړي، او د باطل ملا وتړي، او د هغه نصرت او کومک کوي، او په خوله د هغه تعريف او صفت کوي، نو دا هم په حقيقت کي فتنه وي، او دغه زمانه د فتنې بلل کيږي.

## د دوو جماعتونو په مابين کي جنګونه فتنه ده:

داغه رنګه چيکله دوه(۲) مسلمانان يا د مسلمانانو دوه(۲) جماعتونه په خپل مابين کي سره جنګيږي، او يو د بل خلاف توره چلوي، او يو د بل د وينو تږی سي، او انسان ته دا نه ور معلوميږي: چي په دي کي حق څوک دی؟ او باطل څوک دی، دا هم يو فتنه وي، لکه په يو حديث شريف کي پېغمبر ﷺ فرمايي:

........﴿إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا فَقَتَلَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهِ فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ﴾.(١)
چيکله دوه(٢) مسلمانان توري سره راواخلي، او يو د بل خلاف جنګ کوي، نو قاتل او مقتول به دواړه جهنم ته ځي.
يو صحابي د پيغمبر ﷺ څخه پوښتنه کوي: چي اې د الله تعالى رسوله! قاتل خو به خود جهنم ته ځي، چي هغه مسلمان قتل کړی.
ليکن د مقتول د جهنم د تللو وجه مي په دماغ کي نه راځي، پيغمبر ﷺ په جواب کي ورته وايي: چي مقتول به ځکه جهنم ته ځي: چي هغه هم په دې اراده سره توره را اخيستې وه: چي زه به په دې سره هغه بل قتل کوم، نو که د ده واری چلېدلی وای، نو ده به هم قتل کړی وای، لېکن چونکه د هغه بل واری ور باندي دمخه سو، نو دی ئې قتل کړی.
او په دوی دواړو کي يو هم د الله تعالى د رضا لپاره يا د دين د بلندۍ لپاره نه جنګېدی، بلکه د دنيا لپاره يا د سياسي مقاصدو او ګټو لپاره جنګېدل، او هم يو د بل د وينو تږي ول، نو ځکه دواړه به جهنم ته ځي.
په يو بل حديث کي بيا پيغمبر ﷺ داسي فرمايي:
........﴿إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ أَيَّامًا، يُرْفَعُ فِيهَا الْعِلْمُ، وَيَنْزِلُ فِيهَا الْجَهْلُ، وَيَكْثُرُ فِيهَا الْهَرْجُ وَالْهَرْجُ الْقَتْلُ﴾.(٢)
د قيامت څخه مخکي به داسي ورځي راځي: چي الله تعالى به د انسانانو څخه علم پورته کړي، او په معاشره کي به جهل زيات سي.
او د جهل په وجه به په معاشره کي "هرج" ډېر زيات وي، صحابه کرام د پيغمبر ﷺ پوښتنه کوي: چي "هرج" څه ته وايي؟ نو پيغمبر ﷺ ورته وايي: چي "هرج" قتل ته وايي.
يعني؛ په هغه زمانه کي به قتلونه دومره زيات سي؛ چي د انسان قتل به د غوماشي څخه هم اسانه وي، او د انسان ژوند به زيات بې حقيقته وګرځي.
په يو بل حديث کي پيغمبر ﷺ دا هم فرمايي؛

(١) سنن الکبری للبيهقي؛ حديث نمبر ١٧٢٤١
(٢) المعجم الکبير للطبراني؛ حديث نمبر ١٠٤٧١

..........وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ لاَ تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتَّى يَأْتِىَ عَلَى النَّاسِ يَوْمٌ لاَ يَدْرِى الْقَاتِلُ فِيمَ قَتَلَ وَلاَ الْمَقْتُولُ فِيمَ قُتِلَ. فَقِيلَ كَيْفَ يَكُونُ ذَلِكَ قَالَ « الْهَرْجُ. الْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِى النَّارِ».([1])

زما دې د الله تعالی په ذات قسم وي! دنيا به تر هغه وخته نه خنميږي، چې تر څو پورې پر خلکو داسې ورځ راځي: چې قاتل به په دې نه پوهيږي، چې دا سړی زه پر څه باندې قتل کوم؟

او د مقتول وارثانو ته به هم دا نه ور معلوميږي: چې زموږ قريب پر څه باندې قتل سو، يو صحابي پيغمبر ﷺ ته وايي: چې دا به څنګه کيږي؟ پيغمبر ﷺ په جواب کې ورته وايي: چې دا به "هرج"زمانه وي، يعني: قتلونه به زيات وي، او قاتل او مقتول به دواړه جهنميان وي.

پر موجوده زمانه چې کله انسان نظر واچوي، او د پيغمبر ﷺ دغه الفاظ په دماغ کې راوګرځوي، انسان ته به داسې ډېر ښکاره سي: لکه پيغمبر ﷺ چې دغه زمانه ليدلې وي، او دا ئې فرمايلي وي.

په تېرو زمانو کې خو به داسې وه: چې ډېر ځله به قاتل نه معلوميدی، ليکن هغه وجه به معلومېدله: چې دا سړی پر څه باندې قتل سو، مثلاً د مال اخيستلو په وجه غلو دی قتل کړی، يا د يو دښمنۍ په وجه دی قتل سو.

ليکن اوس خو حالت داسې دی: چې د يو سړي به د يو چا سره نه د راکړې ورکړې تعلق وي، نه به ئې د يو سياسي ډلې سره تعلق وي، او نه به ئې د چا سره څه دښمني وي، بس هسې به بې وجې پر خپله لار روان قتل سي.

هغه په دا شکل چې يو ځای به بم وچاودل سي، دی به پکښې قتل سي، چې کم چا هغه بم ايښی دی، هغه ته هم نه ور معلوميږي: چې دا سړی ما پر څه باندې په دې بم سره قتل کړی، او نه به د هغه قتل سوي وارثانو ته ور معلوميږي: چې زموږ قريب ولې قتل سو، دا ټولې خبرې پيغمبر ﷺ ښکاره بيان کړې دي.

([1]) صحيح المسلم: حديث نمبر ٧٤٨٨

## په مکه مکرمه کې د فتنو ښوونه:

په یو حدیث کې چې د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه را نقل سوی دی، پیغمبر ﷺ د مکې مکرمې په باره کې فرمایلي دي:

........فإذا رأيت مكة قد بعجت كظائم ، ورأيت البناء يعلو رؤوس الجبال ، فاعلم أن الأمر قد أظلك﴾.(١)

د نن څخه څه کلونه مخکې د دغه حدیث صحیح مطلب د انسان په دماغ کې نه راتلی، لېکن اوس د انسانانو په فهم کې خبره راغله، د حدیث ترجمه دا ده: چې پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: چې کله د مکې مکرمې نس سره وچاودل سي، او په هغه کې د نهرو غوندي لاري و ایستل سي، او د مکې مکرمې عمارتونه د هغه د غرو څخه زیات لوړ سي، نو ته په دې پوه سه: چې دغه وخت د فتنې را رسېدلی دی.

## د "مکې مکرمې" په نس کې لاري وتل:

دا حدیث د څورلس سوه(۱۴۰۰) کاله څخه په کتابو کې لیکلی را روان دی، او د دې حدیث د تشریح کولو په وخت کې د حدیثو شارحین ټول حیران دي، چې د مکې مکرمې نس به څنګه سره وچاودل سي؟ او د نهرو په شان د لارو وتلو مطلب څه دی؟ هغه ځکه: چې د "مکې مکرمې" پر مځکه د دغه خبرو تصور کول مشکل وو.
لېکن نن چې کله انسان د "مکې مکرمې" مځکه ویني، نو داسي به ور ښکاره سي: چې پیغمبر ﷺ دا اوس دور د "مکې مکرمې" مځکه په خپلو سترګو لیدلی بیا ئې دا پیش ګوئي کړېده.
نن د "مکې مکرمې" څخه لاندي بېشماره لاري د سورنګانو په شکل کې وتلي دي، په مخکنیو دورو کې به شراحو د حدیث ډېر ځله داسي فرمایلي: چې نن سبا خو مکه مکرمه خشکه علاقه ده، او د ډېرو غټ غرونه دي، لیکن په را روانه زمانه کې به الله تعالی په دې کې نهرونه او ولې جاري کړي.

---

(١) مصنف ابن ابي شیبه: حدیث نمبر ۱۴۳۰۶

لېکن په موجوده دور کې چې انسان هغه سورنګان ويني. نو سمدستي به د پېغمبرﷺ د خبري حقانيت او صداقت ښکاره سي، چې په کم شکل د مکې مکرمې تر نس لاندي لاري وتلي دي، او هغه ځکه ځنګه سره پرې سوېده.

## د مکې مکرمې د عمارتونو لوړوالی:

دوهمه جمله پېغمبرﷺ دا فرمايلې ده: چې کله د هغې عمارتونه تر غرونو هم لوړ سي، د نن څخه څو کاله مخکې د چا په تصور کې دا خبره نه راتله، چې مکه مکرمه کې به د غرونو څخه هم لوړ عمارتونه جوړ سي، هغه ځکه چې مکه مکرمه د غرونو په مابين کې پرته ده.

لېکن نن چې انسان ورسي، او "مکه مکرمه" ته و ګوري، او د هغې عمارتونه او دعمارتو لوړوالی ويني، نو دستي به ئې د پېغمبرﷺ د وينا حقانيت او صداقت په دماغ کې راسي.

د دې حديث څخه داسي معلومېږي: چې پېغمبرﷺ څورلس سوه(۱۴۰۰) کاله مخکې د نن حالات په خپلو سترګو ليدلي، بيا ئې بيان کړي دي، الله تعالی د وحي په ذريعه دا ټولي خبري د يو روښانه ورځي په شکل پېغمبرﷺ ته ښکاره کړي وې.

ده مبارک يو يو شی ښکاره بيان کړی دی، چې په را روانه زمانه کي به څه کيږي، او هم ئې دا بيان کړي دي: چې په دغه زمانه کي به مسلمانانو ته کوم مشکلات او فتنې مخته راځي، او د دې سره ئې دا هم ښکاره کړي دي: چې په دې وخت کې د مسلمانانو لپاره کم عمل اختيارول ضروري دي.

چونکه د پېغمبرﷺ په احاديثو کي د فتنې متعلق يو څه نوري پېش ګوياني هم سوي دي، کچيري په را روانه جمعه کي موقع په لاس راغله، نو به د هغه متعلق څه وضاحت کوو.

خو اوس صرف زه تاسو ته دومره خبره کوم: چې د فتنو دور خو را رسېدلی دی، او يقيناً هم د هغه علامات اکثريت زموږ او ستاسو په معاشره کي ښکاره سوي دي، نو د خپل ځان د اصلاح فکر کول.

او د خپلي اصلاح د فکر ادنی درجه دا ده: چي د سهار څخه بیا تر ماښامه پوري کم ګناهونه د انسان څخه کیږي، هغه هر یو پر خپل ځای باندي د پرېښوولو فکر کول، او هره ورځ د الله تعالی و حضور ته توبه او استغفار پېشول.
او د هغه سره دا دعا کول: چي یا الله! د فتنو زمانه ده، ما او زما د کور انسانان او زما بچیان په خپل رحمت سره د فتنو څخه محفوظه وساته.
او همېشه پخپلو معمولاتو کي دا دعا شاملول:
............﴿اَللّٰهُمَّ اِنَّانَعُوذُ بِکَ مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنهَا وَمَا بَطَنَ﴾.(۱)
اې الله! موږ په تاسره د ټولو ظاهري او باطني فتنو څخه پناه غواړو، ځکه دا مبارکه دعا د پېغمبر ﷺ په معمولاتو کي هم شامله وه.
د دعا کولو سره سره د غیبت څخه، د غلط نظر کولو څخه، د فحاشۍ او عریانۍ د ګناهونو څخه او د مسلمان د زړه زهیر کولو د ګناه څخه، د رشوت د ګناه، د سود د ګناه څخه، چي څومره ممکنه وي، د خپل ځان حفاظت کول.
لېکن که یو سړی په غفلت کي ژوند تېروي، نه د ګناه څخه او نه د فتنې څخه مخ راګرځوي، بیا خو الله تعالی دي موږ وساتي، انجام به ئې ډېر خراب وي، ځکه ډېر ځله حالات داسي راسي.
چي پېغمبر ﷺ وایي: سهار به مؤمن وي، او چي ورځ ور باندي تېره سي، د خپلي بې احتیاطۍ په وجه ماښام چي کور ته راځي، د ایمان ذره به پکښي نه وي، او کله خو به ماښام مؤمن وي، لېکن سهار به د ایمان څخه خلاص سوی وي.
نو د بې احتیاطۍ انجام بیا ډېر خراب د انسان مخ لره راځي، نو احتیاط کول او د خپل ځان او د خپلو بچیانو د حفاظت فکر کول او د حفاظت تدابیر اختیارول، الله تعالی دي موږ او تاسو ټولو ته پر دغه خبرو د عمل کولو توفیق رانصیب کړي.

آمِيْن يَا رَبَّ العَالَمِيْن

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

(۱) اتحاف الخیرہ المهرہ: حدیث نمبر ۱۳۷۳

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیہ)

# د فتنې د دور علامې، (دوہم بیان)

(بیان)


مولوی **اطیع اللّٰہ** صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن



مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ھ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿ وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : ﴿إذا اتُّخِذَ الفَيءُ دُوَلاً والأمانةُ مَغْنماً والزَّكاةُ مغرَماً ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهید:

محترمو حاضرینو ! ستاسو په حضور کي په تېره جمعه کي ما دا مذاکره کړې وه: چي د پېغمبر ﷺ نبوت عالمي نبوت دی، د ده او د نورو انبیاؤو په مابین کي امتیاز دا وو: چي د نورو انبیاؤو نبوت به تر یو علاقې او تر یو قبیلې او تر یو خاصي زمانې پوري محدود وو.

لېکن د پېغمبر ﷺ نبوت تر قیامته پوري چي څومره زمانې راځي، او د مځکي پر مخ چي څومره قبیلې وجود لري، او د مځکي پر کُره باندي چي څومره خطې دي، هغوی ټولو ته وو، او د پېغمبر ﷺ په زړه کي د عام امت سره ډېره مینه وه، او دی به همېشه د عام امت سره د آسانۍ زیات طلب کونکی وو.

لکه قرآن کریم د پېغمبر ﷺ صفت هم داسي بیانوي:

............عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾.(۱)

(۱) سورة الانفال: آیت نمبر ۲۵
(۲) سنن ترمذي: حدیث نمبر ۲۲۱۰

چې کم کار او عمل به پر امت باندې مشکل وو، نو هغه به پر ده مبارک باندې ډېر بوج وو، او د ده سره همېشه د دې خبرې حرص وو: چې زما د امت سره به څنګه آسانې وسي؟ او دی پر خپل امت باندې ډېر مشفق او مهربانه وو.
او د ده شفقت او مهرباني پر هغه انسانانو باندې صرف نه وه: چې د ده په زمانه کې موجود وو، بلکه د ده شفقت تر قیامته پورې پر ټولو انسانانو باندې وو، ځکه چې تر قیامته پورې ټول انسانان د ده امت وو.
نو چې تر قیامته پورې به پر امت باندې کم مشکل راتلی، نو هغه به د ده لپاره د تکلیف سبب ګرځېدی.
نو تر قیامته پورې چې پر دې امت څومره مشکلات او حادثات او فتنې راتلونکې وې، هغه ټولې الله تعالی ده ته د وحي یا د الهام یا د خوب په ذریعه سره ور ښوولې وې، نو ګویا: ده د نبوت په نظر او نګاه سره لیدلې وې، او هم ئې امت ته د هغه خبرور کړی وو، او هم ئې د امت لپاره د هغه مشکلاتو او فتنو څخه د خلاصون لاره ښوولې وه.
چې د هغه راتلونکو مشکلاتو او فتنو بیانونکې احادیث محدثینو د احادیثو په کتابو کې د "کتاب الفتن" په عنوان سره پخپلو کتابو کې لیکلې دي، ما هم ستاسو په حضور کې په تېره جمعه کې د هغه یو څه حصه پېش کړه.
او په دې جمعه کې هم زه د هغه یو څه وضاحت نور کوم، چې زموږ او ستاسو په دماغو کې په واضحه طریقه سره هغه حالات راسي، او د هغه څخه د ځان خلاصولو په ترتیب باندې ځانونه پوه کړو، الله تعالی دې ماته د صحیح بیانولو توفیق رانصیب کړي، او الله تعالی دې موږ او تاسو ټولو ته د هغه فتنو او مشکلاتو څخه حفاظت رانصیب کړي.

## د حضرت علي ﷜ روایت:

حضرت علي ﷜ د پېغمبر ﷺ څخه د فتنو د زمانو او علامو متعلق یو روایت رانقل کوي، چې ده مبارک به فرمایل:

---

(۱) سورة التوبه: آیت نمبر ۱۲۸

........إِذَا فَعَلَتْ أُمَّتِيْ خَمْسَ عَشَرَةَ خَصْلَةً حَلَّ بِهَا الْبَلَاءُ فَقِيْلَ وَمَا هُنَّ يَا رَسُوْلَ اللهِ﴾.

چي کله زما په امت کي پنځلس(۱۵) خصلته او خويونه راسي، نو بيا به پر دوی باندي مشکلات او نابلده واقعات او فتنې راځي، يعني: دغه پنځلس(۱۵) خصلته به د مشکلاتو او فتنو لوی علامې وي.

يو صحابي پوښتنه کوي: اې د الله تعالی رسوله! هغه علامې څه دي؟ ده مبارک په جواب کي ورته وويل:

........إذا اتُّخِذَ الفَيءُ دُوَلاً والأمانةُ مَغْنَماً والزَّكاةُ مغْرَماً﴾.

چي کله انسان مال غنيمت او د مسلمانانو مشترک ملکيت او قومي خزانې ته د خپل ذاتي دولت په طور استعمالوي، نو دا د مسلمانانو دفتنو د زمانې اوله علامه ده.

د غنيمت مال د مسلمانانو مشترک مال بلل کيږي، د تقسيم څخه مخکي قطعاً ديو چا لپاره دا جائز ندی: چي د هغه څخه د خپل ځان لپاره يو شی مختص کړي، بلکه په هغه کي به اول تقسيم وي.

هغه په دا شکل چي ټوله مال به د مجاهدينو امير ته راجمعه کيږي، امير به د هغه څخه اول د دغه معرکې او قافلې مصرف جلا کوي، او باقي مانده مال به پنځه(۵) حصې کوي، پنځمه حصه به د بيت المال وي، او دا نوري څلور(۴) حصې به د مجاهدينو په مابين کي په دا شان تقسيموي: چي د سواره لپاره به دوې(۲) حصې وي، او د پياده لپاره به يوه حصه ور کوي.

په دغه پنځلس(۵) خرابيو کي اول پيغمبر ﷺ د غنيمت په مال کي خيانت کول په دې وجه بيان کړل: چي د ده مبارک په زمانه کي جهاد في سبيل الله د ټولو عباداتو څخه افضل ترين عبادت وو، او د اسلامي سلطنت پر څلور طرفه د الله تعالی د دين د کلمې د بلندۍ لپاره به معرکې رواني وې.

او د هر طرف څخه به د غنيمت مالونه راتلل، او په مسجد نبوي کي به د هغه د تقسيم سلسله شروع وه، نو د دغه اهميت په وجه پيغمبر ﷺ د ټولو څخه مخکي د غنيمت د مال خبره وکړه، د دې لپاره چي د مسلمانانو هر فرد امانتداره جوړ سي.

## په مال غنيمت کې د خيانت کولو نقصان:

ځکه چې کله د مجاهدينو څخه په مال غنيمت کې خيانت وسي، او هغه د تقسيم څخه مخکې غلط استعمال کړي، نو بيا خو الله تعالى د دوى په زړونو کې د کفارو رعب اچوي، او د کفارو د زړو څخه د دوى رعب او وېره ختموي، لکه د پېغمبر ﷺ حديث مبارک دى:

چې حضرت حبيب بن مسلمه ئې د حضرت ابو ذرغفاري رضي الله عنه څخه رانقل کوي، چې پېغمبر ﷺ به فرمايل:

......... ﴿إِنْ لَمْ تَغُلَّ أُمَّتِيْ لَمْ يَقُمْ لَهُمْ عَدُوٌّ أَبَدًا﴾.

کچيرې زما امت په مال غنيمت کې خيانت ونه کړي، نو د ښمن هيڅ کله هم د دوى و مخته درېدلای نسي.

چيکله به حبيب بن مسلمه د جهاد څخه راغلی، نو خپل استاد حضرت ابوذر رضي الله عنه به د ده څخه همېشه پوښتنه کوله:

......... ﴿هَلْ يَثْبُتُ لَكُمُ الْعَدُوُّ حَلْبَ شَاةٍ﴾.

چيکله تاسو د دښمن سره مخامخ سئ، ايا دښمن د يوې بزې د لوښلو مقدار ستاسو و مخته استقامت کولای سي؟ هغه به ورته وويل:

......... ﴿قَالَ نَعَمْ وَثَلَاثَ شِيَاهٍ غُزْرٍ﴾.

هو دېر ځله د يوې بزې لوښل خو څه کوې، بلکه د درو(۳) بزو د لوښلو مقدار هم زموږ و مخته استقامت کولای سي، نو به حضرت ابوذر رضي الله عنه و ده ته ويل:

......... ﴿غَلَلْتُمْ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ﴾.(۱)

زما دي په رب د کعبې قسم وي، چې تاسو دغنيمت په مال کې خيانت کونکي ياست.

ابن عساکر د سفيان بن عيينه څخه روايت نقل کوي:

د حضرت عمر رضي الله عنه په دور کې چيکله به د مجاهدينو قافله واپس خپل کلي ته راغله، نو حضرت عمر رضي الله عنه به د دوى څخه پوښتنه کوله: ايا دښمن ستاسو و مخته په حالت د جنګ کې استقامت کولای سي؟ او د مقابلې توان لري؟ که به هغوى وويل: چې هو!

---

(۱) المعجم الاوسط لابو القاسم الطبراني: حديث نمبر ۸۱۰۸

استقامت کوي، نو ده به سمدستي ورته وفرمايل: بيا خو تاسو په غنيمت کي خيانت کونکي معلوميږئ.
د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه هم يو روايت رانقل دی: چي ده مبارک به فرمايل:

- چي کم قوم په مال غنيمت کي خيانت شروع کړي، نو الله تعالی به د دوی په زړو کي ببره اورعب واچوي.
- چي په کم قوم کي زنا عامه سي، نو الله تعالی به په هغه کي نابلده ناجوړه ښکاره کړي.
- او چي کم قوم په ناپ او تول کي کمی کوي، الله تعالی به د هغوی رزق ور کم کړي.
- او چي کم قوم ناحقه د قضاوت فيصلې کوي، نو الله تعالی به په هغه قوم کي قتلونه زيات کړي.
- او چي کم قوم د وعدې مخالفت شروع کړي، نو الله تعالی به پر دوی باندي د ښمن مسلط کړي.

دا روايت که څه هم موقوف دی، خو د مرفوع په حکم کي دی.[1]

## په مال غنيمت کي د خيانت کولو يو واقعه:

په بخاري شريف کي په مال غنيمت کي د خيانت کولو د وعيد يو واقعه درې(۳) ځايه ذکر سوېده، چيکله پېغمبر ﷺ خيبر ته راغلی، نو د "بني ضبيب" قبيلې يو مشر حضرت رفاع ابن زيد ده ته يو غلام هديه کړی، او هغه غلام به د پېغمبر ﷺ د سوارلۍ کجاوه او د سفر سامان او د اوداسه د اوبو برابرولو خدمت کاوی.
په بعضو ځايو کي د هغه غلام نوم: "کَرکَره" را غلی دی، او په نورو رواياتو کي بيا د غلام نوم: "مِدعم" ليکلی دی.
چيکله پېغمبر ﷺ د خيبر څخه فارغه سو، نو مدينې منورې ته واپس راتلی، نو په لاره کي په "وادی القریٰ" شله کي پېغمبر ﷺ د لښکر سره شپه تېرو له.

---

(1) دعوت جهاد: صفحه نمبر ۶۳۶

هلته هغه غلام د پېغمبر ﷺ کجاوه برابروله، چونکه قافله د جهاد ځخه را روانه وه، او انسانان ټول مسلح وه، نو يو نامعلومه غشى راغلى، او د هغه غلام په دې غاړه کي ولګيدى، چي د هغه ځخه دي پر هغه ځاى باندي مړ سو.

صحابه کرام ور باندي راټول سول، او ده ته ئې د جنت مبارکي ور کوله، او ويل به ئې: "هَنِيئاً لَهُ اَلْجَنَّةُ" د جنت دي مبارک وي، ځکه چي صحابي هم دى، او د پېغمبر ﷺ خاص خادم دى، او په جهادي سفر کي مرګ ور ته راغلى.

پېغمبر ﷺ چيکله واورېدل، نو ئې ورته وويل:

............كلا وَالَّذِي نَفسِي بِيَدِهِ ، إِن الشَّمْلَة الَّتِي أخذهَا يَوْم خَيْبَر من الْغَنَائِم لَمْ تُصِبْهَا اَلْمَقَاسِمُ لَتَشْتَعِلُ عَلَيْهِ نَارًا﴾.(۱)

هرګز داسي نده! زما دي په هغه ذات سره قسم وي! چي د ځا په قبضه او قدرت کي زما روح او ساه ده، د خيبر په ورځ په مال غنيمت کي د تقسيم کېدلو ځخه مخکي ده يو چادر د هغه ځخه پټ اخيستى دى، او هغه چادر اوس د جهنم اور دى چي په ده پوري مښتى دى.

ځو مره د عبرت خبره ده: چي صرف د يو چادر په وجه د پېغمبر ﷺ خادم او غلام هم جهنم ته روان دى، چيکله صحابه کرامو دا خبره واورېدله، نو يوه به يو چمپل او بوټ را ځغلاوى، او چا به د بوټ تسمه واپس راوړله.

## د قومي خزانې غلا کونكى ځوک دى؟

چيکم حکم د مال غنيمت دى، بعينه داغه حکم د مسلمانانو د قومي خزانې هم دى، او چي کم وعيدونه د مال غنيمت په باره کي دي، بعينه داغه وعيدونه د قومي خزانې د ضائع کولو په باره کي هم دي، ځکه دا هم د مسلمانانو مال مشترک دى.

نن چي زموږ په معاشره باندي انسان نظر واچوي، نو دا به دستي ور ښکاره سي: چي انسانان د قومي خزانې ځخه په کم شکل غلطي استفادې کوي، او بيا دا خبره صرف تر حکمرانانو پوري خاصه نده، بلکه هر سړى چي په کم شکل ئې وس ورسيږي، نو هغه په هغه شکل د قومي خزانې ځخه غلطه استفاده کوي.

---

(۱) السنن الصغرى لاحمد البيهقي: حديث نمبر ۲۹۵۷

چنانچه ډېر داسي کارونه دي، چي موږ او تاسو د هغه هيڅ پروا نه کوو، چي د هغه په وجه زموږ قومي خزانې ته څومره نقصان رسيږي.

مثلاً: بعضي خلک د بجلۍ او برق غلا کوي، او هغه پر هيڅ نه بولي، چي په کمو علاقو کي ګيس سته، نو ډېر خلک د هغه په ميټر کي چمونه کوي، او په غلا ئې استعمالوي، او پر هيڅ ئې نه بولي، بعضي خلک نور حکومتي وسائل په خپلو ذاتي ضروریاتو کي استعمالوي، او د هغه هيڅ پرواه نه لري، حالانکه دا ټولي د قومي خزانې څخه غلا کول بلل کيږي.

او دغه غلا ډېر زياته خطرناکه هم وي، هغه ځکه که يو سړی د يو چا کور ته ورواوړي، او د هغه څخه غلا وکړي، چي کله ئې په زړه کي د رجوع کولو اراده راغله، نو د هغه تلافي کول آسانه وي.

چي څومره پيسي دي، د هغه څخه په غلا وړي دي، نو هغه بيرته واپس ور وړه، او يا د هغه څخه معافي واخله، چي زما څخه غلطي سوېده، ما معاف کړه، چي کله هغه ته معاف کړې، نو بس معامله صفا سوه.

لېکن چي کم سړي د قومي خزانې څخه غلا وکړه، او هغه د لکونو انسانانو مشترک ملکيت دی، اوس به د هغه سړی چا ته خپل حق ور رسوي، او په چا به ئې معافوي، دا د ده د وس او طاقت خبره نه ده.

حالانکه دا "حقوق العباد" دي، چي کله خپل مالک ته نه ورسيږي، او يا د هغه څخه معافي وا نه خيستل سي، بيا ئې الله تعالی هم نه معافوي، نو د دې سزا الله تعالی دغه بنده ته په جهنم کي ور کوي.

## په قومي مال کي د خيانت کونکو د قبر حالات:

حضرت رافع ﷛ فرمايي: زه يو ځل د پېغمبر ﷺ سره "جنت البقيع" قبرستان ته ورغلم، نو هلته پېغمبر ﷺ د اُف، اُف په ويلو سره ډېر زيات د افسوس حالت ښکاره کړی، زما دا خيال سو: چي شايد زما څخه يو غلطي وسوه، چي پېغمبر ﷺ دا کلمه ادا کوي.

ما فوراً د ده په حضور کې عرض پيش کړی: چې حضرت زما څخه څه خطا وسوه؟ ده مبارک راته وويل: چې څه مطلب؟

ما ورته وويل: چې حضرت! تا ماته وکتل، او بيا دې دغه د افسوس کلمه استعمال کړه، نو ده راته وفرمايل: چې تاته په کتلو سره ما دا کلمه نه ده استعمال کړې، بلکه په دغه مخامخ قبر کې چې کم مړی پروت دی، دا فلانکی سړی دی، چې ما دی د يو قبيلې د زکوة وصول کولو لپاره عامل جوړ کړی وو.

او دده څخه هلته د زکوة په مالونو کې خيانت سوی وو، او د هغه څخه ئې يوه کرته يعني قميص د خيانت کولو په شکل پټ کړی وو، اوس زه دی وينم: چې هغه قميص د اور دی، په ده باندې اغوستل سوی دی.(١)

دغه روايت د قومي او ملي کار کونکو لپاره ډېر لوی عبرت دی، کچيرې د قومي او ملي ذمه دارۍ په ادا کولو کې د انسان څخه کوتاهي وسي، نو په قبر کې بيا د دردناک عذاب سره د مخامخ کېدلو ډېره لويه خطره وي، الله تعالی دې زموږ ټولو په زړونو کې خپل خوف او خشيت را پيدا کړي.

## دوهمه علامه په امانت کې خيانت کول:

پېغمبر ﷺ د فتنو د زمانې دوهمه علامه دا بيان کړېده: چې:

......وَالْاَمَانَةُ مَغْنَمًا﴾.

چې امانت مال د ځان لپاره غنيمت بلل، يعني: په امانت کې خيانت کول، او د امانت په ښه طريقه سره خيال نه ساتل.

الله تعالی په قرآن کريم کې هم انسانانو ته دا امر کوي: چې تاسو به د امانت رسول و خپل اهل ته کوئ، لکه د قرآن کريم آيت دی:

......اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمَانَاتِ اِلٰی اَهْلِهَا﴾.(٢)

الله تعالی انسانانو ته دا حکم کوي: چې تاسو به امانتونه تر خپلو حقدارانو پورې رسوئ.

---

(١) مسند احمد: جلد نمبر ٦، صفحه نمبر ٣٩٢، شرح الصدور: صفحه نمبر ٢٢٨

(٢) سورة النساء: آيت نمبر ٥٨

چې کله د مسلمانانو په معاشره کې په امانت کې د خیانت سلسله شروع سي، نو په دې پوه سه: چې د دې معاشرې اوس خیر نسته، ځکه: چې په دې وخت کې به دغه معاشره په مختلفو مصیبتو او فتنو کې مبتلا کیږي.

او د امانت خیال ساتل، دا د انسان د کامل ایمان علامه بلل کیږي، لکه د پیغمبر ﷺ په یو حدیث کې هم داسې راځي:

........لاَ إِيْمَانَ لِمَنْ لاَ أَمَانَةَ لَهُ ، وَلاَ دِينَ لِمَنْ لاَ عَهْدَ لَهُ﴾.(١)

حضرت انس بن مالک رضی الله عنه دغه حدیث رانقل کوي، چې پیغمبر ﷺ به موږ ته همیشه په هره خطبه کې دا ویل:

چې په کم چا کې د امانت خیال ساتل نه وي، په هغه کې کامل ایمان نسي راتللای، او چې په کم چا کې د وعدې خیال ساتل نوي، هغه په کامله طریقه دینداره نسي جوړیدلای.

بلکه پیغمبر ﷺ په امانت کې خیانت کول، د منافق د څلورو(۴) علامو څخه یوه علامه ګرځولې ده، لکه په بخاري شریف کې د پیغمبر ﷺ دا حدیث را نقل سویدی: چې د منافق څلور(۴) علامې دي:

١. .......إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ﴾. چیکله د خلګو سره خبرې کوي، نو درواغ وایي.

٢. ......إِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ﴾. او چیکله امانت په لاس ورسي، نو خیانت پکښې کوي.

٣. ......وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ﴾.او چیکله د یو چاسره وعده وکړي، نو په هغه کې دوکه کوي.

٤. ......وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ﴾. چیکله د یو چا سره ئې جګړه سي، نو بنکنځل کوي.(٢)

نو زموږ په دین کې د امانت خیال ساتل، ډېر اهم عمل دی، او د امانت ضائع کول، د دې امت د فتنو او مصیبتو راتللو علامه ده.

(١) اتحاف الخيرة المهرة، حديث نمبر ١٢٧

(٢) صحيح البخاري: حديث نمبر ٢۴۵٩

## پر شپږو کارو د جنت ذمه داري:

د پیغمبر ﷺ حديث مبارک دی: چې حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه ئې رانقل کوي، چې ده مبارک به موږ ته ویل: کچیرې تاسو ماته د شپږو خبرو ذمه داري راکړئ، يعني: چې د هغه به موږ حفاظت کوو، او هغه به غلط نه استعمالوو، نو زه تاسو ته د جنت ذمه داري درکوم.

۱. ..........اَصْدِقُوْا إِذَا حَدَّثْتُمْ﴾. چیکله خبرې کوئ، نو تاسو رشتیا وایاست.
۲. ..........وَأَوْفُوْا إِذَا وَعَدْتُّمْ﴾. چیکله وعده وکړئ، هغه پوره کوئ.
۳. ..........وَأَدُّوْا إِذَا ائْتُمِنْتُمْ﴾. امانت و خپل حقدار ته رسوئ.
٤. ..........وَاحْفَظُوْا فُرُوْجَكُمْ﴾. د خپلو شرمګاهونو حفاظت کوئ.
۵. ..........وَغُضُّوْا أَبْصَارَكُمْ﴾. او خپل نظر کښته ساتئ.
٦. ..........وَكُفُّوْا أَيْدِيَكُمْ﴾. او خپل لاسونه د ظلم څخه راګرځوئ.

نو پر کومو شیانو چې پیغمبر ﷺ د جنت ضمانت انسانانو ته ور کوي، په هغه کې هم پیغمبر ﷺ د امانت خیال ساتل بیان کړي دي.

## دريمه علامه، زکوة تاوان بلل:

چې کوم څوک الله تعالی د نصاب مالک وګرځاوي، نو هغه به خپل دولت پر څلویښت(۴۰) حصو تقسیم کوي، او په هغه کې به یوه حصه لازماً تر فقیرانو او مسکینانو پورې رسوي.

د نصاب مالک په حقیقت کې د هغه حصې مالک ندی، بلکه د هغه صرف منتظم دی، چې کم فقیر او مستحق ته ئې زړه وغواړي، ور کولای ئې سي.

نو د مال مالک باید پخپل زړه او دماغ کې دا خبره کښېنوي، چې زه د دغه مال د څلویښتمي حصې مالک نه یم، چې کله په دماغ او زړه کې دې خبرې ځای ونیوی، نو بیا د زکوة ادا کول، هیڅکله هم پر طبیعت باندې بوج نه راولي، بلکه په خوشحالي سره به دی زکوة ادا کوي، او هیڅکله به پر فقیرانو باندې احسان نه اچوي.

نو پیغمبر ﷺ وايي: چیکله داسي زمانه راسي: چي مالداران د خپل مال زکوة ادا کول د خپل ځان لپاره تاوان بولي، نو دا د امت لپاره د خیر زمانه نه بلل کیږي، او پر امت به مختلف قسمونه فتنې او مصیبتونه راځي.

## د زکوة ادا کولو فضیلت:

د زکوة ادا کولو فضائل خو ډېر زیات دي، چونکه په دې مختصر وخت کي د هغه ټولو پېشول ناممکن دي، خو زه بیا هم د وخت څخه د استفادې په خاطر ستاسو و حضور ته د پیغمبر ﷺ یو څو احادیث پېشوم.
پیغمبر ﷺ د یو صحابي د سوال په جواب کي ورته فرمایي: د خپل مال زکوة ادا کوه، ځکه زکوة به ستا مال صفا کوي، او ستا د قریبانو سره به ستا وصله رحمي پیدا کړي.
په یو بل حدیث کي پیغمبر ﷺ فرمایي: زکوة د اسلام یو پُل دی، یعني: زکوة به د قیامت په ورځ د دوزخ پر سر یو پُل جوړیږي، چي کم څوک زکوة ادا کوي، هغه به پر دغه پُل باندي تیریږي، او د جهنم څخه به نجات پیدا کوي، او چي کم څوک د زکوة خیال نه ساتي، نو هغه به د دغه پُل څخه لاندي په جهنم کي لویږي.
داغه رنګه پیغمبر ﷺ فرمایي:
......حَصِّنُوا أَمْوَالَكُمْ بِالزَّكَاةِ وَدَاوُوا مَرْضَاكُمْ بِالصَّدَقَةِ وَاسْتَقْبِلُوا أَمْوَاجَ الْبَلَاءِ بِالدُّعَاءِ وَالتَّضَرُّعِ﴾.(۱)
تاسو د خپلو مالونو د حفاظت لپاره د زکوة قلعه جوړه کړئ، او د خپلو بیمارانو د شفا لپاره صدقې و کړئ، او په عاجزي او دعا سره د فتنو او مصیبتونو مخ ونیسئ.

## پر زکوة نه ادا کولو باندي وعیدونه:

چي کم سړی د نصاب مالک وي، او زکوة نه ادا کوي، د پیغمبر ﷺ په احادیثو کي د هغه لپاره سخت وعیدونه راغلي دي، لکه په یو حدیث کي پیغمبر ﷺ فرمایلي دي:
دوزخ ته د ټولو څخه مخکي درې(۳) کسان ور لویږي:
۱. ظالم بادشاه، چي د خپل رعیت سره ظلم کونکی وي.

(۱) الترغیب و الترهیب: حدیث نمبر ۴۵۶

۲. بخيل مالدار، چې د خپل مال زکوة نه ادا کوي.
۳. مسکين متکبر، چې د مسکنت سره ژوند په کبر کې ور باندې تيريږي.
په يو بل حديث کې حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايي: الله تعالى موږ ته د لمانځه او زکوة ادا کولو حکم کړی دی، او د دې سره سره ئې دا حکم هم راته کړی دی: چې کم څوک زکوة نه ادا کوي، د هغه لمونځ هم نه قبليږي.

## د قيامت په ميدان کې د زکوة نه ادا کونکی حالت:

په يو حديث کې پيغمبر ﷺ فرمايي: چې کم انسان د خپل مال زکوة نه ادا کوي، نو هغه مال به د قيامت په ورځ د يو اژدها مار په شکل کيږي، چې د هغه پر سترګو به دوه(۲) تور ټکي وي، او د دغه مالداره په غاړه کې به زندې وي، او په نيښ به دی وهي، او دا به ورته وايي: زه ستا هغه مال يم، زه ستا هغه مال يم: چې د هغه تا په دنيا کې زکوة نه ادا کوی.

## د مال هلاک کولو مطلب:

په يو حديث کې پيغمبر ﷺ فرمايي: چې کم چا د زکوة مال د خپل مال سره يو ځای کړې، الله تعالى به د ده پر مال باندې هلاکت مسلط کړي.
د دې مطلب دا: چې يو سړی مالداره دی، ليکن د خپل مال زکوة نه ادا کوي، او هغه راګرځوي، او د خپل مال سره ئې يو ځای کوي، نو د هغه د زکوة مال به د ده مال هلاک کوي.
او دوهم مطلب ئې دا: چې دی پخپله مالداره وي، او صاحب نصاب وي، يعني: دی مستحق د زکوة نوي، د هغه باوجود بيا هم د خلکو څخه زکوتونه را ټولوي، او د خپل مال سره ئې يو ځای کوي، نو دغه د زکوة مال به د ده مال ورتباه کوي.
په يو حديث کې پيغمبر ﷺ فرمايي: چې کم قوم زکوة بند کړي، الله تعالى به پر دوی باندې قحط سالي راولي.
داغه رنګه يو حديث لا دا هم راځي: چې کم قوم زکوة ور کول بند کړي، نو الله تعالى به د دوی څخه باران بند کړي.

نو مقصود دا: چي زکوة د اسلام په ارکانو کي اهم رکن دی، او پر پيغمبر ﷺ باندي په دوهم کال د هجرت په مدينه منوره کي فرض سوی دی، او په قرآن کريم کي د زکوة لفظ د صلوة د لفظ سره تقريبا دو ديرش(۳۲) ځايونه ذکر سوی دی، او د صلوة څخه عليحده هم قرآن کريم څو ځايه ذکر کړی دی، د دې څخه د زکوة عظمت او فرضيت معلوميږي.

د توحيد د کلمې او د لمانځه څخه وروسته دا د اسلام دريم عظيم الشان رکن دی، چي د هغه څخه انکار کونکی مسلمان نسي کيدلای، او د هغه نه ادا کونکی ډېر غټ ګنهګار بلل کيږي.

په دنيا کي به هغه مال د ده لپاره وبال جان وي، او په آخرت کي به د بدترين عذاب سبب ګرځي.

بهر حال پيغمبر ﷺ دا خبره ښکاره کړېده: چي په کم دور کي د مسلمانانو مالداران زکوة د ځان لپاره نقصان او تاوان ګڼي، نو دغه دور د مسلمانانو د فتنو او مصيبتو دور بلل کيږي، چي عام مسلمانان به په دغه دور کي د سختو مشکلاتو سره مخامخ ګرځي.

چونکه پيغمبر ﷺ پنځلس علامې د فتنو د دور بيان کړي دي، او اوس حالاً ما ستاسو په مخ کي درې علامې په وضاحت سره پيش کړې:

۱. مال غنيمت او د مسلمانانو مشترک اموال ذاتي دولت بلل.
۲. په امانت کي خيانت کول.
۳. او زکوة تاوان بلل.

کچيري زندګي وه، د باقي علامو متعلق به په راروانو جمعو کي تفصيلاً وينا کوو، الله تعالى دي زموږ او ستاسو دغه مجالس قبول او مقبول وګرځوي.

او هم دي ئې زموږ او ستاسو لپاره او زموږ او ستاسو د والدينو لپاره ذريعه د مغفرت او نجات وګرځوي، الله تعالى دي په دغه مجالسو موږ او تاسو ټولو ته د عمل کولو توفيق را نصيب کړي.

آمِيْن يَا رَبَّ العَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالى عَلى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ اللهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# د فتني د دور علامي، (دریم بیان)

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ھ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحیم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿ وَأَطَاعَ الرَّجُلُ زَوْجَتَهُ، وَعَقَّ أُمَّهُ، وَبَرَّ صَدِيقَهُ، وَجَفَا أَبَاهُ، ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰه رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهید:

محترمو حاضرینو! د تېرو څو جمعو څخه ستاسو په حضور کي زه د یوې خبري اعاده او تکرار کوم، چي د پیغمبر ﷺ نبوت عالمي نبوت دی، د ده او د نورو انبیاؤو په مابین کي امتیاز دا وو: چي د هغوی نبوت به تر یو خاصي زماني او خاصي علاقې پوري محدود وو.

لیکن د پیغمبر ﷺ نبوت تر قیامته پوري چي څومره انسانیت راځي، او د مځکي پر کره باندي چي څومره انسانان اوسیږي، او څومره قبیلې او علاقې دي، هغه ټولو ته وو.

نو پیغمبر ﷺ چي تر قیامته پوري د ده پر امت کم حالات او مشکلات او پرېشانۍ او فتنې راځي، د هغوی اکثرو بیان ئې خپل امت ته کړی دی، او هم ئې د هغه علامې د خپل امت په مخ کي ښکاره کړي دي، او هم ئې د هغه څخه د نجات او خلاصون ذرائع او لاري و امت ته ور ښوولي دي.

(۱) سورة الانفال: آیت نمبر ۲۵

(۲) المعجم الاوسط لابو القاسم الطبراني: حدیث نمبر ۴۶۹

لکه په تېره جمعه کې ما ستاسو په مخ کې د حضرت علي رضي الله عنه د روایت یو څو جملې بیان کړې، چې په هغه کې ده د فتنو د زمانې علامې د پېغمبر ﷺ څخه اورېدلي، او په هغه روایت کې را جمعه کړې دي.

لکه دی مبارک فرمایي: چې پېغمبر ﷺ به و موږ ته فرمایل:

...........﴿إذَا فَعَلَتْ أُمَّتِيْ خَمْسَ عَشَرَ خَصْلَةً حَلَّ بِهَا الْبَلَاءُ﴾.

چیکله زما په امت کې پنځلس(۱۵) عادتونه راسي، نو دغه وخت بیا پر دوی د مشکلاتو او فتنو زمانه وي، بیا به فتنې پر دوی باندې د باران په شکل راځي، لکه د باران څاڅکي چې یو وچ سوی نوي، دوهم را لوېږي، داغه رنګه چې اوله فتنه ختمه سوې نوي، دویمه به را رسیږي، هغه علامې دا دي:

۱. ...........﴿إذا كانَ الْمَغْنَمُ دوَلاً﴾. چیکله د مسلمانانو مشترک مال ته لکه غنیمت او بیت المال ته خلګ د ذاتي دولت په نظر ګوري.

۲. ...........﴿والأمانَةُ مَغْنَماً﴾. او د معاشرې انسانان امانت د مال غنیمت په شکل استعمالوي، یعني: په امانت کې خیانت شروع کړي.

۳. ...........﴿والزَّكاةُ مَغْرَماً﴾. او مالداران د الله تعالی حق زکوة هغه د ځان لپاره غُرم او نقصان وبولي.

نو چیکله په معاشره کې دغه علامې ښکاره سي، نو دا د فتنو زمانه بلل کیږي، د دې درو(۳) سروو علامو متعلق ما په تفصیل سره ستاسو په مخ کې په تېره جمعه کې خبره پیش کړېوه.

نن بیا زه د هغه حدیث څخه یو دوې مختصرې جملې را اخلم، او د هغه وضاحت ستاسو په مخ کې ایږدم، الله تعالی دې ماته د صحیح وضاحت کولو توفیق را کړي، او هم دې موږ او تاسو ټولو ته پر دغه خبرو د عمل کولو توفیق را نصیب کړي.

٤. ...........﴿وَأَطَاعَ الرَّجُلُ زَوْجَتَهُ، وَعَقَّ أُمَّهُ﴾. او انسانان د خپلو زنانو اطاعت کوي، او د خپلو میندو نافرماني کوي.

٥. ...........﴿وَبَرَّ صَدِيقَهُ، وَجَفَا أَبَاهُ﴾. د خپلو دوستانو سره د نیکۍ او د ښو اخلاقو ژوند تېروي، لېکن د پلار سره ئې معامله د سختۍ او نافرمانۍ وي.

## د مور او پلار حقوق:

علماؤو ليکلي دي: چي کچيري الله تعالی په خپل کتاب کي د مور او پلار د احترام او حقوقو تاکيد هم نو اى کړی، نو په عقل سره هم د مور او پلار احترام کول او د هغه د حقوقو خيال ساتل واجب معلوميږدل.

ځکه چي مور او پلار هغه مخلوق دی، چي په ټوله انسانيت کي د خپل بچي سره زيات مينه او محبت لري، او هم الله تعالی د خپل بچي د پيدائش مجازاً ذريعه ګرځولي دي.

او دا هغه څوک دي: چي په ټوله انسانيت کي د خپل بچي په کاميابي زيات خوشحاله کېدونکي دي، او د خپل بچي په ناکامي زيات پرېشانه کېدونکي دي.

اوس چي الله تعالی پخپلو آسماني کتابو: تورات، زبور، انجيل، او قرآن کي هم دا ضروري وګرځول، نو اوس ئې نور هم اهميت پيدا کړی.

ځکه الله تعالی ټولو انبياؤو ته د مور او پلار د حقوقو ادا کولو وحي او وصيت کړی دی، او خپله رضا ئې د مور او پلار رضا ګرځولې ده، او د هغوی په ناراضي کي ئې خپله ناراضي ياده کړېده.

نو چيکله په معاشره کي د مور او پلار نافرماني روانه سي، نو دا د امت د خير زمانه نده، بلکه پر دغه امت به مصيبتونه او فتنې را رواني وي، ځکه: چي د مور او پلار سره ښه زندګي کول، واجب دی.

په حديث شريف کي راځي: چي حضرت بهز بن حکيمﷺ د خپل پلار څخه هغه بيا د ده د نيکه څخه روايت رانقل کوي.

چي ما د پېغمبرﷺ څخه پوښتنه وکړه: چي اې دالله تعالی رسوله!

............مَنْ أَبَرُّ؟﴾. زه د چا سره احسان وکړم؟

ده مبارک په جواب کي راته وويل:

............ أُمَّكَ﴾.

د خپلي مور سره احسان وکړه.

ما دوهم ځل بيا پوښتنه ځني وکړله: چي بيا د چا سره احسان وکړم؟

............قَالَ: أُمَّكَ﴾. ده بيا راته وويل: چي د خپلي مور سره احسان کوه.

تر دې حده چې ما درې (۳) ځله دغه خپله پوښتنه راوګرځوله، او ده درې (۳) سره ځله داغه جواب راکړی، په آخر کې ئې راته وویل: چې د خپل پلار سره احسان کوه، بیا چې تاته په قرابت کې څومره در نږدې وي، د هغه سره احسان کوه.(۱)

ځونکه په مور او پلار کې مور ډېره ضعیفه مخلوق دی، او هغه بعضې وخت د انسان داسې تکلیفونه برداشت کوي، چې پلا ر په هغه باندې خبر هم نوي، نو ځکه پېغمبر ﷺ د مور حق د پلار په پرتله درې (۳) چنده زیات ښوولی دی.

۱. مور نه میاشتې د حمل په شکل د بچې زیات تکلیفونه برداشت کوي، ټوله شپه کله پر یو اړخ او کله پر بل اړخ اوړي، او شپه ټوله په بې آرامې ور باندې تېره سي، او د ورځې هم ډېر ځله د بدن د دروند والي پخاطر د هغې په اندامو کې دردونه پیدا کېږي، او پلار بالکل په دغه تکلیف برداشت کولو کې هیڅ حصه هم نلري.

۲. د ولادت په وخت کې بالکل پر دې غریبه باندې د مرګ او ژوند دعوه وي، او دا یو ساعت د خپل ژوند د بقا طمعه نلري، او دا پر دې باندې د سخت تکلیف زمانه وي، لېکن پلار بالکل په دغه تکلیف خبر نوي.

۳. د ولادت څخه وروسته تر دوو (۲) کالو پوري دا د خپل بدن جوهر په بچي باندې خوري، او هم روزانه دبچي د بولو صفا کولو د ورځې څو ځله تکلیف برداشت کوي، ډېر ځله داسې هم وي: چې بچی د شپې ناآرامه وي، او دا ټوله شپه ناآرامه او په وېښه ور سره تېره کړي، لېکن سهار د غصې پر ځای ئې پر مخ مچوي، او وایي: چې زما بچي شپه ډېره په بې آرامی سره تېره کړه، او د دغه تکلیف یوه ذره هم پلار نه ویني.

## د مور د خدمت بدله نسي ور کېدلای:

یو ځل یو صحابي د پېغمبر ﷺ حضور ته راغلی، او د خپلې مور شکایت ئې وکړی: چې اې د الله تعالی رسوله! زما مور ډېره بدخویه او سخت مزاجه ده، او همېشه داسې خبرې کوي: چې بالکل د برداشت نه وي.

---

(۱) سنن ترمذي: حدیث نمبر ۱۸۹۷

پېغمبر ﷺ هغه صحابي ته وايي: چي تر نو (۹) مياشتو پوري چيکله مور په خپل نس کي ګرځولې، نو په هغه وخت کي خو دا بدمزاجه نوه.

هغه صحابي ورته وايي: اې د الله تعالى رسوله! زه دا خبره حقيقتاً کوم: چي د هغې بدمزاجي ډېره زياته ده.

پېغمبر ﷺ ورته وايي: چيکله به دا ټوله شپه ستا په خاطر ويښه وه، او تاته به ئې د خپلي سينې شودې درکولې، نو هغه وخت خو دا بدمزاجه نوه.

هغه صحابي ورته وايي: چي ما د مور د هغه احساناتو بدله پوره پوره ور کړېده،

پېغمبر ﷺ ورته وايي: هغه دي څه بدله ور کړېده؟ دی په جواب کي ورته وايي: چي ما پر خپلو وږو باندي کښېښنولې، او په دې باندي مې د بيت الله حج کړی دی.

پېغمبر ﷺ جواب ورکوي: ايا ته و دغه خپلي مور ته د هغه درد چيکله ته پيدا کېدلې، او ستا د پيدائش په وخت کي پر دې باندي تېرسو، بدله ور کولای سې؟[1]

## د مور او پلار نافرماني، ډېره لويه ګناه ده:

په رواياتو کي راځي: يو ځل پېغمبر ﷺ صحابه وو ته وويل:

........﴿اَلَا اُنَبِّئُكُمْ بِاَكْبَرِ الْكَبَائِرِ؟﴾.

ايا زه تاسو ته اکبر الکبائر يعني د ټولو څخه لوی د ګناه اعمال دروښيم؟ صحابه کرام ورته وايي: اې د الله تعالى رسوله! ضرور ئې را وښيه.

پېغمبر ﷺ ورته فرمايي: چي د ټولو څخه لوی د ګناه اعمال درې (۳) دي:

۱. ...........﴿الشِّرْكُ بِاللهِ﴾. د الله تعالى سره شريک نيول، او د الله تعالى په عبادت کي بل څوک د ده سره برابر منل، د دې څخه الله تعالى ډېر زيات ناراضه کيږي.

۲. ...........﴿وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ﴾. د مور او پلار نافرماني کول، دا هم ډېر زيات د الله تعالى د ناراضګۍ سبب ګرځي.

---

(۱) ماخوذ از حسن معاشرت: صفحه نمبر ۴۸

۳. ..............شَهَادَةُ الزُّورِ،أَوْ قَوْلُ الزُّورِ﴾. د درواغو شاهدي ادا کول، يا صرف درواغ ويل، ځکه چي د درواغو ويلو په ذريعه سره انسان د ډېري لوی بدعملۍ مرتکب ګرځي، نو د داسي سړي څخه هم الله تعالی سخت ناراضه وي.(۱)

نو په دې حديث کي هم که انسان غور وکړي، نو پيغمبرﷺ د مور او پلار نافرماني دومره لويه ګناه بللې ده، چي هغه ئې بالکل په وزن کي د شرک کولو سره برابره ګرځولې ده.

## حضرت موسیٰ علیہ السلام ته د الله تعالی وينا:

حضرت موسی علیہ السلام د الله تعالی ډېر نازولی پيغمبر وو، ده به د الله تعالی څخه ډېر ځله ډېري ناولده غوښتني کولې.

کله کله به ئې ويل:

..............رَبِّ أَرِنِي أَنْظُرْ إِلَيْكَ﴾.

يا الله! ته ماته ځان را ښکاره کړه، چي تاته وګورم، او تا وويـنم، الله تعالی په جواب کي ورته وايي:

..............لَنْ تَرَانِي﴾. ته ما هرګز نسې ليدلای، ځکه دا دنيا ده، او په دنيا کي زما د ليدلو ترتيب نسي کېدلای.

لېکن ده به بار بار هغه خپله غوښتنه تکراروله، چي يا الله! ته په ما باندي خپل ځان ووينه.

پيغمبرﷺ ته يو ځل يو چا وويل: چي حضرت موسی علیہ السلام خو داسي غوښتني کړي دي، ده مبارک په جواب کي ورته وويل: چي دا د موسی پيغمبر په وس کي وې، او دا غوښتني د هر چا د وس خبره نوه.

يو ځل حضرت موسی علیہ السلام "کوه طور" ته راغلی، چي د الله تعالی سره کلام وکړي، الله تعالی ورته وايي: اې موسی! د نن څخه بعد به خپله ژبه په احتياط سره ښوروې،

(۱) مسند احمد مخرجا: حديث نمبر ۱۲۳۳۶

او هم به خپل قدم په احتياط سره اخلي، هغه ځکه: چي د کم چا پخاطر مي ستا لحاظ کاوی، هغه در څخه رخصت سو.
په دې وخت کي د حضرت موسى عليه السلام مور وفات سوې وه، نو د دې معنى ده: چي د مور د لحاظ په خاطر الله تعالى د حضرت موسى عليه السلام سره په هر څه کي نرمي کوله.
نو د مور دعا د انسانانو لپاره په مشکلاتو کي د حفاظت ذريعه بلل کيږي، او خدانخواسته: کچيري مور د انسان څخه ناراضه سي، بيا خو د انسان د هلاکت او بربادی سبب جوړيږي.

## د مور د نافرمانۍ سزا:

په "اداب الصالحين" نامه کتاب کي يو عالم يوه واقعه ليکلې ده: چي د يو نوجوان په زړه کي دحج د سفر کولو شوق وو، نو چيکله ئې د مور څخه د سفر اجازت وغوښتی، چونکه نفلي حج وو، نو مور ده ته د سفر اجازه نه ورکوله.
په فرضي اعمالو کي چونکه د مور او پلار اجازه ډېره ضروري نوي، ځکه چي هغه د الله تعالى حکم وي، انسان به ئې ضرور پر ځای کوي، لېکن چي کم اعمال نفلي وي، نو په هغه کي بيا د مور او پلار څخه اجازت اخيستل ضروري بلل کيږي.
نن خو زموږ په معاشره کي انسانان د خپلي ناپوهۍ پخاطر د دين او د شوق فرق نسي کولای، زه ډېر ځله دا وايم: چي زموږ په دين کي "اَهَم فَالْاَهَم" پر ځای کول ضروري وي.
کله داسي وسي: چي د يو سړي د مور او پلار د ده و خدمت ته ضرورت وي، لېکن ده ته يو شوق په زړه کي ور پيدا سي: چي زه به نفلي حج وکړم، يا به زه علم وکړم، يا به زه يو کال په تبليغ کي سفر وکړم، نو دی د مور او پلار اجازت نه ور کول پر څه نه وبولي، او په دغه سفر روان سي.
نو زه دا وايم: چي په دې وخت کي دغه سفر کول که څه هم ظاهراً رنګ ئې د دين د سفر دی، لېکن په حقيقت کي دا د ده شوق دی، دې ته انسان دين نسي ويلای، ځکه دين په دې وخت کي د ده لپاره د مور او پلار خدمت دی، چي هغه د اهميت پخاطر تر ټولو مقدم دی.

بهر حال: هغه نوجوان په کور کي يوه بوډۍ مور لري، چي د هغې د ده و خدمت ته زيات ضرورت دی، ده چيکله د هغې څخه اجازت وغوښتی، هغه اجازت ور نکړی، دی دهغې د اجازت بغير د حج پر سفر باندي روان سو.

په لاره کي غلو دی ونيوی، او ټوله مال او د لاري توښه ئې څني واخيستله، او د ده لاس او پښې ئې ور پرې کړل، او په دغه لاره کي ئې وغورځاوی، چيکله دی د هلاکت و حد ته نږدې سو، نو د بيت الله مؤذن ته په خوب کي د الله تعالی له طرفه يو غيبي اشاره وسوه، چي ته ورسه! په فلانکي ځنګله کي يو نوجوان پروت دی، هغه مدد وکړه، زما پر هغه باندي ډېر رحم دی، (يعني: ده خو يو ډېره لويه غلطي کړېده، مګر چونکه زما دربار ته را روان دی، نو ځکه زما پر ده باندي ډېر رحم دی).

چيکله هغه مؤذن د خوب څخه راپورته سو، چي دکم ځنګله لاره چي هغه ده ته په خوب کي ور ښوول سوې وه، ونيوله، چيکله ځنګله ته راورسېدی، نو که ګوري يو نوجوان پروت دی، او د زندګۍ ئې آخرني شيبې دي، او د هغه لاس او پښې پرې سوي دي، ده پوښتنه څني وکړه: چي اې سړيه! په کم حال کي ئې؟

هغه ورته وويل: چي ماخو د خپلي مور د اجازت بغير پر دغه لار باندي سفر را روان کړی، او هغه را څخه ناراضه سوه، چي د هغې د ناراضګۍ پخاطر د دغه حال سره مخامخ سوم، چي ته مي ويني.

د ده د خبري اورېدو سره هغه مؤذن ورته وويل: چي څه وسو، هغه خو وسو، اوس توبه وکاږه، چي الله تعالی دي د مور دناراضۍ د وبال څخه خلاص کړي.

هغه سړي د مؤذن په غوښتنه توبه وکښله، او د مؤذن څخه ئې غوښتنه وکړه، چي ما تر خپلي مور پوري يو ځل ورسوه، چي د هغې څخه معافي وغواړم، او هغه د ځان څخه راضي کړم.

ځکه چي د يو ځل حماقت کولو په خاطر د حج څخه او د لاس او پښو څخه محروم سوم، هسي نه: چي تر آخر دمه د ايمان څخه محرومه نه سم، او د آخرت په سفر کي د رسوائي سره مخامخ نه سم.

مؤذن چیکله دا واورېدل،نو دی ئې راپورته کړی، او په یو ذریعه سره ئې تر خپله کوره پورې را ورساوی، او د کور و دروازه ته ئې کښېښووی، او هغه واپس بیت الله ته ځني ولاړی.

دی د کور دروازه ته ناست دی، په کور کې دننه د ده مور دعا کوې، او د هغې د خولې څخه دا الفاظ دی اوري:

یا الهی! زه نه پوهیږم: چې په دې سفر کې به زما بچی د کمو حالاتو سره مخامخ سوی وي، ځکه هغه زما د اجازته بغیر ولاړی، اوس ته دی تر ما پورې راورسوې، ځکه زما زړه د هغه په خاطر ډېر بې قراره دی.

هغه نوجوان چې د مور هغه کلمات واورېدل، نو زړه ئې د ژړا څخه را ډک سو، او په خپل پرې سوي لاس سره ئې یو رقم هغه دروازه وټکوله.

مور د دننه څخه بږغ ور باندې کوي، چې بچیه! څوک ئې؟ زما بې وزلې، او زما غمجنې دروازه را ټکوې؟

بیا د هغه مور دا خیال سو: چې شاید څوک به وي، چې زما د مسافر بچې خبر به ئې تر ما پورې را وړی وي، نو په دې فکر را ولاړه سوه، او را ووته، که ګوري، تیاره ده، او په هغه تیاره کې یو غریب فقیر انسان ناست دی.

هغه مور ورته وایې: اې مسافر او غریبه! لاس را وړاندې کړه، کچیرې تا ته د خوړک ضرورت وي، نو زه به هغه در کړم، هغه په جواب کې ورته وویل: چې لاس نه لرم، نو زه به خوړک په لاس کې څنګه را واخلم.

هغه مور بیا ورته وویل: ته لږ مخته راسه، هغه نوجوان ورته وویل: زما پښې نسته، نو مخته به څنګه درسم.

د هغه غریب چې هغه خبرې هغه بوډۍ واورېدلې، نو ډېر ئې زړه درد ور باندې وکړی، او ورته وایې: اې بچیه! ستا آواز زما د بچې غوندې دی، زما هم یو بچی وو، چې زما د اجازت څخه بغیر د حج په سفر تللی دی، نه معلوم: چې د هغه به اوس کم حالت وي؟ هغه مور تر دغه وخته پورې دغه بچی نه پېژني.

بچي چيکله د مور د خولې څخه هغه خبري واورېدلې، نو زړه ئې ډېر بې صبره سو، او په ډېر زار او قطار سره ئې وژړل، او وئې ويل: اې موري! ستا هغه بچی هم زه يم، چي ستا د حق تلفی پخاطر د دغه انجام سره مخامخ سوم.
مور چيکله دا واورېدل، نو د خولې څخه ئې يو چيغه وختله، او پر هغه ځای بېهوښه غوځاره سوه، چيکله لږ گړی بعد په هوښ کي راغله، نو آسمان طرف ته ئې لاسونه پورته کړل، او دا دعا ئې شروع کړه:
يا الله! تاخو زما بچي ته د خپلو کړو سزا ور کړېده، ليکن اې پروردگاره! دی د هلاکت څخه محفوظه کړې، او هم ئې د ايمان د سعادت څخه مه محرومه کوې.(۱)

## د مور دعا:

زمونږ علماؤو ليکلي دي: چي مور او پلار که پخپله په گناه کبيره باندي اخته وي، ليکن چيکله د خپل بچي په هکله لاس پورته کړي، او د الله تعالی څخه دعا وغواړي، الله تعالی ئې دعا ته داسي قبوليت ور کوي: لکه يو چا ته چي الله تعالی ولايت کبرٰی ور نصيب کړی وي.
هغه ځکه چي د دعا قبوليت دا په اخلاص باندي وي، چي څومره اخلاص زيات وي، په هغه درجه الله تعالی دعا ته قبوليت ور کوي، چونکه د مور او پلار د اخلاص په مثل د بل هيڅ چا اخلاص نوي، نو د مور او پلار په شان د اولاد په هکله د بل هيڅ چا دعا داسي ژر قبوليت ته نه رسيږي.

## عبرتناکه واقعه:

و مور او پلار ته د تکليف ور کولو په وجه کله کله انسان د ډېر سخت عبرتناک حالت سره مخامخ سي.
يو ډاکټر د نور احمد په نامه يو رساله ليکلې ده: چي د هغې نوم دی: د "قبر کی زندگی" په هغه کي دی يو ډېره عبرتناکه واقعه رانقل کوي: دی ليکي: چي زه د پوښتورگو ډاکټر وم، او ټوله زندگي مي په دغه پيشه کي تېره سوه.

---

(۱) اولاد الصالحين بحوالہ: ايک سو واقعات: صفحہ نمبر ۱۱۹

يو ځل زما په وارډ کې يو نوجوان چې د هغه دواړو پښتورګو کار پرې ايښى وو، وفات سو، د وفات څخه مخکې درې(۳) ورځې د ده زکندن په داسې حالت کې روان وو، چې په داسې حالت کې ماتر اوسه يو مريض په خپله ټوله ښت کلنه زندګي کې نه وو ليدلى.

د هغه مخ به تک تور سو، او سترګې به ئې راووتلې، او د خولې څخه به ئې ډېر دردناکه آوازونه راوتل، لکه يو چا چې هغه تر ستونى نيولى وي، او د هغه ساه ئې ور بنده کړې وي.

د وفات څخه يوه ورځ مخکې دغه کيفيت ډېر زيات سو، او د ده آواز هم ډېر تيز سو، او بد آوازونه به ئې کښل، او د وارډ څخه نور مريضان ځله وتښتېدل، ځکه چې هيڅ چا د هغه د اورېدلو برداشت نه سو کولاى.

چنانچه مور هغه د وارډ څخه ليرې په يو خونه کې کښېښووى، او دروازه مې ورپسې را بنده کړه، ځکه چې هيڅ څوک د ننه نه سو ورتللاى، چې د ده اواز يو څه کم سي.

خو بيا هم د ده هغه حالت روان وو، آخر ئې پلار ماته راغلى، راته وئې ويل: چې ډاکټر صاحب! کچيري ده ته د زهرو پيچکارى ور ولګوې، چې دى مړ سي، مور د ده دغه حالت هيڅ نه سو ليدلاى، ما ورته وويل: چې زه خو مسلمان يم، نو مې د دغه عمل کولو څخه عذر ورته پيش کړى.

ما ئې د پلار څخه پوښتنه وکړه: چې ايا د ده په زندګي کې يو څه خاص غلطي وه، چې دى په داسې شکل تکليف کې مبتلا دى؟ هغه په جواب کې راته وويل: چې دغه ځوان به د خپلې زنانې د خوشحاله کولو لپاره خپله مور وهله، او ما به ډېر زيات دى د دغه عمل څخه را ګرځاوى، او دى به د دغه عمل څخه نه منعه کېدى، دغه بېکاره حالت د ده د هغه عمل نتيجه ده.(۱)

نو دا يو حقيقت دى: چې د مور او پلار ناراضه کول، او هغه ته تکليف رسول، انسان د نزع او زکندن په حالت کې د ډېر سخت حالت سره مخامخ کوي، لکه دا اوس چې تاسو کمه واقعه واورېدله.

او د مرګ څخه بعد بيا هم په قبر کې ډېر ځله د انسان د تکليف څخه ډکه زندګي وي، چې کم چا د خپل مور او پلار سره بېکاره ګوزاره کړې وي.

## عبرتناکه انجام:

داغه شان حضرت اصفهاني رحمة الله عليه پخپل کتاب: "ترغيب" کې يو واقعه رانقل کړېده: چې ابن جوزي رحمة الله عليه په "عيون الحکايات" کې هم ذکر کړېده.
چې حضرت حوشب رحمة الله عليه يو ځل په يو سفر کې د يو کلي والا ميلمه سو، چې هغه ته نژدې يو هديره او قبرستان هم وو.
چيکله د ماځيګر وخت سو، نو يو دم يو قبر سره وچاودل سو، او يو انسان چې د هغه سر د "خره" په شکل وو. راوواتی، او د "خره" غوندي آوازونه ئې درې ځله وکښل، بيا بيرته په قبر ننواتی.
د دغه حيرت انګيزه واقعې متعلق حوشب رحمة الله عليه د خپلو ميزبانانو څخه پوښتنه وکړه، نو هغوی ورته وويل: چې زموږ په دغه کلي کې يو نوجوان وو، هغه به ډېر زيات شراب چيښل، او د هغه مور يو ډېره نيکه او پرهيزګاره زنانه وه.
چيکله به ماځيګر دی کورته راغلی، نو د شرابو په نشه کې به مست وو، هغه مور به ورته وويل: اې نادانه! ته خو مسلمان ئې، د غه عمل څنګه کوې؟ شراب چې په اسلام کې بالکل حرام دي، هغه څنګه چيښې.
نو هغه نوجوان به خپلي مورته ويل: چې د مخ څخه را څخه ليري سه، ته څه همېشه د "خرې" غوندي ماته آوازونه راباسې.
اوس چې د کمي ورځي څخه دی مړ دی، نو هره ورځ د ماځيګر په وخت کې د "خره" په مثل سر د قبر څخه راباسي، او درې(۳) ځله د "خره" آوازونه کوي، او بيا بيرته سر په هغه قبر د ننه باسي.(۱)
تاسو ګورئ! په دنيا کې د هر مور او پلار دا تمنا وي: چې زما بچی په معاشره کې لوړ مقام پيدا کړي، او ډېر ځله دوی د هغه لپاره دعاګانې هم کوي.

---

(۱) عيون الحکايات بحواله ايک سو واقعات: صفحه نمبر ۱۵۰

او دا يو حقيقت دی: چې څو مره بچيانو په دنيا کې لوړو مقاماتو ته ځان رسولی دی، او الله تعالی د هغوی څخه د دين لوی لوی خدمتونه اخيستي دي، د هغوی تر شا چې سړي وګوري، همېشه د مور او پلار دُعا او ښه تربيت معلو ميږي.

## ميندي داسي هم وي:

حضرت بايزيد بسطامي رحمة الله عليه زموږ په اولياؤو کې ډېر د لوړي درجې بزرګ او ولي تېر سوی دی.
حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه به همېشه دا ويل: د بايزيد بسطامي رحمة الله عليه درجه په اولياؤو کې داسي ده، لکه د حضرت جبرائيل عليه السلام درجه چې په ملائکو کې څنګه وه.
د حضرت بايزيد بسطامي رحمة الله عليه پلار د ده د ماشوموالي پر وخت کې وفات سو، د ده مور به د خلګو په کورو کې مزدوري کولې، او د خپل يتيم بچي پالنه به ئې په کوله، چيکله دی لږ لوی سو، نو د مور سره دا فکر پيدا سو: چې اوس خو زما بچی ورځ په ورځ لوييږي، هسي نه: چې په کوڅو او بازارو کې د غلطو هلکانو په مجلسو او ناستو کې خراب او برباد نه سي.
نو د خپلو قريبانو سره ئې د بچي په هکله مشوره وکړه، هغوی ورته وويل: چې دلته يو ډېره لويه مدرسه ده، او په هغه کې يو لوی شيخ دی، هلته چې کم ماشومان سبقان وايي، هغه همېشه د الله تعالی وليان جوړيږي، زموږ مشوره دا ده: چې ته هم خپل بچی هلته داخل کړه.
هغه کونډي مور خپل يتيم بچی را روان کړی، او هغه مدرسې ته ئې راوستی، او هلته هغه شيخ ته ورغله، او هغه ته ئې خپل تعارف په دا شان وکړی:
چې حضرت! زه يو غريبه کونډه زنانه يم، د خلګو په کورو کې مزدوري کوم، او خپل ژوند په تېروم، او دا مي يتيم بچی د ځان سره را وستلی دی، زما تمنّی دا ده، او زما د مرحوم خاوند هم دا ارمان وو: چې زما بچی عالم جوړ سي، او د دين خادم جوړ سي، او د اسلام پيغام د دنيا کونج کونج ته ورسوي.

ته دغه زما بچی زما څخه قبول کړه، او په خپل تربيت کې ئې پالنه وکړه، او د ده څخه داسې عالم جوړ کړه: چې دا د پيغمبر ﷺ نائب وي، او دا د الله تعالى خوښ مخلوق وګرځي.
شيخ د هغه زناني د خبرې څخه زيات متأثره سو، او ورته وئې ويل: ته به بچی ماته راپرېږدې، زما په وس کې چې څه وي، هغه به ور سره وکړم.
هغه زنانه چيکله روانېدله، نو د شيخ څخه ئې دا درخواست هم وکړی: چې حضرت! زما دغه بچی اول ځل د کور څخه وتلی دی، د مسافرۍ سره عادت نه دی، شايد ده ته به زه ډېره ورياده سم، او کيدای سي: زما په ياد کې به دی تا ته ژړا وکړي، او کور ته د راتللو اجازت به در څخه وغواړي.
کچيرې دی کور ته راسي، نو بيا به په کلي او محله کې د عامو هلکانو سره د ده ناسته جوړه سي، شايد هغه څوک به نسې ځنې جوړ چې زه دی کم څوک جوړول غواړم، نو دی به زما کور ته هلته را استوې، چيکله دی خپل علم تمام ته ورسوی، او دی يو عالم رباني جوړ سوی وي.
نو هغه کونډې زناني خپل بچی هغه شيخ ته ور پرېښووی، دا واپس ځنې ولاړه، د بچي چيکله د تعليم او تربيت سلسله شروع سوه، نو تر يو څه زمانې پورې بچي صبر وکړی، بالآخر بچي استاذ ته وويل: زما خپله مور ډېره ياديږي، ماته د يوې ورځې چُټھی راکړه، چې زه خپل کورته ولاړ سم.
اوس استاذ هم ډېر پرېشانه سو، که چُټھی ور کړم، نو د ده د مور سره سوې وعده به ماته سي، او که چُټھی نه ورکوم، نو د دغه ماشوم بچي زړه ماتيږي، نو د الله تعالى و طرفته متوجه سو: چې يا الله! د دغه مسئلې حل زما په دماغ کې را واچوه.
نو عام طور چيکله انسان د يو مشکل حالت سره مخامخ سي، او د انسان په فهم کې د هغه حل نه راځي، نو ښه طريقه ئې استخاره ده، چې انسان ئې وکړي، او که چيرې د استخارې موقع نه وي، نو بيا خو د پيغمبر ﷺ په احاديثو کې يو آسانه او مختصره استخاره دا هم راغلې ده:
چې پر داغه موقع دې دی دغه الفاظ ادا کړي:

........ اللّٰهُمَّ خِرْ لِي وَاخْتَرْ لِي﴾.(١) د دغه الفاظو د ادا کولو سره دې الله تعالی ته متوجه سي، چې الله تعالی کمه خبره په دماغ کې ور واچوله، په هغه باندې دې عمل وکړي.

نو هغه استاذ چیکله د الله تعالی څخه د مسئلې حل وغوښتی، نو الله تعالی د ده په دماغ کې يوه خبره ور واچوله، هغه دا: چې بچی ئې را طلب کړی، او ورته وئې ويل: چې زه تا ته يو سبق درکوم، چې کله ته هغه ياد کړې، او ماښام ئې ماته واوروې، نو زه بيا تا ته چوتې درکوم، بچی ډېر خوشحاله سو.

استاذ قصداً دومره سبق هغه بچي ته ورکړی: چې تر ماښامه پوري د هغه يادول هيڅ ممکن نه وو.

اوس بچی حيران سو، چې څه وکړم؟ کچيرې دوباره د استاذ څخه د سبق کمولو غوښتنه وکړم، نو دا به د استاذ سره بې ادبي وي، او بل طرفته ئې د مور وليدلو ته هم ډېر زړه غواړي، نو ئې د ځان سره دا فکر وکړی: چې کله شپه راغله، نو زه پر بالښت سر کښېږدم، د استاذ به دا گمان وي: چې دی بېده دی، او زه به خپل رب ته زياته ژړا وکړم، او هم به خپله عاجزي ورته پيش کړم، ده چې کله ماښام خپل رب ته ژړا وکړه.

د ژړا او عاجزۍ څخه وروسته الله تعالی يو ترتيب په دماغ کې ور واچاوی، هغه دا: چې بچي په ادب سره خپل کتاب پر خپل بالښت باندې کښېښووی، او د الله تعالی څخه ئې دُعا شروع کړه.

يا الله! ما خو دا اورېدلي دي، چې ته هر څه کولای سې، او ستا قدرت تر ټولو زيات دی، اې الله! نن زما يتيم دعا قبوله کړه:

او د خپل قدرت په خاطر نن تر ماښامه پوري زما سبق ماته راياد کړه، اې الله! ته په دې عالم ئې: چې زما زړه د خپلې مور طرفته څومره زيات شوق او ميلان لري، اې الله! زما دې سترگې زړه ته سکون ورکړه.

(١) الاذكار للنووي؛ باب دعاء الاستخارة، جلد نمبر ١، صفحه نمبر ١٢٠

کچيري زما پلار ژوندی وای، په ما پسي راتلای، نو د هغه په ليدلو به زما زړه ته تسلي راتلای، نو په دغه رنګه ئې په ښه يقين سره دعا وغوښته، او سبقه ته کښيناستی، د الله تعالی قدرت وو، چې تر ماښامه پوري ئې ټول سبق ياد کړی.
د استاذ يقين نه وو، چې دومره سبق دې بچی په يوه ورځ کې ياد کړي، لېکن بچي سهار سبق ورته روان کړی، او ټول سبق ئې ورته واوروی، استاذ په دې پوه سو: چې د دې بچي حالات نن بدل دي، نو استاذ ده ته د کور تللو اجازت ورکړی، او په دعا سره ئې رخصت کړی.
بچی خوشحاله خوشحاله د خپل کور پر طرف را روان دی، چېکله کور ته راورسېدی، دروازه بنده وه، نو آواز ئې وکړی: ليکن د کور د خوا څخه هيڅ جواب نه ورته راغلی، ده دوهم ځل آواز و کړی، نو مور په جواب کې ورته وايي: چې بچيه! څوک ئې؟ چې زما دروازه ته ولاړ ئې؟
بچي په جواب کي ورته وويل: موري! ستا بچی بايزيد راغلی يم، مور د دننه څخه جواب ورکړی: کم بايزيد؟ زما بچی بايزيد خو به کورته هلته راځي: چې هغه خپل علم تمام ته رسولی وي، او د الله تعالی ولايت ئې پيدا کړی وي، او ته کم بايزيد ئې؟
بچی پر هغه ځای ولاړ، ولاړ په سوچ او فکر کې ئې، يو ساعت ژړا وکړه، او په دې پوه سو: زما مور نه غواړي: چې زه دې لره ورسم، دغسې د مور د ملاقات کولو بغير په ژړا ژړا واپس مدرسې ته راغلی، او خپل استاذ ته ئې سلام ووايي.
استاذ پوښتنه ځني وکړه: چې واپس څنګه راغلې؟ خيريت خو به وي؟ بچي چې کله د جواب ور کولو لپاره خپل سر پورته کړی، نو استاذ ورته ګوري، چې سترګې ئې د اوښکو څخه ډکې دي، نو استاذ په خپل زړه پوري ونيوی، د خپلې لنګوټې په شمله ئې اوښکي ور وچې کړې، او د سفر پوښتنه ئې ځني وکړه.
ورته وايي: بچيه! څه خبره وه؟ ايا د خپلې مور څخه خو به ناراضه نه ئې راغلی؟ بچي ورته وويل: استاذ جي! زړه مي ډېر درد کوي، او سترګې مي اوښکې تويوي، لېکن اوس زه درته وايم: که زر واره هم زه تالره د چوټۍ غوښتلو لپاره درسم، نو ته به ماته چوټۍ نه راکوې، ما به هغه شان جوړوې، چې زما مور زما څنګه غوښتنه کوي.

او د دې سره ئې دا درخواست هم استاذ ته پیش کړی: چي ته دعا کوه: زما مور ناجوړه ده، هغه د خلکو په کورو کي کارونه کوي، زه پر دې بېرېږم: هسي نه چي د هغې د زندګۍ شمعه مړه نسي، او د دې په زندګي کي الله تعالی برکت واچوي، چي دا ما هغسي جوړ سوی ووېني، لکه د دې چي څنګه غوښتنه او تمنیٰ ده، او د هغه لپاره دا هر قسم قربانۍ کولو ته تیاره ده.

استاذ ورته وویل: چي زه ستا سره وعده کوم: چي زه به روزانه د دې د صحت لپاره دعا کوم.

نو د بچي د تعلیم او تربیت سلسله بیا شروع سوه، تر شپاړلس(۱۶) کالو پوري مسلسل هغه بچي د خپل تعلیم سلسله جاري وساتله، نه د مور حضور ته ورغلی، او نه ئې په دغه زمانه کي چُټۍ وغوښتله، پخپله تعلیمي سلسله کي روان وو.

د تاریخ په کتابو کي لیکلي دي: چي د حضرت بایزید بسطامي رحمة الله علیه عمر چیکله تقریباً دوویشت(۲۲) کاله ته ورسېدی، نو یو ځل په خوب کي استاذ ته په وخت د تهجد کي د پیغمبر ﷺ زیارت ورنصیب سو.

پیغمبر ﷺ ورته وفرمایل: چي کم نوجوان "بایزید" ستا سره په تعلیمي سلسله کي روان دی، هغه ته د ولایت کُبریٰ اجازت ورکړه، او د هغه د ولایت فیصله د الله تعالی په حضور کي په آسماني مجلسو کي دا وسوه: چي د ده په ذریعه به په دنیا کي د دین کار سره خوروي، ده ته دا زیری ورکړه، او کور ته ئې روان کړه.

استاذ چیکله د خوب څخه راپورته سو، نو سیده مدرسې ته راغلی، او په نیمه شپه کي ئې د ده تلاش وکړی، که ګوري: دی په مسجد کي د تهجد پر لمانځه ولاړ دی، استاذ و شاته ورته کښېنستی.

چیکله د لمانځه څخه فارغه سو، استاذ ځان ته راوبلی، او پخپله سینه پوري ئې ونیوی، او ورته وئې ویل: ستا د مور قربانۍ رنګ راوړی، ستا د پلار تمنیٰ پوره سوه، او ستا د مور مجاهده د الله تعالی په حضور کي قبوله سوه، ځه! ولاړه سه! د الله تعالی د دین خدمت وکړه، خپله لنګوټه ئې د سر څخه پورته کړه، او د شاګرد پر سر ئې ورکښېښووله، او په دعا ګانو سره ئې رخصت کړی.

حضرت بایزید بسطامي رحمة الله علیه کورته راغلی، که ګوري دروازه بنده ده، نو آواز ئې وکړی، مور په منډه مخته ورته راغله. او پخپله سینه پوري ئې ونیوی، او پر مخ ئې مچ کړی، دی هم د مور په پښو کي ور ولوېدی، هغه ئې پر پښو باندي مچ کړه. مور بیرته راپورته کړی، او خپلي حجرې ته ئې راوستی. او پر بستره ئې کښېناوی، او ورته وایي: چي بچیه! په لږ وخت کي به زه تاته ګرمه ګرمه ډوډۍ در تیاره کړم، خو د هغه څخه مخکي یو ځل اجازت راکړه: چي د الله تعالی شکر ادا کړم.

خپله زړه مصله ئې پر مځکه هواره کړه، او د دوه رکعته لمانځه نیت ئې وتړی، او دا دعا ئې شروع کړه: یا الله! زما کونډي زناني شکر قبول کړه، تا زما دعا قبوله کړه، او زما د وفات سوي خاوند تمنی دي پوره کړه.(۱)

سلام دي وي، پر بایزید بسطامي او سلام دي وي، پر هغه جلیل القدر مور باندي، د هغه کنډي زناني همت او عظمت ته وګورئ، چي هغې خپل بچی تر کمه حاله پوري ورسوی.

چیکله د زنانو تمنی صحیح وي، نو دې امت ته الله تعالی بایزید بسطامي ورکوي، امام ابوحنیفه، امام بخاري، امام مالک، او قاسم نانوتوي ور کوي، او نه معلوم: څنګه څنګه لوی هستۍ الله تعالی په دې امت کي پیدا کوي.

لېکن چي کله د زنانو تمنی خرابه سي، تلویزون کتل، میوزک اورېدل، او فیشن، او فضول خرچي کول، نو بیا خو په امت کي بغیر د فحاشه او بې حیا انسانانو څخه سوا بل څوک نه پیدا کیږي.

کچیري زما وس رسېدلای: زه به د خانه کعبې ومخته درېدلی او د ټول امت د زنانو و مخته به مي خپل لاسونه جوړه کړي وای، او دا خواست به مي ځني کړی وای: چي د دې امت پر مستقبل باندي رحم وکړئ، خپلي تمناګاني صحیح کړئ، امت نن د بې حیا نوحوانانو څخه او د ګنده او ناپاکه نوجوانانو څخه تنګ راغلی دی.

---

(۱) ایک سو واقعات: صفحہ نمبر ۱۵۹

امت ته نن د شيخ عبدالقادر جيلاني او د حضرت مجدد الف ثاني ضرورت دی، امت ته نن د شاولی الله او شيخ بايزيد بسطامي غوندي د انسانانو ضرورت دی. او اې ميندو! د هغوی پيدا کېدل ستاسو تر تمناګانو پورې تعلق لري.

## د مور او پلار لس حقونه:

په کتابو کې ليکلي دي: چې پر زوی باندې د مور او پلار لس(۱۰) حقونه دي:

۱. که د هغوی خوړک ته ضرورت وي، نو هغه دې ور پوره کوي.
۲. که د هغوی جامې ته ضرورت وي، نو هغه دې ور اغوندي، چېکله د ده سره وس او طاقت وي، لکه: د پېغمبر ﷺ څخه هم د دې آيت په تفسير: "وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا" کې هم دا را نقل سوي دي: چې په معروفه طريقه سره او سېدل دا دي: چې د هغوی د خوړکې او جامې خيال ساتل.
۳. کله چې د هغوی د اولاد و خدمت ته ضرورت وي، نو خدمت دې ئې وکړي.
۴. کله چې ئې راوغواړي، نو دی دې ورته خپل ځان حاضر کړي.
۵. کله چې هغه ده ته د څه خبرې حکم وکړي. نو وه دې ئې مني، په دې شرط: چې د ګناه خبره نه وي.
۶. د هغوی سره دې په نرمي سره خبرې کوي، د سختۍ څخه دې ځان وساتي.
۷. هغه دې په نامه سره نه يادوي.
۸. د تګ په دوران کې دې د هغوی څخه وروسته ځي.
۹. د هغوی لپاره دې هغه خوښوي، چې د ځان لپاره ئې خوښ وي، او هغه دې نه خوښوي، چې د ځان لپاره ئې ناخوښ وي.
۱۰. کله چې د ځان لپاره دعا کوي، نو د هغوی لپاره دې هم د بخښنې دعا کوي.

لکه الله تعالی د حضرت نوح عليه السلام په قصه کې فرمايي: "رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ" يا الله! ما ته بخښنه وکړه، او زما مور او پلار ته هم، او هم دارنګه د ابراهيم عليه السلام څخه هم رانقل سوي دي: "رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ" اې زموږ ربه! ما وبخښې. او زما مور او پلار هم او ټول مؤمنان د حساب قائمېدو په ورځ.

## د مور او پلار لپاره دعا کول. او صدقه ور کول:

د بعضو صحابه وو څخه رانقل سوي دي: چې د مور او پلار لپاره دُعا نه کول مسکنت پر انسان راولي، نو مور او پلار ته دعا کول د انسان د آبادۍ ذريعه ګرځي.

او د چا چې مور او پلار وفات سوي وي، نو هغه د ده څخه په دريو خبرو راضي کېدلای سي:

١. چې هغه پخپله نيکه زندګي تېره کړي، ځکه چې مور او پلار ته د نيک اولاد څخه زيات، هيڅ شی زيات خوند نه ورکوي.

٢. چې د هغوی د خپلوانو او د تعلق والا انسانانو سره دي ښه سلوک کوي.

٣. دا چې د هغوی لپاره دي استغفار او دعا غواړي، او د هغوی له طرفه دي صدقه کوي.

الله تعالی دي مونږ او تاسو ټولو ته پر ويلو او اورېدلو باندي دعمل کولو توفيق راکړي. او الله تعالی دي زمونږ او ستاسو دغه ټول مجلسونه قبول او مقبول وګرځوي.

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الايه)

# د فتنې د دور علامې، (څلورم بيان)

(بيان)


مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن



مکتبہ سلطانیہ الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹہ

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْــــمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللّٰهِ أَحَدًا﴾.(١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ﴿وَارْتَفَعَتِ الأَصْوَاتُ فِي الْمَسَاجِدِ، وَكَانَ زَعِيمُ الْقَوْمِ أَرْذَلَهُمْ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو !د تېرو جمعو څخه مسلسل ستاسو په حضور کي د پيغمبر ﷺ يو حديث پيشوم، چي د هغه راوي: حضرت علي ﷛ دی، ده مبارک په هغه حديث کي د فتنو د دور کومي نښانې چي د پيغمبر ﷺ څخه اورېدلي دي، هغه ئې راجمعه کړي دي، چي د هغو عدد او شمار پنځلس(۱۵) ته رسېدلي دی او د هغه تفصيل په دا شکل دی:

۱. غنيمت ته د ذاتي دولت په نظر کتل.
۲. په امانت کي خيانت کول.
۳. زکوٰة د مال نقصان بلل.
۴. د زناني اطاعت کول.
۵. او د مور څخه عاق جوړول.
٦. د ملګرو سره ښه ژوند تېرول.

(١) سورة الجن: آيت نمبر ۱۸

(٢) سنن ترمذي: حديث نمبر ۲۲۱۰

۷. او د پلار څخه ناراضه کېدل.
د دې ټولو علاماتو متعلق په تېرو جمعو کي ما ستاسو په حضور کي په تفصيل سره خبره پېش کړه، الله تعالی دې موږ او تاسو ته پر دغه اصلاحي مجلسو د عمل کولو توفيق را نصيب کړي.

## اتمه (۸) علامه په مسجد کي شور جوړول:

پېغمبر ﷺ په هغه علاماتو کي يوه علامه دا هم بيان کړېده: چي انسانان په مسجدونو کي شور جوړوي، يعني: په مسجد کي د دنيا خبري کوي، او مجلسونه کوي، او د مسجد د آدابو خيال نه ساتي.
د مسجد د آدابو خيال نه ساتل، دا د دې امت د فتنو علامه او زمانه بلل سوېده، چي په مسجدانو کي خلګ د بازارونو غوندي مجلسونه کوي، نو چي د مسجد د ادب او احترام کولو والا انسانان په معاشره کي کم سي، نو په دې پوه سه: چي دا د دې امت د خير زمانه نه ده.
حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه د پېغمبر ﷺ يو روايت را نقل کوي:
........سَيَكُوْنُ فِي آخِرِ الزَّمَان قَوْمٌ يَكُوْنُ حَدِيثهمْ فِي مَسَاجِدهمْ لَيْسَ لله فِيهِمْ حَاجَة﴾.(۱)
چي په آخره زمانه کي به يو څه داسي خلګ پيدا سي: د هغوی ټولو د دنيا د امورو متعلق مجلسونه به په مسجدانو کي کيږي، د الله تعالی داسي خلګو ته هيڅ حاجت نسته، يعني دا خلګ: الله تعالی پر هيڅ نه بولي.
نو د مسجد ادب او احترام پر هر مسلمان واجب دی، او په مسجد کي شور او شر جوړول عظيمه ګناه بلل سوې ده.
د مساجدو وضعه د دې لپاره ده: چي په هغه کي د الله تعالی ذکر کول کيږي، او چي کم انسانان هلته عبادت او ذکر کوي، د هغوی په اعمالو کي خلل واقع نه سي، ليکن زموږ او ستاسو معاشره اوس دې حال ته رسېدلې ده: چي په مسجدانو کي د خلګو عام طور شر او شور ډېر ځله جوړيږي.

(۱) الترغيب و الترهيب للمنذري: حديث نمبر ۴۵۵

حالانکه په تفسير زاهدي کي د پيغمبر ﷺ يو حديث رانقل سوی دی، چي پيغمبر ﷺ فرمايي:

........مَنْ تَكَلَّمَ بِكَلَامِ الدُّنْيَا فِي خَمْسَةِ مَوَاضِعَ حَبَطَ اللهُ مِنْ عِبَادَتِهِ أَرْبَعِيْنَ سَنَةً﴾.

چي کوم څوک په پنځو ځايو کي د دنيا خبري کوي، الله تعالی به د هغه د عمل نامې څخه د څلويښتو (۴۰) کالو عبادت حبط او ضائع کړي.

او په هغه پنځو (۵) ځايو کي پيغمبر ﷺ يو مسجد هم ياد کړی دی، نو په مسجد کي د دنيا خبري کول د انسان لپاره ډېر نقصاني عمل بلل کيږي.

که څه هم نن سبا په غټو ښارونو کي په مسجدانو کي د نکاح ترلو رواج جوړ سوی دی، خو هغه ښه رواج دی، ځکه چي نکاح عبادت دی، او د عبادت کولو لپاره بهترين محل مسجد دی.

ليکن عام طور انسانان د نکاح پر موقع د مسجد د حرمت او د هغه د آدابو لحاظ نه کوي، او په هغه وخت کي دوی شر او شور جوړ وي، او آوازونه سره لوړوي، او ډېر ځله بيا په مسجد کي دوی تصويرونه هم اخلي، چي هغه لويه ګناه ده، او دا عمل په مسجد کي د ننه کيږي.

خو په مسجد کي دغه اعمال کول، د انسان لپاره يو ګناه بې لذت وي، ځکه زه ډېر ځله دا وايم: چي بعضي ګناهونه داسي وي: چي د هغه په کولو کي څه لذت او خوند خو وي، ليکن په مسجد کي خبري کول، داسي ګناه ده: چي په هغه کي څه لذت او خوند هم نسته، بلکه هسي د انسان پر ذمه باندي ګناهونه باريږي.

## په مسجد کي د خبرو څخه ځان ساتل:

حضرت حسن بصري رحمة الله عليه د پيغمبر ﷺ يو حديث رانقل کوي: چي پيغمبر ﷺ به فرمايل: چي زما په امت کي به داسي زمانه راسي: چي په مسجدانو کي به خالص دنياوي خبري کيږي، الله تعالی داسي خلګو ته حاجت نه لري، او تاسو هم د داسو خلګو سره مه کښېنئ. (۱)

(۱) تنبيه الغافلين: صفحه نمبر ۲۸۶

او حضرت ابو هريره رضي الله عنه هم د پيغمبر ﷺ يو روايت رانقل کوي: چې پيغمبر ﷺ به ويل: چې څلور (۴) شيان به په دنيا کې مظلوم او مسافر وي، او الله تعالى به د قيامت په ميدان کې د هغه فرياد اوري:

۱. قرآن کريم د ظالم په سينه کې چې هغه په دغه قرآن کريم باندې عمل نه کوي، نو هغه به د الله تعالى په حضور کې د دغه ظالم شکايت کوي.
۲. مسجد د بې لمانځه انسانانو په کلي او محله کې هم مظلوم بلل کيږي، او هم به د ده شکايت د قيامت په ميدان کې اورېدل کيږي.
۳. قرآن کريم په داسې کور کې چې د هغه تلاوت نه کيږي، هم مسافر او مظلوم دى.
۴. نيک عمله انسان چې د بد عملو انسانانو په مجمع کې راګير سي، نو دا هم مظلوم وي.(۱)

نو په دې شيانو کې هم يو هغه مسجد دى: چې انسان د هغه طرفته توجه نه کوي، نه په هغه کې عبادت کوي، او نه د هغه د خدمت کولو فکر ورسره وي.

## د جنت د حورو مهر:

حضرت حسن بصري رحمة الله عليه فرمايي: چې په مسجد کې جارو وهل، او د هغه صفائي کول، او د هغه د خدمت کولو خيال ساتل، او د هغه د آدابو رعايت کول، دا د قيامت په ميدان کې د جنت د حورو مهرونه دي.

حضرت انس رضي الله عنه فرمايي: چې څوک په مسجد کې يو څراغ بل کړي، يعني رڼا جوړه کړي، فرشتې او خاص بيا هغه فرشتې: چې هغوى د الله تعالى عرش نيولى وي، د ده لپاره تر هغه وخته پورې د مغفرت غوښتنه کوي، چې تر څو پورې دغه مسجد د مځکې پر مخ قائم او پاته وي.

حضرت عمر رضي الله عنه به ډېر ځله فرمايل: چې مسجدان پر مځکه باندې د الله تعالى کورونه دي، په دې کې لمونځ کونکى د الله تعالى سره ملاقات کونکى بلل کيږي، او

(۱) تنبيه الغافلين: صفحه نمبر ۲۸۶

ځوک چې د چا ملاقات ته ورسي، نو پر هغه باندي حق دا لري: چې هغه به د دغه ملاقات کونکي اکرام کوي.
نو په مسجد کي عبادت کول، او مسجد ته ورتلل، او د مسجد سره تعلق ساتل، دا د الله تعالی د ملاقات او د الله تعالی د طرفه د ده د اکرام کولو ذريعه جوړيږي.

## د پنځو اعمالو اهتمام کول:

امام اوزاعي رحمة الله عليه به فرمايل: چي تاسو د پنځو (۵) شيانو اهتمام کوئ، ځکه چي د هغه پنځو (۵) شيانو اهتمام پخپله پيغمبر ﷺ او صحابه کرامو کړی دی:

۱. د جماعت د لمانځه اهتمام کوئ.
۲. او د سنت طريقې د تابع دارۍ اهتمام کوئ.
۳. او د مسجد آبادولو اهتمام کوئ.
۴. او د قرآن کريم د تلاوت کولو اهتمام کوئ.
۵. او د جهاد في سبيل الله اهتمام کوئ.

نو چي د کمو شيانو پيغمبر ﷺ اهتمام کړی دی، يا صحابه کرامو د هغه اهتمام کړی دی، نو امام اوزاعي رحمة الله عليه د دې امت انسانانو ته هم د هغه د اهتمام کولو تاکيد او وصيت کړی دی، په هغوی کي يو د مسجد د آبادولو اهتمام هم دی.

## مساجد د بيت الله ښاخونه دي:

د مځکي پر مخ چي څومره مسجدان دي:

- دا ټول د بيت الله ښاخونه دي.
- او دا ټول د بيت الله شغلې دي.
- او دا ټول د بيت الله انوارات دي.

چي د مځکي پر کمه حصه باندي مسجد جوړ سي، هغه د ټولي مځکي څخه د الله تعالی خوښه حصه بلل کيږي، او هغه ته الله تعالی يو عزت ور کړي.
نو ځکه چي کله د قيامت ورځ راسي. نو د مځکي پر مخ چي د مسجدونو څومره مځکه ده، هغه ټوله د بيت الله د مځکي سره يو ځای کړي، او بيا ئې د قيامت په ميدان کي راپورته کړي، او د هغه څخه وروسته ئې د جنت يو حصه جوړه کړي.

## زموږ د اسلافو عادت:

نو مسجد د مسلمانانو په معاشره کې یو ډېر عظیم حیثیت لري، او د هغه د مسایتوب الله تعالی همېشه نیکبخته انسانانو ته ور نصیب کوي.
زموږ د بزرګانو به دا عادت وو: چې کله به ئې پر یو ځای باندې آبادي جوړونه او هلته به ئې د استوګنې اراده درلودله، نو د ټولو څخه مخکې به ئې هلته مسجد آباد وی، هغه ځکه: چې د مسلمانانو په ژوندګي کې مسجد د یو محور او د مرکز حیثیت لري.
حضرت عمر رضی الله عنه پخپل دور کې خپلو ټولو والیانو ته یو خط ولیکی: چې تاسو د مځکې پر مخ وګرځئ، او ماته د یو داسې ځای انتخاب راکړئ: چې هلته زه د مسلمانانو د طاقت او حفاظت لپاره یو فوجي قلعه جوړه کړم، مګر په هغه کې به د دې خبرې ډېر زیات خیال ساتئ: چې د هغه ځای او د مدینې په مابین کې دریاب نوي، او نه ئې په یو بله وجه باندې لار بنده وي.
چنانچه په هغه وخت کې چې کم اهل الرأیه خلګ وو، نو هغوی ده ته حال ورکړئ: چې کوفه یو داسې ځای دی: چې هلته ته د مسلمانان لپاره فوجي قلعه جوړولای سې، او د دې ځای څخه موږ د اسلامي سرحدونو حفاظت په ښه طریقه سره کولای سو.
حضرت عمر رضی الله عنه د هغه د نقشې ذمه داري حضرت علي رضی الله عنه ته ور وسپارله، چې دلته د ښار نقشه جوړه کړه، د ټولو څخه مخکې مسجد جوړ کړه، او دا به د ټوله ښار زړه بلل کیږي، ځکه چې د مسلمانانو د ژوند ټوله اعمال په مسجد پورې تړلي دي، نو هلته د ټولو څخه مخکې مسجد جوړ سو.
او بیا ئې حکم وکړی: چې د مسجد سره بالکل نږدې به د سیدانو لپاره چې د هغوی د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره قریب نسبت وي، کورونه جوړ کړئ، نو د سیدانو کورونه د هغوی د شرافت په وجه مسجد ته قریب جوړ سول.
چیکله دا پوره سو، نو بیا ئې د علماؤو او فقهاؤو کورونه جوړ کړل، چې هغه هم مکمل سو، نو بیا ئې د عامو انسانانو کورونه جوړ کړل، د هغه د مکمل والي څخه وروسته ئې د حکومت د عسکرو کورونه جوړ کړل، او بیا ئې پر هغه باندې د ښار د حفاظت لپاره څلور طرفه دیوال راوګرځاوی.

نو په کوفه کي هم مسجد مرکز جوړ سو، او د هغه څخه وروسته بيا نوره آبادي وسوله، د دې معنٰی دا وه: چي په اسلامي زندګي کي مسجد د مسلمانانو لپاره يو مرکزي حيثيت لري.

## د مؤمن په زړه کي د مسجد محبت ضروري دی:

په دنيا کي دا قانون دی: کچيري د يو انسان د بل انسان سره محبت وي، نو د هغه د کور سره ئې هم محبت ضرور راځي، د هغه د وطن او کلي سره ئې محبت جوړيږي.
مجنون د ليلٰی سره محبت راغلی، نو د ليلٰی د کلي سره ئې هم محبت وو، يوه ورځ د خپلو ملګرو سره را روان دی، نو د ليلٰی د کور پر کنډوالو باندي راغلی، عرب چونکه خانه بدوش يعني کوچيان خلګ وو، څه زمانه پر يو ځای باندي د تېرولو څخه وروسته دوی کډه کوله، نو پر هغه ځای باندي به ئې د کډي بارېدلو څخه وروسته د کور يو څه کنډوالې او نښانات پاته وو.
نو مجنون به د ليلٰی د کور هغه ديوالونه او کنډوالې مچولې، نو ملګرو به ډېر ملامت کاوی، چي ته داسي ولي کوې؟ نو ده به د هغه ملګرو په جواب کي دا ورته ويل:

لَقَدْ اَمُرُّ عَلَى الدِّيَارِ دِيَارِ لَيْلٰى اُقَبِّلُ ذَ الْجِدَارِ وَ ذَ الْجِدَارِ
وَ مَا حُبُّ الدِّيَارِ شَغَفْنَ قَلْبِيْ وَ لٰكِنْ حُبُّ مَنْ سَكَنَ الدِّيَارِ. (۱)

زه د ليلٰی پر کور او کلي باندي تېرېږم، او د هغې د کور ديوالونه مچوم، زما په زړه کي محبت د دې کور نسته، خو چي کم څوک په دې کور کي اوسېدلي دي، د هغه محبت زه دې ته مجبوره کړی يم.
لکه مولانا روم رحمة الله عليه د مجنون يو بله واقعه هم په دې شعر کي رانقل کړېده:

پای سگ مجنون بوسید گفتند این چه بود
گفت: این سگ در کوچه لیلیٰ رفته بود

مجنون يو ځل د يو سپي پښې ور مچولې خلګو پوښتنه ځني وکړه: چي مجنونه! ته خو رشتيا ليونی ئې، د دې سپي څخه څه غواړې؟ ده په جواب کي ورته وويل: چي دا

(۱) المحاضرات في اللغة و الادب، صفحه نمبر ۱۵

سپي يوه ورځ د ليلى په کوڅه کي تېر سوی وو، نو زما د ليلى سره مينه ده، نو د هغه د کوڅې د سپي سره مي هم مينه ده، نو ځکه ئې مچوم.
کچيري يو نفساني او دنياوي محبت والا د خپل محبت اظهار په دغه شان کوي، نو چي پر کم ځای د الله تعالى کور جوړ سوی وي، نو مؤمن بايد د هغه ځای سره هم د خپل محبت اظهار د الله تعالى د محبت په خاطر وکړي، ځکه چي د ده د الله تعالى سره محبت دی، ولي چي دی د الله تعالى د محبت څخه بغير مؤمن جوړېدلای نسي، نو د الله تعالى د محبت په خاطر د هغه د کور سره چي مسجد دی هم محبت وکړي.
نو ځکه دا راغلي دي:
.........﴿اَلْمُؤْمِنُ فِى الْمَسْجِدِ كَالسَّمَكِ فِى الْمَاءِ﴾.(۱)
مؤمن به په مسجد کي داسي هوسا او خوشحاله وي، لکه ماهی چي په اوبو کي وي.
نو د مؤمن زړه به همېشه د مسجد سره تړلی وي، او مؤمن به په مسجد کي داسي په سکون او اطمينان وي، لکه ماهی چي په اوبو کي په سکون او اطمينان وي.

## د مسجد سره زړه تړونکی انسان د عرش تر سايه لاندي وي:

په حديث شريف کي راځي: چي د قيامت په ورځ به يو څو کسانو ته الله تعالى د عرش په سايه کي ځای ورکوي، چي په حديث شريف کي راځي:
.........لَاظِلَّ اِلاَّ ظِلُّهُ﴾.
چي هلته به د الله تعالى د عرش څخه سوا بله هيڅ يوه سايه نوي.
او په هغه کی به يو هغه بنده هم وي: چي همېشه ئې زړه په مسجد پوري تړلی وي.(۲)
يعني: چي ذی د نورو کارو لپاره راووزي، د کور کار وي، يا د دفتر کار وي، يا د دنيا نور کارونه کوي، نو دی پرېشانه وي، او چي ژنګه فارغه سي، نو فوراً ځان مسجد ته رسوي، او چي هلته ورسي، نو د ده په زړه کي سکون پيدا سي، دغه شان خلګو ته به الله تعالى د قيامت په ميدان کي د خپل عرش تر سايه لاندي ځای ورکوي.

---

(۱) کشف الخفاء: جلد نمبر ۲، صفحه نمبر ۳۸۸
(۲) صحيح البخاري: حديث نمبر ٦٢٠

## په مسجد کي د ناستي تعليم:

نو ځکه پيغمبر ﷺ انسانانو ته داسي اعمال ور ښوولي دي، چي په هغه کي د دې خبري تعليم ور کړی دی: چي انسان په مسجد کي د کښېنستلو عادت جوړ کړي، مثلاً پيغمبر ﷺ فرمايلي دي:

.........مَنْ صَلَّى الفَجْرَ فِي جَمَاعَةٍ ثُمَّ قَعَدَ يَذْكُرُ اللهَ تَعَالَى حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ كَانَتْ لَهُ كَأَجْرِ حَجَّةٍ وَ عُمْرَةٍ﴾. (١)

چي کوم سړی د سهار لمونځ په مسجد کي په جماعت سره وکړي، او پر هغه ځای ناست تر لمر راختلو پوري په ذکر او عبادت کي مشغوله وي، او بيا دوه(٢) رکعته نفل لمونځ وکړي، نو پر دغه دوه رکعته به الله تعالی و ده ته د يو حج او عمرې ثواب ورکوي.

دا صرف د سهار څخه تر اشراق پوري په مسجد کي د کښېنستلو فضيلت دی، نو ځکه د مسلمانانو لپاره بهترين صفت دا دی: چي پخپل ژوندکي د مسجد د ناستي عادت جوړ کړي.

او يو حديث شريف داسي هم راځي: چي د جمعې په ورځ چيکم سړی د خلګو څخه مخکي مسجد ته راسي، الله تعالی هغه ته زيات انعام ورکوي، تر دې منده چي د تيري جمعې څخه ونيسې، تر دې جمعې پوري چي څومره ګناهونه د ده څخه سوي دي، الله تعالی هغه ټوله ور معافوي.(٢)

او داسي حديث هم راغلی دی: چي د جمعې په ورځ د ماځيګر څخه تر مابنامه پوري کم څوک اتيا(٨٠) واره درود شريف ووايي، الله تعالی به د ده د اتيا(٨٠) کلونو ګناهونه ور معاف کړي.(٣)

د دې ټولو فضائلو مقصود دا دی: چي مؤمن د مسجد د ناستي عادت پيدا کړي.

---

(١) كنز العمال: حديث نمبر ٢١٥٠٨

(٢) صحيح البخاري: حديث نمبر ٦٢٠

(٣) القول البديع: صفحه نمبر ٢٨٤

## د الله تعالی درې آوازونه خوښ دي:

چې په کم ځای کې مسجد جوړېږي، نو هغه د نژدې ټولې آبادۍ لپاره باعث د رحمت وي، ځکه د حدیث شریف الفاظ دي: چې الله تعالی د درېو(۳) آوازو په وجه پر فرشتو باندې فخر کوي:

۱. یو: حاجي دی: چې کله احرام وتړي: "لَبَّيْکَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْکَ" وایي.
۲. دوهم: هغه مجاهد دی: چې د معرکې په دوران کې د: الله اکبر نعره پورته کوي.
۳. دریم: د کلي هغه مسجد دی: چې د هغه څخه د مؤذن د الله اکبر آواز راپورته کېږي، نو دا هم د الله تعالی ډېر خوښ وي.(۱)

## د مؤذن احسان:

الله تعالی د مؤذن د آواز په وجه د علاقې د خلګو څخه عذاب وروسته کوي، نن سبا چې زموږ پر دې کلو باندې د هر څومره نافرمانیو کولو سره سره عذاب نه راځي، نو دا د دې کلو د انسانانو کمال ندی، بلکه دا د مسجد د مؤذن کمال دی.
چیکله آذان شروع سي، نو ترکمه ځایه پورې چې د مؤذن آواز رسیږي، شیطان ځغلي، او د هغه بادونه پرېکیږي او د هغه ټولې ابادۍ څخه عذابونه الله تعالی لیرې کوي.
ورنه! پدې کورو کې ډرامې فیلمونه او د الله تعالی قسما قسم نافرمانۍ کیږي، نو بیا د الله تعالی په عذاب راتللو کې بل یو شی مانع نه جوړیږي، بغیر د مؤذن د آذان چې د هغه په وجه الله تعالی د ټول کلي څخه عذاب لیرې کوي.
زموږ په معاشره کې که څه هم مؤذن ته په ډېر کښته نظر کتل کیږي، او په ډېر کم اجرت هغه مقرر کیږي، لیکن د هغه پر ټوله کلي او محله باندې احسان وي، د محلې والا د انسانانو دا خبره په دماغ کې نه راځي: کچیرې هغه آذان نه کولای، نو بیا به محلې والاوو ته دغه ښې ورځې الله تعالی نوای ور نصیب کړې.
په دنیا کې ئې هر څومره درجه کمه خو وي، لیکن په روایاتو کې راځي: چیکله د قیامت ورځ سي، نو یو فرشته به اعلان وکړي:

(۱) کنز العمال: حدیث نمبر ۴۳۲۳۰

.........﴿اَيْنَ الْاَئِمَّةُ﴾.

د مسجدانو امامان چیرې دي.

﴿اَيْنَ الْفُقَهَاءُ﴾.

علماء چیرې دي.

.........﴿اَيْنَ الْمُؤَذِّنُوْنَ﴾.

آذان ورکونکي خلک چیرې دي.

زموږ په معاشره کې چیکم بې چاره د ټولو څخه په معاشره کې خلک په کم حیثیت ورته ګوري، هغه د مسجد مؤذن جوړیږي.

په محله کې چې کم څوک ټوله ژندګي د سود په کاروبار کې تېروي، او نه ئې به ټوله ژوند د حلالې نفقې څکه کړې وي، نو هغه هم راځي، او ده ته غصه کوي، چې تا تر اوسه پورې لا آذان ولې ندی کړی؟

حالانکه که د هغه غوندې انسانانو څخه ټوله دنیا ډکه سي، نو په الله تعالی دې سي قسم وي: چې د دغه مؤذن د پښو د خاورو سره هم ځان نسې برابرولای، ځکه مؤذن د هغه درجې والا انسان دی: چې د قبر خاوره او چینجې د هغه غوښه نه خوري،

پیغمبر ﷺ وایي:

.........﴿اَلْمُؤَذِّنُوْنَ أَطْوَلُ النَّاسِ أَعْنَاقًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾. (۱)

د قیامت په ورځ به د دوی غاړې تر ټولو انسانانو لوړې وي.

یو ځل پیغمبر ﷺ د آذان فضائل بیانول، حضرت عمر ﷺ ورته وفرمایل: اې د الله تعالی رسوله! داسې معلومیږي: چې ستا څخه وروسته به موږ پر آذان کولو باندې یو د بل په مقابل کې توري سره را اخلو، خو آذان به یو بل ته ورنه کړو، ده مبارک ورته وفرمایل: داسې نده: اې عمره! زما پر امت به یو داسې زمانه راځي: چې خلک به آذان په معاشره کې تر ټولو د کښته درجې په انسانانو باندې کوي.

لکه یو ځل د قادسیې په جنګ او معرکه کې مؤذن زخمي سو، نو د عربو سرداران پخپل مابین کې یو د بل سره اخته سول. یوه به ویل: چې آذان به زه کوم، دوهم به هم

ویل: چې آذان زما دی، او معامله یو د بل خلاف تورو را پورته کولو ته ورسېده. حضرت سعد ﷺ آخر قرعه اندازي ور وکړه، چې د کم چا نوم راپورته سو، د هغه د آذان لپاره انتخاب وسو.

چیکله د قیامت په میدان کي دا اعلان وسي: چې دغه درې (۳) طبقې انسانان:

۱. امامان.

۲. علماء.

۳. او مؤذنین.

دي راووزي، نو د دوی لپاره به منبرونه کښېښوول سي، او دوی به پر هغه منبرو کښېنول سي.

د دنیا چې څومره مالداران او تاجران او حاکمان دي، هغه به په صفونو کي د حساب لپاره په ډېر سخت حالت کي ولاړ وي، او دا درې (۳) طبقې به د دوی و مخته پر منبرو باندي په ډېر عزت او احترام سره ناست وي.

یو فرشته به دا اعلان کوي:

......... ﴿اَلَا وَ اِنَّكُمْ جَعَلْتُمْ نَسَبًا وَ جَعَلْتُ نَسَبِيْ﴾.

اې خلګو! تاسو هم یو نسب نامه جوړه کړېوه، او زما هم یو نسب نامه وه.

......... ﴿جَعَلْتُ اَكْرَمَكُمْ اَتْقَاكُمْ﴾.

زما نسب نامه دا وه: چې عزت او کرامت د تقوا داره انسانانو نصیب دی.

......... ﴿وَ لَكِنْ اَبَيْتُمْ وَ قُلْتُمْ اِنَّ فُلَانًا خَيْرٌ مِنْ فُلَانٍ﴾.

لیکن تاسو زما نسب نامه پر شا غورځولې وه، او خپله نسب نامه مي جوړه کړېوه، او تاسو ویل: تقوی هیڅ شی نده، بلکه چې کوم چا ته مال او دولت ور کول سوی دی، هغه د ډېري لوړي درجې والا انسان دی.

......... ﴿اَلْيَوْمَ اَضَعُ نَسَبَكُمْ وَ اَرْفَعُ نَسَبِيْ اَيْنَ الْمُتَّقُوْنَ﴾.

نن ستاسو نسب نامه ډېره خواره او ذلیله ده، او زما نسب نامه ډېره پورته او عزتمنده ده، تقوا داره انسانان را و مخته کړئ.

هلته به هغوی ته داسي نعمتونه او عزتونه ور کول کیږي، چي نه به سترګو لیدلي وي، او نه به غوږو اورېدلي دي، او نه به د چا په زړه او دماغ کي د هغه فکر او تصوړ راګرځېدلی وي.
نو ځکه الله تعالی دا فرمایلي دي: چي زما په مځکه کي زما کورونه هغه مسجدونه دي، او د هغوی آبادونکي زما ملاقات کونکي دي، هغه بنده ډېر نیکبخته وي: چي د خپل کور څخه را روان سي، او زما کور ته زما د ملاقات لپاره راځي، نو د کور والا لپاره حق دادی: چي د خپل راتلونکي میلمه اکرام وکړي.
او پېغمبر ﷺ دا هم فرمایلي دي: چي تاسو کله یو سړی د مسجد عادتي ووینی، نو د هغه د ایمان ګواهي ور کوئ.
حضرت سعید ابن المسیب رضی الله عنه فرمایلي دي: چیکم سړی په مسجد کي کښېني، نو هغه د خپل رب سره مجلس کونکی وي، نو پر ده باندي دا حق دی: چي د ښې خبري څخه ما سوا بله خبره و نکړي.

## د مسجد متعلق زموږ د سلفو اقوال:

په اثر یا خبر کي را روایت سوي دي: چي په مسجد کي خبري کول، نیک اعمال داسي خوري: لکه حیوان چي وابنه په کم شکل خوري.
حضرت ابراهیم نخعي رحمه الله علیه فرمایلي دي: چي د صحابه کرامو به دا خیال وو: چي په توره شپه کي مسجد لره ور تلل د جنت باعث دي.
حضرت انس بن مالک رضی الله عنه فرمایلي دي: چي کم سړي په مسجد کي څراغ بل کړی، نو فرشتې او حاملین د عرش د دغه مسجد د روښانه کېدلو تر وخته پوري د ده لپاره د مغفرت دعاګاني کوي.
حضرت علي رضی الله عنه فرمایلي دي: چي کله یو د الله تعالی بنده وفات سي، نو د هغه د لمانځه ځای چي مسجد دی، پر هغه باندي ژړا کوي، او چي پر کمه مځکه ده نیک اعمال کول، نو هغه مځکه هم پر ده باندي ژړا کوي.
او د هغه څخه وروسته به ده د دغه آیت مبارک تلاوت کاوی:

........فما بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّماءُ وَ الْاَرضُ وَ ماكانَ مُنظِرِين﴾.(١)

يعني چي کم چا نيک اعمال نه کول، او نه ئې په مسجدانو او پر مځکه عبادتونه کول. نو چي مرگ ور لره راغلی، بيا پر دوی نه آسمان او نه مځکي ژړا وکړه، او نه ئې دوی ته مهلت ورکړي.

د حضرت انس ﷺ څخه مرفوع روايت دی:

......ما مِنْ عَبْدٍ اِلَّا وَلَهُ بابانِ بابٌ يَدْخُلُ فِيْهِ عَمَلُهُ، وَ كَلامُهُ ، وَبابٌ يَخرُجُ مِنه رِزْقُهُ فاِذا مات وفقداهُ بَكِيا عَلَيْه﴾.(٢)

د هر بنده لپاره الله تعالی په آسمان کي دوې دروازې جوړي کړي دي، د يوې دروازې څخه د ده اعمال او خبري د الله تعالی عرش ته پورته کيږي، او د بلي دروازې څخه د ده رزق را شوه کيږي، چيکله دی وفات سي، او هغه دروازې د ده اعمال پورته ختل او بارزق را شوه کېدل نه ويني، نو هغه پر ده باندي ژړا کوي.

حضرت شريح ابن علا حضرمي رحمة الله عليه فرمايي:

......ما مَاتَ مُؤمِنٌ فِي غُربَةٍ غابَتْ عَنْهُ فِيْهَا بَوَاكِيْهِ اِلَّا بَكَتْ عَلَيْهِ السَّمَاءُ وَ الْاَرْضُ﴾.

چيکله مؤمن په حالت د سفر کي په ناولده مځکه کي وفات سي، او هلته پرده باندي ژړا کونکي څوک نه وي، نو پر ده باندي بيا آسمان او مځکه ژړا کوي.

حضرت عطاء رحمة الله عليه فرمايلي دي:

.........بُكاءُ السَّمَاءِ حُمْرَةُ اَطْرافِهَا﴾.

د آسمان د ژړا شکل داسي وي: چي د هغه د ټولو اطرافو رنگ سور سي.

## ۹. جنت کي د کور وعده:

الله تعالی د پيغمبر ﷺ په ذريعه سره انسانانو ته يوه خبره بيان کړېده، ظاهراً خو ساده او آسانه خبره ده. ليکن کچيري د انسان په دماغ کي راسي، بيا خو ډېره لويه او درنه خبره ده.

پيغمبر ﷺ فرمايلي دي:

---

(١) سورة الدخان آيت نمبر ١٩

(٢) اتحاف الخيرة المهرة: حديث نمبر ٥٨١٦

........مَنْ بَنَى لِلَّهِ مَسْجِدًا بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ﴾. (۱)

چي کوم څوک د الله تعالی لپاره مسجد جوړ کړي، الله تعالی به د ده لپاره په جنت کي کور جوړ کړي، اوس دا یو قسم د الله تعالی لطرفه د خپل بنده سره وعده ده، چیکم بنده په دنیا کي زما کور جوړ کړي، نو زه به د هغه لپاره په جنت کي کور جوړ کړم.

علماؤو لیکلي دي: چي هر بنده خو پوره کوړ نسي جوړولای، البته! چي څومره ئې وسع او استطاعت وي، نو هغه دي د مسجد په جوړولو کي خرڅ کړي، نو ته د خپل استطاعت مطابق د الله تعالی په کور کي همت وکړه، الله تعالی به تاته د خپل شان مطابق اجر در کوي.

## په دريو(۳) کارو کي د الله تعالی مدد:

زموږ بزرگانو لیکلي دي: چي دري(۳) کاره داسي دي: چي بنده په هغه کي همت وکړي، د الله تعالی مدد د هغه سره ضرور ملگری کیږي.

۱. یو هغه بنده: چي د گناهونو څخه توبه وکاږي، او د الله تعالی څخه همېشه غوښتنه کوي، چيْ یا الله! ما د خپلو گناهونو څخه محفوظه وساته، الله تعالی فرمایي: چي اوس د دغه بنده د گناهونو څخه محفوظه کول پر ما لازم وگرځېدل.

۲. دوهم هغه سړی: چي د خپل نارینه یا زنانه بچي د نکاح په باره کي همت وکړي، او د هغه د برابرولو کوشش وکړي، که څه هم د ده سره ظاهراً هیڅ اسباب نوي، الله تعالی ته دغه عمل دومره محبوب او خوښ وي، چي الله تعالی هغه بنده هیڅکله نه نا امیده کوي، د نکاح چي څومره ضروریات وي، هغه به الله تعالی د خپل طرفه ورپوره کوي.

۳. او دریم هغه سړی: چي د مسجد جوړولو نیت وکړي، نو الله تعالی هیڅکله دی نه پرېشانه کوي، او د خپل طرفه داسي اسباب برابروي، چي د مسجد د جوړولو چاري په ډېره آسانه طریقه سره سر ته ورسیږي.

---

(۱) کنز العمال: حدیث نمبر ۲۰۷۲۸

## د مدني ژوندگۍ آغاز د مسجد د تعمیر څخه:

پخپله پیغمبر ﷺ چیکله د هجرت په سفر مدینې طیبې ته راغلی، نو د ټولو څخه مخکې ده د مسجد تعمیر وکړی، چې د هغه مسجد نوم: مسجد قباء دی، دا د اسلام اولنی مسجد وو، د مسلمانانو د ژوندگۍ ترتیبات د دغه ځای څخه شروع سول، نو په هره آبادي کې د مسجد ضرورت دی، او د مسلمانانو د اجتماع او را جمعه کېدلو لپاره او د خپل عبادت د سر ته رسولو لپاره د مسجد تعمیر ضروري دی، او د عامو مسلمانانو لپاره په هغه کې د مدد کولو او حصه اخیستلو عمل ضروري دی.

نو مساجد د مسلمانانو مقدسات دي، او دا د عبادت ځایونه دي، پدې کې باید مسلمان د عبادت څخه علاوه بل عمل و نکړي، او چې څومره وخت په مسجد کې تېروي، هغه مکمل په خاموشي او عبادت سره وي، او په مسجد کې د شر او شور جوړول یا د مجلسونو څخه ځان وګوري، او یو داسې عمل نه وکړي، چې د مسجد د آدابو خلاف وي.

نیکن د بده مرغه! کچیري د مسلمانانو په مسجدونو کې شر او شور جوړ سي، نو دا پیغمبر ﷺ د فتنې زمانه بللې ده، او دا ئې د فتنې د زمانې یو علامه ښکاره کړېده، الله تعالی زموږ او ستاسو په زړو کې د خپلو مقدساتو احترام راولي، او هم دې په مساجدو کې د شر او شور جوړولو او یا د هغه د آدابو د رعایت نه کولو څخه موږ او تاسو محفوظه کړي، الله تعالی دې دا څو خبرې قبولې او مقبولې وګرځوي.

آمِیْن یَا رَبَّ العَالَمِیْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ کَانَ لَکُمْ فِی رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایہ)

# د فتني د دور علامې، (پنځم بيان)

(بيان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذالحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ا بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إنّ الْحَمْدَ لِلّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَستَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ أَنّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أمّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «وَأُكْرِمَ الرَّجُلُ مَخَافَةَ شَرِّهِ، وَظَهَرَتِ الْقَيْنَاتُ وَالْمَعَازِفُ، وَشُرِبَتِ الْخُمُورُ، وَلَعَنَ آخِرُ هَذِهِ الْأُمَّةِ أَوَّلَهَا، فَلْيَرْتَقِبُوا عِنْدَ ذَلِكَ رِيحًا حَمْرَاءَ، وَزَلْزَلَةً وَخَسْفًا وَمَسْخًا وَقَذْفًا وَآيَاتٍ تَتَابَعُ كَنِظَامٍ بَالٍ قُطِعَ سِلْكُهُ فَتَتَابَعَ».(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو! په تېرو څو جمعو کې هڅېشه زه ستاسو په مخ کې د پېغمبر ﷺ يو حديث مبارک پېشوم، چې په هغه کې پېغمبر ﷺ په معاشره کې د فتنو يو څو علامې بيان کړي دي.

چې زما په امت کې به دغه علامې ښکاره کېږي، او دا به پر دوی باندې د تکاليفو او پرېشانيو او فتنو زمانه وي.

١. اوله دا: چې د مسلمانانو مشترک مالونه لکه "بيت المال"، يا مال غنيمت، يا د مسلمانانو قومي خزانه به انسانان خپل ذاتي دولت و بولي.
٢. دوهمه دا: چې په امانت کې خيانت شروع سي.
٣. دريمه دا: چې زکوة د مال نقصان و بلل سي.

---

(۱) سورة يونس: آيت نمبر ۸۵
(۲) سنن ترمذي: حديث نمبر ۲۲۱۱

۴. څلورمه دا: چې د زنانو اطاعت به کول کیږي.
۵. پنځمه دا: چې د میندو نافرماني به کیږي.
٦. شپږمه دا: چې د دوستانو سره بنه ژوند وي.
۷. اومه دا: چې زامن به د پلار څخه ناراضه وي.
۸. اتمه دا: چې په مسجدانو کې مجلسونه کیږي.
۹. نهمه دا: د قوم رذیل انسانان به د قوم سرداران وي.

د دې علاماتو متعلق ما ستاسو په حضور کې په تیرو جمعو کې په تفصیل سره وضاحت پیش کړی، الله تعالی دې موږ او تاسو ټولو ته پر هغه باندې د عمل کولو توفیق رانصیب کړي.

## لسمه (۱۰) علامه:

۱۰. لسمه علامه پیغمبر ﷺ دا بیان کړېده: زما پر امت به یو داسې زمانه راځي: ............وَأُكْرِمَ الرَّجُلُ مَخَافَةَ شَرِّهِ﴾.

چې خلګ به د یو چا عزت او اکرام صرف په دې خاطر کوي: چې د هغه د شر څخه خپل ځان وساتي.

یعني: په زړه کې به ئې د هغه سره یوه ذره محبت نه وي، او نه به په هغه سړي کې د عزت ور کولو یو صفت وي، صرف په دې خاطر به دی د هغه عزت کوي، ولې! که ئې عزت نه وکړي، نو دا خطره او بېره ورسره وي: چې هسې نه: هغه د یو طرفه زما خلاف د شرارت سلسله شروع کړي.

او دغه ترتیبونه چې انسان د خپل ځان د حفاظت لپاره د یو چا اکرام او عزت کوي، او هم د هغه په مخ کې خاموشه پاته کیږي، چې هسې نه: سبا ماته تکلیف را ونه رسوي، په مخکنیو دورونو کې تېر سوي دي، او هم به په را روانو دورونو کې تیریږي.

## د حضرت ابو شریح عدوي رضي الله عنه او عمرو بن سعید مناظره:

د حدیثو په کتابو کې د یزید ابن معاویه رضي الله عنه د زمانې یو افسوسناکه واقعه لیکلې ده.

چیکله د مدینې منورې خلګو د یزید پر لاس باندې د بیعت کولو څخه انکار وکړی، او د "عبدالله بن حنظله" پر لاس ئې بیعت وکړی، نو "یزید" د "عمرو بن سعید" په مشري کې "مدینې منورې" ته یو لښکر را واستاوی، چې هغوی پر "مدینه منوره" باندې حمله وکړه، او په زرو صحابه او تابعین ئې شهیدان کړل، چې په هغه کې د "حرّه" واقعه ډېره مشهوره ده، چې ډېر کسان شهیدان سول، او د "مدینې منورې" په قبرستان "جنت البقیع" کې اوس هم د "حرّه" د شهیدانو اجتماعي قبر موجود دی.

او په روایاتو کې راځي: چې هغه لښکر د مدینې پر زنانو داسې ظلمونه وکړل، او داسې وحشت ئې وکړی، چې کمې زنانې بغیر د خاونده وې، یا کونډې وې، نو داسې شان زر (۱۰۰۰) زنانې د دوی د زناکارۍ څخه حاملې سوې.

د مدینې منورې د دغه شان تباه کولو څخه وروسته "عمرو بن سعید" خپل لښکر د "مکې مکرمې" پر طرف را وګرځاوی، په دغه وخت کې د "مکې مکرمې" والی حضرت عبدالله بن زبیر ﷜ وو، دوی د هغه سره د مقابلې کولو لپاره "مکې مکرمې" ته را روان سول.

نو په دې وخت کې یو صحابي: چې ډېر جلیل القدر او قدیم الاسلام وو، حضرت ابو شریح عدوي ﷜ عمرو بن سعید ته وویل: چې اې امیره! زه تاته یوه خبره کول غواړم، هغه دا: چې د فتح مکې په دوهمه ورځ د سهار په وخت کې پیغمبر ﷺ د مکې مکرمې د حرمت په باره کې یوه خبره وکړه، چې هغه زما غوږونو واورېده، او په دا وخت کې زما سترګې پیغمبر ﷺ ته متوجه وې، او زما زړه هغه خبره یاد کړله.

هغه دا وه: چې ده مبارک و فرمایل: الله تعالی چې "حرم مقدس" د کم وخت څخه په دنیا کې پیدا کړی دی، نو د هغه وخت څخه ئې احترام ور کړی دی، او تر قیامته پورې به د ده هغه احترام او عزت باقي وي، او الله تعالی خپل نبي ﷺ ته د دوو (۲) ساعتو لپاره په هغه کې قتال کول حلال کړي وو.

اوس که تاته یو سړی ووایي: چې لکه څنګه چې الله تعالی خپل نبي ﷺ ته په هغه کې قتال حلال ګرځولی وو، نو زموږ لپاره هم حلال دی، نو ته هغه ته ووایه: چې الله تعالی خو خپل نبي ﷺ ته په حرم کې قتال حلال ګرځولی وو، لېکن موږ ته حلال نه دی.

نو عمرو بن سعید ورته وویل:

............﴿اَنَا اَعْلَمُ مِنْکَ بِذٰلِکَ﴾. زه په دغه مسئله باندې تر تا ډېر زیات پوهیږم، نو حضرت ابو شریح عدوي رضي الله عنه دده د شر څخه د خپل ځان ساتلو په خاطر خاموشي اختیار کړه، او په خبرو کې ئې د ده سره نور حجت او دلیل پیش نه کړی.
او عمرو بن سعید پخپل ضد کې مکې مکرمې ته راغلی، او پر "بیت الله" باندې ئې "منجنیق" ودراوی، او پر کعبه ئې وارونه شروع کړله، چې د هغه څخه د مکې غلاف څیري سو، په دې دوران کې ده ته اطلاع راورسیده: چې یزید هلاک سو، نو دی ناکام او نامراده واپس خپل وطن ته ولاړی.(۱)

## د حضرت ابوهریره رضي الله عنه او د مروان سوال او جواب:

داغه رنګه په بخاري شریف کې دا هم راغلي دي: چې د حضرت ابو هریره رضي الله عنه او د "مروان ابن الحکم" په مابین کې د سوال او جواب سلسله شروع وه.
حضرت ابو هریره رضي الله عنه یو حدیث ورته ووایې، او هغه حدیث د مروان پر طبیعت بنه نه ولګېدی، او د ده ډېر ناخوښه سو، چې پر هغه باندې ئې د حضرت ابو هریره رضي الله عنه سره بحث کاوی.
حدیث دا وو: چې حضرت ابو هریره رضي الله عنه و فرمایل: چې ما د الصادق و المصدوق جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي: چې زما امت به د قریشو د یو څو نوعمره هلکانو په لاس ور سي، چې د هغه په وجه به پر امت باندې مختلف قسم مصیبتونه او فتنې راسي.
نو مروان د سوال په شکل ورته وویل: چې ایا هغه به نوجوانان هلکان وي؟ حضرت ابوهریره رضي الله عنه جواب ور کړی: که زه وغواړم، د هغه ټولو نومونه تاته دریادولای سم، مګر دا زمانه د هغه هلکانو د حکومت ده، که زه د هغوی نوم و تاته در واخلم، نو شر او فتنه به جوړه سي.(۲)
نو حضرت ابوهریره رضي الله عنه د هغوی د فتنې د شر په خاطر خاموشه سو، او د هغوی نمونه ئې یاد نه کړل، هسې نه: چې سبا هغوی زما خلاف یو فتنه او فساد او شر جوړ نه کړي.

---

(۱) ترمذي شریف، جلد نمبر۱، صفحه نمبر ۱۶۷،، نسائي شریف، جلد نمبر۲، صفحه نمبر ۲۴
(۲) بخاري شریف، حدیث نمبر ۳۴۷۷

په يو بل حديث کې حضرت ابوهريره‌رضي الله عنه فرمايي: چې ما د پيغمبرﷺ څخه دوه قسمه حديثونه اورېدلي دي، په هغوی کې يو قسم ما د خلکو په مابين کې بيان کړی دی، او د دوهم قسم په بيانولو کې زه د خپل گردن او غاړې خطره وينم، او ده به خپلې غاړې ته اشاره کوله، چې يعني: د هغه د بيانولو څخه زما د غاړې پرې کېدلو او د ذبحه کېدلو خطره ده.(۱)

حافظ ابن حجر عسقلاني رحمة الله عليه په فتح الباري کې رانقل کړي دي: چې د دوهم قسم حديثونو څخه مراد هغه احاديث دي: چې د "بنو اميه" د کم عمره ځوانانو د سلطنت د خرابيو بيان پکښې سوی دی، چې پيغمبرﷺ به فرمايل: چې د شپېته هجري د ابتدا څخه به د "بنو اميه" فتنې په دې امت کې روانيږي.

چنانچه په شپيتمه(۶۰) هجري سنه کې د "يزيد ابن معاويه" د حکومت سلسله شروع سوه، چې د هغه د حکومت د ابتداء څخه بيا تر انتهاء پورې پر صحابه وو او تابعينو که ظلمونه وسول، تر قيامته پورې بيا د هغه نظير نسي راتللای، ځکه چې د اول څخه تر آخره پورې د هغه حکومت د صحابه وو او بنو خلکو لپاره مرگ او مصيبت جوړ سوی وو.(۲)

## د سعيد ابن جبير رحمه الله او د حجاج سوال او جواب:

د حجاج ابن يوسف ظلم او ستم په دنيا کې مشهوره وو، په ترمذي شريف کې د هشام ابن حسان څخه روايت دی: چې کم خلک حجاج په خپله توره په خپل لاس او بغير د څه جرمه قتل کړي وو، د هغه عدد يو لک او شل زره(۱۲۰۰۰۰) ته رسېدلی وو.(۳)

او په حاکمانو کې د ده شمار په بد ترينو حاکمانو کې راتلی، چې د هغه په وجه عام خلک د ده څخه بېزاره وو.

د هغه وخت د مسلمانانو لوی امام حضرت سعيد ابن جبير رحمة الله عليه هم د هغه خلکو سره ودرېدی: چې کم څوک د حجاج و مقابله ته ولاړ وو، لېکن حجاج چونکه د عبد الملک

(۱) بخاري شريف: حديث نمبر ۱۲۰
(۲) فتح الباري مصري: جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۲۶۱
(۳) ترمذي شريف: جلد نمبر ۲، صفحه نمبر ۴۶

ابن مروان د طرف څخه حاکم وو، نو ځکه د ده مقابله کونکي حضرات د ناکامۍ سره مخامخ سول.

حضرت سعید ابن جبیر رحمته الله علیه چونکه د لویو تابعینو او د غټو محدثینو څخه وو، او د حجاج ابن یوسف د ده سره عداوت او دښمني پیدا سوه، نو دی مکې مکرمې ته ولاړی، هلته پټ سو، لېکن د حکومت جاسوسانو د ده جاسوسي وکړه، او دی ئې ګرفتاره کړی، او د ده و مختهٔ ئې حاضر کړی.

حجاج ابن یوسف د سعید ابن جبیر رحمته الله علیه څخه سوالات شروع کړل، او حضرت سعید ابن جبیر به د هر سوال جواب په ډېر اطمینان سره ور کاوی.

حجاج ابن یوسف د مختلفو سوالو په دوران کي دا هم ورته وویل: چي اوس به ته ګورې: چي زه تا د زندګۍ په بدله کي څنګه جهنم ته رسوم.

ده په جواب کي ورته وویل: که ماته دا معلومه سي: چي د ژوند او د مرګ اختیار ستا سره دی، او د جنت او جهنم مالک ته ئې، نو بیا به ما و تاته سجده کولای.

او حجاج ابن یوسف بیا دا پوښتنه څني وکړه: چي حضرت علي رضی الله عنه په جنت کي دئ، یا په جهنم کي، هغه ځکه چي حجاج به حضرت علي رضی الله عنه په ډېرو بدو الفاظو یادوی.

حضرت سعید بن جبیر په جواب کي ورته وویل: چي زه چیري جنت یا جهنم ته ولاړ سم، او د هغه ځایو نو استوګنووینم، نو بیا تاته د دې خبري جواب در کولای سم.

حجاج دا پوښتنه هم څني وکړله: چي زه به په قیامت کي په کم حالت کي یم؟ نو سعید ابن جبیر رحمته الله علیه ورته وویل: چي زه د غیب په خبرو باندي هیڅ علم نه لرم.

چیکله حجاج د ده د قتل حکم وکړی، نو ده ورته وویل: چي ماته د دوه رکعته لمانځه کولو اجازت راکړه، چیکله هغه اجازت ور کړی، نو دی قبلې ته مخامخ ودرېدی، او دا آیت ئې ووایي:

........﴿إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ﴾.(١)

یعني: ما خپل مخ د هغه ذات و طرفته ګرځولی دی: چي کم ذات آسمانونه او ځمکي جوړي کړي دي، او زه د هغه و طرفته توجه کونکی یم، او زه د مشرکانو څخه نه یم.

چیکله حجاج ولیدل، نو هغه د ده مخ د قبلې څخه راوګرځاوی. او د نصاریٰ وو د قبلې و طرفته ئې کړی، نو سعید ابن جبیر رحمة الله علیه ورته وویل:

............فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ﴾.

د مجبورۍ په وخت چې پر کم طرف د انسان مخ وګرځي، نو هغه طرفته الله تعالی سته، یعني: هغه طرفته لمونځ صحیح کیږي.

د لمانځه کولو څخه وروسته حضرت سعید ابن جبیر رحمة الله علیه حجاج ته وویل: زه تا د دې خبرې ګواه او شاید جوړوم:

............وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ﴾.

یعني: زه د دې کلمې ګواهي پېشوم، ته به د ځان سره دا زما خبره محفوظه وساتې، د قیامت په میدان کې چیکله زه او ته سره مخامخ سو، نو زه به دا ګواهي ستا څخه اخلم: د هغه څخه وروسته ئې دی شهید کړی.(۱)

علماؤ لیکلي دي: چې حضرت سعید ابن جبیر رحمة الله علیه پخپل وخت کې دومره لوی عالم او محدث وو: چې د یو لک او شل زره(۱۲۰۰۰۰) انسانانو د قتل څخه اسلام ته چې څومره نقصان ورسېدی، یوازې د سعید ابن جبیر رحمة الله علیه د قتل څخه تر هغه زیات ورسېدی.

## یوولسمه(۱۱) علامه: شراب عام کېدل:

او د فتنو د زمانې یوولسمه(۱۱) علامه د پېغمبر ﷺ په حدیث کې دا راغلې ده: چې په معاشره کې به د شرابو چیښل عام سي، او شراب چیښل چې څومره زموږ په دین کې د نفرت والا عمل دی، د خلکو په زړو کې به د هغه څخه په هغه درجه کې نفرت پاته نه وي.

پلار به د زوی و مخته او زوی به د پلار و مخته شراب چیښې، او یوه ته به هم غیرت او حیا نه دریږي.

حالانکه د پېغمبر ﷺ په احادیثو کې د شرابو چیښلو زیات قباحت او بدوالی راغلی دی، حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه به فرمایل: چې شرابي به د قیامت په ورځ په داسي

حال کې راپیش سي: چې د هغه مخ به تک تور وي، او سترګي به ئې شنې وي، او ژبه به ئې راوتلې پر سینه باندي ځړیږي، او د هغه څخه به لاړي بهیږي، او د هغه د بد بوئي په وجه به هر کتونکی د هغه څخه کرکه کوي.

- شرابي ته به څوک سلام نه وایي.
- او شرابي چې کله ناجوړه سي، پوښتني ته به څوک نه ور ځي.
- او چیکله مړ سي، د هغه جنازه به څوک نه کوي.
- او د مرګ څخه بعد به ئې د مسلمانانو په مقبره کې نه ښخوي.

## د شرابو په باره کې پر لس(۱۰) قسم خلګو لعنت:

پیغمبرﷺ د شرابو په وجه پر لس قسم خلګو باندي لعنت فرمایلی دی:

- ..........عَاصِرَهَا﴾. چې کم څوک مطلقاً شراب جوړونکی وي.
- ..........وَمُعْتَصِرَهَا﴾. چې کم څوک د ځان لپاره شراب جوړوي.
- ..........وَشَارِبَهَا﴾. چې کم څوک شراب چیښي.
- ..........وَحَامِلَهَا﴾. چې شراب د یو ځای څخه بل ځای ته وړي.
- ..........وَالْمَحْمُولَةُ إِلَيْهِ﴾. چې کم چاته شراب راوړل کیږي.
- ..........وَسَاقِيَهَا﴾. چې کم څوک د شراب ور کونکی وي.
- ..........وَبَائِعَهَا﴾. چې کم څوک شراب خرڅونکی وي.
- ..........وَآكِلَ ثَمَنِهَا﴾. چې کم څوک د شرابو قیمت خوري.
- ..........وَالْمُشْتَرِي لَهَا﴾. چې کم څوک شراب رانیونکی وي.
- ..........وَالْمُشْتَرَاةُ لَهُ﴾. چې د کم چا لپاره شراب رانیول کیږي.(۱)

## په آخرت کې د شراب چیښونکي عذاب:

په روایاتو کې راځي: چې کم څوک په دنیا کې د شرابو چیښلو عادت لري، نو د هغه حشر به دا رنګه وي: چې په جهنم کې زناکاره زنانو ته عذاب ور کول کیږي، د هغوی د

(۱) ترمذي شریف: حدیث نمبر۱۲۹۵

شرمګاهونو څخه به بدبویه ویني او مکروب په ډېر کثرت سره بهیږي، چې د هغه څخه به باقاعده یو نهر جوړ سي.
نو شرابي ته به د دغه زناکاره زنانو د شرمګاهونو څخه د بهېدلو وینو او مکروب د نهر څخه خورک او چیښل ور کول کیږي، او دا به د دوی غذا او خورکه هم وي.(١)
په یو بل حدیث کي د پیغمبر ﷺ څخه دا روایت هم رانقل سوی دی: چي کم څوک د نشې په حالت کي مړ سي، نو هغه به د قیامت په میدان کي دغسي نشه راپورته کیږي، او د جهنم په مابین کي یو غر دی، چي د هغه نوم "سکران" دی، چي په هغه کي به د وینو او مکروب نهرونه روان وي، او د هغه څخه به د دغه نشه انسان د خورک او چیښلو انتظام کول کیږي.(٢)

## دوولسمه (۱۲) علامه: د نارینه دورېښمو استعمال:

پیغمبر ﷺ د فتنې د دور په علامو کي یوه دا هم بیان کړېده:
............وَ لُبسَ الحَرِيْرُ﴾.
چي نارینه انسانان به ورېښم استعمالوي، هسي: زموږ په دین کي د نارینه وو لپاره د ورېښمو استعمال جائز نه دی، او پیغمبر ﷺ دا فرمایلي دي: چي زما پر امت به یو داسي زمانه راځي: چي نارینه به ورېښم استعمالوي، یعني د ورېښمو لباسونه به اغوندي، نو دا به د خیر زمانه نه وي، بلکه په تسلسل سره به پر دې امت باندي پرېشانۍ او مصیبتونه راځي.

## حضرت علي رضي الله عنه ته د پیغمبر ﷺ غصه:

حضرت علي رضي الله عنه فرمایي: چي په کمه زمانه کي د ورېښمو د لباس د حرمت حکم راغلی وو، په هغه وخت کي ما ته معلومه نه سوه.

(١) الترغیب و الترهیب للیافعي: صفحه نمبر ۱۷۲
(٢) الترغیب و الترهیب للیافعي: صفحه نمبر ۱۵۷

خو یوه ورځ پیغمبر ﷺ ماته د ورېښمو یو لباس راکړی، او راته وئې فرمایل: چې ورسه! یائې پر زنانو تقسیم کړه، او یا ئې خرڅ کړه، د دې د قیمت څخه نفعه واخله، خو زه د پیغمبر ﷺ په مقصد پوه نه سوم، او د حرمت حکم هم راته معلوم نه وو.

نو ما هغه لباس د ځان لپاره جوړ کړی، او بیا مې واغوستی د پیغمبر ﷺ حضور ته راغلم، ده چې کله په هغه کپړه کې زه ولیدم، نو ډېر زیات د غصې په شکل ئې ماته وکتل، زه په ډېره سخته بېره کې بیرته راووتلم.

نورو صحابه وو راته وویل: چې چونکه د ورېښمو د لباس د نارینه وو لپاره ممانعت راغلی دی، نو ځکه ستا د لباس په لیدلو سره دی مبارک ناراضه سو.

زه ژر ورغلم، هغه لباس مې د خپل بدن څخه لیری کړی، او پر زنانو مې تقسیم کړی، او یو بل لباس مې واغوستی، د ده مجلس ته راغلم، چیکله ئې زه ولیدم، نو په ډېر ورین تندي ئې راته وکتل، او زما سره ئې د محبت اظهار وکړی.(۱)

## دیارلسمه (۱۳) علامه: د ناچ او اتڼ زناني ساتل:

او پیغمبر ﷺ د فتنې د دور علامه داهم بیان کړېده: چې زما پر امت باندي به داسي وخت راځي: چې په هغه کي به خلګ د ناچ او د غزلو والا بدکاره زناني ساتي، او هم به د هغه شوق لري، او د هغه ډانس او اتڼو ته به کښېني.

کچیري د ده سره دغه شان خپلي زناني نه وي، نو بیا به ئې دی د بل ځای څخه په کرایه باندي راولي، او د هغوی لپاره به محفل برابروي، او د هغه د اورېدلو او لیدلو لپاره به خلګ راجمعه کوي.

خو د پیغمبر ﷺ د دې خبرو مقصد دا دی: چې پر امت به داسي دور راځي: چې د انسانانو څخه به حیا او شرم ختم سي، او دا به د امت لپاره د خیر زمانه نه وي.

ځکه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دی:

.........الْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الْإِيمَانِ﴾.(۲)

(۱) مستفاد بخاري: جلد نمبر۱، صفحه نمبر ۲۵۶

(۲) مصنف ابن ابي شیبه: حدیث نمبر ۲۵۳۴۱

حيا د ايمان يو شعبه او حصه ده، چې د هغه په ختم کېدو سره ايمان کامل نه پاتې کيږي.

او داغه رنګه پيغمبر ﷺ دا هم فرمايلي دي:

...........إِذَا لَمْ تَسْتَحْيِ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ﴾. ([1])

چيکله انسان حيا نه لري، نو چې هر څه په مخه ورسي، هغه به کوي، او د حيا په ختم کېدو سره د انسان غيرت ختم کيږي.

او پيغمبر ﷺ فرمايي:

...........اَلْغَيْرَةُ مِنَ الْإِيْمَانِ﴾. غيرت د ايمان يو جز دی. او:

...........لَا اِيْمَانَ لِمَنْ لَا غَيْرَةَ لَهُ﴾. د هغه چا ايمان کامل نه وي: چې په کم چا کي غيرت نه وي.

او پيغمبر ﷺ فرمايي:

...........اَنَا اَغْيَرُ وُلْدِ آدَمَ وَاللهُ اَغْيَرُ مِنِّی وَمِنْ غَيْرَتِهِ حَرَمَ الْفَوَاحِش مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَ مَا بَطَنَ﴾.

زه د ټوله اولاد د آدم څخه زيات غيرت مند يم، او الله تعالى تر ما هم زيات غيرت مند ذات دی، چې هغه د خپل غيرت په تقاضا ټول فاحشات ظاهري وي، او که باطني حرام ګرځولي دي.

په موجوده دور کي د انسانانو د فهم لپاره د زياتو مثالونو ور کولو ضرورت نسته، ځکه چې په هر کور کي تې وي پروت دی، او په هر جيب کي هغه د بې حيائي لويه آله ټليفون سته.

بچې چيکله د مور د نس څخه پيدا سي، بيا ټوله زندګي د ناچ او اتنونو او د نامحرمه زنانو د ګانو په ليدلو او اورېدلو کي لوی سي، نو د هغه بچي د ذهن څخه به دغه بدوالی څنګه ختم سي، ځکه چې دا ټول دی د خپل کور شيان بولي، او دا د زندګی يو اهم حصه د ده په دماغ کي ورغلی وي.

([1]) جامع معمر بن راشد: حديث نمبر ۲۰۱۴۹

بیا که څوک و ده ته د دې شیانو خرابي او حرمت بیانوي، نو دی ډېر د حیرت په شکل و هغه ته ګوري، چي دا اوس څه وايي؟ او د ده په دماغ کي د دې خبري ځای نیولی وي، چي د دې بغیر خو انساني زندګي نسي تېرېدلای.

په حدیث شریف کي شرابو ته "ام الخبائث" ویل سوي دي، چي د هغه د چیښلو څخه وروسته انسان په هر بد عمل کي مبتلا کیږي.

نو که شراب "ام الخبائث" دي، نو ټي وي او ټیلیفون بیا "ام الفواحش" دي، چي کم سړی په دې شیانو کي مبتلا سي، او دا غلط استعمالوي، د هغه څخه شرم او حیا ختمیږي، او په خپل ژوند کي په هره بې حیائي کي مبتلا کیږي.

حالانکه الله تعالی په قرآن کریم کي فرمایلي دي:

........وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ﴾.(۱)

تاسو به فواحشو کارو ته نه ورنږدې کیږئ، هغه که ښکاره وي، او که پټ وي.

..........قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ﴾.(۲)

اې محمده! ته دې خپل امت ته ووایه: زما رب ټول ظاهري او باطني فواحش د انسانانو لپاره حرام ګرځولي دي.

نو چي کله د امت انسانان په فاحشو اعمالو کي راسي، او د هغوی په معاشره کي دغه بې حیا زناني او بې حیا محفلونه ځای پیدا کړي، نو دا هم د امت لپاره د فتنو او مصیبتو او د مشکلاتو زمانه بلل کیږي.

## د فتنو د زمانې څورلسمه (۱۴) علامه:

پیغمبر ﷺ څورلسمه(۱۴) علامه دا بیان کړېده: چي داسي زمانه به راځي: چي خلګ به د سروزونو او د لهو او لعب آوازونه خوښوي.

د ډول آواز، د سروز آواز، او د باجې او د سارنګۍ د آوازو اورېدلو شوق به د خلګو سره ډېر سي، نو په دې پوه سه! چي دا د خیر زمانه نده، بلکه په تسلسل سره به فتنې او پرېشانۍ پر امت باندي راځي، او د الله تعالی تر عذابونو به امت لاندي کیږي.

(۱) سورة الانعام، آیت نمبر ۱۵۱
(۲) سورة الاعراف، آیت نمبر ۳۳

## د شيطان غوښتنه:

شيطان چيکله الله تعالى د خپل دربار څخه ليرې کړې، او هم ئې تر لعنت لاندي راوستی، نو ده د الله تعالى څخه تر قيامته پوري د ژوند خواست و کړی، چې الله تعالى منظور هم کړی.

نو ده يو ځل د الله تعالى څخه غوښتنه وکړه: چي په دنيا کي به زما کتاب څه وي؟ الله تعالى ورته وويل: چي "علم النجوم" به ستا کتاب وي.

دوهمه غوښتنه ئې دا وکړه: چي يا الله! زما مؤذن به څوک وي؟ الله تعالى ورته وايي: چي سروزونه ږغونکي او باجې او غزلي ويونکي به ستا مؤذنان وي، او چي کم څوک سروزونه او غزلي اوري، هغه به دي مقتديان وي.

نو شيطان امام دی، او سروزونه ږغونکي او غزلي ويونکي ئې مؤذنان دي، او کتاب ئې علم النجوم دی، او د غزلو اورېدونکي ئې مقتديان دي، نو چي په قيامت کي شيطان په کم ځای کي وي، هسي نه: چي د ده د غه ډله د ده سره يو ځای وي.

نو د مسلمان لپاره د دغه فحش آوازونو اورېدلو څخه په هر وخت کي د خپل ځان حفاظت کول ضروري عمل بلل کيږي.

د حديثو په کتابو کي د "دُف" يعني: ډول ټکولو ذکر خو راغلی دی، ليکن دا ټولي خبري د صلح حديبيې او د خيبر د غزا څخه مخکي وې، وروسته د دې ټولو د حرمت حکم راغلی دی، او دا ټوله منسوخ ګرځېدلي دي، که اوس څوک د واده يا خوشحالۍ پر موقع باندي ډول ټکول جائز بولي، نو دا سراسر غلط دي.

لکه د شرابو چيښل اول ځل حلال وو، بيا حرام سو، او د خره غوښي خوړل هم اول ځل حلال وو، بيا حرام سو، داغه رنګه ډول ټکول هم مخکي جائز وو، بيا انسانان د هغه څخه منعه وګرځېدل.(۱)

## د فتنو د زمانې پنځلسمه (۱۵) علامه:

آخرنۍ او پنځلسمه (۱۵) علامه پيغمبر ﷺ دا بيان کړېده: چي وروستني خلک به پر مخکنيو خلکو باندي لعنت وايي، يعني: چي کم خلک د علم او د عقل په اعتبار سره

(۱) مستفاد عمدة القاري مطبع دار الفكر: جلد نمبر ۱۲، صفحه نمبر ۵۰، بخاري: حديث نمبر ۳۸۵۷

کمزوري دي، هغه به پر مخکنيو او بنو خلکو باندې لعن طعن کوي، نو په دې پوه سه! چې دا د امت لپاره د خير زمانه نده.
نن سبا يو ډېره لويه طبقه حضرت امام ابو حنيفه رحمة الله عليه ته بد او رد وايي، او هغه دا وايي: چې موږ د دغسې امامانو و تقليد ته ضرورت نه لرو، په قرآن او حديثو باندې موږ پخپله هم پوهيږو، چنانچه د هغه نتيجه دا راووزي: چې د قرآن او حديث څخه چې څه د دوی په دماغ کې راځي: هغه د عوامو مخته پېشوي، چې د هغه په وجه خالي الذهن انسانان د دين په ډېرو مسائلو کې د تردد او شک سره مخامخ کړي.
چې زموږ په علاقه کې دغه ډله د غير مقلدينو په نامه سره يادېږي، مسلمانان بايد د دغه فتنې او ډلې څخه خپل ځانونه وساتي.
ټول مجتهدين هر يو پر خپل ځای باندې برحق دی، چې څنګه دوی د قرآن او حديث فهم کړی دی، د وروسته زمانو خلګ د هغه درجې ته هيڅکله نسي رسېدلای.

## لويه فتنه:

او زما په عقيده کې دا د دين تر ټوله لويه فتنه بلل کيږي، او دا د دين ډېر نازک ځای ته لاس رسوي.
تاسو ته در معلومه ده: چې زموږ دين ټول اعتماد دی، موږ نه پېغمبر ﷺ ليدلی دی، او نه مي د وحي نزول ليدلی دی، صرف د اعتماد څخه مي د دين عقيده جوړه کړېده، او دا ظالمان اعتماد خرابوي، او اعتماد خرابول د دين خرابول دي.
لکه زه تاسو ته وايم: بس زما پر خپل استاد اعتماد دی، چې هغه کم حديث ماته ووايي، هغه حديث صحيح دی، او زما د استاد بيا پر خپل استاد اعتماد دی، تر دې حده پوري چې دغه د اعتماد سلسله د سند په شکل تر پېغمبر ﷺ پوري رسېدلې ده.
کچيري دغه ظالمه طبقه دغه اعتماد خراب کړي، نو د انسانانو په عقيدو کې به شک او تردد راسي، او خدانخواسته: انسانان به د دين په ټولو احکاماتو باندې په شک کې مبتلا سي.

يا لکه روافض چې دوی پر صحابه وو باندې لعن طعن کوي، خاص کر د مسلمانانو پر خليفه حضرت صديق اکبر رضی الله عنه او سيدنا حضرت عمر رضی الله عنه ته په ډېره سپين سترګي سره بدې خبرې او ښکنځل کوي.

حالانکه زموږ دا عقيده ده: چې د انبياؤو څخه را لاندې د ټولو څخه لوړه درجه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه وه، او نبوي علوم هم په ټوله امت کې د حضرت ابوبکر رضی الله عنه سره وو، لکه د پېغمبر صلی الله علیه وسلم حديث دی: چې کم علوم الله تعالی ماته راکړي دي، هغه ټول ما د ابوبکر سينې ته رسولي دي.

## د ابوبکر رضی الله عنه فضائل:

په رواياتو کې راځي: چېکله جيش العسره يعني: غزوه تبوک راغله، نو پېغمبر صلی الله علیه وسلم صحابه کرام باندې د چاندې ږغ وکړی، او د پېغمبر صلی الله علیه وسلم په عصر کې غالباً دا تر ټولو سخته غزوه بلل کېده.

صحابه کرامو هر چا د خپل استطاعت مطابق په هغه کې حصه واخيستله، يو صحابي دی، حضرت ابو عقيل رضی الله عنه چونکه په کور کې ئې مسکنت وو، نو آخر ئې يو شپه د يهودي باغ په څو خورماوو ور اوبه کړی، او هغه خورماوي ئې پېغمبر صلی الله علیه وسلم ته د چاندې په شکل راوړې.

پېغمبر صلی الله علیه وسلم په مسجد نبوي کې ناست وو، حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه ديرش منه خورماوي د هغه و مخته حاضري کړې، او هغه يو لويه کوړه غونډي د ده و مخته پرته وې، حضرت ابوعقيل رضی الله عنه چېکله خپله معمولي چانده راوړه، نو پېغمبر صلی الله علیه وسلم د ده هغه يو څو خورماوي د حضرت عبدالرحمن پر ټولو خورماوو باندې يوه يوه کښېښوله.

صحابه وو پوښتنه ځني وکړه: چې دا ولې؟ ده مبارک ورته وويل: چې زما اميد دی: الله تعالی به د عبدالرحمن دغه لويه صدقه د "ابوعقيل" د معمولي صدقې په وجه او برکت سره قبوله کړي.

يو بل صحابي دی، حضرت علبه بن زيد رضي الله عنه هغه چي ټوله ورځ وګرځېدی، نو يو څه ئې پيدا نه کړل، ماښام کورته راغلی، او پخپل زړه کي ډېر پرېشانه دی، چي پېغمبر صلی الله علیه وسلم د صدقې حکم کړی دی، او ستا سره هيڅ نسته.
آخر د ځان سره فکر کوي، چي نوره صدقه خو نسته، بس! دا يوه صدقه کوم، د الله تعالی و حضور ته ئې لاسونه پورته کړل: يا الله! چي کم مسلمان پر ما باندي د مال يا د جان يا د عزت په باره کي ظلم کړی وي، هغه ټوله زما له طرفه معاف دي.
سهار چيکله پېغمبر صلی الله علیه وسلم لمونځ وکړی، نوروسته صحابه وو ته وايي: چي بيګاه په شپه کي چا صدقه وکړه؟ هيڅ څوک ږغ نه کوي، چيکله پېغمبر صلی الله علیه وسلم خپله خبره بار بار مکرره کړه، نو حضرت علبه بن زيد رضي الله عنه ورته وايي: چي زما سره نور څه نه وو، بس دغه صدقه مي وکړه، پېغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وايي: چي ټوله شپه د مدينې پر فضا ملائکو ستا د صدقې پورته کولو او د الله تعالی و حضور ته د رسولو په خاطر انتظار کاوی، يعني: ستا صدقه د الله تعالی په دربار کي قبوله وګرځېده.(۱)
حضرت ابوبکر رضي الله عنه په دې وخت کي ډېر تنګدسته وو، او د حضرت عمر رضي الله عنه سره د مال او دولت پراخي وه، نو حضرت عمر رضي الله عنه د ځان سره دا فکر وکړ: چي نن به په دغه صدقه کولو کي د ابوبکر څخه ځان مخته کوې.
نو کورته راغلی، چي څه ئې درلودل، نيم ئې کورته پرېښوول، او نيم ئې په چانده کي د پېغمبر صلی الله علیه وسلم حضور ته پيش کړل.
او ابوبکر چي کورته راغلی، په کور کي هيڅ نه وو، خو چي څه ئې درلودل، هغه ئې ټول راجمعه کړل، او خپل د بدن لباس ئې هم په چانده کي واچوی، په کور کي يو خړ رنګه ټاټ پروت وو، هغه ئې سره دوه ځايه کړی، نيم ئې په چانده کي جمعه کړی، او نيم ئې پر ځان د لنګ په شکل وپېچی، او مسجد نبوي ته راغلي.
حضرت عمر رضي الله عنه چي خپل مال ته وکتل، او بيا ئې د ده و چانده ته وکتل، نو ډېر خوشحاله سو، چي نن خو به انشاء الله مسابقه د ابوبکر څخه ګټم.
په دې دوران کي حضرت جبرائيل علیه السلام د پېغمبر صلی الله علیه وسلم حضور ته راغلی، او پېغمبر صلی الله علیه وسلم ته وايي: چي د ابوبکر او عمر څخه پوښتنه داسي مه کوه: چي تاسو څو مره څو مره مال

(۱) حياة الصحابه: جلد نمبر۱، صفحه نمبر۵۴۲

راوړی دی، بلکه د پوښتني طرز بدل کړه، هغه دا شان: چي ورته ووایه: چي تاسو کورته څه ور پرې ایښي دي:
نو پيغمبر ﷺ حضرت عمر رضی الله عنه ته وايي: چي کورته دي څه پرېښوول؟ هغه جواب ورکوي: چي ټوله مال مي نيم راوړی، او نيم مي کورته پرېښووی.
بيا ابوبکر ته وايي: چي تا کورته څه پرېښوول؟ نو هغه جواب ورکوي:
..........تَرَكْتُ اللهَ وَ رَسُوْلَهُ﴾.
کور مي الله تعالى او د الله تعالى رسول پرېښوول.
حضرت عمر رضی الله عنه وايي: چي د پيغمبر ﷺ په سوال بدلېدو سره زه په دې پوه سوم: چي د حضرت ابوبکر مدد د الله تعالى د عرش څخه د جبرائيل علیه السلام په ذريعه سره وکړی، چي هغه پيغمبر ﷺ ته د داسي طرز سوال کولو تلقين وکړی.
او حضرت جبرائيل علیه السلام د ټاټ لباس اغوستی وو، پيغمبر ﷺ پوښتنه ځني کوي، چي جبرائيله! څنګه راغلې؟ او په داسي ناولده لباس کي ولي ئې؟
حضرت جبرائيل علیه السلام ورته وايي: چي راغلم د دې لپاره چي الله تعالى حضرت ابوبکر ته سلام وايي، او دا وايي: اې ابوبکره! زه ستا څخه راضي يم، ايا ته زما څخه راضي ئې؟ او لباس مي په دې وجه ناولده دی: چي د ابوبکر لباس نن الله تعالى ته داسي محبوب ګرځېدلی دی: چي په څورلس(۱۴) طبقه کائناتو کي څومره ملائکي دي، هغوی ټولو ته ئې د ابوبکر غوندي د لباس اغوستلو حکم کړی دی، نو ځکه زه هم نن د ابوبکر په شان لباس کي ستا حضور ته راغلم.
پيغمبر ﷺ چيکله د الله تعالى سلام او پيغام ابوبکر ته پيش کړی، نو ابوبکر په ژړا سو، او وايي: يا الله! چي ته زما څخه راضي ئې، زه په هر حال کي ستا څخه راضي يم.
نو د ابوبکر رضی الله عنه درجه په دې امت کي ډېره لوړه ده، زموږ دا عقيده ده: چي څوک پر ابوبکر رضی الله عنه باندي لعن او طعن کوي، هغه زموږ په دين کي هيڅ حصه نه لري.
نو پيغمبر ﷺ دا ټولي علامې په خپلو تعليماتو کي بيان کړي دي، او دا ئې هم ښکاره کړېده: چي کله زما د امت په معاشره کي دغه علامې ښکاره سي، نو:
..............فَلْيَرْتَقِبُوا عِنْدَ ذٰلِكَ رِيحًا حَمْرَاءَ، وَزَلْزَلَةً وَخَسْفًا وَمَسْخًا وَقَذْفًا﴾.

نو په دغه زمانه کي به تاسو د الله تعالی د مختلف قسم عذابونو انتظار کوئ، کله به سرې دوړې راځي، چي د هغه څخه به انسانان په مرضونو کي مبتلا کیږي، او کښتونه او باغونه به وچیږي، یا به د زلزلو په شکل عذابونه راځي، چي ټوله علاقه به تباه کوي، یا به د مځکي خسف په شکل عذابونه وي، چي ډېري غټې علاقې به په مځکه دننه سي، بالکل به ورکي سي، یا به د آسمانو څخه د ډبرو باران راځي، چي انسانان به تباه کوي.

.........وَآيَاتٍ تَتَابَعُ كَنِظَامٍ بَالٍ قُطِعَ سِلْكُهُ فَتَتَابَعَ﴾.(١)

او یو څه حادثات او فتنې او مشکلات به داسي مسلسل راځي: لکه د ملغلرو امیل چي تار ئې پرې سي، او دانې ئې یو د بل څخه وروسته په تسلسل سره مځکي ته رالویږي.

نو د انسانانو لپاره د فتنو او مشکلاتو څخه د حفاظت یوه لار ده: چي هغه ټوله معاشره د دغه اعمالو څخه راوګرځوي، او چي څه سوي وي، پر هغه باندي ندامت او پښېماني وکړي، او پر معاشره باندي محنت وکړي، چي آئنده په دغه اعمالو کي مبتلا نسي.

الله تعالی دي پر موږ او تاسو او پر ټوله معاشره باندي رحم وکړي، او الله تعالی دي مي د فتنو او مصیبتو څخه حفاظت په نصیب کړي.

آمِيْن يَا رَبَّ العَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالى عَلى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

(١) سنن ترمذي: حدیث نمبر ٢٢١١

لَقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ اللهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ (الايه)

# د حضرت ابوبکر رضی الله عنه وفات

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ھ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحیم

إنّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِه اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيم

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

وقال الله تعالى: ﴿رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : ﴿تحفَةُ الْمُؤْمِنِ اَلْمَوْتُ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰی ذٰلکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهید:

محترمو حاضرینو ! الله تعالی انسان ته په دنیا کي زندګي ور کړېده، خو د انسان په زندګي کي په دنیا کي پر انسان باندي مختلف حالات راتلونکي دي.

- کله پر انسان باندي د غم حالت وي، او کله بیا خوشحالي وي.
- کله د صحت زمانه وي، او کله بیا بېماري او ناجوړي وي.
- کله د مسکنت حالت وي، او کله بیا دولت او مالداري وي.

کچیري انسان پر خپله معاشره باندي نظر وکړي، او د معاشرې د انسانانو څخه پوښتنه وکړي، نو هر سړی به په یو درجه نه درجه کي د پرېشانۍ او د نامساعده حالاتو شکایت کوي.

- د چا سره د صحت پرېشاني.
- د چا سره د مال او دولت پرېشاني.
- څوک د کورني اختلافاتو په وجه پرېشانه وي.

---

(١) سورة البينة: آیت نمبر ٩

(٢) الترغيب و الترهيب للمنذري: حدیث نمبر ٦

- او څوک د دباندي حالاتو په وجه پرېشانه وي.
- څوک د همسايګانو سره په ژبه نه پوهيږي.
- او څوک د خپلو قريبانو سره ناراضه وي.

لکه يو شاعر وايي:

*درين دنيا کسے بے غم نباشد اگر باشد بنی آدم نہ باشد*

په دې دنيا کي هيڅ څوک بېغمه نه وي، که وي، هغه به انسان نه وي.

آخر دا پرېشانۍ او د نامساعده حالات ولي دي؟؟ غالباً د دې وجه دا ده: چي نن زموږ د زندګۍ څخه د آخرت فکر او د آخرت د پرېشانۍ غم ليرې سوی دی، چي د هغه په وجه د دنيا پرېشانۍ او سترې حالات پر موږ باندي د باران په شکل را روان دي.

حالانکه د دنيا د پرېشانيو حل آسانه دی.

- که زنانه پرېشانه سي، خاوند ئې مدد کوي.
- او که خاوند پرېشانه سي، نو زنانه تسلي ور کوي.
- که اولاد پرېشانه سي، پلار ئې مدد او نصرت کوي.
- او که پلار پرېشانه سي، نو اولاد ئې کومک ته راوړاندي کيږي.

ليکن خدانخواسته! که هلته پرېشاني راسي، چيکله انسان د خپل ژوند په آخرنيو شيبو کي چي ساه ئې په غوټه غوټه راځي، او ساه بنده بنده کيږي، او په دې دوران کي خپل ولد قريبان ورته ناولده سي، او ناولده مخلوق د فرشتو په شکل ورته رابښکاره سي، نو که هلته پرېشاني او سترې حالات راسي، د انسان مدد به څوک کوي، او انسان ته به تسلي څوک ور کوي، او د انسان د کومک لپاره به څوک راوړاندي کيږي.

## بې غرضه محبت:

نن په دنيا کي خو انسان دا دعوه کوي:

- زما زنانه.
- زما بچي.
- زما کور.

- زما دوکان.
- زما تجارت.
- زما فلان او فلان.

سبا چیکله دی د قبر و توره کنده ته ورشوه سي، نو ده ته به معلومه سي: چي هغه زنانه او بچي او هغه مال او دولت او هغه کور او مکان د چا وو؟ هغه پر کمه ولاړو؟ او زه پر کمه راغلم؟

نو دا شیان د انسان سره امانت دی، او دا د پور مال دی، چي د یو څه زمانې لپاره الله تعالی د امانت په شکل انسان ته ور کړی دی، او واپس ئې ځني اخلي، دا یو هم نه د انسان دی، او نه د انسان سره وفا کولای سي.

که د انسان دی، هغه صرف الله تعالی رب العزت دی، او که د انسان سره وفا کوي، هغه صرف د الله تعالی محبت دی.

زنانه او بچیان او قریبان او دوستان هر څوک د انسان سره په محبت کولو کي یو مطلب لري، حتی: چي دمور او پلار په زړه کي هم څه نه څه د مطلب خبره راځي، چي یاره دغه اولاد به د بوډاوالي په وخت کي ما لره په ښه راسي، نو ځکه محبت ور سره کوي، که بې غرضه محبت او تعلق دی، نو هغه فقط د الله تعالی دی.

نو د انسان لپاره مناسب دا وي: چي د الله تعالی په محبت کي خپله زندګي تېره کړي، او الله تعالی د ځان څخه راضي کړي، ځکه د انسان آخرنې رجوع بیرته د الله تعالی و ذات ته وي.

او د الله تعالی و ذات ته رجوع کول، او د هغه پر طرف باندي ور تلل، څه معلوم وخت نه لري، بس چیکله د الله تعالی اراده وسوه، هغه وخت به انسان د الله تعالی پر طرف ور روانیږي، او هم به د دنیا څخه رخصتیږي.

د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دی:

﴿...........مُثِّلَ ابْنُ آدَمَ وَإِلَى جَنْبِهِ تِسْعٌ وَتِسْعُونَ مَنِيَّةً إِنْ أَخْطَأَتْهُ الْمَنَايَا وَقَعَ فِي الْهَرَمِ حَتَّى يَمُوتَ﴾.(١)

(١) سنن ترمذي؛ حديث نمبر ٢١٥٠

چيکله الله تعالی انسان جوړ کړي، نو د هغه وخت ته نه نيوي(۹۹) مرګه ورته کښېږدي، کچيري دی د هغه ټولو څخه خطا سي، نو آخر بوډا اوالی دی، د هغه څخه هيڅکله نه خطا کيږي.

## د ملک المَوت قاصد:

پېغمبر ﷺ يو ځل حضرت عزرائيل عليه السلام ته وفرمايل: ته چي کله د انسان روح اخلې، نو دا د هغه لپاره ډېر اوږد سفر وي، او ناولده لاره وي، کاش تا وده ته د خپل راتګ څخه مخکي يو څه اطلاع او پيغام ور کولای، چي ده د هغه سفر لپاره يو څه تياري نيولای.

حضرت عزرائيل عليه السلام په جواب کي ورته وايي: اې د الله تعالی نبي! زه د هر چا څخه زيات پېغامونه ور استوم، خو دغه خلګ زما پيغامونه نه اوري.

پېغمبر ﷺ ورته وايي: هغه څنګه؟ عزرائيل عليه السلام ورته وايي: چيکله:

- د انسان غابښ مات سي، نو زما د طرفه ده ته د ورتللو پيغام وي.
- او چيکله د سترګو نظر کمزوري شروع کړي، نو دا هم زما پيغام وي.
- چيکله ښېښته سپين سي، نو هم زه ور روان سم.
- چيکله په کور کي لمسی پيدا سي، نو نيکه ته پيغام دی.

چي نيکه ستا زمانه تېره ده، او ستا کښت اوس پوخ سو، او چي کله کښت پوخ سي، نو هغه خلګ کاټوي، او د هغه لو کوي، او هغه کوټي او دا نه او پروړ ئې ځله بېلوي، نو ستا د کښت د کاټو لو وخت هم رانږدې سوی دی.

## مرګ ولي راځي؟

په رواياتو کي راځي: چي يو ځل حضرت موسی عليه السلام د الله تعالی څخه پوښتنه وکړه: يا الله! ته ولي انسانانو لره مرګ راولې، پدي کي ستا څه حکمت دی؟

الله تعالی په جواب کي ورته وايي: اې موسی! ته کښت وکره، حضرت موسی! په مځکه کي کښت وکری، يو څه زمانه بعد چي هغه پوخ سو، نو حضرت موسی عليه السلام د هغه د کاټو لو فکر وکړی، نو ئې کاټ کړی، غنم او پروړ ئې سره جلا کړل.

الله تعالی په بښتنه ځني وکړه: اې موسی! تا دا کښت ولي کاټ کړی؟ او پروړ او غنم دي سره جلا جلا کړل.
حضرت موسی علیه السلام په جواب کي عرض پېشوي: یا الله! چیکله کښت پوخ سي، نو د هغه د کاټولو څخه بغیر بله چاره نه وي، نو مي ځکه کاټ کړی.
نو الله تعالی ورته وایي: اې موسی! زه خو هم داغه کوم، چیکله د انسانانو د ژوندې فصل پوخ سي، او تیار سي، نو زه هغه پرېکوم، او پروړ او دانه ئې سره جلا کوم، د دانې په مثال انسانان جنت ته داخلوم، او د پروړ په شان بې عمله انسانان په جهنم کي اچوم.

## د انسان تر دنیا تېرېدل:

نو عقلمند انسانان په دنیا کي هغه دي: چي په نیکو اعمالو نه سېتړي کیږي، هر وخت د خپل آخرت په تیاري کي روان وي، او هره ورځ ئې په عبادت کي تېرېږي، او هره شپه ئې د خپل رب و مخته په راز او نیاز کي روانه وي.
نن انسان په دنیا کي په دې دوکه کیږي: د ده ګمان دا دی: چي وخت ورباندي تیرېږي، لیکن هغه کم نصیبه په دې نه پوهیږي: چي وخت نه تیرېږي، بلکه زه تر وخت تیرېږم، د انسان د ماشوموالي زمانه تېره سي، او بیا د هلکوالي زمانه هم تیره سي، او چیکله پر بدن سپین ببښتان ښکاره سي، نو دا د انسان د بوډاوالي ابتدا وي، خو دا هم یو ورځ تېرېده لري.

## د مرګ څخه ماتې خوړل:

زموږ اسلافو په داسي استقامت سره عبادتونه وکړل: چي د خپل ژوند یوه لمحه ئې هم فارغه تېره نه کړه، هر وخت په نیکو اعمالو کي مصروف ول، او هر کار به ئې د الله تعالی د رضا مطابق او د نبي کریم ﷺ د سنت طریقې سره برابر کاوی، هغه په دې پوهیدل: چي کله د مرګ وخت راورسیږي، نو هغه بیا نه پرشا کیږي.
دې دنیا ته ډېر لوی خلګ او ډېر لوی حکمرانان او ډېر زورور انسانان راغلل، لیکن د مرګ مقابله هیڅ چا و نه کړه، بلکه د مرګ په مقابله کي ئې ماتې و خوړله.

چي کم خلک د دنیا فاتحین بلل کېدل، او هغه ته به فاتح عالم ویل کېدل، چیکله هم د مرګ په مقابله کي راغلل، نو مرګ بیا دوی مغلوبه او تر پښو لاندي کړل.
او چي پر کم چا مرګ راورسېدی، نو ګویا د هغه قیامت قائم سو، ځکه حدیث شریف دی:

............مَنْ مَاتَ فَقَدْ قَامَتْ قِيَامَتُهُ﴾.[۱]

چي کم څوک د دنیا څخه رخصت سو، بس هغه قیامت ته ورسېدی.

## د الله تعالی دیدار:

نو مسلمان باید خپله زندګي د الله تعالی په خوف او د آخرت د پرېشانۍ څخه د خلاصون په فکر کي تېره کړي.
ځکه د الله تعالی د خوف نتیجه د الله تعالی رضا ده، او د الله تعالی د رضا نتیجه د الله تعالی دیدار دی، چي کم چا ته د الله تعالی دیدار ور نصیب سو، هغه ته بیا جنت داسي ور معلومېږي: لکه د مشکو او عنبرو په مقابله کي چي خاوري انسان ته څنګه ور معلومېږي.
د الله تعالی دیدار داسي نعمت دی: که چیري د هغه یوه لمحه انسان ته ور نصیب سي، نو بیا به ټول جنتونه پر هغه باندي قربان کړي، نو ځکه د صحابه کرامو سره به همېشه د الله تعالی خوف او بېره ور سره وه، او د آخرت د پرېشانۍ فکر به ور سره وو، چي د هغه په وجه به دوی د الله تعالی د دیدار طمع داره وو.

## د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د عشق حالت:

زموږ په ټولو صحابه وو کي زموږ د عقیدې مطابق د ټولو څخه لوړي درجې والا حضرت ابوبکر رضی الله عنه وو، چي د پېغمبر صلی الله علیه وسلم د وفات څخه وروسته دوه(۲) کاله درې(۳) میاشتي ده ژوند و کړی، او داغه هم د ده د خلافت مبارکه زمانه وه، لېکن په دغه لږ زمانه کي چي ده د پېغمبر صلی الله علیه وسلم په فراق او جدائي کي کومه صدمه او غم پر ځان بندي تېر کړی، د هغه بیان بالکل د انسان په وس او طاقت کي نه راځي.

---

[۱] الاستعداد الموت: جلد نمبر۱، صفحه نمبر۴۵

په طبقات کبری کي سید عبد الوهاب شعراني رحمة الله علیه لیکلي دي:
......وَغَلَبَ عَلَيْهِ الْحُزْنُ، وُالْخَوْفُ حَتّٰى كَانَ يَشِمُّ مِنْ فَمِهٖ رَائِحَةُ الْكَبَدِ الْمَشْوِيِّ﴾.(١)

د حضرت ابوبکر ﷺ پر زړه باندي د پیغمبر ﷺ د فراق غم په داسي درجه باندي غالبه وو، چي د ده سینه مبارکه بالکل سوځل سوې، او کباب سوې وه، چي د هغه په وجه به هر وخت د ده د خولې څخه د کباب سوو غوښو بوی راتلی.

حالانکه پر ده باندي د پیغمبر ﷺ د فراق څخه سوا بل هیڅ غم نه وو، او دی انتهائي درجه مستقل مزاجه انسان الله تعالی پیدا کړی وو، ډېر ځله به د پیغمبر ﷺ د فراق صدمې او غم د ده په افعالو کي اختلال پیدا کړی.

په روایاتو کي راځي: یوه ورځ حضرت ابوبکر ﷺ مسجد نبوي ته راغلی، چي د ده د خلافت د ټولو کارو لوی دفتر بلل کیدی، په مسجد نبوي کي ناست دی، یو ځل ئې یو دم ټول کارونه پرېښوول، او د مسجدنبوي څخه وواتی، د شام د طرفه چي مدینې منورې ته کمه لاره تله، هلته ورغلی، پر هغه لار باندي کښېناستی.

ټوله ورځ ئې هلته په ناسته تېره کړه، آخر صحابه کرام ورپسي ورغلل، او دی ئې بیرته مدینې ته را روان کړی، نو په لاره کي ئې پوښتنه‌ځني وکړه: چي حضرت! ټوله ورځ دي په سخته ګرمي کي وسره لمر ته تېره کړه، د دې څخه دي مقصد څه وو؟

ده په جواب کي ورته وویل: یو ځل داسي وسول: چي پیغمبر ﷺ شام ته تللی وو، او څو ورځي د مدینې څخه غائب وو، بیا یوه ورځ پر دغه لار واپس مدینې ته راغلی، او زه د ده و مخته ورغلم، او تر لاس نیولی مي مدینې ته راوستی.

نن هم ډېره زمانه وسوه، چي دی په مدینه کي ماته زما د سترګو څخه غائب دی، زما په خیال کي دا راغلل، چي هسي نه: پیغمبر ﷺ شام ته تللی وي، او د هغې خوا څخه بیا پر دغه لار باندي یوازي را روان وي، نو زه به ورسم، د ځان سره به ئې راولم، مګر زما کم‌قسمتي وه، چي ټوله ورځ مي انتظار وکړی، لیکن د ده دیدار مي په نصیب نه سو، سوا د مایوسۍ څخه بل څه په لاس رانه غلل.

حضرت ابوبکر ﷺ د پیغمبر ﷺ د فراق څخه وروسته په داسي عشق او غم کي مبتلا وو: چي بالکل هغه د انسانانو په برداشت کي نه راتلی، او د هغه په عشق کي دی

(١) طبقات الکبری للشعراني: و منهم الامام عمر بن خطاب ﷺ: صفحه نمبر ١٦

سینه ځباب آخر بیمار سو، نو خلګو ده ته وویل: چي موږ به ستا لپاره طبیب راطلب کړو، ده په جواب کي ورته وویل: زه طبیب کتلی یم.
خلګو یو بښتنه ځني وکړه: چي طبیب څه درته ویل؟ ده ورته وویل: چي طبیب ماته ویل:
.......... ﴿إِنِّيْ فَعَّالٌ لِمَا يُرِيدُ﴾
زما د حکم و مخته ټول انسانیت مجبوره دی، زه چي څه کوم، هغه به کوم، خلګ د ده په مطلب پوه سول، چي دی دا وایي: چي د الله تعالی د رضا په مخکي د هیڅ چا طاقت نسته، هغه چي څه کوي، کولای ئې سي.

## طبیب راوستل:

د ده د ناجوړي په زمانه کي یو ځل د علاج لپاره صحابه کرامو طبیب ورته راوستی، طبیب چي د ده پر نبض باندي ګوتي کښېښوولې، دستي ئې دا وویل: چي دا انسان د عشق په مرض کي مبتلا دی، او د ده څخه د خپل محبوب فراق راغلی دی، او د هغه په غم کي دی ډېر په تکلیف کي دی.
د ده علاج د خپل محبوب د دیدار څخه سوا نور هیڅ نسته، چي څومره ممکنه وي: نو دی د خپل محبوب سره وصل کړی، ورنه! د ده زندګي ډېره بقا نوره نه لري.
صحابه کرامو چي دا واورېدل: نو ټول په ژړا سول، چي افسوس! اوس خو پیغمبر ﷺ د دنیا څخه رخصت سوی دی.

## د حضرت ابوبکر رضي الله عنه خوب لیدل:

په "شواهد نبوت" کي لیکلي دي: چي د حضرت ابوبکر رضي الله عنه د وفات سره نژدې زمانه یو شپه ده خوب لیدی: چي په خوب کي پیغمبر ﷺ ورته راغلی، د هغه پر بدن باندي دوې سپیني جامې وې، لږ ساعت بعد د هغه جامو رنګ زرغون سو، او دومره زیاتي ځلېدلې: چي د انسان نظر پر هغه باندي قرار نسو کولای.
په هغه خوب کي پیغمبر ﷺ حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته سلام ووایي، او مصافحه ئې ور سره وکړه، او خپل نوراني لاس ئې د ده پر سینه کښېښووی، چي د هغه په وجه د ده د

زړه او سينې ته وله تکليف ليري سو، او بيا ئې ورته وفرمايل: اې ابوبکره! ايا زما سره لا د ملاقات کولو وخت نه دی رارسېدلی؟

حضرت ابوبکر ﷺ چې دا خبره واورېدله: نو په هغه خوب کې ئې دومره زيات وژړل، چې ټوله د کور انسانان ورته راجمعه سو، ده په هغه خوب کې دا نعره وهله:

............وَا شَرَفًا اِلَيْکَ يَا رَسُوْلَ اللهِ﴾.

اې د الله تعالی رسوله! ستا د ملاقات شرافت به زما کله په نصيب سي، پېغمبر ﷺ چېکله د ده ژړا وليدله، نو ئې ورته وفرمايل: ته ډېره بې صبري مه کوه، اوس زما او ستا د ملاقات وخت نږدې راغلی دی.

د دې څخه وروسته پرده مبارک باندې تيزه تبه راغله، او ټولو طبيبانو جواب ور کړی، نو ده خپله لور حضرت عائشه مبارکه راطلب کړه، او هغې ته ئې وويل: بچيه! زه دنيا پرېږدم، او د خپل محبوب ملاقات لره به ځم، زما د مرګ څخه بعد به زما يو څو وصيتونه پر ځای کړې:

۱. حضرت علي ﷺ ته به ووايه: چې په کمو لاسو دي پېغمبر ﷺ ته غسل ور کړی، په هغه لاسو به ماته هم غسل راکړې.

۲. چې کله زه وفات سوم، او ماته غسل راکول سو، نو زما د کفن لپاره به نوی لباس نه را اخلې، بلکه زما د بدن هغه زړې جامې به پرېمينځې، او په هغه کې به ماته کفن راکړې.

۳. او د کفن راکولو څخه وروسته به زما جنازه د پېغمبر ﷺ د روضې دروازې ته کښېږدې، او درود او سلام به ووايې، کچيري دروازه دغسې بنده وه، نو زما قبر به د عامو مسلمانانو په قبرستان "جنت البقيع" کې جوړ کړې، او که دروازه راته خلاصه سوه، نو د خپل محبوب سره به مې تر خاورو لاندې کړې.

حضرت عائشه مبارکه ورته فرمايي: چې نور خو ټول وصيتونه صحيح دي، ليکن په دې يوه وصيت عمل نسم کولای: چې تاته به په زړو جامو کې کفن در کوم، ځکه ته د مسلمانانو خليفه ئې او په بيت المال کې نوي لباسونه ډېر موجود دي، د مدينې که يو غريب تر انسان وفات سي، نو د هغه لپاره هم د بيت المال څخه د نوي کفن د لباس بندوبست کيږي.

نو زه تاته هم اې پلار جانه! په زړو جامو کي کفن نسم در کولای، بلکه زه ستا لپاره به د نوي لباس بندوبست کوم.
حضرت ابوبکر ﷛ ورته فرمايي: بچيه! ته خو صحيح وايي: ليکن زه په دې وجه دا وصيت کوم: د بيت المال نوی لباس چي ته زما پر کفن لګوې، تر هغه دا ښه ده: چي د هغه څخه د مديني د يتيمانو لباس جوړ سي، زما لپاره زوړ لباس هم کفايت کوي.
تاريخ پر دې ګواه دی: چي د ټولي مديني د انسانانو لپاره به د وفات څخه وروسته د نوي کفن بندوبست کيدی، ليکن حضرت ابوبکر ﷛ په خپل زاړه لباس کي کفن سوی د دنيا څخه رخصتيږي.

## د حضرت ابوبکر ﷛ تدفين:

چيکله د غسل او کفن څخه صحابه کرام فارغه سول، نو د ده د جنازې کټ ئې د الله تعالی د محبوب ﷺ د روضه اقدس و مخته کښېښوول، او ټولو صحابه کرامو صلوة او سلام شروع کړی.
په رواياتو کي راځي: چي کله دوی صلوة او سلام وايي:
............﴿اِنْشَقَّ الْقُفْلُ﴾.
نو د روضې قلف مات سو.
............﴿وَافْتَحِ الْبَابَ﴾.
او دروازه خلاصه سوه، او د دروازې څخه دننه آواز راغلی:
............﴿اُدْخُلُ الْحَبِيْبَ اِلَى الْحَبِيْبِ﴾.
دا يو دوست و بل دوست ته راورسوئ، فان الحبيب الی الحبيب مشتاق دا يو دوست و بل دوست ته ډېر شوق او انتظار لري.
د هغه څخه وروسته دوی د حضرت ابوبکر ﷛ جنازه د پيغمبر ﷺ روضې ته ور ننه ايستله، او هلته ئې د خپل محبوب ﷺ به اړخ کي د ده قبر جوړ کړی، او هم ئې هلته دی ښخ کړی. (۱)

(۱) کنز العمال: حديث نمبر ۳۵۷۲۹

## د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د آخرت د پریشانۍ فکر:

د پیغمبر ﷺ د دومره قرب او عشق سره او د دومره زیات پرهیز او تقوی سره به کله کله پر حضرت ابوبکر رضی الله عنه باندي د الله تعالی د خشیت او د آخرت د پریشانۍ فکر داسي غالب وو: چي ده به دا تمنی کوله:

........﴿يَا لَيْتَنِيْ كُنْتُ عُصْفُوْرًا﴾.

های کاشکي! زه یو مرغه وای، چي په آخرت کي حساب را سره نه وای، او نه مي د آخرت پریشاني مخته راتللای.

........﴿يَالَيْتَنِيْ شَجَرَةً تُعْقَدُ﴾.

های کاشکي! زه د درختي یو پاڼه وای، چي رژېدلې وای، او کله به ئې لا دا هم ویل: کاشکي! زه مور دنیا ته نه وای راوړی.

حالانکه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه زندګي د پیغمبر ﷺ په ملګرتیا کي تېره سوه، او د هجرت په ورځ د هغه سره په غارثور کي ملګری پاته سو، او قبر ئې هم د پیغمبر ﷺ په حجره کي جوړ سو، او د قیامت په میدان کي به هم د پیغمبر ﷺ پر اړخ د قبر څخه راپورته کیږي، بیا هم د آخرت د پریشانۍ دومره زیات فکر اخیستی وو.

## د حضرت ابوعبیده رضی الله عنه خوب:

د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د خلافت په وخت کي د صحابه وو یو لښکر د شام د فتحه کولو لپاره په معرکه بوخت وو، او د دمشق د فتحي فکر د دوی و مخته وو، مګر د دمشق په فتحه کولو کي صحابه کرامو ته ډېر دقت او تکلیف مخته پیش وو، او په صحابه وو کي یو قسم د تردد حالت او کیفیت روان وو.

د دغه حیرانۍ په عالم کي حضرت ابوعبیده رضی الله عنه خوب ویني، چي پیغمبر ﷺ د ده خیمې ته راغلی، او ده ته ئې دا زیری ورکړی: چي اې ابو عبیده! مسلمانانو تهووایه: چي سبا به دغه مقام الله تعالی تاسو ته در فتحه کړي، تاسو په اطمینان اوسیږئ.

د دغه وينا کولو څخه وروسته پېغمبر ﷺ په ډېره تلوار باندې واپس روان سو، حضرت ابوعبيده ﷜ عرض ورته وکړی: اې د الله تعالی رسوله! زموږ سره يو ساعت پاته سه، ته ولي دومره په تلوار کي ئې؟
ده په جواب کي ورته وويل: اې ابو عبيده! حضرت ابوبکر ﷜ وفات سوی دی، ما د ده جنازه دغسي تياره پرېښوولې، چي راغلم، زه اوس واپس د ابوبکر ﷜ جنازې ته ځان رسوم، د دغه وينا کولو څخه وروسته پېغمبر ﷺ فوراً روان سو، نو د پېغمبر ﷺ د ابوبکر سره په دغه درجه قريبي تعلق وو.
حضرت مرزا مظهر جان جانان رحمۃ اللہ علیہ چي د عظيم مفسر قاضي ثناؤ الله فاني پتي رحمۃ اللہ علیہ شيخ وو، او هغه د خپل تفسير نوم د ده په نامه سره ايښی دی، چي اوس د هغه تفسير نوم تفسير مظهري دی، د هغه د يو وعظ الفاظ بعضي د تصوفو په کتابو کي رانقل سوي دي.
چي د وفات څخه وروسته حضرت عمر ﷜ يو ځل د حضرت ابوبکر ﷜ د کور د استوګني حجرې ته ورغلی، که ګوري: د هغه چت بعضي ځايونه سوځلی او بعضي ځايونه په دودانو تور سوی معلوميدل.
ده د کور د انسانانو څخه د هغه د سبب پوښتنه وکړه: هغوی په جواب کي ورته وويل: چي حضرت ابوبکر ﷜ به د پېغمبر ﷺ په عشق کي د خپلي بيمارۍ په زمانه کي کله د خولې څخه داسي آه و کښی: چي د هغه د حرارت او ګرمۍ په وجه به د خوني پر چت د سوځولو او توروالي اثر ښکاره سو، او دا هم هغه اثرات دي، چي ته ئې ويني، خو دا يو حقيقت دی: چي په دې خبرو هغه څوک پوهيږي: چي هغه د عشق د دغه جذبې سره اشنا او ولد وي.

## حضرت ابوبکر ﷜ ته دجنت بشارت اوزيری:

په رواياتو کي راځي: يو ځل پېغمبر ﷺ ناست دی، او صحابه کرام ورباندي راټول دي، ده پوښتنه ځني وکړه: چي په تاسو کي چي نن چا روژه نيولې وي، هغه دي ولاړ سي.
نو د صحابه وو په ټوله مجمع کي حضرت ابوبکر ﷜ ولاړ سو.

ده مبارکه بیا پوښتنه وکړه: چې په تاسو کې نن د جنازې څخه وروسته څوک تللی وي، هغه دې ولاړ سي.
پدې دوران کې بیا په ټولو صحابه وو کې حضرت ابوبکر ﷛ ولاړ سو.
لږ ساعت بعد پېغمبر ﷺ بیا پوښتنه وکړه: چې نن چې چا یو محتاجه ته خورکه ور کړې وي، او د هغه حاجت ئې ور پوره کړی وي.
نو حضرت ابوبکر ﷛ بیا ولاړ سو.
ده مبارک بیا پوښتنه وکړه: چې نن چا د یو بیمار عیاذت او پوښتنه کړې وي، هغه به څوک وي؟
په دې ځل بیا حضرت ابوبکر ﷛ ولاړ سو.
چیکله څلور ځله د ټولو سوالو په جواب کې حضرت ابوبکر ﷛ ولاړ سو، نو پېغمبر ﷺ وفرمایل: چې په کم چا کې په نن ورځ کې دغه څلور سره اوصاف موجود ګرځېدلي وي، نو زه هغه ته د جنت بشارت او زیری ور کوم.(۱)

## د حضرت ابوبکر ﷛ فضائل د حدیثو په رڼا:

چیکله انسان د احادیثو پر ذخیره باندې نظر واچوي، نو د پېغمبر ﷺ څخه د احادیثو په کتابو کې چې د حضرت ابوبکر ﷛ په فضائلو کې کم احادیث رانقل سوي دي، هغه غالباً یو سل یو اتیا (۱۸۱) احادیث دي.
داغه رنګه اته اتیا (۸۸) احادیث د حضرت ابوبکر ﷛ او د حضرت عمر ﷛ د دواړو په فضائلو کې مشترک سره راغلي دي.
او اوولس (۱۷) احادیث داسې هم د حدیثو په ذخیره کې وجود لري: چې په هغه کې د حضرت ابوبکر ﷛ او حضرت عمر ﷛ او حضرت عثمان ﷛ درو سروو فضائل راغلي دي.
او څورلس احادیث داسې هم سته: چې په هغه کې د څلورو سره وو خلفاؤ فضائل موجود دي.

(۱) خطبات فقیر: جلد نمبر ۶، صفحه نمبر ۵۳

د دې څخه انسان اندازه لګولای سي: چي د پېغمبر ﷺ د مبارکي ژبې څخه د حضرت ابوبکر رضي الله عنه فضائل څومره په کثرت سره بیان سوي دي.

## د ابوبکر د لفظ لغوي تحقیق:

علماؤو لیکلي دي: چي د ده مبارک نوم ابوبکر راغلی دی، الله تعالی دی په هر میدان کي تر نورو انسانانو مقدم او مخکي کړی دی.
په دې خبره باندي علماء پوهیږي، چي په کمه ماده کي "ب" او "ک" او "ر" راسي، نو د هغې ترجمه په تقدیم او په اولیت سره کیږي.
مثلاً عرب وایي:
........﴿بَكْرَةَ كُلِّ صبحٍ﴾.
د دې معنی ده: چي د ورځي اوله حصه، داغه رنګه بکور: هغه میوې ته ویل کیږي: چي په موسم کي اوله بازار ته راشوه سي، او باکره هغه زناني ته ویل کیږي: چي هغې تر اوسه خاوند او د خاوند کور نوي لیدلی، او دا اول ځل خاوند ته راسي، نو هغې ته باکره وایي.
نو د بکر معنی: په میدان کي د هر چا څخه مقدم، او پېغمبر ﷺ هم د ده کنیت: ابوبکر ایښی دی، چي دی هم په هر میدان کي د ټولو څخه مخکي راغلی دی.

## اولیات صدیقي:

- حضرت ابوبکر رضي الله عنه په ټولو صحابه وو کي په اسلام راوړلو کي اول وو.
- او ده مبارک د قرآن کریم نوم: مصحف ایښی، او هغه ئې په ورقو کي راجمعه کړی، په دې کي هم دی اول وو.
- د پېغمبر ﷺ خلیفه راشد هم اول دی جوړ سو.
- او ده د ټولو څخه مخکي د خپل خلافت ولي عهد متعین کړی، په دې کي هم اول وو.
- په ټولو انسانانو کي اول د ده لقب "عتیق" او صدیق جوړ سو.
- او د ټولو مسلمانانو لپاره اول بیت المال هم ده قائم کړی.
- په ټوله انسانیت کي د خلیفة الرسول لقب هم اول ده پیدا کړی.

- او په حدیث کي شریف کي راغلي دي: چي پیغمبرﷺ فرمایلي دي: زما په امت کي به د ټولو څخه اول هم دی جنت ته ورځي.

## د حضرت ابوبکرؓ تمنی:

د پیغمبرﷺ د دومره قربت او بشارتونو سره سره د حضرت ابوبکرؓ سره به د آخرت ډېر زیات فکر ور سره وو، او د آخرت پرېشاني به ئې تر ټولو زیاته وه، ډېر ځله به ئې تمناه دا وه:

............يَا لَيْتَنِيْ كُنْتُ عَصْفُوْرًا﴾.

های کاشکي! زه یو مرغه وای، چي په آخرت کي حساب را سره نه وای، او نه مي د آخرت پرېشاني مخته راتللای.

............يالَيْتَنِيْ شَجَرَةً تَعْقَدُ﴾.

های کاشکي! زه د درختي یو پاڼه وای، چي رژېدلې وای، او کله به ئې لا دا هم ویل: کاشکي! زه مور دنیا ته نه وای راوړی.

او د آخرت فکر کول، او د آخرت د پرېشانۍ غم خوړل، دا د پیغمبرﷺ په احادیثو کي ډېر لوی عمل بلل سوی دی. لکه یو حدیث شریف کي راځي: چي الله تعالی پر بیت المقدس باندي یوه فرشته مقرره کړېده: هغه همېشه پر انسانانو باندي دا ندا او آواز کوي:

............وَتَفَكُّرُ سَاعَةٍ فِي عِظْمَةِ اللهِ وَقُدْرَتِهِ خَيْرٌ مِنْ صِيَامِ سِتِّيْنَ يَوْمًا وَقِيَامِ سِتِّيْنَ لَيْلَةً﴾.

د الله تعالی په عظمت کي او د هغه په قدرت کي یو ګړی فکر کول، د انسان لپاره تر شپېتو روژو نیولو او تر شپېتو شپو عبادت کولو بهتر دی.

او ملائکه همېشه انسانان ټول د آخرت طرف ته متوجه کوي، او هم د آخرت پرېشاني د دوی په دماغ کي وریادوي، او د معاشرې د هر عمر انسانانو ته وینا کوي:

............أَبْنَاءُ الْأَرْبَعِيْنَ، زَرْعٌ دَنَا حَصَادُهُ،﴾.

اې څلوېښت کلنو انسانانو! ستاسو کښت پوخ دی، د هغه د پرېکولو وخت رانژدې دی.

............أَبْنَاءُ الْخَمْسِيْنَ، هَلُمُّوْا إِلَى الْحِسَابِ،﴾.

اې پنځ ـس کلنو انسانانو ! د حساب وخت مو رانژدې دی، د خپل حساب تیاري وکړئ.

............أَبْنَاءُ السِّتِّيْنَ، مَاذَا قَدَّمْتُمْ وَمَاذَا أَخَّرْتُمْ﴾.

او شپیته کلنو انسانانو ته دا وايي: تاسو د ځان سره لږ فکر وکړئ! چي څه مي مخته استولي دي، او څه در شا در پسي درځي.

............أَبْنَاء السَّبْعِيْن، مَاذَا تَنْتَظِرُوْنَ﴾.

اې اويا کلنو انسانانو ! تاسو نور د څه انتظار لرئ؟

............اَلَا لَيْتَ الْخَلْقَ لَمْ يَخْلُقُوْا، فَإِذَا خَلَقُوْا لَيْتَهُمْ عَلِمُوْا لِمَا خَلَقُوْا لَهُ، فَعَمِلُوْا لِذٰلِكَ. اَلَا قَدْ أَتَتْكُمْ السَّاعَةُ فَخُذُوْا حِذْرَكُمْ﴾.(۱)

کاش! الله تعالی دا مخلوق نو ای پیدا کړی، بیا چي کله ئې پیدا کړی، نو کاش! هغه په دې پوهیدای: چي موږ ئې د څه لپاره پیدا کړی یو؟ او د هغه لپاره ئې عمل کړی وای، خبردار!! قیامت نژدې راغلی دی، د خپل حفاظت لپاره بندوبست وکړی.

نو مقصود مي دا دی: چي د انسان زندګي په هر شکل چي تېره سي، د هغې په آخر کي مرګ پر انسان راځي، نو په کار دا دی: چي انسان په دنیا کي د خپل مرګ څخه وروسته چي کمي پرېشانۍ راځي، هغه په دماغ کي راګرځوي، نو بیا به پر انسان باندي د دنیا پرېشانۍ آسانه کیږي.

الله تعالی دي زموږ او ستاسو د هر قسم پرېشانیو څخه حفاظت وکړي، او الله تعالی دي مو په دماغ کي د آخرت د پرېشانۍ څخه د ځان ساتلو اهمیت پیدا کړي، الله تعالی دي دا څو خبري قبولي کړي.

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

(۱) بحر الدموع: الفصل الاول: صفحه نمبر ۱۵

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآيه)

# د حضرت عمر رضی الله عنه شهادت

(بیان)


مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

تقریر:　الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام:　جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت:　اول

تاریخ:　۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد:　۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إنّ الحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿ قَالَ فِيهَا تَحْيَوْنَ وَفِيهَا تَمُوتُونَ وَمِنْهَا تُخْرَجُونَ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿ قِيلَ: أَيُّ الْمُؤْمِنِينَ أَكْيَسُ؟ قَالَ: «أَكْثَرُهُمْ لِلْمَوْتِ ذِكْرًا، وَأَحْسَنُهُمْ لَهَا اسْتِعْدَادًا﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو ! الله تعالی انسان ته په دنيا کي زندګي ور کړېده، خو په دنيا کي د انسان زندګي يو امانت ده، انسان د دغه زندګی مالک نه دی، او نه انسان د دغه زندګی خالق او صاحب اختيار دی.

بلکه د انسان د زندګی خالق او مالک او صاحب اختيار د الله تعالی ذات دی، چيکله ئې اراده وسي، نو د انسان څخه دغه زندګي اخلي.

الله تعالی د هر انسان د زندګی لپاره آخرنې نېټه او خاتمه د حضرت آدم علیه السلام د پيدائش څخه پنځوس زره کاله مخکي ټاکلې ده.

چيکله هغه نېټه راورسيږي، نو بيا د انسان زندګي ختميږي، او د هغه سره د انسان د رزق ګولې او د انسان د نفس ساهونه او د انسان د پښو قدمونه ټول ختم سي، چي هغه ته د انسان مرګ او د دنيا څخه رخصتېدل وايي.

---

(١) سورة الاعراف: آيت نمبر ٢٥

(٢) الزهد و الرقائق لابن المبارک: حديث نمبر ٢٧٢

خو د دغه خاتمې او آخرنۍ نیتې علم صرف د الله تعالی سره دی، او د الله تعالی څخه ما سوا بل د هیڅ چا سره نسته، او د غه خاتمه او آخرنۍ نیټه هرګړی او هر لمحه پر انسان باندي راتللای سي، نو باید انسان د هغه لپاره همېشه تیار وي، او د هغه لپاره ئې خپل استعداد برابر کړی وي.

## د پېغمبر ﷺ پوښتنه:

په روایاتو کي راځي: چي یو ځل پېغمبر ﷺ د یو صحابي څخه پوښتنه کوي: چي د زندګۍ د آخري نیټې یعني: د مرګ راتللو او د دنیا څخه د رخصتېدلو متعلق دي څه رایه ده؟
هغه په جواب کي ورته وایي: اې د الله تعالی رسوله! چیکله سهار سي، نو دا مي ګمان نه وي: چي ماښام راځي: زه به ژوندی یم، او چیکله ماښام سي، نو تر سهاره بیا د خپل ژوند طمعه او مید نه لرم.
پېغمبر ﷺ د دوهم صحابي څخه پوښتنه کوي: چي ستا د مرګ او د دنیا څخه د رخصتېدلو متعلق څه فکر دی؟
هغه په جواب کي ورته وایي: اې د الله تعالی رسوله! چیکله د څلور رکعته لمانځه نیت وتړم، نو دا طمعه نلرم: چي زه به سلام په ګرځوم، او زما ژوند به لا روان وي.
په آخر کي پېغمبر ﷺ ورته وایي: چي زما خپله دا عقیده ده: چي کله پر یو طرف د لمانځه څخه سلام په وګرځوم، نو دا امید مي نه وي: چي پر دغه بل طرف به سلام ګرځوم، او زما ژوند به لا روان وي.

## د امام مالک رحمة الله علیه خوب:

امام مالک رحمة الله علیه په خپل عصر کي په ټوله مدینه منوره کي لوی محدث وو، او اولس کاله ئې د پېغمبر ﷺ پر مسند باندي د حدیثو درس وکړی، او د ډېرو لیرو اطرافو څخه به د حدیثو طالبان ورته راتلل.
یو ځل پېغمبر ﷺ په خوب کيویني، نو پوښتنه ځني کوي: چي اې د الله تعالی رسوله! زما مرګ به کله راځي؟

پېغمبر ﷺ هغه د لاس په پنځو ګوتو اشاره ورته کوي، دی ډېر حيران سو، چې ايا د دې مطلب به دا وي: چې زما مرګ به پنځه ورځي يا پنځه هفتې، او يا پنځه کاله، بعد راځي، خو د دغه خوب په مطلب هيڅ نه پوهيږي.

په دې وخت کي مشهور معبر ابن سيرين رحمة الله عليه موجود وو، نو د هغه څخه ئې د دغه خوب د تعبير په هکله پوښتنه وکړه، چې ماته پېغمبر ﷺ په پنځو ګوتو اشاره وکړه: د دې به څه مطلب وي؟

هغه ورته وايي: چې در حقيقت: پېغمبر ﷺ د قرآن کريم يو آيت ته اشاره کړېده: چې په هغه کي پنځه شيان ذکر سوي دي، چې هغه ته مفاتح الغيب وايي، او د هغوی علم د الله تعالی څخه ما سوا د بل چاسره نوي، بيا ئې د قرآن کريم دغه آيت ورته تلاوت کړې:

۱. ..............﴿إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ﴾. د قيامت علم صرف د الله تعالی سره دی، چې کله به راځي، د الله تعالی څخه سوا بل د هيڅ چا سره نسته.

۲. ..............﴿وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ﴾. د باران کامل علم هم صرف يوازي د الله تعالی سره دی، چې په دې باران کي به څومره څاڅکي راځي، او دا به د آبادۍ ذريعه وي، او که به د بربادۍ ذريعه وي، د الله تعالی څخه سوا بل د هيڅ چا سره نسته.

۳. ..............﴿وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ﴾. د مور په نس کي د بچي علم هم صرف د الله تعالی سره وي، چې دا به نارينه وي، او که به زنانه وي، نيکبخته به وي، او که به بدبخته وي.

٤. ..............﴿وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا﴾. او چې انسان به صبا څه کوي؟ او صبا به د انسان ژوند څنګه وي؟ د هغه علم هم صرف يوازي د الله تعالی سره دی.

۵. ..........﴿وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ﴾. چي يو انسان لره به پر كمه ځمكه په كم شكل او په كم سبب مرګ راځي، د هغه علم هم صرف يوازي د الله تعالى سره وي.(۱)

نو د انسان خاتمه او د زندګۍ څخه رخصتېدل، نامعلومه راځي، او د انسان په زندګي باندي هيڅ باور او اعتماد نه وي.

## محموده او مذمومه زندګي:

چي كم چا په دنيا كي محموده زندګي تېره كړه، نو د هغه مرګ به هم محمود وي، ځكه دا قانون دى:

..............كَمَا تَعِيْشُوْنَ تَمُوْتُوْنَ﴾.

لكه څنګه چي ژوند تېروئ، هغه شان به مرګ در لره راځي.

او كه د يو چا زندګي په دنيا كي په فسق او فجور كي تېره سي، نو د هغه مرګ به هم په داغه شان ور لره راځي.

ځكه د انسان د جنتي او دوږخي فيصله په دنيا كي لا كيږي، په قيامت كي خو صرف د دوى په مابين كي جلا والى راځي، او د دوى لاري سره بيليږي، ځكه هلته به بيا الله تعالى دوى ته دا فرمان كوي:

..............﴿وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ﴾.(۲)

اې مجرمانو ! تاسو زما د نيكو بندګانو څخه را جلا سئ.

نو په دنيا كي به دېر داسي وي: چي د يو مور به دوه بچيان وي، يو به نيک عمله وي، او بل به بد عمله وي، په دنيا كي به ټوله زندګي په يو كور كي سره تېره كړي، ليكن د قيامت په ميدان كي به ئې الله تعالى سره جلا كوي، مجرم به د مجرمانو پر لار ځي، او نيک عمله به د نيكانو پر لار ځي.

نو چي انسان ته الله تعالى زندګي ور كړي، نو پر هغه باندي د ژوند خاتمه او مرګ او د دنيا څخه رخصتېدل ضرور يو نامعلومه ورځ راځي.

---

(۱) سورة لقمان: آيت نمبر ۳۴

(۲) سورة يس: آيت نمبر ۵۹

خو انسان په دنيا کي د غفلت زندګي تېروي. او دې ته ئې ډېره توجه نوي: او د ده دا غلط فهمي وي: چي زما ژوند به په دنيا کي همېشه روان وي.
دی داسي وي: لکه يو مرغه چي هغه پيشو په سترګوويني. او دی خپلي سترګي پټي کړي، دا ئې ګمان وي: چي زه به ځني خلاص سم، ليکن ډېر ځله ئې سترګي هلته را روڼي سي: چي د ده غاړه پيشو په منګولو کي نيولې وي.
داغه رنګه انسان که هر څو مره ناخبره او غافله ځان واچوي، خو د دې غفلت څخه د ده سترګي ډېر ځله هلته رونيږي: چي پر ده باندي د عزارئيل عليه السلام چمبه صافه سي، او دی د قبر و توره کنده ته ور شوه کړي.

## د مرګ عجيبه منظر دی:

د زندګۍ خاتمه او د دنيا څخه رخصتېدل، او انسان لره مرګ راتلل، دا دژوند تر ټولو لويه حادثه بلل کيږي.
زموږ او ستاسو به څه استعداد وي؟ او زموږ او ستاسو به څه اعمال وي؟ حالانکه د مرګ د راتللو د خوف او بيري څخه ډېر لوی لوی انسانان چي هغوی ته د علم او تقوی غرونه ويل کېدل، په ژړا او بېره کي سوي دي.
حضرت امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه په دې امت کي ډېر لوی انسان تېر سوی دی، ځکه په تاريخ کي ليکلي دي:
........لَوْلَا اَبُوْبَكْرٍ لَمَا عَبِدَ اللهَ وَلَوْلَا اَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ لَمَا عَبِدَ اللهَ﴾.
کچيري په امت کي دغه دوه انسانان نوای، نن به د ځمکي پر مخ د الله تعالی عبادت نه کيدلای، کچيري ابوبکر نوای، چي هغه په ډېر نازک دور کي چي د رسول الله د وفات څخه وروسته بعضي قومونو د زکوة ور کولو څخه انکار وکړی، او ده د اسلام په دغه نازک دور کي دستګيري وکړه، او د اسلام ئې حفاظت وکړی، او د اسلام حکمونو ته ئې ژوند او بقا ور کړه.
او که امام احمد رحمة الله عليه نوای، چي کله د خلق القران مسئله راغله، نو ده هم په ډېرو قربانيو د خپل دين او د قرآن حفاظت وکړی، نو که دی نوای، هم به نن د ځمکي پر مخ د الله تعالی عبادت نوای.

ليکن چيکله پر امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه باندي آخري وخت راغلی، بچيان او شاګردان ورته ناست دي، د ده د بدن څخه دومره خوله راوزي: چي د کپړو څخه دباندي راووتله، او مځکي ته راورسېدله.

نو هغوی ورته وويل: چي اې پلار جانه! ته خو د وخت امام پرهيزګاره او متقي او ټوله زندګي دي د دين په خدمت کي تېره سوېده، او هم د لکونو احاديثو حافظ ئې، بيا ولي دومره پرېشاني او غم کوې؟

ده په جواب کي ورته وويل: بچيانو! تاسو ته معلومه نده: چي اوس عنقريب د الله تعالى په دربار کي زما پېشېدل دي، څه معلومه ده: چي زما سره به څنګه سلوک وسي؟ ځکه "فَعَّالٌ لِمَا يُرِيدُ" هغه ډېر بې نيازه ذات دی، چي هغه د بلعم بن باعور څلور سوه کاله عبادت ور کالعدم کړی، هسي نه: چي زما سره د هغه د بې نيازۍ معامله وسي، نو بيا به زما دغه شپيته کاله عبادت کم ځای و نيسي.

حضرت سفيان ثوري رحمة الله عليه د خپل وخت لوی ولي وو، او ټوله زندګي ئې د احاديثو په درس او د دين په خدمت کي تېره سوه، چي کله پر ده باندي آخرنی وخت راغلی، نو شاګردان ورته ناست دي، ده دا خپل سر او ږېره په خاورو پوري موښوله.

هغوی پوښتنه ځني وکړه: چي حضرت! داسي ولي کوې؟ ده په جواب کي ورته وويل: چي د الله تعالى څخه ډېر بېرېږم،

هغوی ورته وويل: ته خو د الله تعالى ولي ئې، او تا ته الله تعالى کامل ولايت در کړی دی، بيا ولي دومره زيات په بېره کي ئې؟

ده ورته وويل: ولي به نه بېرېږم! ځکه:

......... ﴿إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ﴾ د الله تعالى رانيول ډېر سخت دي، او زه بېرېږم: چي هسي نه: زه پکښي راګير سم.

امام ابو حنيفه رحمة الله عليه زموږ او ستاسو د مذهب پيشوا او لوی امام دی، هغه په خپل ژوند کي درو پنځوس ځله حج وکړی، او څلويښت ځله د خپل کور څخه تر بيت الله پوري پيدل د حج سفر ئې سر ته ورساوی، او هغه څلويښت کاله مسلسل ټوله شپه پر عبادت باندي تېره کړه.

په آخري حج کي ئې په يو لاس باندي د کعبې پوښ نيولی دی، او په بل لاس ئې خپله ږېره نيولې ده، او په ژړا سره د دعا کولو په دوران کي دا وايي:
اې زما مولا! اې زما مالکه! ما ستا لمن نيولې دعا کوم: زما سره هيڅ نيکي او اعمال نسته، زما د دغه سپينو ببښتانو په خاطر پر ما باندي رحم وکړه، او ما معاف کړه.
امام زين العابدين رحمۃ اللہ علیہ د الله تعالی د بيري څخه په يوه شپه کي زر رکعته نفل کول.
يو ځل د يخ په موسم کي هغه په حجره کي خپله بخاری بله کړه، او دروازه ئې وتړله، او پر لمانځه باندي ودرېدی، او د قرآن تلاوت ئې په ډېر ذوق او شوق سره روان کړی.
چي د هغه بخاری څخه يوه وړانګه راوغورځېدله، او پر بستره وموښتله، او حجرې اور واخيستی، چيکله دباندي دود او لمبه راووتله، نو خلګو د دباندي څخه د دروازې د خلاصولو کوشش وکړی، ليکن دروازه نه خلاصېدله، د هغوی دا ګمان سو: چي حضرت کي سوځل سوی او شهيد سوی دی.
نو بالآخر ئې دروازه ور ماته کړه، که ګوري: نو د حجرې سامان، چت او هر څه سوځل سوي دي، مګر هغه د حسين رضی اللہ عنہ بچی پر لمانځه باندي په ډېر اطمينان سره ولاړ دی، او د قرآن کريم تلاوت کوي.
چي کله ئې لمونځ ختم کړی، او سلام ئې په وګرځاوی، نو هغه خلګو پوښتنه ځني وکړه: چي حضرت! تا لمونځ ختم نکړی، او دا ټول سامان درته وسوځل سو، زموږ سره دا پرېشاني وه: چي شايد ته به هم په هغه کي سوځل سوی ئې.
ده په جواب کي ورته وويل: چي ستاسو سره د هغه اور پرېشاني وه، چي هغه په اوبو سره مري، او هغه تاسو هم ختم کولای سئ، او زما سره د هغه اور فکر را سره وو: چي د اعمالو څخه ماسوا په بل هيڅ شي باندي نه مري.
او زه د هغه اور په فکر کي داسي مستغرق وم: چي د دنيا په اور هيڅ اګاه او خبر سوی نه يم.

## د حضرت عمر ﷛ شهادت:

ما مخکي هم دا خبره بار بار مکرره کړه: چي د زندګۍ خاتمه ډېره درنه ده، او هغه انسانان چي پر هغوی باندي ټوله زندګي په دين کي تېره سوه، بيا به هم دې ورځي ته زيات وار خطا وو.

حضرت عمر ﷛ غوندي انسان چي د هغه په باره کي به پېغمبر ﷺ ويل: که زما څخه وروسته دې امت ته الله تعالی بل نبي ور کولای: نو هغه به عمر ﷛ وای.

او پېغمبر ﷺ به دا هم ويل: چي کله زموږ پر يو مسئله باندي اختلاف راسي، نو د هغې متعلق چي الله تعالی په قرآن کريم کي موږ ته څه هدايت را استوي، هغه همېشه د حضرت عمر ﷛ د رأيي موافق وي.

- دې دومره بشارتونو سره تاسو د هغه آخرني حالات واورئ: چي هغه په دغه حالاتو کي څومره عاجزي کوله، او په زړه کي ئې د الله تعالی څومره بېره پرته وه.

## د حضرت عمر ﷛ خوب ليدل:

د خلافت په ورځو کي يوه شپه حضرت عمر ﷛ خوب ليدی، چي هغه په حياة الحيوان کي د مسلم شريف په حواله دا رنګه را نقل سوی دی:

چي ده د جمعې په خطبه کي خلګو ته وويل:

........ ﴿إِنِّي رَأَيْتُ كَأَنَّ دِيكًا نَقَرَنِي ثَلَاثَ نَقَرَاتٍ﴾.(۱)

ما بيګاه شپه يو خوب وليدی، چي يو سور رنګه مرغه زما پر بدن يو ځل يا دوه ځله يا درې ځله منبوکه ووهي، بيا ما هغه خوب حضرت اسماء ﷛ ته بيان کړی، هغې د هغه خوب تعبير دا راکړی: چي تا به يو کافر عجمي سړی قتل کوي، د جمعې په ورځ ده په خطبه کي دا خوب بيان کړی، او د چهار شنبې په ورځ د سهار په لمانځه کي دی زخمي کړل سو.

(۱) صحيح مسلم: حديث نمبر ۵۶۷

## د فیروز نامي غلام پر حضرت عمرﷺ حمله:

حضرت عمرﷺ به دا عادت درلودی: چي د خپل خلافت په وخت کي به همېشه په مسجد نبوي کي لمونځ ده پخپله ورکاوی، او د لمانځه څخه مخکي به ئې صفونه سیده کول، چیکله به صفونه سیده سول، بیا به ده الله اکبر وایي، او د لمانځه نیت به ئې تاړی.

د چهار شنبې په سهار چي کله ده د صفو سیده کولو څخه وروسته نیت وتاړی، او د سورة الفاتحې تلاوت ئې وکړی، او د هغه څخه وروسته ئې سورة یوسف شروع کړی، نو په دغه دوران کي د فیروز په نامه یو سړی چي د حضرت مغیره بن شعبهﷺ مجوسي غلام وو، په صفونو کي یو دم مخته راغلی، او په لاس کي ئې خنجر وو، چي په هغه سره ئې پر حضرت عمرﷺ باندي حمله وکړه، او د نامه څخه لاندي ئې په نس کي دی دوه ځله په هغه خنجر باندي وواهی.

حضرت عمرﷺ غوځار سو، هغه ظالم پر شا په صفونو کي منډه کړه، چي چا ئې مخ راګرځاوی، نو هغه ئې هم په خنجر باندي واهی، یو څو نور صحابه ئې هم سخت زخمیان کړل.

آخر یو انصاري صحابي په تیاره کي پر هغه باندي خپله شړې واچوله، او قبضه ئې کړی، چیکله هغه غلام په دې پوه سو، چي زه خو ونیول سوم، نو په خپل لاس سره ئې هغه خنجر په خپل نس کي څو ځله وواهی، او خپل ځان ئې په خپل خنجر سره پخپله قتل کړی.

حضرت عمرﷺ دستي حضرت عبدالرحمن بن عوفﷺ پر خپل ځای د لمانځه لپاره مخته کړی، او هغه د لمانځه په اول رکعت کي قل یا ایها الکافرون او په دوهم رکعت کي ئې قل هو الله احد ووایي، او ده خپله په صف کي لمونځ ادا کړی، چیکله د لمانځه څخه فارغه سو، نو حضرت عبدالله بن عباسﷺ ته ئې وویل:

............يَا بْنَ عَبَّاسٍ اُنْظُرْ مَنْ قَتَلَنِي؟﴾.

اې د عباس بچیه! ته وګوره! چي پر ما د قتل حمله چا وکړه؟

هغه چیکله وکتل: نو ئې ورته وویل:

............يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، قَتَلَكَ أَبُو لُؤْلُؤَةَ غُلَامُ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ،﴾.

اې امير المؤمنين! پر تا باندې د قتل حمله د مغيره ابن شعبه مجوسي غلام وکړه.
ده چې کله دا واورېدل، نو ئې وويل:
.........﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَمْ يَجْعَلْ مَنِيَّتِي بِيَدِ رَجُلٍ سَجَدَ لِلَّهِ سَجْدَةً وَاحِدَةً﴾.
زه پر دې باندې د الله تعالی ډېر شکر ادا کوم: چې زما مرګ ئې د داسې چا په لاس نه وکړی: چې هغه د الله تعالی لپاره يوه سجده هم ادا کړې وي.(۱)
د حضرت عمرؓ زخم چونکه ډېر ژور وو، نو بعضو صحابه کرامو به دا ويل: چې انشاء الله ده ته به الله تعالی بيرته صحت ورکړي، او د بعضو نورو صحابه کرامو بيا ګمان دا وو: چې چونکه زخمونه ډېر ژور دي، نو شايد دی به ځني وفات سي.
په دې دورا ن کې ئې ده ته شربت ور کړل، هغه شربت فوراً د نس د زخمونو ځخه راووتل، نو د چا به دا ګمان سو: چې شايد داويني دي، چې د زخمونو ځخه راووتلې، او د بعضو نورو بيا دا ګمان وو: چې نه، د ده کولمې پرې سوي دي، دا بعينه هغه شربت دي: چې تر زخمونو راووتل.
بيا ئې ده ته شيدې ورکړې، نو هغه شيدې هم دستي تر زخمونو راووتلې، نو په دې وخت کې د ټولو صحابه کرامو دا يقين سو: چې د ده زخم ډېر کاري دی، او د ده کولمې پرې سوي دي، نو اوس د ده صحت بيا پيدا کول ډېر مشکل دي.
نو صحابه کرام ټوله پخپل وار د ده پوښتنې ته راتلل، په دې دوران کې يو نوجوان د ده پوښتنې ته راغلی، او ورته وئې ويل:
.........﴿اَبْشِرْ يَا اَمِيرَ الْمُؤْمِنِيْنَ! بِبُشْرِ اللهِ لَکَ مِنْ صُحْبَةِ رَسُوْلِهِ ﷺ وَ قِدَمٍ فِي الْاِسْلَامِ ثُمَّ وَلِّيْتَ، فَعَدَلْتَ ثُمَّ شَهَادَةٌ﴾.
اې امير المؤمنين! زه تا ته ډېر لوی زيرې در کوم: په هغه کې اول دا: چې تا ته الله تعالی د پيغمبر ﷺ صحبت در نصيب کړی، او ته په لويو صحابه وو کې وې، او بيا دې په اسلام کې ډېرې لوی کارنامې وکړې، او بيا د الله تعالی د رسول ﷺ خلافت در نصيب سو، په هغه کې دې هم عدل او انصاف وکړی، او د ټولو ځخه لويه مرتبه الله تعالی د شهادت هم در کړه.

(۱) تاريخ الطبري؛ ذکر الخبر عن وفاة عمر: صفحه نمبر ۱۹۲

حضرت عمرؓ چي دا واورېدل، نو ئې وفرمايل: داټوله د الله تعالى فضل او احسان دی، د قيامت په ورځ که د دې ټولو کارو په نسبت الله تعالى دا را سره وکړي: چي د قيامت په ورځ صرف زما څخه سوال و نه کړي، او نور هيڅ انعام ماته رانه کړي، نو هم به ئې زه د ځان لپاره لوی غنيمت بولم.

په دې کي بايد انسان فکر وکړي: چي حضرت عمرؓ چي کم اعمال وکړل، يا ئې څنګه زندګي تېره کړه، پر هغه باندي هم د الله تعالى څخه د څه انعام غوښتونکی ندی، بلکه د ځان لپاره دا غنيمت بولي: چي صرف د قيامت په ميدان کي زما څخه سوال و نسي.

نو زما او ستا پر حال دي الله تعالى رحم وکړي: چي زما او ستا څه حيثيت او څه حقيقت دی، او زما او ستا څه اعمال دي، چي د هغه پر بنياد به د الله تعالى د جنتونو طمعه او اميد و لرو، بس! الله تعالى دي زمونږ او ستاسو سره هم د قيامت په ميدان کي د آسانۍ معامله وکړي.

هغه نوجوان چيکله واپس روان سو، نو حضرت عمرؓ که ورته ګوري، د ده لنګ تر پښو لاندي مځکه ته رسېدلی دی، نو ئې دستي حاضرو انسانانو ته وويل: تاسو هغه ځوان واپس ماته را وبولئ، چيکله هغه حاضر سو، ورته وايي: بچيه! دغه لنګ يو څه پورته کړه، ستا دغه عمل د الله تعالى په حضور کي ډېر بد دی، او په دې سره به ستا جامه پر مځکه باندي د خرابېدلو څخه هم محفوظه سي.

تاسو نه ګورئ! چي حضرت عمرؓ د نزع او زکندن په حالت کي هم د شرعي خلاف يو عمل نسي ليدلای، او د نصيحت کولو بغير صبر نسي کولای.

مونږ به الله تعالى ته څه جواب ور کوو! چي په الله تعالى قسم! پخپل ځان کي خلاف شرع عمل وينو، د هغه د صحيح کولو فکر نه لرو، او هم په خپل اولاد او په خپل کور کي د شريعت خلاف اعمال وينو، ليکن د هغه د صحيح کولو يا هغه ته د نصيحت کولو همت او توفيق الله تعالى ندی راکړی، بس! الله تعالى دي مونږ او تاسو ټوله معاف کړي.

چي كله د ده مبارک حالت نازک سو، نو ئې خپل بچې حضرت عبدالله رضي الله عنه را طلب کړی، او ورته وئې ويل: اې عبدالله! ته د مسلمانانو مور حضرت عائشې مبارکې ته ورسه! او ورته ووايه:

.........يقرأ عَلَيْك عمر السَّلَام وَلَا تقل أَمِير الْمُؤمنِينَ فإنِّي لسْتُ الْيَوْم أَمِير الْمُؤمنِينَ﴾.

چي عمر سلام وايي، او اې عبدالله! خبردار! ما ته به هلته په امير المؤمنين نه وايي، ځکه نن ورځ زه امير المؤمنين نه يم، بلکه يو مړی يم.

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه حضرت عائشې مبارکې ته راغلی، که ګوري: هغه مبارکه هم د عمر رضي الله عنه په غم کي ژاړي، او پړونی ئې تهول په اوښکو باندي لوند دی، نو ده ورته وويل: اې د مسلمانانو موري! عمر رضي الله عنه سلام وايي، او دا اجازه غواړي: که ته ما ته د پيغمبر ﷺ و پښنو ته د دفن کېدلو اجازت راکړې.

حضرت عائشې مبارکې ورته وويل: چي اې عبدالله! ما خو دغه ځای د خپل ځان لپاره انتخاب کړی وو، ځکه چي دلته يو زما خاوند: محمد رسول الله ﷺ موجود دی، او بل زما پلار: ابوبکر رضي الله عنه دی، نو زما زړه دا غوښتل: چي زه د خپل خاوند او خپل پلار په اړخ کي تر قيامته پوري زندګي تېره کړم.

مګر چي د عمر رضي الله عنه غوښتنه ده، نو زه هغه ته پر خپل ځان باندي زياته ترجيح ور کوم، او دا اجازت ور کوم: چي هغه دي په شوق سره په دغه مبارک ځای کي دفن سي.

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه دغه اجازت را واخيستی، او حضرت عمر رضي الله عنه ته راغلی، حضرت عمر رضي الله عنه د دغه اجازت په ډېر شدت سره انتظار کاوی، چيکله ئې حضرت عبدالله رضي الله عنه راتلونکی وليدی، نو صحابه وو ته ئې وويل: چي ما راپورته کړئ، يو ځل مي کښېنوئ.

حضرت عبدالله رضي الله عنه چيکله راورسېدی، نو ده پوښتنه ځني وکړه: چي څه خبر دي راوړی؟ د مسلمانانو مور څه درته وويل؟

هغه په جواب کي ورته وويل: پلار مبارک! تاته د رسول الله او ابوبکر په اړخ کي د دفن کېدلو اجازت وسو.

حضرت عمر رضي الله عنه چيکله دا واورېدل، نو په ډېره خوشحالي سره ئې وويل:

.........الْحَمد لله مَا كَانَ شَيْء اهم إِلَيّ من ذَلِك﴾.

زه د الله تعالی شکر ادا کوم، زما سره د دغه خبري ډېر فکر وو، او دا ماته تر ټولو اهمه خبره وه.

د هغه ځخه وروسته ئې خپل بچي عبدالله ته وویل: چي اې عبدالله! یو بل کار به هم وکړې، هغه دا: چي کم وخت زه وفات سوم، او زما جنازه تیاره سي، بیا به زما جنازه ور واخلې، او د حجرې مبارکې و مخته به ئې کښېږدې، او د مسلمانانو مور ته به ږغ ور وکړې: چي د عمر جنازه حاضره ده.

کچیري تاته هغې اجازت وکړې، نو بیا ما دننه په حجره کي ښخ کړه، او که اجازت در نه کړي، نو د عامو مسلمانانو قبرستان جنت البقیع ته مي یوسه، زما سره دا اندیښنه ده: چي هسي نه: زما د لحاظ په خاطر ئې اجازت در کړی وي، نو ته زما د مرګ ځخه بعد هم یو ځل اجازت وغواړه.

چي کله ئې حالت د نزع راورسېدی، نو حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه روایت کوي: چي د ده سر د خپل بچي حضرت عبدالله رضي الله عنه په غېږ کي پروت وو، نو هغه ته وایي: زما سر د غېږي ځخه پورته کړه، او پر ځمکه باندي ئې کښېږده، چي زه خپل سر د خدای و مخته پر ځمکه باندي و موږم، شاید زما رب پر ما باندي رحم وکړي.

د هغه ځخه وروسته خپل سر په خاورو پوري مږي، او ږیره او ببښتان ئې په خاورو لړلي دي، او د سترګو مبارکو ځخه ئې اوښکي بهیږي، او دا جمله بار بار راګرځوي:

............وَيْلٌ لَكَ يَا عُمَرُ اِنْ لَمْ يَغْفِرْ لَكَ رَبُّكَ﴾.

اې عمره! ته به هلاک سې، که الله تعالی ستا مغفرت و نه کړي، او ستا سره د رحم معامله و نه کړي.(۱)

او بیا خپل بچي عبدالله ته وایي: چي کله زه وفات سوم، نو زما سترګي رابندي کړه، او زما په کفن کي د میانه روۍ ځخه کار واخله، یعني اسراف مه کوه، ځکه که زه د الله تعالی حضور ته په ښه حالت کي پیش سوم، نو ماته به الله تعالی تر دې ښه کفن راکړي، او که زما حالات د الله تعالی په حضور کي خراب وه، نو دغه کفن هم ماته نه راپاتیږي، هسي هم را ځخه اخیستل کیږي.

---

(۱) مواعظ ابراهیمي: صفحه نمبر ۸۰

او په داغه حالت کي ئې صحابه وو ته وويل: زما دي د الله تعالی په ذات قسم وي: که د ټولي دنیا دولت او سامان زما سره اوس واى، نو د قیامت د ورځي د وهم او بیري څخه د خلاصون په خاطر به مي ټول له صدقه کړی وای.

حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه چيکله دا خبره واورېدله، نو ورته وايي: زما دي د الله تعالی په ذات قسم وي: زما خو ستا متعلق دا گمان دی: چي ته به صرف برائی نام جهنم یا د قیامت د سختیو صورت ویني، او لږ ساعت به هغه ستا و مخته راپیشیږي، او تاته به د هغه څخه هیڅ خطر نه وي.

ځکه تر کمه ځایه چي زموږ سره معلومات دي: ته امیر المؤمنین ئې، او امین المؤمنین ئې، او سید المؤمنین ئې، ته فیصلې کوې، په احکامو کي، تا خپلي فیصلې د الله تعالی پر کتاب وکړې، او د انسانانو سره دي د عدل او انصاف معاملې وکړې.

د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه په دغه خبره اورېدو سره د حضرت عمر رضي الله عنه بوج یو څه سپک سو، د داغه تکلیف په حالت کي په جوش او شوق سره جگ کښېناستی، او وئې ویل: اې عبد الله بن عباسه! ته به د دغه خبرو شاهدي، د قیامت په میدان کي د الله تعالی په حضور کي پیش کړې، حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه ورته وویل: چي ضرور به ئې پیشوم، د دې په اورېدلو سره د ده زړه مطمئن سو، او د هغه څخه وروسته ئې یو څو د نصیحت خبري وکړې، او د دنیا څخه رخصت سو. "اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْن".(۱)

چيکله ئې جنازه تیاره سوه، نو صحابه کرامو د حضرت عائشې مبارکې د حجرې مخته راوړله، او هلته ئې کښېښووله، او په لوړ آواز سره ئې وویل: یا ام المؤمنین! "عُمَر بِالْبَابِ" اې د مؤمنانو موري! دا د عمر جنازه ده، او ستا د حجرې مخته حاضره سوه، او هغه یو ځل بیا اجازت غواړي، که چیري ستا اجازت وي، نو په حجره مبارکه کي ئې تدفین کوو، او که نه وي، نو ئې جنت البقیع ته وړو.

(۱) الانس الجلیل: حج ابي بکر الصدیق رضي الله عنه بالناس: صفحه نمبر ۲۵۹

حضرت عائشه مبارکه د ژړا په حالت کي وه، او وئې ويل: چي زه په خوشحالي سره يو ځل بيا حضرت عمر ﷛ ته په خپله حجره کي د تدفين اجازت ورکوم، نو د هغه څخه وروسته ئې د ده قبر په حجره مبارکه کي جوړ کړی، او دی ئې هلته دفن کړی.

په حياة الحيوان کي يو روايت راځي:

........وَلَمَّا تُوُفِّيَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ، أَظْلَمَتِ الْأَرْضُ فَجَعَلَ الصَّبِيُّ يَقُوْلُ: يَا أَمَاهُ أَقَامَتِ الْقِيَامَةُ؟ فَتَقُوْلُ لَا يَا بُنَيَّ، وَلَكِنْ قُتِلَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ﴾.(۱)

چي په کمه ورځ حضرت عمر ﷛ وفات سو، نو په هغه ورځ باندي لمر هم ترنځي ونيوی، نو په ټوله مدينه کي توره تياره وه، يو طرف ته د خلګو ژړا وه، او بل طرف ته د لمر تور والی نو يو د قيامت معرکه ښکارېدله.

د مدينې منورې بچيانو د خپلو ميندو څخه پوښتنه کوله: چي ايا نن قيامت دی؟ ميندو به ورته وويل: چي قيامت خو نه دی، بلکه نن: د مسلمانانو امير المؤمنين په شهادت رسېدلی دی، نو ځکه د مدينې منورې پر مسلمانانو يو عظيمه صدمه ده، او ظاهري او باطني نور د مدينې څخه رخصت او روان دی.

د مرګ څخه لس کاله وروسته خپل بچی حضرت عبدالله بن عمر ﷛ دی په خوب ويني، چي د سترپيا په حالت کي دی، او خولې وچوي، لکه يو څوک چي د زياتي سترپيا څخه راوتلی وي، نو هغه پوښتنه ځني کوي: چي پلاره! څنګه حالت دی؟ ولي دومره د سترپيا سره مخامخ ئې؟ ده ورته وويل: چي بچيه! د حکومت د حساب ورکولو څخه اوس فارغه سوم، خو د خپل ځان شخصي حساب ورکول مي لا پاته دي.

د تاريخ د کتابو څخه معلومېږي: چي پر حضرت ابوبکر ﷛ باندي محبت او عشق غالبه وو، او پر حضرت عمر ﷛ باندي بيا خوف الهي او بېره غالبه وه.

امام شعراني په طبقات الکبری کي يو روايت رانقل کړی دی: چي د مرګ څخه وروسته حضرت عبدالله بن عباس ﷛ دی په خوب کي وليدی، نو پوښتنه ئې ځني وکړه:

........كَيْفَ وَجَدْتَ الْأَمْرَ يَا أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْن؟﴾.

(۱) حياة الحيوان: خلافة عثمان بن عفان ﷛، صفحه نمبر ۸۱، مکتبه شامله

اې امير المؤمنين! الله تعالی څنګه معامله درسره وکړه؟ ده په جواب کې ورته وويل: ........ كَادَ عَرْشِيْ يَهْوِيْ بِيْ لَوْلَا أَنِّيْ وَجَدْتُ رَباً رَحِيْماً﴾.(۱)

معامله دومره سخته وه: چې ما داسې محسوسوله: چې دغه عرش به پر ما باندې راولوېږي، کچیرې زما د رب رحم او آساني زما سره نه وسي، يعني: زما رب ډېر مهربانه وو، خو زما سره ئې د آسانۍ معامله وکړه.

نو ما مخکې درته وويل: چې ژوند امانت دی، دا يو ورځ د انسان څخه اخيستل کيږي، او يوه ورځ انسان د دنيا څخه رخصت اخلي، او د مرګ سره مخامخ کيږي، نو الله تعالی دې زموږ ټولو سره په هغه ورځ باندې د آسانۍ معامله وکړي، او هم دې د قيامت ټول مَنازل راته آسانه کړي، او الله تعالی دې دا څو خبرې پخپل دربار کې قبولې او مقبولې وګرځوي.

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالى عَلى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

(۱) طبقات الكبرى للشعراني: و منهم الامام عمر بن خطاب رضي الله عنه، صفحه نمبر ۱۶

بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الآیہ)

# د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ شهادت، (اول بیان)

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹہ

تقریر :      الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام:      جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت:      اول

تاریخ:      ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد:      ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إنّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلَاقِيكُمْ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَى عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ﴿ الْمَوْتُ رَاحَةٌ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشّٰاهِدِيْنَ وَالشّٰاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو ! الله تعالى انسان ته د يو حکمت پخاطر په دنيا کي زندګي ور کړېده، خو د انسان زندګي په دنيا کي يو امتحان دی، د انسان د زندګۍ دوران دا د امتحان دوران دی، ځکه د زندګۍ د ختمېدو څخه وروسته د انسان څخه د زندګۍ د ټولو حالاتو پوښتنه کيږي، لکه په حديث شريف کي هم راځي:

............لَا تَزُولُ قَدَمَا عَبْدٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ أَرْبَعٍ:﴾.

يو بنده به د قيامت په ورځ د خپل محل څخه پر يو طرف هم حرکت و نکړي، چي تر څو پوري ئې د دغه څلورو خبرو جواب پيش کړی نوي:

۱. ............عَنْ عُمُرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ،﴾. د عمر پوښتنه کيږي، چي څنګه دې تېر کړی.

۲. ............وَجَسَدِهِ فِيمَا أَبْلَاهُ،﴾. د بدن پوښتنه کيږي: چي په څه کي دي زوړ کړی.

(۱) سورة الجمعة: آيت نمبر ۸

(۲) تنبيه الغافلين باحاديث سيد الانبياء: حديث نمبر ۲۹

۳. ............وعَنْ علمهِ مَاذا عَمِلَ بِهِ﴾. او د علم پوښتنه کیږي: چي څه عمل دي په وکړی.

٤. ............وعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتسبَهُ وفِيما أَنْفقهُ﴾. او د مال پوښتنه کیږي: چي څنګه دي وګټی، او څنګه دي خرڅ کړی. (١)

کچیري انسان ددغه څلورو خبرو جواب په ښه طریقه پیش کړي. نو هغه انسان کامیاب بلل کیږي. او هغه به د خپلي کامیابۍ اظهار په ډېره خوشحالي و خپلو قریبانو ته کوي.

او خدانخواسته! کچیري انسان د دغه څلورو خبرو په جوابو نو کي کمزوری راسي، نو بیا خو ناکام بلل کیږي، او هغه به پر دغه خپله ناکامي د ډېر افسوس اظهار کوي.

## د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ وینا:

نو یو طرفته د انسان زندګي یو امتحان دی، او بل طرفته د انسانانو د نفس او شیطان په دوکه باندي پخپل ژوند کي ډېر اوږده اوږده امیدونه پخپل دماغ کي ساتلي وي، څوک د سوارلۍ او ښه مکان خوبویني، او څوک بیا د خپل منصب او عزت لوړولو په فکر کي وي، او څوک بیا د خپلو حریفانو و مخته د غرور او تکبر لوړي دعوې کوي، او همېشه دا وايي:

*ہم چو ما دیگرے نیست*

حالانکه پیغمبر ﷺ د صحابه کرامو یو داسي جماعت تیار کړی وو: چي هغه زندګي په ډېره عاجزي کي تېروله، او هره ورځ ئې د خپل ژوند آخرنی ورځ بلله، او هر وخت به، د الله تعالی و حضور ته د خپل امتحان پېښو لو لپاره تیار اوسېدل.

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ وینا ده:

.........إِذَا أَصْبَحْتَ فَلَا تُحَدِّثْ نَفْسَكَ بِالْمَسَاءِ، وَإِذَا أَمْسَيْتَ فَلَا تُحَدِّثْ نَفْسَكَ بِالصَّبَاحِ﴾. (٢)

---

(١) الزهد للمعافي بن عمران الوموصلي: حدیث نمبر ۲۰۳

(٢) االزهد لاحمد بن حنبل: حدیث نمبر ۴۳

چيکله ته سهار کړې، نو د ماښام انتظار مه کوه، او چيکله ماښام کړې، نو د سهار انتظار مه کوه، او خپل ځان په مړو کي شماره.
ځکه د هغوی و مخته د پېغمبر ﷺ دا حديث مبارک تېر سوی وو:
...........کَمْ مُقْبِلٍ يَوْمَ لَا يَکْمِلُهُ﴾.
ډېر خلګ د نن ورځي انتظار لري، لېکن هغه پای ته نه ور سوي.
...........وَ کَمْ مِنْ مُسْتَقْبِلٍ غَدٌ لَا يُدْرِکُهُ﴾.
ډېر خلګ د سبا لمر راختلو انتظار کوي، ليکن چيکله لمر راخيږي، دی تر خاورو لاندي پروت وي.

## د هري ورځي عدد او شمار:

د دنيا د څېړونکو د عدد او شمار مطابق په هره ورځ او شپه کي پنځلس لکه انسانان د ټولي دنيا څخه مري، څه معلومه ده: چي مرګ به کرار کرار را روان وي، او زموږ د حجرې تر دروازې پوري به را رسېدلی وي.

## د امام غزالي رحمة الله عليه وينا:

امام غزالي رحمة الله عليه فرمايي: اې دوسته! ډېر ځله داسي وسي: چي ته په خوشحالي او په ودونو کي مصروفه ئې، او د خپل کور په کار او د تجارت په مصروفياتو کي مشغوله ئې.
حالانکه ستا نوم د مړو په لست کي ليکل سوی وي، او عزرائيل عليه السلام ستا د روح د اخيستلو لپاره را روان وي.
بلکه امام غزالي رحمة الله عليه يو بله عجيبه خبره ليکي: چي اې دوسته! تاته څه معلوم! چي بازار ته به هغه کپړه را رسېدلې وي: چي د هغه څخه ستا کفن جوړېږي، ته په دنيا کي خوشحالی جوړوې، حالانکه ستا کفن ستا د کلي په دوکان کي پروت ستا د قريب راتللو انتظار کوي، چي ډېر ژر به هغه ستا پر بدن پېچل کيږي.

## د قبر آواز:

انسان که په دنيا کي هر څومره خپل مرګ هير کړي، او بالکل ئې د دماغ څخه ليري کړي، ليکن د مرګ څخه هيڅکله انسان نه هيريږي.
په رواياتو کي راځي: چي قبر هر انسان روزانه اويا واره يادوي، او پر انسان باندي دا آواز او ندا کوي:

- ..........أَنَا بَيْتُ الغُرْبَةِ﴾. زه د ناولدتيا کور يم.
- ..........وَأَنَا بَيْتُ الوَحْدَةِ﴾. زه د يوازوالي کور يم.
- ..........وَأَنَا بَيْتُ التُّرَابِ﴾. زه د خاورو کور يم.
- ..........وَأَنَا بَيْتُ الدُّودِ﴾. زه د چينجيانو کور يم.
- ..........وَ أَنَا بَيْتُ الظُّلُمَاتِ﴾. زه د تيارکي کور يم.
- ..........وَ أَنَا بَيْتُ الْحَيَّةِ وَ العَقَارِبِ﴾. زه د مارانو او لړمانو ډک کور يم. (۱)

نو ماله چي راځي، د تيارى کولو څخه وروسته راسه، انسان په دنيا کي د لوی کور او د ښائسته نقشې شوق لري، چي زما په دنيا کي لوی کور وي، او په ښائسته نقشه باندي جوړ وي، کاش! انسان د هغه تنګ کور هم لږ فکر کولای، لکه يو شاعر وايي:

اَمْ بُيُوتُکَ فِي الدُّنْيَا وَاسِعَةٌ
فَلَيْتَ بَيْتُکَ بَعْدَ الْمَوْتِ يَتَّسِعُ

په دنيا کي خو د ځان لپاره پراخ کور جوړوې، کاشکي! دا فکر دي هم کولای: چي د مرګ څخه وروسته به زما د کور پراخي په کم شکل وي.
انسان په دنيا کي ډېر ځله په خپلو قريبانو په آل او اولاد نازيږي، او کله ئې په مال او دولت سره زړه ښه وي، مګر الله تعالى فرمايي:
..........يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ﴾.
د قيامت په ورځ نه مال او نه اولاد سړي ته نفعه رسولای سي.
..........إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ﴾.(۲)

---

(۱) الاستعداد لنمه ت: المبحث التاسع و العشرون مخاطبة القبر: صفحه نمبر ۲۹۹
(۲) سورة الشعراء: آيت نمبر ۸۸

مګر هغه څوک: چي هغوی د الله تعالی و حضور ته قلب سليم يعني: د ګناهونو څخه پاک زړه او زندګي پيش کړي.

## د حضرت عثمان ﷜ ژړا:

حضرت عثمان غني ﷜ چي به کله قبرستان او هديرې ته راغلی، نو دومره زيات به ئې ژړل، چي ډيره مبارکه به ئې په اوښکو باندي لنده سوه.
يوه ورځ يو شاګرد پوښتنه ځني وکړه: چي حضرت! ته چيکله قبر ووينې، نو دومره ولي زيات ژاړې؟
ده مبارک ورته وويل:
............القَبْرُ أَوَّلُ مَنْزِلٍ مِنْ مَنَازِلِ الآخِرَة ، فَإِنْ نَجَا مِنْه فَمَا بَعْدَهُ أَيْسَرُ مِنْهُ ، وَإِنْ لَمْ يَنْجُ مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَشَدُّ مِنْهُ﴾.
قبر د آخرت د منازلو څخه اول منزل دی، کچيري په دي کي الله تعالی انسان ته نجات ور کړی، نو وروسته منازل بيا آسانه دي، او که دلته انسان د مشکلاتو سره مخامخ سو، نو بيا خو وروسته منازل د دې څخه هم زيات سخت دي.
............وَسَمِعْتُ رَسُوْلَ الله -صَلَّى الله عَلَيْه وَسَلَّم- يَقُوْلُ :﴾.
او ما د پيغمبر ﷺ څخه اورېدلي دي: چي ده مبارک به ويل:
............مَا رَأَيْتُ مَنْظَرًا قَطُّ إِلَّا القَبْرَ أَفْظَعُ مِنْهُ﴾.
ما هيڅ يو سخت منظر ندی ليدلی، بلکه قبر د هغه څخه زيات سخت دی.
په دنيا کي که انسان هر څومره په غفلت کي ځان واچوي، او قبر بلکل د دماغ څخه ليري کړي، خو د قبر څخه په هيڅ حالت کي انسان نه هيرېږي.
په يو روايت کي راځي: چي د هر انسان قبر په ورځ کي اويا واره انسان يادوي، او هم ده ته آواز کوي:
.........اَنَا بَيْتُ الغُرْبَةِ﴾.زه د ناولدتيا کور يم.
.........اَنَا بَيْتُ الوَحْدَةِ﴾. زه د يوازوالی کور يم.
.........وَاَنَا بَيْتُ التُّرَاب﴾. زه د خاورو کور يم.

.........وَأَنَا بَيْتُ الدُّوْدِ﴾. او زه د چينجو کور يم.(۱)
نو ما لره بغير د توښې او تيارۍ مه راځه.
په دنيا کې انسان ښائسته کور جوړوي، او په هغه کې د ځان او د راحت او آسانۍ بندوبست تياروي. او هم په دنيا کې د سړي پر خپلو قريبانو او پر آل او اولاد او پر مال او دولت باندې اعتماد وي، چې دا به د مشکلاتو په وخت کې زما مرسته او کومک کوي.
ليکن د قبر په زندګۍ کې دا يو شی هم سړي لره په ښه نه ورځي، ځکه الله تعالی د هغې زندګۍ په باره کې فرمايي:
..........﴿يَوْمَ لَا يَنفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ،﴾.
د قيامت په ورځ به نه مال انسان لره په کار ورځي، او نه اولاد.
..........﴿إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ﴾.(۲)
هلته صرف انسان ته قلب سليم فائده ور کوي، يعني: هغه زړه چې د هغه په دنيا کې د خپل رب د نافرمانۍ څخه حفاظت سوی وي.

## د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت پيشګوئي:

قاضي عياض رحمة الله عليه په خپل کتاب "شفا" کې رانقل کړي دي، او داغه رنګه په "مواهب لدنيه" کې هم رانقل سوي دي: چې کله د حضرت عثمان رحمة الله عليه د خلافت لس کاله تېر سول، نو په مدينه منوره کې يو صحابي وفات سو، حضرت عثمان رحمة الله عليه د هغه جنازې ته حاضر سو.
چې کله حضرت عثمان رضي الله عنه د هغه و جنازه ته د لمانځه ور کولو لپاره و دريدی، او د لمانځه د نيت تړلو په حال کې وو، نو يو دم هغه صحابي را ژوندی سو، او په خپل ځای کې را کښېناستی، او دا ئې وويل:

(۱) الاستعداد للموت المبحث التاسع والعشرون مخاطبة القبر: صفحه نمبر ۲۹۹
(۲) سورة الشعراء. آيت نمبر ۸۸

السلام علیک! اې عثمانه! ته رشتوني انسان ئې، او ستا د خلافت دوه کاله نور لا هم پاته دي، او د "بئر اریس" قصه هم راتڼدې ده، په دنیا کي به لوی فساد جوړېږي، او قوي انسانان به ضعیفه خلک تر پښو لاندي کوي.

د دې خبري د کولو سره هغه صحابي بیرته پخپل ځای کي پرېواتی، او وفات سو، دوی چي هر څومره سره وښوراوی، په هغه کي بالکل ساه نه وه، نو بیا ئې د جنازې لمونځ ور کړی، او په جنت البقیع کي ئې ښخ کړی.

## د حضرت عثمان رضي الله عنه په وخت کي د فتنو ابتدا:

د دغه واقعې څخه یو کال وروسته یوه ورځ حضرت عثمان رضي الله عنه پر اریس نامه څاه باندي ناست وو، چي د ده د لاس څخه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغه ګوتمی چي پر هغه باندي محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم لیکلی وو، او دا د پیغمبر صلی الله علیه وسلم مهر وو، چي ډېره زمانه د ابوبکر سره وو، او بیا د حضرت عمر رضي الله عنه لاس ته راغلی، او د هغه څخه وروسته د حضرت عثمان رضي الله عنه سره وو.

خو په دغه ورځ د حضرت عثمان رضي الله عنه څخه په دغه څاه کي ولوېدی، چونکه د دغه څاه اوبه د انسان تر نامه پوري وې، نو حضرت عثمان رضي الله عنه دا حکم وکړی: چي کم چا دغه مهر مبارک د دغه څاه څخه را وکښی، زه یو لک دراهم هغه ته په انعام کي ورکوم، خلګو چي هر څومره کوشش وکړی، او د هغه څاه خاوري ئې لا ټولي راویستلې، مګر د هغه مهر هیڅ معلومات و نه سو.

کچیري د پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغه مهر په دنیا کي پاته وای، نو تر قیامته پوري به د ده د اطاعت کونکو حکومت هم چلېدلای.

د هغه مهر د ورکېدو سره د انسانانو په دماغو کي قسما قسم تصورات او خیالات پیدا سول، او د حضرت عثمان رضي الله عنه څخه ئې شکایتونه کول شروع کړل، او پر معمولي معمولي خبرو به ئې پر ده باندي اعتراضونه کول.

یو سړي یو ځل په مدینه منوره کي کوتري الوزولې. نو حضرت عثمان رضي الله عنه دی منعه کړی، خو د ده دنه منعه کېدلو په وجه حضرت عثمان رضي الله عنه د ده د کوترو وزر ور پرې کړل، نو هغه کوتر باز د حضرت عثمان رضي الله عنه سخت ترین دښمن جوړ سو.

بیا یو سړي غایل (کوښه او ربړ)جوړ کړی، او په هغه به ئې کاڼي ویشتل، حضرت عثمان رضي الله عنه بیا هغه سړی د دغه عمل څخه منعه کړی، او ورته وئې ویل: چي دا د پیغمبر صلی الله علیه وسلم کلی دی، هسي نه: چي چاته په دي کي ستا د غلیل د ویشتلو څخه تکلیف ورسیږي، نو ئې منعه کړی، چیکله هغه د دغه خپل عمل څخه نه منعه کیدی، نو حضرت عثمان رضي الله عنه د ده غلیل ور مات کړی، نو هغه سړی هم د حضرت عثمان رضي الله عنه په سخت مخالفت کي روان سو.

او یوه خبره دا هم وسوه: چي عبدالله بن سبا یو یهودي وو، د حضرت عثمان رضي الله عنه په وخت کي ئې د منافقت په شکل اسلام قبول کړی، یو څه زمانه په مدینه کي وګرځېدی، د حضرت عثمان رضي الله عنه په مخالفت کي ئې خبري کولې، چیکله دلته څه په لاس نه ورغلل، نو بیا دغه منافق بصرې ته ولاړی، او هلته ئې د حضرت عثمان رضي الله عنه د مخالفت شروع کولو کوشش وکړی، او د هغه څخه وروسته بیا کوفې ته راغلی، مګر یو ځای هم ده ته پوره موقع په لاس نه ورغله.

آخر کار مصر ته راغلی، نو د مصر و خلګو ته ئې دا خبره پیش کړه: چي تاسو راته ووایاست: چي د محمد صلی الله علیه وسلم مرتبه لوړه ده، او د که دعیسی علیه السلام؟ نو ټولو ورته وویل: چي د محمد صلی الله علیه وسلم مرتبه ډېره لوړه ده.

ده ورته وویل: چي ډېر لوی افسوس دی: چي عیسی علیه السلام به د قیامت څخه مخکي دنیا ته راځي، او د کفارو سره به مقابله کوي، او دجال به قتل کوي، او محمد صلی الله علیه وسلم به نه راځي، او د ده دښمنان به د ده امت هلاکوي، او دا به څنګه سخت حالت وي.

نو د مصر خلک ئې په دغه خبرو په تشویش کي واچول، بیا ئې هغوی ته دا وویل: چي د هر نبي په دنیا کي یو وصي وي، یعني: (چي هغه نبي وصیت ورته کړی وي) او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم اصلي وصي حضرت علي رضي الله عنه دی، او خلافت هم د وصي حق وي، نو حضرت عثمان رضي الله عنه خو دا خلافت په غصب او زور سره نیولی دی، تاسو حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت څخه لیرئ کړئ، او خلافت اصلي وصي حضرت علي رضي الله عنه ته ور وسپارئ.

هغه خلګو هغه منافق ته وویل: چي موږ به دا څنګه وکړو، نو هغه دوی ته دا لار ور وښووله: چي تاسو د ټولو څخه مخکي چي کم حاکمان د حضرت عثمان رضي الله عنه د طرفه

دلته مقرر سوي دي، پر هغوی باندي اعتراضونه وکړئ، او خلک د ځان ملګري کړئ، او د مصر او بصرې او نورو مختلفو ځایو څخه د شکایت خطونه حضرت عثمانؓ ته ور واستوئ، چي ستا حاکمان پر موږ باندي ظلم کوي.
تر دې حده پوري چي د مصر او د کوفې او بصرې خلکو حضرت عثمانؓ ته خطونه ولیکل: چي نور خو موږ په ډېر خیریت کي ژوند تېروو، مګر ستا عاملان او حاکمان زموږ سره ډېر ظلم کوي، ته دوی معزوله کړه، او د دوی پر ځای زموږ د وطنو لپاره نور حاکمان مقرر کړه.
حضرت عثمانؓ ته چي خطونه راغلل، نو هغه په جواب کي ورته ولیکل: چي پر کم چا باندي په تاسو کي زما حاکمانو ظلم کړی دی، هغه دي ضرور په دې کال حج ته راسي، او زما عاملان به هم زه راوغواړم، او ستاسو د ټولو د ظلم بدله به د هغوی څخه دراخلم.
حضرت عثمانؓ خپل حاکمان د حج پر موقع باندي ټول راطلب کړل، هغه ټوله را حاضر سول، مګر د شکایت کونکو څخه یو هم نه راغلی.
حضرت عثمانؓ خپلو عاملانو ته وویل: تاسو ولي ظلم کوئ، او عام رعیت ته ولي تکلیف ور کوئ؟ چي هغه تر ما پوري شکایتونه را رسوي؟ هغه ټولو ورته وویل: چي دا شکایتونه بالکل درواغ دي، ته هغه شکایت کونکي راوغواړه: چي کم شکایتونه ئې تاته کړي دي، هغه دي زموږ ومخته راسي، بیا به موږ د هغوی سره خبره وکړو، مګر د هغه درواغجنو انسانانو څخه دلته هیڅوک هم موجود نه وو.
د حج څخه وروسته حضرت عثمانؓ مدینې منورې ته واپس راغلی، حضرت معاویهؓ د ده سره ملګری وو، چي په مدینه کي کم چا د ده څخه شکایت درلودی، هغه ئې را طلب کړل، او ورته وئې ویل: چي تاسو زما څخه کم شکایت لرئ؟ چي پر هر مجلس کي زما غیبت کوئ.
هغه خلکو ورته وویل: ته خپلو قریبانو ته د بیت المال او غنیمت څخه تر موږ زیاته حصه ور کوې، حضرت عثمانؓ ورته وویل: چي چاته مي زیاته حصه تر تاسو ور کړېده، هغه خلکو ورته وویل: تا مروان ته پنځلس زره دراهم ور کړي دي، او عبدالله

بن خالد ته دي پنځوس زره دراهم ور كړي دي، نو موږ ځكه ستا څخه شكايت لرو.
حضرت عثمان رضي الله عنه د هغه دواړو څخه هغه دراهم واپس كړل، او هغه خلګ سره ولاړل.
حضرت معاويه رضي الله عنه ډېر هوښيار انسان وو، حضرت عثمان رضي الله عنه ته ئې وويل: اې امير المؤمنينه! دغه خلګ ستا د قتل حليې او بانې طلبوي، او دغه خبري صرف يو بهانې دي.
ته زما سره شام ته ولاړ سه، هسي نه: چي يو لښكر پر تا رانسي، او تا را څخه قتل نه كړي.
حضرت عثمان رضي الله عنه ورته وويل: زه به د خپل حبيب او محبوب محمد صلى الله عليه وسلم همسايتوب په هيڅ شكل نه پرېږدم، كڅه هم دغه خلګ زما د قتل تياري نيسي.
حضرت معاويه رضي الله عنه بيا ورته وويل: چي زه به د شام څخه يو څه فوج ستا د حفاظت لپاره راواستوم، هغه به ستا حفاظت كوي، او تاته به څوك ضرر نسي در رسولاى،
حضرت عثمان رضي الله عنه ورته وويل: زه د مدينې مځكه د پيغمبر صلى الله عليه وسلم پر همسايګانو باندي تنګول نه غواړم.

بيا حضرت معاويه رضي الله عنه ورته وويل: چي بيا خو دا خلګ تا په يو دوكه نه دوكه سره قتل كوي، حضرت عثمان رضي الله عنه په جواب كي ورته وويل:
............حَسْبِيَ اللهُ وَ نِعْمَ الوَكِيْلُ﴾.
زه خپل ټول كارونه الله تعالى ته سپارم، الله تعالى زما لپاره كافي ذات دى.

حضرت معاويه رضي الله عنه د سفر جامې واغوستې، او چيكله په سفر روانېدى، نو مسجد نبوي ته راغلى، او خلګو ته ئې وويل: چي دغه بوډا يعني (حضرت عثمان رضي الله عنه) ستاسو د پيغمبر صلى الله عليه وسلم خليفه دى، د ده سره بده ګوزاره مه كوئ، او د ده د احترام او قدر كولو كوشش وكړئ.
او د دې وينا كولو سره هغه رخصت سو، او د شام پر طرف ولاړى، ځكه دى د حضرت عثمان رضي الله عنه لطرفه د شام حاكم مقرر وو.

چې کله ټوله خلګ سره ولاړل، نو د مصر او د کوفې او د بصرې خلګو د عبد الله بن سبا منافق په مشوره بیا حضرت عثمان رضی الله عنه ته د خپلو حاکمانو شکایتونه لیکل شروع کړل، مګر په دې ځل حضرت عثمان رضی الله عنه دوی ته هیڅ جواب نه ورکاوی.

د شوال میاشته چیکله راغله، نو تقریباً زر کسان د مصر او د هغه اندازه خلګ د کوفې څخه او پنځه سوه کسان د بصرې څخه د حج پر نامه مدینې منورې ته را روان سول، چې مدینې ته کله راغلل، نو پر مدینه منوره را وګرځېدل، او مدینه منوره ئې محاصره کړله، او د عامو خلګو سره ئې ډېره بده ګوزاره شروع کړله.

حضرت عثمان رضی الله عنه چیکله ولیدل، نو په دې پوه سو: چې دا خلګ زما د قتل اراده لري، او ما نه پرېږدي، نو حضرت علي رضی الله عنه ته راغلی، او ورته وئې ویل: چې زما او ستا سره قرابت دی، او دا خلګ ستا خبره مني، ته دوی د دې څخه منعه کړه، چې خپل لاسونه زما په وینو رنګین نه کړي، او چې د دوی کمه مطالبه ده، هغه دې ماته ووایي، زه به ئې ور پوره کړم.

حضرت علي رضی الله عنه هغه خلګو ته راغلی، او ورته وئې ویل: چې ستاسو څه مطالبه ده؟ هغوی په جواب کي ورته وویل: چې د ټولو څخه مخکې د مصر حاکم معزوله کړه، او محمد بن ابي بکر د مصر حاکم مقرر کړه.

حضرت عثمان رضی الله عنه هغه مخکي حاکم معزوله کړی، او محمد بن ابي بکر ئې نوی حاکم مقرر کړی، د مصر خلګ په دې خبره راضي سول، او پر خپل طرف باندي روان سول.

مروان یو سړی وو، چې د حضرت عثمان رضی الله عنه په قریبانو کي وو، او ډېر بغضي او عنادګر انسان وو، هغه د حضرت عثمان رضی الله عنه په پټه یو خط د حضرت عثمان رضی الله عنه د طرفه د مصر و مخکیني حاکم ته ولیکی: چې مضمون ئې دا وو:

چیکله محمد بن ابي بکر تالره درسي، نو دی به قتل کړې، او چې کم کسان د ده سره ور سره دي هغه به هم قتل کړې، یو به هم ژوندی نه پرېږدې، او په پټه ئې د حضرت عثمان رضی الله عنه مهر پر هغه باندي ولګاوی، او د حضرت عثمان رضی الله عنه غلام ئې پر اوښ باندي سپور کړی، او هغه خط ئې هغه ته ورکړی، او مصر ته ئې روان کړی.

په لاره کي هغه د مصر خلک او د غه غلام سره يو ځای سول، هغه خلکو د غلام څخه پوښتنه وکړه: چي ته کم ځای ته روان ئې؟ هغه ورته وويل: چي زه مصر ته ځم، دوی ورته وايي: هلته څه کوې؟ ده جواب ورکړی: چي د امير المؤمنين يو پيغام دی، هغه د مصر و حاکم ته رسوم.

هغه خلکو ورته وويل: چي دمصر حاکم خو محمد بن ابي بکر دی، دغه دی زموږ سره را سره دی، هغه پيغام ده ته ور کړه، هغه غلام ورته وايي: چي نه، د مصر هغه بل حاکم ته ئې ور وړم.

هغه خلک په شبهه کي واقع سول، او د هغه غلام تلاشي ئې واخيستله، نو که ګوري: يو خط د حضرت عثمان ﷺ لطرفه د مصر و مخکيني حاکم ته ليکل سوی دی، او د هغه مضمون دا دی:

چي محمد بن ابي بکر خلکو په زور سره حاکم مقرر کړی دی، چيکله دی مصر ته در ورسيږي، نو لاسونه او پښې به ئې ور پرې کړې، او د ده ملګري به ټوله په دائمي بند باندي محکوم کړې.

چيکله دغه خط هغه خلکو ووايي، نو ټوله په زياته غصه کي سول، او واپس مدينې منورې ته راغلل، او د مدينې منورې ټول صحابه ئې سره راجمعه کړل، او هغوی ته ئې دا خط ووايي.

صحابه وو دغه خط حضرت عثمان ﷺ ته را وړی، او ور ښکاره ئې کړی، او ورته وئې ويل: چي ايا دا خط تا ليکلی دی؟ حضرت عثمان ﷺ انکار څني وکړی، بيا هغه خلکو ورته وويل: چي دغه اوښ ستا دی؟ چي خط وړونکی ور باندي سپور وو، ده په جواب کي ورته وويل: چي هو، دا زما دی، بيا هغه خلکو پوښتنه څني وکړه: چي دغه غلام ستا دی؟ ده ورته وويل: چي هو غلام زما دی، هغوی بيا ورته وويل: چي دغه مهر پر خط لګېدلی ستا دی؟ ده جواب ور کړی: چي هو، زما دی، نو هغه خلکو ورته وويل: چي دا بيا څنګه کيدای سي: چي خط دي ستا نوي.

ده په جواب کي ورته وويل: نه ما دا خط پخپله ليکلی دی، او نه مي په بل باندي ليکلی دی، زما مهر يو چا را څخه غلا کړی دی، او بيا ئې زما په پټه پر دغه خط لګولی دی.

نو هغه ټولو باغیانو پخپل مابین کې سره وویل: چې دی او س داسې عمر ته رسېدلی دی: چې د خپل مهر او خط څخه هم ناخبره دی، نو دی باید پخپله رضا د خلافت څخه معزوله سي، کچیرې نه معزوله کیږي: نو باید په قتل کولو سره ئې خلافت ور ختم کړو.

## د حضرت عثمان ﷺ امتیازي خصوصیات:

یو طرفته الله تعالی حضرت عثمان ﷺ ته ډېره زیاته تقوی او ډېر حلیم طبیعت ور کړی وو، او بل طرفته هغه ظالمانو د ده د شهادت پخه اراده کړې وه.

زه ستاسو و مخته د هغه یو څه خاص خصوصیات بیانوم، چې پیغمبر ﷺ پخپلو احادیثو کې د هغه اوصاف حمیده په کم شکل باندې بیان کړي دي.

په صحیحینو کې د حضرت ابو موسی اشعري روایت موجود دي، چې دی وایي: یوه ورځ په مدینه منوره کې د پیغمبر ﷺ سره په یو باغ کې ملګری وم، او د باغ دروازه بنده وه، یو چا هغه دروازه وټکوله، پیغمبر ﷺ راته وویل: ته ورسه! دروازه ور خلاصه کړه، چې هر څوک دی، نو د جنت زیری ور باندې وکړه.

ماچیکله دروازه ور خلاصه کړه، نو هغه حضرت ابوبکرصدیق ﷺ وو، ما د پیغمبر ﷺ د طرفه هغه د جنت زیری ور باندې وکړی، او دی ډېر خوشحاله سو، باغ ته راننواتی، او د پیغمبر ﷺ په مجلس کې کښېناستی.

پیغمبر ﷺ داسې د فکر په حالت کې ناست وو، او په لاس باندې ئې مځکه ګورووله، لږ ګړی بعد دوهم سړي دروازه وټکوله، ده بیا ماته وویل: ورسه دروازه ور خلاصه کړه، چې هر څوک دی خو د جنت زیری ورباندې وکړه، ماچیکله دروازه ور خلاصه کړه، نو هغه حضرت عمر ﷺ وو، خو ما هغه د پیغمبر ﷺ د جنت زیری ور باندې وکړی، ده هم د الله تعالی شکر ادا کړی، او راغلی د پیغمبر ﷺ په مجلس کې کښېناستی، ما بیا دروازه بنده کړه.

خو لږ ګړی بعد دریم سړي دروازه و ټکوله، په دې ځل هم پیغمبر ﷺ راته وویل: ورسه! دروازه ور خلاصه کړه، او دغه راتلونکي سړي ته په یو عام امتحان او ابتلاء کې د مبتلا کېدلو په وجه د جنت زیری وکړه.

ما دروازه ور خلاصه کړه، که ګورم: نو حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه دی، ما ده ته د پېغمبر ﷺ هغه زيری پيش کړی: ده وويل:

.........اَللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ وَ عَلَيْهِ التُّكْلَان.

دا ئې وويل، او باغ ته را ننواتی، او سلام ئې وواييې، او د پېغمبر ﷺ په مجلس کي کښېناستی. (١)

حضرت سعيد ابن عاص د حضرت عائشې او حضرت عثمان رضي الله عنه څخه روايت رانقل کوي: چي پېغمبر ﷺ په کور کي ناست وو، او پښې مبارکي ئې يو څه ښکاره وې.

په دې دوران کي حضرت ابوبکر رضي الله عنه د راننوتلو اجازت طلب کړی، چي کله اجازت ورته وسو، نو هغه راغلی، خو پېغمبر ﷺ په هغه شکل باندي ناست وو.

بيا حضرت عمر رضي الله عنه راغلی، او پېغمبر ﷺ په هغه خپل هيئت د ناستي کي څه بدلون نه راوستی، د يو څو خبرو کولو څخه وروسته واپس ولاړی.

حضرت عثمان رضي الله عنه وايي: چيکله ما اجازت طلب کړی، چيکله راغلم، نو پېغمبر ﷺ خپلي پښې مبارکي ټولي کړلې، او چيکله مي خپل کار وکړی، واپس ولاړم، زما د تللو څخه وروسته حضرت عائشې مبارکې د پېغمبر ﷺ څخه پوښتنه کړېوه: چي اې د الله تعالی رسوله! ابوبکر او عمر رضي الله عنهما راغلل، خو تا پخپل هيئت کي هيڅ بدلون نه راوستی، ليکن چيکله عثمان رضي الله عنه راغلی، تا خپل هيئت بدل کړی.

پېغمبر ﷺ حضرت عائشې ته وويل: چي عثمان خو ډېر حيا داره انسان دی، زما سره دا فکر پيدا سو: کچيري زه په داغه حالت کي يم، نو دی به د شرم او حيا په خاطر د خپل ضرورت بيانولو بغير واپس هسي ولاړ نه سي، او ډېر ځله به د پېغمبر ﷺ دا سي هم ويل: اې عثمانه! ستا څخه خو ملائکي هم حيا کوي.

حضرت حسان بن عطيه رضي الله عنه فرمايي: چي يو ځل پېغمبر ﷺ حضرت عثمان رضي الله عنه ته وويل: اې عثمانه! الله تعالی ستا مغفرت کړی دی، او ستا وروستني او مخکيني ګناهونه ټول الله تعالی معاف کړي دي.

(١) صحيح البخاري، حديث نمبر ٣٦٩٣

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه فرمایلي دي: چي د پېغمبر ﷺ په زمانه کي به مسلمانانو حضرت ابوبکر، حضرت عمر او حضرت عثمان پر ټولو باندي مقدم بلل، او د دوی څخه علاوه به ئې هيڅ چا ته هم د دوی درجه نه ورکوله.

په يو روايت کي داسي هم راځي: چيکله د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د وفات وخت رانژدې سو، نو ده حضرت عثمان رضی الله عنه راطلب کړی، چي ده خپل ځان څخه وروسته د خلافت لپاره د يو چا وصيت وليکي، چيکله وصيت نامه مکمله سوې نوه، نو پر حضرت ابوبکر رضی الله عنه باندي يو قسم بېهوښي راغله.

چونکه هغه تر اوسه لا د خپل ځان څخه وروسته د خليفه نوم نه وو ليکلی، او قلم د حضرت عثمان رضی الله عنه په لاس کي وو، نو حضرت عثمان رضی الله عنه د خپل ځان څخه د ابوبکر څخه وروسته د خلافت لپاره د حضرت عمر رضی الله عنه نوم وليکی.

چيکله حضرت ابوبکر رضی الله عنه په هوښ کي راغلی، نو د حضرت عثمان رضی الله عنه څخه ئې پوښتنه وکړه: تا د چا نوم ليکلی دی؟ ده په جواب کي ورته وويل: زما سره دا ېېره پيدا سوه: چي هسي نه ستا دغه بېهوښي د مرګ بېهوښي وي، او په امت کي افتراق او انتشار پيدا نسي، نو ځکه ما د حضرت عمر رضی الله عنه نوم وليکی.

حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه ورته وويل: اې عثمانه! پر تا دي د الله تعالی رحمت وي، ته ډېر ديانتدار انسان ئې، کچيري تا د خپل ځان نوم ليکلی وای، نو يقيناً هم زما په عقيده کي ته د دې اهل وې.(١)

## حضرت عثمان رضی الله عنه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په نظر کي:

ابن سعد د ابوسلمه بن عبدالرحمن څخه روايت رانقل کړی دی: چيکله د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د وفات وخت رانژدې سو، نو ده د حضرت عمر رضی الله عنه په باره کي د صحابه وو سره مشوره وکړه، او حضرت عثمان رضی الله عنه ئې را طلب کړی، او ورته وئې ويل: چي د حضرت عمر رضی الله عنه متعلق ستا څه رايه ده؟

ده په جواب کي ورته وويل: چي هغه ته د ر موږ ښه پېژني، حضرت ابوبکر رضی الله عنه ورته وويل: بيا هم ته خپله رايه راته بيان کړه، حضرت عثمان رضی الله عنه ورته وويل: د الله تعالی

(١) حياة الصحابه: جلد نمبر ٢، صفحه نمبر ٢٧

په ذات دي مي قسم وي: تر کمه حده چي زه هغه پيژنم، د هغه باطن تر ظاهر ډېر ښه دی، او په موږ کي اوس د هغه غوندي انسان نسته.
حضرت ابوبکر ﷺ ورته وويل: الله تعالی دي پر تا رحم وکړي، زما دي په الله قسم وي: که ما عمر پرېښوولی، يعني: د خلافت لپاره مي د هغه انتخاب و نه کړی، تا به هيڅکله نه پرېږدم، يعني: تا به ضرور د خلافت لپاره منتخبه وم.
د دې څخه دا ښکاره معلومه وه: چي د حضرت ابوبکر ﷺ په نزد د حضرت عمر ﷺ څخه وروسته د حضرت عثمان ﷺ اهمه درجه وه، او هم دی د خلافت مستحق وو.
چونکه وخت ډېر مختصر دی، د حضرت عثمان ﷺ د شهادت چي کمه پاته واقعه ده، هغه به انشاء الله په را روان وعظ کي ستاسو و حضور ته پيشوم، الله تعالی دي پر څه ويلو، او اورېدلو باندي موږ او تاسو ټولو ته د عمل کولو توفيق رانصيب کړي.

آمِيْن يَا رَبَّ العَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایه)

# د حضرت عثمان رضی الله عنه شهادت، (دوهم بیان)

(بیان)

مولوی **اطیع الله** صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

تقریر : الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا﴾.(١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ﴿عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ، وَعَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو! په تېر وعظ کي ما ستاسو په حضور کي د پيغمبر ﷺ د دريم خليفه راشد حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت تذکره کړېوه، او د وخت د کمۍ په خاطر مي پاى ته نوه رسولې، نن بيا د هغه پاته حصه ستاسو په حضور کي پېشوم.

د ده نوم مبارک: عثمان وو، او د پلار نوم ئې: عفان بن ابى العاص بن اميه، او نسبت ئې اموي قريشي وو.

د ده لقب: په کتابو کي ذوالنورين ليکلى دى، ځکه: د ده په نکاح کي د پيغمبر ﷺ دوې بچياني: رقيه او ام کلثوم، "یکے بعد دیگرے" راغلې وې.

ولادت ئې په مکه مکرمه کي د هجرت څخه (۴۷) کاله مخکي وسو، او شهادت ئې په مدينه منوره کي د هجرت څخه (۳۵) کاله وروسته راغلى.

---

(١) سورة الفتح: آيت نمبر ٢٩

(٢) مسند احمد: حديث نمبر ١٧١٤٤

او د هجرت څخه(۲۳) کاله بعد د حضرت عمر رضي الله عنه د شهادت څخه وروسته خليفه جوړ سو، او د خلافت مده ئې(۱۲) کاله وه، د ده په زمانه کي آرمينيه، ققفاز، خراسان، کرمان، سجستان، افريقه، او قبرص فتحه سول.(۱)

دی په عشره مبشره کي وو، ځکه چي دېر ځله ئې د پيغمبر ﷺ څخه د جنت زيری اورېدلی وو.

پيغمبر ﷺ به ويل:

...........لِكُلِّ نَبِيٍّ رَفِيقٌ وَرَفِيقِي، يَعْنِي فِي الْجَنَّةِ عُثْمَانُ﴾.(۲)

هر نبي ته الله تعالی په جنت کي يو ملګری ور کړی دی، او زماد جنت ملګری به عثمان وي.

دی چيکله شهيد سو، ده د پيغمبر ﷺ د خولې څخه د هغه شهادت زيری هم اورېدلی وو، ځکه په رواياتو کي راځي: چي يوځل پيغمبر ﷺ د "حرا" پر غره باندي ولاړ وو، د ده سره صحابه کرام ملګری وو، نو د غره هغه حصې لږ حرکت وکړی، نو پيغمبر ﷺ ورته وويل: چي آرام سه، پر تا باندي يو نبي او صديق او شهيد دی، نو د شهيد څخه مراد: د پيغمبر ﷺ حضرت عثمان رضي الله عنه وو.

حضرت عثمان رضي الله عنه ته الله تعالی د سخاوت دېر لوی صفت ور نصيب کړی وو، چي د هغه په وجه به پيغمبر ﷺ د ده سره زيات محبت کاوی.

حضرت عبدالرحمن بن خباب رضي الله عنه يو روايت را نقل کوي: چي زه په هغه مجلس کي موجود وم: چي کله پيغمبر ﷺ "جيش العسره" يعني د تبوک لپاره لښکر تياروی، او صحابه کرامو ته ئې د هغه د تيارولو ترغيب ور کاوی.

حضرت عثمان رضي الله عنه ولاړ سو، او دا عرض ئې پيش کړی: چي زما پر ذمه د الله تعالی په لار کي (۱۰۰) اوښان دي، او د هغه د تجهيز چي څومره اسباب دي، هغه به هم ور برابروم.

پيغمبر ﷺ صحابه وو ته دوهم ځل ترغيب ور کړی، نو حضرت عثمان رضي الله عنه بيا ولاړ سو، او وئې ويل: اې د الله تعالی رسوله! زما پر ذمه چي کم (۱۰۰) اوښان او د هغه

(۱) تحفة المعي شرح سنن ترمذي: جلد نمبر۸، صفحه نمبر۳۳۷

(۲) سنن ترمذي: حديث نمبر ۳۶۹۸

اسباب برابرول وو، هغه اوس په دوه سوه(۲۰۰) اوښانو بدل سو، يعني: زه به د دې لښکر لپاره(۲۰۰) اوښان او د هغه د ضرورت سامان برابروم.
پیغمبر ﷺ د منبر يو زينه را کښته سو، او بيا ئې صحابه وو ته ترغيب ور کړی، نو حضرت عثمان رضي الله عنه په دې ځل (۳۰۰) اوښان د هغه د ضرورت د سامان برابرولو سره وعده وکړه.
پیغمبر ﷺ چي ورته وکتل، نو دا به ئې بار بار ويل:
............﴿مَا عَلَى عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ هَذِهِ، مَا عَلَى عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ هَذِهِ﴾.(۱)
د دې څخه وروسته عثمان چي څه کوي، هغه دي کوي، د هغه ضرر ده ته نه رسيږي، يعني: که دی نور هيڅ و نه کړي، د دغه نن ورځي عمل د ده د جنت لپاره کفايت کوي، نو دا هم د پیغمبر ﷺ د طرفه ده ته يو قسم د جنت بشارت او زيری وو.

## د حضرت عثمان رضي الله عنه د سخاوت واقعه:

په مدينه منوره کي يو ځل کاختي راغله، عام انسانان د لوږي د کيفت سره مخامخ سو، په دې دوران کي د حضرت عثمان رضي الله عنه د تجارت قافله چي(۱۰۰) اوښان په خوړکي توکو بار د شام څخه مديني منورې ته راورسېدل.
قافله د مديني منورې د کورو څخه دباندي واوښتله، حضرت عثمان رضي الله عنه خپل مال ته راغلی، چي څو مره د مديني منورې تجاران وو، هغه ټول د حضرت عثمان رضي الله عنه قافلې ته د خريدارۍ لپاره راغلل.
حضرت عثمان رضي الله عنه د هغوی څخه قيمت واخيستی، چي زما دغه مال تاسو په څو مره باندي رانيسئ، نو يو تجار ورته وويل: چي زه د لسو(۱۰) دراهمو مال په دوولس(۱۲) دراهمه رانيسم، نو دی ورته وايي: چي تر دې لوړ خريدار زما سره سته، تاسو بل يو ماته قيمت راکړئ.
آخر يو تجار ورته وايي: زه ستا څخه د(۱۰) دراهمو مال په(۱۵) دراهمه رانيسم، تر دې بالا موږ تا ته هيڅ نرخ در کولای نسو.

(۱) سنن ترمذي: حديث نمبر ۳۷۰۰

حضرت عثمان رضي الله عنه ورته ايي: چي تاسو خو ماته دغه نرخونه راکړل، چي زما د(۱۰) دراهمو مال په(۱۲) يا په (۱۵) رانيسئ، حالانکه ماته يو داسي خريدار منتظر دی، چي هغه زما د يو دراهم مال په(۱۰) دراهمه رانيسي.

هغه تجاران ټول شاو خوا ګوري، چي د مديني تجاران خو موږ يو، بل داسي څوک پاته نسته، هغه کم تجار دی: چي تاته دومره ګران نرخ درکوي، نو حضرت عثمان رضي الله عنه ورته وايي: هغه زما رب دی: چي هغه ماته دا وايي:

......... ﴿مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا﴾.(۱)

چي کم چا يو دراهم زما لپاره صدقه کړی، زه د هغه عوض يو په لس باندي ور کوم.

نو تاسو پر ما باندي ګواه اوسئ: چي زما د قافلې رأس المال او ګټه ټوله د مديني منورې د غريبانو لپاره صدقه ده.

نو په هغه ورځ باندي د هغه(۱۰۰) اوښانو د قافلې مال ټول پر غريبانو سره تقسيم سو، چي د حضرت عثمان رضي الله عنه د طرفه ډېره لويه صدقه وه.

چيکله شپه راغله، نو حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه په خوب کي پيغمبر ﷺويني، چي پر يو براق سپور دی، او په ډېره تلوار سره روان دی، حضرت عبدالله ابن عباس ئې د براق جلو(مهار) ونيوی، ورته وايي: اې د الله تعالى رسوله! لږ صبر وکړه: چي ستا په ديدار سره مي يو څل ستر ګي خنکي سي، ولي دي دومره تلوار ده.

ده په ځواب کي ورته وويل: چي نن عثمان په مدينه منوره کي صدقه کړېده، چي د الله تعالى په حضور کي قبوله ګرځېدلې ده، او د هغه په عوض کي د عثمان نکاح په جنتونو کي د حورو سره وسوه، نو اوس د هغه وليمه تياره ده، ټول انبياء ور باندي حاضر دي، صرف زما انتظار دی، زه هلته ځان رسوم.

## د صدقې برکات:

نو حضرت عثمان رضي الله عنه ته الله تعالى د ډېرو لويو صدقو توفيق ور کړی وو، نو همېشه به ده ته پيغمبر ﷺ د جنت بشارتونه ور کول.

هسي خو صدقه د هر انسان په زندګي کي ډېر لوی عمل دی، پيغمبر ﷺ فرمايي:

---

(۱) سورة الانعام: آيت نمبر ۱۶۰

......إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ، وَتَدْفَعُ مِيتَةَ السُّوءِ﴾.(۱)
صدقه د الله تعالی غضب سړوي، او هم انسان د بېکاره مرګ څخه محفوظه ساتي، پېغمبر ﷺ به ډېر زيات صحابه وو ته ويل:
......اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ﴾.(۲)
تاسو د جهنم څخه ځان وګورئ، که څه هم په نيمه خورما سره وي.
نن خو زموږ په دماغو کي دا خبره سته: چي زه خو مالداره نه يم، نو زما لپاره به صدقه کول هم څه ضروري عمل نوي، حالانکه صدقه د مالدارۍ سره تعلق نلري، بلکه هر سړی د خپل وسع مطابق صدقه چي وکړي، الله تعالی هغه ته قبوليت ور کوي، ځکه الله تعالی د چا د لږ او ډېر محتاجه ندی، صرف د خپل بنده اخلاص او ښه نيت ته ګوري.
نن چي زموږ په معاشره کي لږ پرېشاني راسي، که هغه د بيمارۍ وي، او که د بله طرفه وي، نو انسانان د هغه لپاره ظاهري وسائل ټول لټوي، او د صدقې طرف ته ئې توجه نوي، حالانکه د پېغمبر ﷺ حديث مبارک دی: چي صدقه د انسان څخه د تکاليفو او حوادثو اويا (۷۰) دروازې بندوي.
او د پېغمبر ﷺ حديث مبارک دی: چي صدقه د قيامت په ميدان کي د انسان د سر سائيبان وي، او دی په هغه کي د ګرمۍ څخه محفوظه وي، او هغه سائيبان د صدقې په مقدار د هغه کمال او نقصان وي.

## د حضرت حسن او حسين رضي الله عنهما سخاوت:

سخاوت صرف د حضرت عثمان ﷺ مزاج نه، بلکه د ټولو صحابه وو مزاج وو، او په صحابه وو کي چي څومره پېغمبر ﷺ ته قريب وو، د هغه سخاوت به د نورو صحابه وو څخه زيات وو.

(۱) البر والصلة لابن الجوزي: حديث نمبر ۳۶۶
(۲) البر الصلة لابن الجوزي: حديث نمبر ۳۲۴

حضرت امام غزالي رحمة الله عليه په احياء العلوم کي د حضرت حسن او حسين د سخاوت يو عجيبه واقعه رانقل کړېده، چي حضرت شيخ الحديث مولانا محمد زکريا رحمة الله عليه په دې الفاظو بيان کړېده:

چي ابوالحسن مدائنی رحمة الله عليه وايي: چي يوځل حضرت امام حسن او امام حسين رضي الله عنهما او حضرت عبد الله بن جعفر رضي الله عنه د حج په سفر روان وو، په لاره کي د دوی د سامان اوښ د دوی څخه ورک سو، نو دوی په لوږه او تنده خپل سفر کاوی، چي يو ځل د کوچيانو خيمې ته ورغلل، که ګوري: په هغه کي بوډۍ زنانه ناسته ده.

نو دوی پوښتنه ځني وکړه: چي ايا ستاسو په کور کي زموږ د چيښلو لپاره يو څه شی سته؟ هغه ورته وويل: چي هو سته، نو دوی د خپل اوښانو څخه را شوه سول، او د هغه بوډۍ په کوډل کي کښېنستل.

د هغه بوډۍ سره يو ډنګره بُزه وه، د هغه شودې ئې ور ولوښلې، او دوی ته ئې يو څه څه ور کړلې، دوی بيا پوښتنه وکړه: ايا زموږ د خورک لپاره به يو شی پيدا سي؟

نو هغه بوډۍ ورته وويل: داغه بُزه ده، زه ئې اوس ستاسو لپاره ذبحه کوم، او تاسو ته ئې درپخوم، نو هغه بوډۍ هغه بُزه ذبحه کړه، او بيا ئې پخه کړه، او دوی وخوړله.

د خورک کولو څخه وروسته چيکله روانېدل، نو هغه بوډۍ ته وايي: چي موږ هاشمي خلګ يو، او د حج په اراده مکې مکرمې ته روان يو، که موږ ژوندي په سلامتيا مدينې ته خدای واپس ورسولو، نو تاسو موږ لره راسئ، هلته به ستاسو د دغه احسان بدله در کړو.

دوی چيکله ولاړل، نو ماښام د هغه بوډۍ خاوند راغلی، دې د هغه هاشمي خلګو قصه ورته وکړه، هغه ناراضه سو، چي تا د پرديو خلګو لپاره د خپل کور بُزه حلاله کړېده، معلومه نه ده: چي هغه څوک دي؟ کيدای سي: هغه دي هاشمي نوي، صرف دغه نوم دي د خپلي ګټي لپاره استعمالوي.

څه زمانه بعد هغه بوډۍ او د خاوند په کور کي زيات غربت راغلی، نو دوی د محنت او مزدرۍ په نيت مدينې منورې ته راغلل، تړوله ورځ د اوښانو پُچي ټولوي، او هغه خرڅوي، او خپله ګوزاره په کوي.

یوه ورځ هغه بوډۍ د اوښانو پُچي ټولوې، حضرت حسن ﷺ د خپل کور د دروازې سره ناست دی، چیکله دا تېره سوله، نو هغه وپېژنده، او خپل غلام ئې ور واستاوی، چي هغه بوډۍ ته ووایه: مالره یو ځل راسه.

چیکله هغه بوډۍ راغله، نو ده ورته وویل: ته ما پیژنې؟ دې ورته وویل: چي زه دي نه پېژنم، نو ده ورته وویل: زه ستا هغه میلمه یم: چي تا ماته د خپلي بُزې شودې راکړې، او بیا دي راته ذبحه کړه، لېکن بوډۍ بیا هم نه وپېژاندی، آخر ئې ورته وویل: چي ستا دي قسم وي: چي ته هغه انسان ئې؟

حضرت حسن ﷺ ورته وویل: چي زه هغه یم: د دې ښځه وروسته هغه خپل غلامانو ته حکم وکړی: چي د دې لپاره زر(۱۰۰۰) بُزې رانیسئ، او د دې ښځه علاوه زر(۱۰۰۰) دیناره نقد هم ورکړی، نو هغوی دستي دغه دواړه دوی ته ور برابر کړل.

بیا ئې د خپل غلام سره هغه بوډۍ خپل کشر ورور حضرت حسین ﷺ ته ور واستول، حضرت حسین ﷺ معلومات ځني وغوښتی، چي زما مشر ورور څه در کړل؟ نو هغه ورته وویل: چي زر(۱۰۰۰) بُزې، او زر(۱۰۰۰) دیناره، ده چي دا واورېدل، داغه مقدار دواړه شیان ده هم ور کړل.

او د هغه ښځه وروسته ئې حضرت عبدالله بن جعفر ته ور واستول، هغه چیکله معلومات وکړی، چي دوی په دواړو دومره څه بوډۍ ته ور کړي دي، نو هغه یوازي دوه زره(۲۰۰۰) دیناره او دوه زره(۲۰۰۰) بُزې ور کړلې، او دا ئې ورته وویل: که ته اول ځل مالره راغلې وای، نو ما به د دې ښځه زیات څه در کړي وای.

نو هغه بوډۍ څلور زره(۴۰۰۰) بُزې او څلور زره(۴۰۰۰) دیناره خاوند ته راوړل، او ورته وئې ویل: چي دا د هغه ضعیفي او کمزري بُزې د صدقه کولو برکت دی، چي د هغه په عوض کي الله تعالی موږ ته د هغه سخیانو انسانانو په ذریعه سره دومره مال رانصیب کړی.

نو زموږ په دین کي سخاوت د مسلمان لپاره بهترین صفت دی، او د الله تعالی په حضور کي د عزت پیدا کولو لویه ذریعه ده.

## د عثمان رضي الله عنه د شهادت دواقعې دوهمه حصه:

په تېر وعظ کي مي دا خبره تر دې ځايه پوري را رسولې وه: چي کله د مصر او کوفې څخه راغلي خلګ د حضرت عثمان رضي الله عنه پر کور باندي د محاصرې په نيت راوګرځېدل، او دی ئې په خپل کور کي محاصره کړی.

نو صحابه ورته راغلل، چي اې امير المؤمنينه! ته موږ ته د دغه خلګو سره د مقابلې کولو اجازت راکړه، موږ به دوی د دغه ځای څخه وشړو، او هم به د دوی سره مقابله وکړو.

حضرت عثمان رضي الله عنه ورته وفرمايل: ستاسو دي د الله تعالی په ذات سره قسم وي: چي هرګز به زما په خاطر د يو مسلمان يو څاڅکی وينه هم نه تويوئ، او نه به چاته ضرر ور رسوئ.

کچيري تاسو زما په خاطر خپله وينه توی کړئ، يا د بل مسلمان د ويني تويولو ته تيار سئ، نو سبا به زه د قيامت په ميدان کي د الله تعالی و حضور ته کم جواب پيشوم، ځکه چي د دغه وينو تويولو ذمه به زما پر غاړه باندي وي.

نن خو زموږ په معاشره کي يو وبا جوړه ده، چي هر سړی د خپل عزت او منصب او دولت پيدا کولو لپاره د مسلمانانو وينه تويوي، يا مسلمانان د خپل ځان په حمايت د بل مسلمان و ويني تويولو ته تياروي، خو د قيامت په ميدان کي به د دغه وينو ذمه د دغه سړي پر غاړه باندي وي، او دی به ئې جواب وايي.

چيکله حضرت عثمان رضي الله عنه هغه خلګو ته د مقابلې کولو اجازت ور نه کړی، نو بيا هغوی ده ته وويل: چي ته مکې معظمې ته ولاړ سه، هلته به ته په امن کي سې، ده په جواب کي ورته وويل: چي ما د پيغمبر صلی الله علیه وسلم څخه اوريدلي دي: چي هغه به څنګه سړی وي؟ چي د الله تعالی په حرم کي خپله وينه تويوي، ماته د الله تعالی څخه حيا راځي، چي زه په خپلو وينو د الله تعالی پاک حرم الوده کړم.

نو وروسته هغه خلګو ده ته وويل: چي بيا خو نو شام ته ولاړ سه، هلته حضرت معاويه دی، او د هغه سره لښکر دی. هلته به ستا زندګي په امن کي تېره سي، ده په جواب کي هغه خلګو ته وويل: چي زه د زندګی په آخري عمر کي د پيغمبر صلی الله علیه وسلم مزار څنګه پرېږدم؟

ځکه ما د پېغمبر ﷺ څخه اورېدلي دي: چې ده مبارک به فرمايل: چې يو چا ته ممکنه وي، نو هغه دي: خپل مرګ په مدينه کې راولي. او ده به دا هم فرمايل:

......... مَنْ دُفِنَ فِي مَدِيْنَتِيْ فَهُوَ مِنْ جارِيْ﴾. (۱)

چې کم څوک زما په مدينه کې دفن سو، نو هغه زما همسايه دی.

نو د مدينې منورې تدفين چونکه لويه خوش قسمتي ده نو حضرت عثمان رضي الله عنه د مدينې منورې و پرېښوولو ته په هيڅ قيمت تيار نه وو.

## په مدينه منوره کې د مرګ تمنا:

چونکه د مدينې منورې د تدفين ډېر فضائل راغلي دي. نو ځکه به زموږ سلفو همېشه دا غوښتنه کوله: چې الله تعالى د خپل محبوب په کلي کي مرګ او دفن رانصيب کړي.

حضرت عمر رضي الله عنه به همېشه دا دعا غوښته:

......... اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ شَهَادَةً فِي سَبِيلِكَ، وَوَفَاةً بِبَلَدِ رَسُولِكَ﴾. (۲)

يا الله! ماته مرګ د شهادت ستا په لاره کي رانصيب کړې، او هم زما قبر د خپل محبوب ﷺ په ښار کي جوړ کړې.

حضرت امام مالک رحمة الله عليه ټوله زندګي صرف يو ځل حج وکړی، حالانکه زندګي ئې ټوله په "مدينه منوره" کي تېره سوه، د هغه وجه دا وه: چې دی به همېشه د دې څخه وېرېدی: چې هسې نه: د مدينې څخه دباندي مالره مرګ راسي.

د دغه تمنا باوجود به ئې د مدينې منورې د مځکي زيات ادب کاوی، چې پر هغه باندي ئې بولي هرګز نه کولې، د ده عادت به دا وو: چې د بولو په وخت کي د مدينې منورې آخري حدودو ته به تلی، او د تقاضا حاجت لپاره به په داسي شکل کښېناستی: چې دی به پخپله د مدينې منورې په حدودو کي وو، او بولي به ئې د مدينې منورې د حدودو څخه دباندي لوېدلې.

يو ځل ئې فرمايل: ماته دزې شيان ډېر خوښ دي:

---

(۱) موت کی تیاري: صفحه نمبر۱۳۹

(۲) صحيح البخاري: حديث نمبر۱۸۹۰

۱. ..........اَلْمُجَاوِرَةُ بِرَوْضَةِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ﴾. د پیغمبر ﷺ د روضې مجاورت.
۲. ..........وَ الْمَدَارِسَةُ بِحَدِيْثِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ﴾. د رسول الله د احادیثو درس.
۳. ..........وَ الدَّفْنُ فِيْ بَلْدَةِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ﴾. د پیغمبر ﷺ په ښار کي تدفین.(۱)

چیکله حضرت عثمان رضی الله عنه دې ته هم تیار نه وو، نو بیا هغه صحابه کرامو ورته وویل: نو بیا خلافت و دوی ته ور پرېږده، ده په جواب کي ورته وویل: چي ما د پیغمبر ﷺ څخه عین د وفات په حالت کي دا اورېدلي دي: چي اې عثمانه!
..........إِنَّهُ لَعَلَّ اللّٰهَ يُقَمِّصُكَ قَمِيصًا، فَإِنْ أَرَادُوكَ عَلَى خَلْعِهِ فَلاَ تَخْلَعْهُ لَهُمْ﴾.(۲)
الله تعالی به تاته یو قمیص در واغوندي، کچیري خلکو ستا څخه د هغه قمیص کښل غوښتل، نو ته ئې مه ور کاږه، کچیري زه په دې وخت کي د خپل ځان د ویري خلافت دوی ته ور پرېږدم، نو سبا چیکله پر حوض کوثر باندي پیغمبر ﷺ زما څخه پوښتنه وکړي: چي ما خو ته منعه کړی وې، چي خلافت چاته مه ور کوه، او صبر کوه، او تا صبر نه وکړی، او زما د حکم دي مخالفت وکړی، بیا به هلته زه څه جواب پیشوم.
خو ذا یوه خبره کوم: چي مسجد لره به ورسم، او د خلکو و مخته به عذر پیش کړم: چي کم خط د محمد ابن ابي بکر خلاف لیکل سوی دی، هغه نه مالیکلی دی، او نه زه په هغه باندي خبریم.
دی چي کله د دغه خبري کولو لپاره مسجد ته راغلی، او پر منبر باندي ئې خطبه وویله، هغه ظالمانو د شا د صفو څخه پر ده باندي د ډبرو وارونه وکړل، تر دې حده چي دی بې هوښه د منبر څخه لاندي راولوېدی، خلکو په داغه حالت کي دی خپل کورته راوړی، لږ ګړی بعد چي په هوښ کي راغلی، نو صحابه کرامو بیا عرض وکړی: چي ته موږ ته د دغه خلکو سره د قتال کولو اجازت راکړه.
حضرت عثمان رضی الله عنه ورته وفرمایل: چي زه تاسو ته د هغه ذات قسم در کوم: چي کم ذات آسمان او ځمکي جوړي کړي دي، چي تاسو به زما و مخته خپلي توري ټولي ماتوئ، نو هغوی هم د ده په وینا خپلي توري ټولې ماتي کړې، نو ده بیا هغه خلکو ته

---
(۱)موت کی تیاری: صفحه نمبر۱۳۹
(۲)سنن ترمذي: حدیث نمبر۳۷۰۵

وویل: اې د مصر خلګو تاسو ما ولي قتل کوئ، زما عمر خو ډېر کم پاته دی، زه په خپله باندي مرم.
او بیا ئې ورته وویل: زما د الله تعالی په ذات قسم وي: چي کله هم خلګو یو نبي ناحقه قتل کړی دی، نو په زرونو انسانان د هغه نبي په بدله کي قتل سوي دي، او زه د سید المرسلین ﷺ خلیفه یم، زما په بدله کي به هم (۸۰) زره انسانان قتل کیږي.
کچیري زما بدله مسلمانان نه واخلي، نو د آسمان څخه به الله تعالی ډبري را وروي، او زما د قاتلانو څخه به زما بدله اخلي، نو تاسو هیڅ کله دا عمل مه کوئ، زما د الله تعالی په ذات قسم وي: چي اوس خو تاسو زما د مرګ تمنا کوئ، او زما د قتل څخه وروسته به بیا دا تمنا وکړئ: چي کاش! د عثمان یوه یوه ساه د یو یو کال سره برابره وای، خو دی چي نه وای قتل سوی.
په دې وخت کي یو بلوا کونکي د عثمان ﷺ په لاس کي هغه لکړه چي د پیغمبر ﷺ تبرک وو، واخیستله، او پر خپل زنګانه باندي ئې په زور سره ماته کړه، نو فوراً د هغه په زنګانه کي یو دانه راوخته، چي تر ماښامه پوري د هغه ټول بدن سره وشوږېدی، او مړ سو.
اوس هغه خلک چي د حضرت عثمان ﷺ پر کور راګرځېدلي وو، او کور ئې محاصره کړی وو، او دا ئې ویل: چي اوس موږ دی بغیر د قتل کولو نه پرېږدو، د ټولو خلګو پر مخ ئې د ده د کور دروازه بنده کړه، او دی ئې د لمانځه لپاره هم د کور څخه راوتلو ته نه پرېښووی.
او نه ئې د خورک شی د ده کور ته ورپرېښووی، او اوبه ئې هم ورباندي بندي کړې، چي څه په کور کي وې، هغه ټولي ختم سوې، او ټوله کور د تندي څخه مرګ ته قریب وګرځېدی، او اوه(۷) ورځي په داغه حالت کي ور باندي تیري سوې، او چاته یو څاڅکی اوبه نه ورسېدې.
نو حضرت عثمان ﷺ د خپل کور د کړکۍ څخه سر راویاستی، او آواز ئې وکړی: چي دلته علي ﷺ موجود دی، هیڅ چا جواب ور نه کړی، بیا ئې د سعد ﷺ نوم واخیستی، خو چا جواب بیا ورنه کړی، نو وروسته ئې وویل: اې د محمد ﷺ امته! د فارس او روم بادشاهان هم که څوک په قید کي واچوي، نو هغه ته ضرور اوبه او

خورک ورکوي. او زه ستاسو داسي ګنهګاره قيدي يم: چي تاسو ماته يو غړپ اوبه نه راکوئ.
او بیا ئې وویل: چي د الله تعالی په خاطر که نن یو څوک عثمان ته یوه پیاله اوبه ور کړي، د هغه په بدله کي هغه اوله پیاله چي ماته زما نبي پر حوض کوثر راکوي، هغه به زه و ده ته ورکړم، لیکن هلته د حوض کوثر د چا سره پروا نوه.
حضرت علي رضي الله عنه چیکله خبر سو، نو دري (۳) مشکه ئې د اوبو ډک کړل، او خپله توره ئې پر ملا وتړله، او پر سر ئې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم عمامه وپیچله، او د عثمان رضي الله عنه کورته را روان سو.
او هغه خلګو ته ئې وویل: چي دا کار خو کافر هم نه کوي: چي کم تاسو ئې کوئ، اوبه مه پر بندوئ، ګورئ! د الله تعالی غضب درباندي نازل سي، مګر هغه خلګو په برچو سره هغه مشکونه ووهله، اوبه ټولي څني توی سوې، او د حضرت علي رضي الله عنه د سر څخه ئې هغه عمامه پورته کړه، او د عثمان رضي الله عنه و کورته ئې ور وغورځوله.
په دې دوران کي حضرت ام حبیبه ام المؤمنین پر یو خچره باندي سپره سوه، او د اوبو یو مشک ئې د ځان سره واخیستی، په دې نیت چي د غه کم بختان به زما یو څه ادب و کړي، او خلګو ته ئې وویل: چي د بنو امیه وو یو څه امانتونه د عثمان رضي الله عنه سره دي، تاسو ماته لار راکړئ: چي زه ورسم او هغه امانتونه څني راوړم.
هغوی چي دا واورېدل، نو ئې ورته وویل: چي ته دروا غجنه ئې، او مور ته درواغ وايي، او خچره ئې په نیزو ووهله، او هغه خچره په میدان سوه، او ام حبیبه چي د ټولو مسلمانانو مور وه، هسي د ایله کېدلو څخه لږ پاته سوه.
چیکله خلګو دغه واقعه ولیدله، نو ټول خلک په غصه سو، چي الله تعالی دي دا خلک غرق کړي، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د زنانو سره هم په دومره بد سلوک دوی راپیش سول، نو د مدینې خلک په غصه کي سول، اوتوري ئې راواخیستلې، او حضرت عثمان رضي الله عنه ته ئې وویل: چي اوس خو د نبي صلی الله علیه وسلم د زوجاتو بې حرمتي هم وسوه، اې عثمانه! مور د مقابلې کولو اجازت راکړه.
حضرت عثمان رضي الله عنه ورته وویل: تاسو زما لپاره خپل ځانونه مه ضائع کوئ، ما که جنګ کولای، نو وختي به مي لا په زرونو فوج د عراق او شام څخه را طلب کړی وای،

حضرت عثمان ﷛ ورته وویل: تاسو زما لپاره خپل ځانونه مه ضائع کوئ، ما که جنګ کولای. نو وختي به مي لا په زرونو فوج د عراق او شام څخه را طلب کړی وای. خو زه هيڅ کله جنګ کول نه غواړم. نو ټولو ته ئې قسمونه ور کړل. او واپس ئې سره واستول.

## د حضرت عثمان ﷛ وينا:

بيا يو څو ورځي نوري هم دغسي تيري سوې. حضرت عثمان ﷛ د تندي څخه ډېر سخت په تکليف سو ، بيا ئې خپل سر د کور پر ديوال راپورته کړی. او هغه باغيانو ته ئې وويل:

تاسو په دې عالمان ياست: چي کله پېغمبر ﷺ مدينې ته راغلی، نو د دې ځای اوبه د مسلمانانو لپاره کافي نوې، او د اوبو څاه د يهودو په قبضه کي وو، پېغمبر ﷺ وفرمايل: چي څوک به دا څاه د يهودو څخه رانيسي، او مسلمانانو ته ئې وقف کړي، الله تعالی به د هغه په بدله کي ده ته جنت ور کړي.

ما په(۲۵۰۰۰) دراهمه هغه څاه د يهودو څخه رانيوی، او بيا مي د مدينې منورې د مسلمانانو لپاره وقف کړی، نن هغه زه يم: چي د (۴۰) ورځو څخه زما بچيان د خوړو اوبو لپاره راباندي ژاړي، او دوی ته اوبه نه رسيږي، او ماښام زه په تروو اوبو روژه ماتوم.

اې خلګو ! تاسو ته دا هم معلومه ده: چي مسجد نبوي په ابتدا کي نهايت تنګ وو، ما په (۲۵) زره دراهمه مکان او ځمکه رانيوله، او په مسجد نبوي مي ګډه کړه، نن زه دا حال ته راورسېدم: چي تاسو ما د دوه رکعته لمانځه کولو څخه په مسجد کي منعه کوئ، اې خلګو ! تاسو به د قيامت په ميدان کي د الله تعالی په حضور کي څه جواب پېشوئ؟([1])

([1]) مواعظ ابراهيمي: صفحه نمبر ۸۶

يوه شپه خوبويني: چي پيغمبر ﷺ د خپل حجرې څخه راوواتی، او ابوبکر او عمر رضی الله عنهما هم ورسره وو، حضرت عثمان رضی الله عنه ته راغلل، او ورته وايي: چي اې عثمانه! ايا ته ډېر تږی ئې؟ تا (۴۰) ورځي مسلسل پر تروو اوبو روژه ماته کړه، او اوس لس(۱۰) ورځي پوره سوې، چي د هغه تر وو اوبو څکه دي هم نده کړې.
اې عثمانه! سبا به ستا روژه زموږ سره ماتيږي، او موږ به د حوض کوثر په اوبو ستا روژه در ماتوو، اې عثمانه! ته به سبا شهيد کيږې، او ستا د وينو اول څاڅکی به پر ﴿فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللّٰهُ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾ آيت باندي لويږي، او تر قيامته پوري به د وينو هغه څاڅکی پر داغه ځای باندي وي، او هيڅ کله به د دغه ځای څخه ليري نسي.
حضرت عثمان رضی الله عنه چي دا خوب وليدی، نو سهار ئې د خپل کور دروازه خلاصه کړه، او د کور انسانانو ته ئې وويل: چي دا خلگ ما ته را پرېږدئ، ځکه چي نن زما دعوت حضور اکرم ﷺ پر حوض کوثر باندي کړی دی.
چي څنگه دروازه خلاصه سوه، نو هغه باغيان کورته رادننه سول، په دې نيت باندي چي بيا څوک دروازه بنده نه کړي، هغه دروازه ته ئې اور ور کړی، چي په هغه کي د کور يو څه حصې هم اور واخيستی، د کور انسانان ډېر وبېرېدل، مگر حضرت عثمان رضی الله عنه پر لمانځه ولاړ وو، او "سورة طه" ئې شروع کړی وو، په کور کي اور بل وو، مگر د ده د قرآن کريم په تلاوت کي هيڅ فرق يا تغير رانغلی، نو چيکله د لمانځه څخه فارغه سو، قرآن کريم ئې راطلب کړی، و خپل مخته ئې چيکله خلاص کړی، نو بعينه داغه آيت د ده مخته راغلی.
په باغيانو کي يو سړی د ده د قتل په اراده باندي ده ته راوړاندي سو، نو ده ورته وويل: ته ما مه قتل کوه، ځکه چي پيغمبر ﷺ ستا لپاره دعا کړېده: چي الله تعالی دي ستا لاسونه د عثمان په وينو نه رنگوي، ايا ته به زموږ د نبي ﷺ د دعا خلاف عمل کوې، هغه سړي چي دا واورېدل، نو بدن ئې ټول خوله خوله سو، او په شرمندگي سره د کور څخه دباندي وواتی.
بيا د باغيانو څخه يو بل سړی راغلی، او غوښتل ئې چي دی قتل کړي، ده ورته وويل: گوره! ستا لپاره پيغمبر ﷺ په فلانکې ورځ د بخښني دعا کړېده: ته زما په وينو خپله عملنامه مه رنگوه، ايا د قيامت په ميدان کي به زما ويني د پيغمبر ﷺ د دعا مقابله

بيا د باغيانو څخه يو بل سړی راغلی، او غوښتل ئې چې دی قتل کړي، ده ورته وويل: ګوره! ستا لپاره پېغمبر ﷺ په فلانکې ورځ د بخښنې دعا کړېده: ته زما په وينو خپله عملنامه مه رنګوه، ايا د قيامت په ميدان کې به زما وينې د پېغمبر ﷺ د دعا مقابله وکړي، خبردار! زما وينې د دې قابلې ندي: چې د پېغمبر ﷺ د پاکې دعا په مقابله کې ودرېږي، هغه سړی هم د شرمندګی په شکل وواتی.

حضرت عبد الله بن سلام رضي الله عنه راغلی، او وئې ويل: اې ظالمانو! خبردار! د عثمان رضي الله عنه وينه مه تويوئ-ګورئ! الله تعالی به د يو عثمان په بدله کې تاسو (۸۰) زره هلاکوي، تراوس پورې خو د مدينې حفاظت ملائکې کوي، که تاسو عثمان رضي الله عنه شهيد کړئ، نو بيا به ملائکې ولاړې سي.

هغه باغيان چونکه په ډېر جوش کې ول، نو ئې وويل:

......اقْتُلُوا الْيَهُودِيَّ وَاقْتُلُوا عُثْمَانَ.(۱)

تاسو دغه يهودي قتل کړئ، او د هغه سره عثمان هم قتل کړئ، نو عبد الله بن سلام رضي الله عنه څنې يو طرف ته سو.

په دې دوران کې محمد بن ابي بکر کورته راننواتی، او د حضرت عثمان رضي الله عنه پر سينه کښېناستی، او د ده ږيره مبارکه ئې په لاس ونيوله، او په دومره زور سره وښوروله، چې د ده يوه زامه د بلې زامې سره وجنګېدله.

ده په لاس سره د خپل ږيرې د خلاصوالې کوشش د خپل حلم په خاطر نه وکړی، صرف په ژبه ئې ورته وويل: چې حضرت ابوبکر رضي الله عنه خو د دې ږيرې زيات عزت کاوی، کچيرې نن ابوبکر پر دغه ځای باندې ته ناست ليدلی وای، نو هغه به ستا دغه عمل ته په کم نظر کتلی وای؟ محمد بن ابي بکر د دغه خبرې په اورېدو سره وواتی، او هيڅ ئې هم نه وويل. بيا يو بل باغې د "سودان بن حمران" په نامه حضرت عثمان رضي الله عنه ته راغلی، او ورته وئې ويل: اې بې دينه! ته پر کم دين باندې ئې؟ حضرت عثمان رضي الله عنه په جواب کې ورته وويل: چې زه پر دين محمدي باندې يم، هغه ظالم په ډېر زور سره د ده غاړه مبارکه خفه کړله، چې د ده ساه مبارک تنګه سوه.

(۱) سنن ترمذي: حديث نمبر ۳۸۰۳

بيا يو بل ظالم ده ته راوړاندي سو، چي د ده پر مخ ئې څاپېړه ور کړه، او د توري ګوزار ئې پر ده باندي وکړى. ده د هغه توري مخ ته خپل لاس ور کړى، او هغه لاس ئې پرې سو. ده خپل لاس را پورته کړى، او وئې ويل: دا هغه لاس دى: چي د وحي ليکل به ئې کول، نن د الله تعالى په لار کي پرې سو.
دا هغه لاس دى: چي د پېغمبر ﷺ پر لاسو باندي ئې بيعت کړى دى، چي د کمي ورځي څخه دا لاس د بيعت په شکل د پېغمبر ﷺ پر لاس ايښوول سوى دى، بيا هيڅ کله ګنده او خراب شي لره ندى ور غلى، اې خلګو! دا لاس په ښه طريقه سره دفن او تر خاورو لاندى کړى.
هغه ظالم ورته وويل: چي ته خپل مددګاران راطلب کړه، ده په جواب کي ورته وويل: زما مددګار زما سره ملګرى دى، هغه ډېر وختي لا زما په حق کي داغه فيصله کړېوه.
بيا يو ظالم ورباندي د توري ګوزار وکړى، چي د هغه څخه د ده پر مخ درې (۳) زخمه جوړ سوه، او درې (۳) ځله ئې په برچه په ځيګر کي وواهى، د ده و مخته قرآن کريم پروت وو، چي ده ئې تلاوت کاوى، نو هغه هغه قرآن کريم په پښه وواهى، چي ليري و موښتى، مګر هغه قرآن کريم خود بخود د ده و مختهراغلى، او وغوړېدى.
د ده دوينو اول څاڅکى د قرآن کريم پر دغه آيت و موښتى:
......فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللّٰهُ﴾. اې عثمانه! ستا د انتقام اخيستلو لپاره ستا رب کافي دى.
ده په دې وخت کي د شهادت کلمه ويله، او پر مځکه باندي پروت وو، هغه ظالم د خپلو بوټو سره د ده پر جسد وختى، چي د هغه په وجه د ده درې پوښتۍ ماتي سوې، بيا هغه خلګو د ده د سر پرېکولو اراده وکړه، خو د ده دکور زناني او ماشومان پر ده وغوړېدل، هغه ظالمانو د هغه زنانو زيوارت او د کور ټوله اسباب لوټ کړل، او د ده پر مخ ئې لاړي ور توه کړې، او جسد ئې راکش کړى، پر يو انبار ئې وغورځاوى.
نن هغه عثمان چي هغه ته به پېغمبر ﷺ داسي ويل: اې عثمانه! چيکله ته جنت ته ورسې، نو جنت چي تا ووينې؛ دوه(۲) ځله به وخاندي، د هغه جنازه د مدينې پر يو انبار باندي درې ورځي بې قبره او بې کفنه پرته وه.
څلورمه ورځ د شپې په وخت کي يو څه صحابه راغلل، او د ده جسد ئې د هغه انبار څخه را پورته کړى، نو يو دم د آسانو د منډي شر او شور جوړ سو، هغه خلګ وبېرېدل،

چي شايد هغه باغيان را غلل. مگر يو پر آس سپور آواز و کړی، چي تاسو مه بېرېږی، موږ ملائکه يو، د عثمان د جنازې د دفن د ثواب گټولو لپاره راغلي يو.
چيکله ئې دده جنازه کښېښوولـه، د آسمان څخه يو ږغ ور باندي وسو: تاسو لږ صبر وکړئ: موږ په ملائکو پر ده د جنازې لمونځ کوو، چيکله ئې جنازه قبر ته راوړه، د شپې وخت وو، او زياته تياره وه، و قبر ته د ور شوه کولو په وخت کي د ده بچي وژړل، او وئې ويل: اې د الله د رسول خليفه! په لکونو دراهم دي د الله تعالی په لار کي صدقه کړل، کاش! د خپل کفن لپاره دي د مولی څخه هم يو څه غوښتي وای.
نو دی ئې عليحده په يو ځنگل کي خاورو ته وسپاری، هلته هغه ظالمان د دې منتظر وو: کچيري جنازه پر دې طرف راغله، نو موږ به ئې د ډبرو وارونه ور باندي کوو، مگر چي دوی خبرېدل، د حضرت عثمان ﷺ جنازه هغوی تر خاورو لاندي تدفين ته رسېدلې وه.(١)

## د حضرت حسن ﷺ خوب ليدل:

د حضرت عثمان ﷺ د شهادت په شپه حضرت حسن ﷺ خوب وليدی، چي پر آسمان باندي يو ډېر لوی دربار قائم دی، او د الله تعالی عرش و لاړ دی، او پيغمبر ﷺ و عرش ته نژدې راغلی، او د عرش پښه ئې ونيوله، او ودرېدی.
بيا حضرت ابوبکر ﷺ راغلی، او د ده سره ودرېدی، وروسته حضرت عمر ﷺ هم راغلی، د حضرت ابوبکر ﷺ سره ودرېدی.
حضرت عثمان ﷺ په داغه حالت کي په داسي شکل چي خپل سر ئې په لاس کي نيولی وو، د الله تعالی و عرش ته پيش سو، الله تعالی ورته وايي: اې عثمانه! څه وايي؟ ده دا عرض پيش کړی: يا الله! ته د خپلو بندگانو څخه پوښتنه وکړه: چي په کم جرم ئې زما سر را څخه پرې کړی؟
بيا د حضرت عثمان ﷺ د سر څخه دومره وينه روانه سوه: چي دوې نالې د آسمان څخه د مځکي و طرف ته راوبهېدلې، او د هغه څخه ټوله مځکه په وينو سره سوه.

(١) فضائل الصحابه لاحمد بن حنبل، باب فضائل عثمان بن عفان ﷺ، صفحه نمبر ۴۷۰

## د عثمان ﷺ د قاتلينو انجام:

چي څو مره انسانان د حضرت عثمان ﷺ پر قتل باندي سره راجمعه سوي وو، هغه ټول په ډېر بېدردي سره پر مختلفو مواقعو قتل سول.

محمد بن ابي بكر غوندي شخصيت هم خلاص نسو، حالانكه هغه صرف حضرت عثمان ﷺ تر ږيره نيولی وو، چي ژوندی ونيول سو، او د خره په پوست كي وګنډل سو، او بيا د غسي ژوندی په اور كي كباب سو.

معاويه بن خديج هم صحابي وو، هغه هم د حضرت عثمان ﷺ په قتل كي شريک وو، چي وروسته ئې انجام دا سو: چي هغه هم ژوندی په اور كي كباب سو.

حجاج بن يوسف كوفې ته راغلی، خلک ئې راجمعه كړل، د هغه څخه ئې يو څه نفر د جلب په شكل غوښتل، يو بوډا ورته راغلی، ورته وئې ويل: اې د مسلمانانو اميره! زه بوډا يم، زما پر ځای زما زوی در سره بوزه.

حجاج بن يوسف ته يو چا وويل: ته د غه بوډا پيژنې، ده وويل: نه، هغه ورته وويل: دا هم د عثمان ﷺ په قاتلينو كي وو، حجاج بن يوسف د كوفې په مسجد دننه كي توره ئې ورسره رالښته كړه، هغه بوډا ئې د (۹۰) كالو په عمر كي پر هغه ځای باندي قتل كړي.نو دا عام طور د الله تعالی عادت دی: چي څوک د ده د اولياؤ او دوستانو سره بد وكړي، نو د هغه انتقام الله تعالی په خپله اخلي.(۱)

او د الله تعالی انتقام بيا د الله تعالی دشان مطابق وي؛ چي ډېر ځله د هغه په وجه د انسان دنيا او آخرت دواړه د هلاكت او تباهۍ سره مخامخ سي، نو الله تعالی دي موږ او تاسو د ده د اولياؤ د دښمنۍ او مخالفت كولو څخه محفوظه وګرځوي، او الله تعالی دي دا څو خبري په خپل دربار كي قبولي او مقبولي وګرځوي.

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

(۱) شاهكار تقارير: صفحه نمبر ۲۳۰

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الایہ)

# د حضرت علي رضي الله عنه شهادت

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

تقریر: الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت: اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ بمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم : ﴿لَيْسَ عَلَى أَهْلِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْشَةٌ عِنْدَ الْمَوْتِ وَلَا عِنْدَ الْقَبْرِ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْمِ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو ! د الله تعالى نيک بندګان د خپلو انواراتو او برکاتو سره په ډېره تيزي سره د دنيا څخه رخصتيږي، او دا ځای د ظلماتو او تارکيو څخه ورځ په ورځ ډکيږي، شيطانان دا خلا ډکوي، او داسي معلوميږي: چي دا دنيا خپل انجام ته رسېدل غواړي.

تاسو ګورئ! چي کم بزرګان نن د دنيا څخه روان دي، په وروسته انسانانو کي د دوی نظير او مثال پيدا کول انسان ته ډېر مشکل سي.

نن هغه وخت دی: چي د کومو اولياؤو په زړو کي د احد د غره برابر ايمان دی، هغه هم ويريږي، او بلګيږي، چي هسي نه: زموږ مرګ په حالت د ارتداد کي رانسي.

(۱)سورة آل عمران: آيت نمبر ۱۸۵

(۲)الترغيب والترهيب: حديث نمبر ۹۲۹

او یو موږ غوندي غافله انسانان یو ، چي د کم چا په زړو کي ایمان د ذرې برابر دی، او د هغه د حفاظت څخه هم غافله یو، الله تعالی دي موږ ته د غه فکر راکړي: چي موږ د خپل ایمان حفاظت وکړو.

علامه قرطبي رحمة الله علیه لیکلي دي: چي مرګ انسان ته راتلل خو ډېر لوی مصیبت دی، مګر د دې څخه بیا ډېر لوی مصیبت دا دی: چي مرګ انسان ته د غفلت په حالت کي راسي، او انسان د هغه لپاره هیڅ عمل کړی نه وي.

## د نیکبخته انسانانو شپه او ورځ:

محترمو ! د دنیا ژوند د آخرت په مقابله کي ډېر مختصر دی، حضرت نوح علیه السلام چي هغه خپل قوم ته نه نیم سوه(۹۵۰) کاله تبلیغ وکړی، خو د هغه ټول عمر د دې څخه هم زیات وو، د ده په باره کي راځي: چي کله دی د دنیا څخه رخصتېدی، نو الله تعالی پوښتنه ځني وکړه: اې زما نبي! تا خپله زندګي څنګه وبلله؟

ده په جواب کي ورته وویل: یا الله! زندګي داسي را معلومه سوه: لکه یو کوډل ده، د هغې دوې دروازې دي، په یوه دروازه راننوتلم، او د هغه بلي دروازې څخه بیرته ووتلم، نو دهغه په نسبت زموږ زندګي خو پنځوس(۵۰) کاله یا سل(۱۰۰) کاله د یوې لمحې یا د دوو لمحو خبره معلومیږي.

خوش نصیبه انسانان هغه خلک دي: چي د زندګي په هره هره لمحه کي الله تعالی یاد وساتي، او د ده قوتونه او اندامونه د الله تعالی د حکمونو مطابق خپله زندګي تېره کړي، کڅه هم پر دوی تنګي راسي، او په تنګي کي د ناشکرۍ الفاظ پر ژبه نه راوړي.

او که الله تعالی دوی ته دخوشحالۍ او پراخۍ حالات ور نصیب کړي، نو پر هغه باندي دوی غرور او تکبر نه کوي، هغه ته خپل حالات او اوقات ور معلومیږي، هیڅکله د خپلي ژبي څخه لویه خبره نه راباسي.

هر ګړی دهغه خلګو دا کوشش وي: چي دمالک حقیقي رضا څنګه پیدا کړي؟ هغه هغه لوړ خلک وي: چي خپله رضا د الله تعالی په رضا کي ضم کړي، د هغوی خپله خوښه خوښه نوي، دهغه خپل انتخاب انتخاب نوي، دا هغه خلک دي: چي د دوی مکروهات طبعیه دمکروهاتو شرعیه وو سره بالکل برابر سي.

## د نيک انسان د الله تعالى په حضور کي قدر داني:

په حديث شريف کي راځي: چي کله نيک انسان لره مرګ راسي، نو د آسمان هغه دروازې ژاړي، چي دکومو دروازو څخه د ده رزق را شوه کيږي، او د مځکي هغه ټکړې ژاړي، چي پر کومو ټکړو به دی کښېناستی، او د الله تعالى عبادت به ئې کوی.

حضرت عبد الله بن عباس ﷺ فرمايي: چي پر مسلمان باندي مځکه څلويښت سهاره ژاړي، يعني: کله چي مسلمان مړ سي، نو مځکه پدې وجه ژړا ور باندي کوي: ځکه چي هغه مسلمان پر مځکه باندي عبادت کوی، او د ده په مرګ سره هغه عبادت ختم سو، لکه د ده مبارک الفاظ دي:

......﴿تَبْكِي الْأَرْضُ عَلَى الْمُؤْمِنِ أَرْبَعِينَ صَبَاحًا﴾.(١)

مځکه پر مؤمن باندي څلويښت سهاره ژړا کوي.

د حضرت انس ﷺ څخه د پيغمبر ﷺ يو روايت را نقل دی:

......﴿مَا مِنْ عَبْدٍ إِلَّا وَلَهُ فِي السَّمَاءِ بَابَانِ: بَابٌ يَدْخُلُ عَمَلُهُ، وَبَابٌ يَخْرُجُ فِيهِ عَمَلُهُ وَكَلَامُهُ، فَإِذَا مَاتَ فَقَدَاهُ وَبَكَيَا عَلَيْهِ﴾.(٢)

هر بنده ته الله تعالى په آسمان کي دوې دروازې ور کړي دي، د يوې دروازې څخه د ده اعمال او اقوال آسمان ته پورته کيږي، او د بلي دروازې څخه د ده رزق را شوه کيږي، چيکله بنده وفات سي، نو د ده پر مرګ باندي هغه دواړي دروازې ژړا کوي.

او داغه رنګه د حضرت علي ﷺ روايت هم راځي:

......﴿إِذَا مَاتَ الْعَبْدُ الصَّالِحُ، بَكَى عَلَيْهِ مُصَلَّاهُ مِنَ الْأَرْضِ، وَمَصْعَدُ عَمَلِهِ مِنَ السَّمَاءِ﴾.(٣)

چيکله نيک بنده وفات سي، نو پر ده باندي د مځکي پر مخ د ده د عبادت ځای ژړا کوي، او د آسمان پر کومه لار چي د ده اعمال پورته کيږي، هغه هم ور باندي ژاړي.

حضرت شريح ابن حضرمي هم يو روايت را نقل کړی دی:

......﴿ما مات مُؤْمِنٌ فِي غُرْبَةٍ غَابَتْ عَنْهُ فيها بوَاكِيهِ إلا بَكَتْ عَلَيْهِ السَّماءُ والأرْضُ﴾.(٤)

---

(١) الزهد و الرقائق لابن المبارک: حديث نمبر ۳۳۸

(٢) مسند ابي يعلى الموصلي: حديث نمبر ۴۱۳۳

(٣) الزهد والرقائق لابن المبارک: حديث نمبر ۳۳۶

(٤) الاستعداد للموت: باب بکا. السموات: صفحه نمبر ۲۶۲

چیکله یو مؤمن لره په ناولده مځکه کي مرګ راسي، او هلته پر ده باندي ژړا کونکي نوي، نو بیا پر ده باندي آسمان او مځکه دواړه ژړا کوي.
او الله تعالی د ده د مرګ په وجه فرشتو ته دا حکم کوي: چي دا زما نیک بنده وو، او د ده جنازه پورته کیږي، چي پر کمه لار دغه جنازه تیریږي، تاسو د لاري و دواړو طرفو ته د ده د استقبال لپاره ودریږئ، زما د یو عاشق جنازه ده، چي په ښه اکرام او اعزاز سره خپل منزل ته ورسیږي، نو بیا د مغتسل ځخه بیا تر قبر پوري د لاري و دواړو طرفو ته فرشتې د ده د جنازې استقبال کوي.

## د پیغمبر ﷺ د حجرې مبارکې واقعه:

د حضرت عمر رضی الله عنه په دور کي یو ځل په مدینه منوره کي زیاته قحطي راغله، چي دانسانانو او د حیوانانو د خورک لپاره هیڅ پاته نه سول، د آسمان ځخه بارانونه و دریدل، او پر مځکه باندي شنه واښه ختم سول، د مدینې منورې ټول استوګن انسانان او که حیوانان وو د هغوی ټولو ژوند په تکلیف کي واقع سو.
حضرت عمر رضی الله عنه حضرت عائشې مبارکې ته راغلی، او ورته وایي: اې د مسلمانانو موري! په مدینه منوره کي قحطي ده، او دمدینې منورې ټول خلګ په تکلیف کي اخته دي، او د هغوی د مشکلاتو د حل لپاره هیڅ ترتیب زما په دماغ کي نه راځي، ته زما یو ځه رهنمائي وکړه.
حضرت عائشه مبارکه ورته وایي: اې د مسلمانانو امیره! ته زما د حجرې سر ته پورته سه، چي په کمه حجره کي د پیغمبر ﷺ قبر مبارک دی. هغه ته یو سوری ور کړه، چي هغه قبر آسمان ته ور ښکاره سي، چي بیا آسمان د هغه قبر په لیدلو باندي ځومره ژړا کوي، او ځومره اوښکي را تویوي، چي د هغه په ذریعه به د مدینې پر خلګو باندي آبادي جوړه سي.
حضرت عمر رضی الله عنه چیکله د حجرې مبارکې چت ته سوری ور کړی، او د پیغمبر ﷺ قبر آسمان ته ور ښکاره سو، نو آسمان د هغه په لیدلو باندي دومره ژړا وکړه: چي د هغه ژړا او اوښکي د یو لوی باران په شکل پر "مدینه منوره" باندي را توی سوې، چي د هغه په وجه په "مدینه منوره" کي ډېره زیاته ابادي راغله، او چي د کاختی په وجه کم

مشکلات جوړ سوي وو، هغه ټول مشکلات ختم سول، نو د مؤمن پر مرګ باندي ډېر ځله آسمان او مځکه ژړا کوي.

## دحضرت علي رضی الله عنه تعارف:

زموږ په خلفاء اربعه وو کي حضرت علي رضی الله عنه ډېر عجیب انسان تېر سوی دی، چي پېغمبر ﷺ ته ډېر قریب او نژدې انسان وو، پېغمبر ﷺ به ده ته ویل:

............أَنْتَ أَخِي فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ﴾.(١)

اې علي! ته په دنیا او آخرت کي زما ورور ئې، نو حضرت علي رضی الله عنه د پېغمبر ﷺ په قریبانو کي ده ته ډېر نژدې انسان وو.

د ده ولادت د هجرت څخه درویشت(٢٣) کاله مخکي او وفات ئې په څلوېښت(٤٠) هجري کي را غلی وو، او ده ته الله تعالی درو شپېته(٦٣) کاله عمر ور کړی وو، د پېغمبر ﷺ څلورم خلیفه راشد او د عشره وو مبشره وو د ډلي څخه د پېغمبر ﷺ د اکا زوی او د پېغمبر ﷺ پر لاس پالل سوی، او د ده زوم وو.

پر پېغمبر ﷺ باندي په ماشومانو کي د ټولو څخه مخکي ده ایمان راوړی وو، او د حضرت عثمان رضی الله عنه د شهادت څخه وروسته په پنځه دیرشم(٣٥) هجري سنه کي خلیفه ټاکل سوی وو، او په څلوېښت هجري کي و شهادت ته رسیدلی وو، د ده قاتل: عبدالرحمن بن ملجم ملعون وو، او د ده د خلافت زمانه پنځه(٥) کاله راغلې ده.

## د حضرت علي رضی الله عنه علم:

حضرت علي رضی الله عنه ته الله تعالی په ډېره کامله طریقه سره علم ور کړی وو، پېغمبر ﷺ به د حضرت علی رضی الله عنه متعلق فرمایل:

............أَنَا دَارُ الحِكْمَةِ وَعَلِيٌّ بَابُهَا﴾.(٢)

زه د حکمت کور یم، او علي رضی الله عنه د حکمت دروازه ده، د حکمت څخه مراد: هغه حکمت دی: چي د هغه تذکره الله تعالی په قرآن کریم کي پدې الفاظو کړېده:

(١) سنن ترمذي: حدیث نمبر ٣٧٢٠
(٢) سنن ترمذی: حدیث نمبر ٣٧٢٣

.........﴿يُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ﴾.([1])

او د حديث مطلب دا دی: چي پېغمبر ﷺ د علم او حکمت يو خزانه ده، او تر هغه خزانې پوري د رسېدلو دروازه حضرت علي ﷺ دی، ځکه چي ده ته د پېغمبر ﷺ د حکمتونو څخه يو لويه حصه ور نصيب سوې وه.

## مشکل سوالات او دهغه جوابات:

دتورات يو عالم چي د هغه نوم: مضر راغلی دی، يو ځل دحضرت علي ﷺ څخه وغوښتل: چي زما د څو سوالو جواب راکړه، حضرت علي ﷺ ورته وويل: چي کم سوالونه دي په دماغ کي سته، د هغه پوښتنه را څخه وکړه.

هغه ورته وويل:

۱. هغه کم نارينه دی، چي نه پلار لري، او نه مور؟
۲. او هغه کمه زنانه ده، چي نه پلار لري، او نه مور؟
۳. او هغه کم نارينه دی، چي مور لري، خو پلار نه لري؟
۴. او هغه کمه ډبره ده: چي حيوان ئې پيدا کړی دی؟
۵. او هغه کمه زنانه ده: چي په يوه ورځ کي صرف په درو لمحو کي ئې بچی پيدا کړی دی؟
٦. او هغه کم دوه دوستان دي: چي هيڅکله به دښمنان نه سي؟
۷. او هغه بيا کم دښمنان دي: چي هيڅکله به دوستان نه سي؟

حضرت علي ﷺ هغه ته جوابونه ور کوي، او ورته وايي: ته زما خبره ته غوږ ونيسه، او خپل جوابونه ځني واخله:

۱. هغه نارينه: چي مور او پلار نه لري: آدم عليه السلام دی.
۲. هغه زنانه: چي مور او پلار نه لري: حوا عليها السلام ده.
۳. هغه نارينه: چي مور لري، او پلار نه لري: عيسی عليه السلام دی.
۴. هغه ډبره: چي حيوان ئې پيدا کړی دی: هغه هغه ډبره ده: چي د صالح عليه السلام اوښه ئې پيدا کړه.

---

([1]) سورة البقره: آيت نمبر ۱۲۹

۵. او هغه زنانه: چي په دري لمحو كي ئې بچی پیدا کړی: مریم علیها السلام ده، چي په یوه لمحه کي ئې: حمل وو، او په دوهمه کي ئې: دبچي د پیدا کېدلو درد وو، او په دريمه لمحه کي: حضرت عیسی علیه السلام پیدا سو.

٦. او هغه دوه(۲) دوستان: چي هیڅکله به دښمنان نسي: هغه جسم او روح دي.

۷. او هغه دوه(۲) دښمنان: چي پخپل مابین کي به هیڅکله دوستان نسي: هغه مرګ او ژوند دي.

هغه "مضر" چي د تورات عالم وو، چي کله ئې د ده جوابونه واورېدل، نو ئې وويل: اې علی! ته یقیناً هم دعلم او حکمت دروازه ئې، ځکه چي زما کم جوابونه وه، هغه په ډېر صحیح طریقه تا ماته راکړل.(۱)

## د حضرت علي رضی الله عنه فراست:

د حضرت علي رضی الله عنه په زمانه کي د دوو زنانو په یوه شپه په یوه حجره کي په تیاره کي بچیان پیدا سول، چي یو نارینه وو، او بل زنانه، د دواړو زنانو پر دې خبره جګړه راغله، هره یوه دا وايي: چي نارینه بچی ما پیدا کړی دی.

د دواړو مقدمه حضرت علي رضی الله عنه ته راغله، حضرت علي رضی الله عنه چي فیصله ور کوله، نو ورته وايي: تاسو ددواړو د تیو څخه لږ لږ شودې راوباسئ، او په دوولوښو کي ئې جلا جلا کښېږدئ.

چیکله هغه شودې په دوو لوښو کي جلا جلا ده ته راغلې، نو ده دواړه لوښي وتلل، چي د کمي زنانې شودې وزني وې، نو دا نارینه بچی هغه ته ور کړی، هغه بلې ته ئې زنانه بچی ور کړی.

خلګو چي دده دا فیصله ولیدله، نو دستي ئې د ده څخه پوښتنه وکړه: چي دا مسئله دي دکمه ځای څخه راویستله؟ ده په جواب کي ورته وويل: چي زموږ و مخته دا آيت شریف پروت دی:

﴿......لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ﴾.

---

(۱) جامع المعجزات: صفحه نمبر ۲۳

د دې آیت څخه صفا معلومیږي: چي الله تعالی نارینه ته په هر څه کي فضیلت ور کړی دی، حتی چي په غذا کي هم، ما دغه حقیقت و مخته کښېښوو ی، نو په دماغ کي مي دا فکر راغلی: چي دهلک د مور شودې به ضرور وزن داره وي، نو ځکه مي دا فیصله وکړه.(۱)

## د حضرت علي رضي الله عنه شهادت:

د بعضو خپل مینځي جګړو او قصو په وجه چي د هغوی بنیاد هم صرف غلط فهمي وه، حضرت علي رضي الله عنه د کوفې ښار خپل دار الخلافه جوړ کړی وو، د ده د خلافت په ورځو کي د خوارجو ډېر زور وو، او بیا خاص په کوفه او بصره کي دهغوی ډېري لوی جمعې جوړېدلې.

حضرت علي رضي الله عنه د هغوی سره څو ځله قتال وکړی، د هغوی لوی ډلي ئې قتل کړې، مګر بیا هم یو څه خوارج پاته وو، خوارجو به د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د خاندان او اهل بیت سره سخته دښمني ساتله، او دغه ناپاکه انسانانو به د پیغمبر صلی الله علیه وسلم اهل بیت مسلمانان هم نه بلل. (نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ ذٰلِکَ)

عبدالرحمن ابن ملجم یو سړی وو، دخوارجو څخه، چي د مکې مکرمې څخه کوفې ته راغلی، په دغه ورځو کي یو ډېر ښائسته زنانه چي هغه هم د خوارجو څخه وه، د هغې نوم: قطام راغلی دی، په کوفه کي اوسېدله.

یوه ورځ ابن ملجم هغه زنانه ولیدله، خو پر هغه باندي عاشق سو، دوهمه ورځ ئې دغه زناني ته د نکاح پیغام ور واستاوی، خو هغه زناني د ده د نکاح پیغام په ډېره خوشحالي سره قبول کړی، مګر مهر ئې ډېر قیمتي ور ته کښېښوو ی، چي هغه دغه درې شیان وه:

- درې زره(۳۰۰۰) اشرفی.
- یو غلام یا یوه مینځه د خدمت لپاره.
- د حضرت علي رضي الله عنه شهید کول.

(۱) نزهة المجالس: جلد نمبر ۲، صفحه نمبر ۳۵۵

یعني: چي په کم ورځ دي حضرت علي رضی الله عنه شهید کړی، نو په هغه ورځ به زما او ستا نکاح مکمله وګرځي.

ابن ملجم چي دا واورېدل، نو ئې هغه زناني ته وویل: چي زه که حضرت علي رضی الله عنه شهید کړم، نو زه پخپله به بیا څنګه ژوندی پاته سم، بیا زما او ستا د نکاح کولو څه فائده ماته رسیږي.

خو هغه بد عمله زناني ورته وویل: کچیري ته د علي رضی الله عنه په قصاص کي قتل سې، نو تر ما به ښې زناني الله تعالی تاته په جنت کي در کړي، او که په یو حیله سره تا ځان خلاص کړی، نو زه به ستاسره ضرور نکاح کوم، او زما او ستا زندګي به د عیش او عشرت روانه سي.

د هغه خلګو څومره غلط خیال وو، حضرت علي رضی الله عنه غوندي شخصیت چي هغه ابن الانبیاء او اب الاولیاء یو څوک شهید کړي، نو هغه به بیا څنګه جنت ته تلای سي، هرګز داسي نه، خو بیا هم ابن ملجم ازلي بدبخته د مهر ټوله شرطونه قبول کړل، او په زر دراهمه ئې توره رانیوله، او بیا ئې څو ځله په زهرو ولړله، او د خپلي موقع په انتظار کي وو.

## حضرت علي رضی الله عنه ته د پیغمبر ﷺ پیش ګوئي:

په تاریخ الخمیس کي د حضرت علي رضی الله عنه څخه یو روایت رانقل سوی دی: چي پیغمبر ﷺ به و ده ته ویل:

.............يَا عَلِيُّ أَتَدْرِيْ مَنْ أَشْقَى الْاَوَّلِيْن قُلْتُ الله وَرَسُوْلَهُ أَعْلَم قَالَ عَاقِرُ النَّاقَةِ قَالَ أَتَدْرِيْ مَنْ أَشْقَى الْآخِرِيْن قُلْتُ الله وَرَسُوْلَهُ أَعْلَم قَالَ قَاتِلُكَ﴾.(۱)

اې علي! ایا دا در معلومیږي: چي په مخکنیو امتو کي زیات شقي او بد نصیبه څوک وو؟ حضرت علي رضی الله عنه ورته وویل: الله تعالی او د الله تعالی رسول ښه په خبر دي، پیغمبر ﷺ ورته وویل: په مخکنیو امتو کي د ټولو څخه زیات شقي او بد نصیبه د صالح علیه السلام د اوښي قاتل وو.

(۱) تاریخ الخمیس: باب ذکر مقتل علی رضی الله عنه، صفحه نمبر ۲۷۹

بیا پیغمبر ﷺ پوښتنه ځني وکړه: چي په وروستنیو امتو کي زیات بد نصیبه څوک دی؟ حضرت علي ﷺ ورته وایي: الله تعالی په خبر دی، ماته هیڅ معلومه نده، پیغمبر ﷺ ورته وویل: په وروستنیو امتو کي تر ټولو زیات بد نصیبه انسان هغه څوک دی: چي تا قتل کړي.

بیا یوه ورځ یو سړی په کوفه کي حضرت علي ﷺ ته راغلی، او ورته وئې ویل: چي ته د ځان سره یو محافظ وساته، ځکه ابن ملجم همېشه توره په لاس کي او په تا پسي ګرځي، ده چي کله دا واورېدل، نو هغه سړي ته ئې وویل:

...........﴿إِنَّ مَعَ كُلِّ رَجُلٍ مَلَكَيْنِ يَحْفِظَانِهِ مِا لَمْ يَقْدِرِ عَلَيْهِ فَإِذَا جَاءَ الْقَدْرُ خَلِيَا بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ وِإِنَّ الْاَجَلَ جُنَّةٌ حَصِينَةٌ﴾.(١)

د هر انسان سره دوې(۲) فرښتې د ده حفاظت کونکي هر وخت موجودي وي، چي د ده حفاظت کوي، لیکن چیکله پر ده باندي د مرګ وخت راورسیږي، نو هغه فرښتې ځني لیري سي، بېشکه! د هر انسان د زندګي یو حد معلوم دی، هغه ضرور د ده لپاره یو مضبوطه قلعه ده، د وخت څخه مخکي هیڅوک هم هیڅ کس نسي وژلای.

یوه ورځ په کوفه کي ابن ملجم حضرت علي ﷺ ته راغلی، او د هغه څخه ئې د یو سوارلۍ غوښتنه وکړه، ده و هغه ته یو ډېر عمده سوارلي ور کړه، چیکله هغه ولاړی، نو ده خلګو ته وویل:

...........﴿هَذَا قَاتِلِيْ﴾.

اې خلګو! دازما قاتل دی، خلګو ورته وویل: چي بیا ته دی ولي نه قتل کوې؟ ده جواب ور کړی: چي زه ناحقه دچا وینه نسم تویولای، دغه سړي تر اوسه پوري ماته څه تکلیف ندی را کړی، چي د هغه په بدله کي زه دی قتل کړم، د حضرت علي ﷺ په مزاج کي عجیبه حق پسندي او انصاف وو. (٢)

(١) تاریخ الخمیس: باب ذکر قاتله و ما حمله علی القتل و کیفیة؛ صفحه نمبر ۲۸۰
(٢) تاریخ الخمیس: باب ذکر قاتله و ما حمله علی القتل و کیفیة؛ صفحه نمبر ۲۸۰

## د حضرت علي ﷜ خوب:

په تاريخ الخميس كي دا هم ليكلي دي: چي يوه ورځ د سهار په وخت كي حضرت علي ﷜ خلكو ته يوه وينا وكړه: او په هغه كي ئې دا هم ورته وويل:
اې خلكو! ما په نن شپه كي پيغمبر ﷺ په خوب كي ليدلی دی، او دا مي عرض ورته پيش كړی دی: چي اې دالله تعالى رسوله! ماته ستا دامت څخه سخت او زيات تكليف رسيږي.
پيغمبر ﷺ چي دا واورېدل، نو ئې راته وفرمايل: چي ته پدې وخت كي دعا وغواړه، چي كمه دعا كوې، هغه به قبوله وي، نو ده دا دعا وغوښته:
..........﴿اَللّٰهُمَّ أَبْدِلْنِيْ خَيْرًا مِنْهُمْ وَأَبْدِلْهُمْ بِيْ مَنْ هُوَ شَرٌّمِنِّي﴾.(١)
يا الله! ته ماته تر دې خلكو بهتر خلك راكړې، او دوی ته تر ما بد ترين حاكم وركړې.
سهار ئې د پيغمبر ﷺ دغه خوب بيان كړی، دوهمه ورځ حضرت علي ﷜ دخپل عادت مطابق د سهار په تياره كي لمانځه ته را روان وو، په لاره كي يعني: د ده د مسجد او كور په مابين كي ابن ملجم د خپلي زهرو لړلي توري سره ورته ناست وو، چي كم وخت حضرت علي ﷜ ابن ملجم ته نژدې راغلی، نو فوراً ابن ملجم ور ولاړ سو، او مخامخ ئې پر ده باندي د توري وار وكړی.
پر حضرت علي ﷜ چيكله توره ولګېده، نو د ده د خولې څخه يو نعره وختله، او هغه داوه: چي: (فُزْتُ وَرَبِّ الكَعْبَةِ): زما دي په رب د كعبې قسم وي: چي زه خپل مقصد او مراد ته ورسېدم.
د سخت زخم خوړولو څخه وروسته حضرت علي ﷜ پر مځكه باندي را غوزار سو، او خلكو ته ئې وويل: چي زما قاتل راونيسئ، او ماته ئې راولئ، خلكو چي دا خبره واورېده، نو هغوی ابن ملجم خارجي ونيوی، او ده ته ئې راوستی، او ده خپل مخته كښېناوی، او خلكو ته ئې وويل:
..........﴿أَطِيبُوا طَعَامَهُ، وَأَلِينُوا فِرَاشَهُ، فَإِنْ أَعِشْ فَأَنَا وَلِيُّ دَمِي: عَفْوٌ أَوْ قِصَاصٌ، وَإِنْ مُتُّ فَأَلْحِقُوهُ بِي أُخَاصِمُهُ عِنْدَ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾.(١)

---

(١) تاريخ الخميس: باب ذكر قاتله و ما حمله على القتل و كيفية: صفحه نمبر ٢٨٠

اې خلکو ! دغه زما د ميلمه لپاره نرمه بستره هواره کړئ، او ده ته صفا او پاکه او خوږه نفقه ور کړئ، ده لره يخې اوبه راوړئ، کچيرې ماته الله تعالی ژوند راکړی، زه د خپلو وينو اختيار داريم، که ئې معافوم، او که د هغه قصاص اخلم.

او که زه د دې زخم څخه وفات سوم، نو تاسو هم دی په مارا پسې کړی، چې زه د الله تعالی په دربار کې د ده سره مخاصمت وکړم، او د ده څخه خپل قصاص واخلم.

تاسو ګورئ! حضرت علي ﷺ ته عجيب فکر الله تعالی ور کړی وو، چې هغه په دغه وخت کې هم د هغه ميلمه چې هغه د ده قاتل وو، په کم قسم مدارات وکړل، او تر کمه حده پورې ئې د پيغمبر ﷺ په حکم باندې عمل وکړی، د دنيا څخه در خصت په حالت کې ئې هم د پيغمبر ﷺ هدايت ته غاړه کښېښوولـه، چې هغه د ميلمه اکرام وو.

چيکله د ده د زخمونو څخه وينه زياته ولاړه، نو حضرت علي ﷺ ډېر زيات ضعيفه سو، او هم زيات تږی سو، د کور انسانانو ده لره شربت جوړ کړل، او ورته را ئې وړل، ده ورته وويل: چې يو ځل ئې زما قاتل او زما ميلمه ته ور کړئ.

چيکله د کور انسانانو هغه شربت ابن ملجم قاتل ته ور کړل، نو هغه دا وويل: چې ماته معلومه ده، تاسو په دې شربتو کې ماته زهر اچولي دي، نو هغه د شربتو د چيښلو څخه انکار وکړی.

حضرت علي ﷺ چيکله د ده خبره واورېدله، نو ئې وژړل، او ورته وئې ويل: اې کمبخته ته ډېر زيات بد نصيبه ئې، د الله تعالی په ذات دې مې قسم وي، کچيرې نن زما په وينا تا دغه زما شربت چيښلي وای، د قيامت په ورځ به ما د حوض کوثر جام تر هغه وخته پورې چيښلی نوای، چې تر څو مې تاته در کړی نوای، مګر زه څه وکړم، تا زما سره په قيامت کې اوسېدل خوښ نه کړل.

نو هغه د پيغمبر ﷺ د فرمان تر کمه حده پورې پيروي کوله، چې ميلمه کچيرې قاتل هم وي، نو د خپل مرګ په وخت کې بايد د هغه مدارات کول، او تر قيامت پورې د هغه د شفاعت ذمه واري اخيستل.

پدې وخت کې د ده حالت ډېر زيات نازک سو، د ده بچې ام کلثوم په ژړا سوه، ده چې کله د هغې آواز واورېدی، نو ئې ورته وويل: خاموشه سه!

(۱) اسد الغابه: باب مقتله و اعلامه انه مقتول ﷺ : صفحه نمبر ۱۰۲

..........فَلَوْ تَرَيْنَ مَا أَرٰى لَمَا بَكَيْتِ فَقُلْتُ يَا أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِين! مَاذَا تَرٰى قَالَ هٰذِهِ الْمَلَائِكَةُ وُفُوْدٌ وَالنَّبِيُّوْنَ وَمُحَمَّدٌ صلى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ يَا عَلِيُّ! أَبْشِرْ فَمَا تَصِيْرُ اِلَيْهِ خَيْرٌ مِمَّا أَنْت فِيْهِ﴾.(۱)

پدې وخت کې چې زه څه وينم، که ته هغه وينې، نو هيڅکله به د ژړا نوم وانه خلې، نو هغه بچې ورته وايي: بابا جانه ! ته پدې وخت کې څه وينې؟ ده په جواب کې ورته وويل: چې د فرشتو ډېرې لويې ډلې دي، او د هغوی سره غټې غټې قافلې دانبياؤو او پېغمبرانو او رسولانو ور سره دي، او د هغوی د ټولو څخه مخکې د قافلې سالار: جناب سيد المرسلين محمد ﷺ دی، او هغه ماته وايي: چې علي! خوشحاله سه، چې اوس به ته د ډېر آرام او سکون ځای ته راوبلل سې.

د هغه څخه وروسته ده يو څه وصيتونه د کور و انسانانو ته وکړل، او بيا ئې يو څه مشک د تبرک لپاره راويستل، او وئې ژړل، د کور انسانانو پوښتنه ځني وکړه: چې دا څنګه مشک دي؟ ده په جواب کي ورته وويل: چي دا هغه مشک دي: چي د پېغمبر ﷺ د وفات څخه وروسته د ده جنازه مبارکه ما په دغه مشکو خوشبويه کړله، نو د هغه وخت څخه دغه لږ مشک د هغه مشکو څخه بطور تبرک ماد خپل ځان لپاره ايښي وو.

اې خلګو ! چې کله ماته کفن راکړی، او زما جنازه تياره سي، نو دغه مشک زما پر بدن باندي ولګوئ، بيا ئې وويل: "اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ" اې د کور انسانانو! زه ستاسو څخه رخصت اخلم، دهغه څخه وروسته ئې: د "لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ" کلمه شروع کړله، چې د هغه کلمې د وينا په دروان کې ئې ساه بنده سوه، او د دنيا څخه رخصت سو. (اِنَّالِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ).

## د الله تعالى له طرفه څلورو خليفګانو ته تحفه:

حضرت علي ﷛ د پېغمبر ﷺ د څلور خليفه ګانو څخه وو، او د پېغمبر ﷺ د خپلو خليفګانو سره عجيبه محبت وو.

(۱) تاريخ الخميس: باب ذکر موضع دفنه: صفحه نمبر۲۸۲

په رواياتو کي راځي: يوه ورځ حضرت جبرائيل علیه السلام يو طباق(لګن) د جنت څخه راوړی، چي هغه د جنت د ميوو څخه ډک وو. هغه طباق ئې د پيغمبر ﷺ مخته کښېښوو ی، او دا عرض ئې ورته پيش کړی: اې دالله تعالی رسوله! ته د دې ميوو څخه هغه چاته يو څه ميوه ورکړه: چي ستا ور سره ډېر محبت وي.

د هغه طباق پر سر باندي يو نوراني کپړه هواره وه، پيغمبر ﷺ خپل لاس مبارک و هغه ته ورواچوی، نو سيب ئې ځني راويستی، چي وئې ګوري، چي دا څنګه دی؟ که ګوري! د هغه پر يو جانب ليکلي دي:

........بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ هٰذِهِ هَدِيَّةٌ مِن اللهِ لِأَبِي بَكْرِ الصِّدِيْقِ﴾.

بسم الله الرحمن الرحيم: دا هديه ده، د الله تعالی له طرفه د حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه لپاره.

او پر هغه بل اړخ ئې دا عبارت ليکلی وو:

........مَنْ أَبْغَضَ الصِّدِيْقَ فَهُوَ زِنْدِيْقٌ﴾.

چيکم څوک د حضرت صديق رضي الله عنه سره بغض ساتي، هغه زنديق او بې دينه دی.

بيا پيغمبر ﷺ هغه کپړې ته لاس ور دننه کړی، او دوهم سيب ئې را پورته کړی، د هغه پر يو طرف باندي بيا ليکلي وه:

........بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ هٰذِهِ هَدِيَّةٌ مِنَ اللهِ الوَهَّابِ لِعُمَرَ﴾.

بسم الله الرحمن الرحيم: دا يو ... يه ده، د هبه کونکي خدای له طرفه د عمر ابن خطاب لپاره.

پر هغه بل اړخ ئې ليکلي ول:

........مَنْ أَبْغَضَ عُمَرَ فَهُوَ فِي سَقَرٍ﴾.

چيکم څوک د عمر سره بغض او عناد کوي، د هغه ځای به دالله تعالی جهنم يعني: سقر وي.

دريم ځل پيغمبر ﷺ بيا هغه طباق ته لاس ور دننه کړی، او د هغه څخه ئې يو سيب رااخيستی، چي د هغه پر يو اړخ باندي ليکلي وو:

............بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ هَدِيَّةٌ مِنَ اللهِ الْحَنَانُ الْمَنَانُ لِعُثْمَانِ بنِ عَفَانٍ﴾.

"بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيْم" : دا د يو حنان او منان ذات لطرفه تحفه ده، د حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه لپاره.
او پر هغه بل اړخ ئې ليکلي وو :
......مَنْ أَبْغَضَ عُثْمَان فَخَصْمُهُ الرَّحْمَن﴾.
چي کم څوک د حضرت عثمان رضی الله عنه سره بغض ساتي، هغه د الله دښمن دی.
او بيا ئې څلورم ځل د هغه طباق څخه يو سيب راوکښی، د هغه پر يو اړخ دا عبارت ليکلی وو :
......بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيْم هَذِهِ هَدِيَّةٌ مِنَ اللهِ الغَالِب لِعَلِي بن أَبِيْ طَالِب﴾.
"بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيْم" : دا يو تحفه ده، د غالب ذات له طرفه د علی ابن ابي طالب رضی الله عنه لپاره.
او پر دوهم جانب ئې دا عبارت ليکلی وو :
......مَنْ أَبْغَضَ عَلِيًّا لَمْ يَكُنِ للهِ وَلِيًّا﴾.
يعني: د علی سره دښمني کونکی هيڅکله دالله تعالی دوست نسي جوړېدلای، پيغمبر صلی الله علیه وسلم چي دا عبارات وويل، نو د الله تعالی ئې ډېر حمد او ثنا ادا کړله. (۱)
د پيغمبر صلی الله علیه وسلم دغه څلور خليفګان وو، چي دبعضو حکايات تاسو اورېدلي دي، او بعضي دډېرو لوړو مرتبو مالکان دي، او د پيغمبر صلی الله علیه وسلم د دغه څلورو يارانو سره دښمني کونکی د الله تعالی د نبي دښمن او د الله تعالی د ذات دښمن دی، نو کم مسلمان چي د دغه څلورو خليفګانو سره محبت ساتي، او د دوی د عداوت څخه ځان ګوري، نو الله تعالی به هغه ته کامل ايمان ور نصيب کړي.

## د پيغمبر صلی الله علیه وسلم د حق اعلان:

دا هم په رواياتو کي راځي: يوه ورځ پيغمبر صلی الله علیه وسلم منبر ته پورته سو، اول ئې د الله تعالی حمد او ثنا بيان کړه، بيا ئې د ابوبکر رضی الله عنه پوښتنه وکړه، چي ابوبکر چيري دی؟ حضرت ابوبکر رضی الله عنه ولاړ سو، او وئې ويل: اې د الله تعالی رسوله! زه حاضر يم، ده ورته وفرمايل: چي مالره نژدې راسه.

(۱) نزهة المجالس: جلد نمبر ۲، صفحه نمبر ۶۱

حضرت ابوبکر رضی الله عنه چیکله نژدې ورته راغلی، نو ده پخپله سینه پورې ونیوی، او پر تندي باندې ئې مچ کړی، او بیا ئې په لوړ آواز سره اعلان وکړی: او وئې ویل: اې د مسلمانانو ډلې! دا ابوبکر صدیق دی، د مهاجرو او انصارو بزرگ او شیخ دی، او دا زما رشتونی دوست او همدرد دی.

چیکم وخت خلګو زه دروغجن وبللم، ده زما تصدیق وکړی، او ده پخپل جان او مال سره زما مدد او تعاون وکړی، او زما په خاطر ئې بلال حبشي رانیوی، او بیا ئې آزاد کړی.

تاسو زما یوه خبره واورئ: هغه دا: چې د ده پر دښمن به د الله تعالی لعنت وي، چې کم څوک دده سره دښمني کوي، الله تعالی دداسي چا څخه بېزاره دی، او زه هم بېزاره یم، تاسو باید زما دغه اعلان تر ټولو انسانانو پورې ورسوئ.

بیا ئې د حضرت عمر رضی الله عنه متعلق پوښتنه وکړه: چې هغه چیرې دی؟ حضرت عمر رضی الله عنه ولاړ سو، او وئې ویل: اې د الله تعالی رسوله! زه حاضر یم، ده مبارک ورته وفرمایل: مالره نژدې راسه.

چیکله هغه نژدې ورته راغلی، هغه ئې هم پخپله سینه پورې ونیوی، او پر تندي ئې مچ کړی، او بیا ئې په لوړ آواز سره دا اعلان وکړی:

اې د مسلمانانو ډلې! دا عمر د خطاب زوی دی، د مهاجرو او انصارو شیخ او بزرگ دی، دا هغه انسان دی: چې دده پر زړه او ژبه الله تعالی حق څو ځله رانازل کړی دی، چې دی د رشتیا خبرې کولو څخه هیڅ څوک نسي راګرځولای، تاسو دا واورئ: چې کم څوک دده سره دښمني کوي، الله تعالی او د هغه رسول د هغه څخه بیزاره او هم به پر هغه باندې د الله تعالی لعنت وي.

دریم ځل ئې د حضرت عثمان رضی الله عنه پوښتنه وکړه: حضرت عثمان رضی الله عنه ولاړ سو، او وئې ویل: زه حاضر یم، نو ده مبارک ورته وویل: مالره نژدې راسه، حضرت عثمان رضی الله عنه چیکله پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته راغلی، نو ده معانقه (د غیږې روغبړ) ور سره وکړه، او پخپله سینه پورې ئې ونیوی، او پر تندي باندې ئې مچ کړی، او په ډېر لوړ آواز ئې دا اعلان وکړی:

دا عثمان دی، چي د مهاجرو او انصارو شیخ او بزرگ دی، دا هغه انسان دی: چي د هغه شخصه د آسمان فرشتې هم حیا کوي، دا هغه څوک دی: چي د هغه په نکاح کي ما د الله تعالی په حکم سره دوې لوڼې ور کړې دي، او دی مي خپل زوم جوړ کړی دی، نو تاسو واورئ: چي کم څوک دده سره دښمني کوي، پر هغه باندي به د الله تعالی لعنت راځي.

څلورم ځل ئې د حضرت علي ﷛ پوښتنه وکړه، حضرت علي ﷛ ولاړ سو، او وئې ویل: زه حاضر یم، پېغمبر ﷺ ورته وفرمایل: مالره نژدې راسه، حضرت علي ﷛ ځیکله ورته راغلی، نو دی ئې هم پخپله سینه پوري ونیوی، او پر تندي باندي ئې مچ کړی، او بیا ئې په لوړ آواز سره دا اعلان وکړی:

ای د مسلمانانو ډلي! دا علی ابن ابي طالب دی، د مهاجرو او انصارو شیخ او غوره شخصیت دی، دا زما ورور او زما د اکازوی او زما زوم هم دی، او دا زما غوښې او وینه ده، دا د الله تعالی یو توره ده، او دا د الله تعالی زمری دی، تاسو زما دا خبره واورئ: چي د ده پر دښمن به د الله تعالی لعنت وي، د هغه شخصه زه هم بېزاره یم، او الله تعالی هم ځني بېزاره دی، که یو څوک د الله تعالی او د الله تعالی د رسول ﷺ شخصه بېزاري غواړي، نو هغه دي د علی ﷛ شخصه بېزاره سي.(١)

نو د پېغمبر ﷺ دا خلفاء پېغمبر ﷺ ته ډېر قریب انسانان وو، چي د هغوی سره محبت کول، زموږ او ستاسو د ایمان د کمال یو نسخه او علامه بلل کیږي، الله تعالی دي زموږ او ستاسو په دماغوکي د پېغمبر ﷺ او د ده د خلفاؤ محبت په کامله طریقه سره رانصیب کړي.

(١) نزهة المجالس: جلد نمبر ٢، صفحه نمبر ٣٦٥

او هم دي مي د حوض کوثر د نهر څخه د ده او د ده د خلفاؤو د لاسو څخه د حوض کوثر د اوبو چيښل نصيب کړي، الله دي دا څو خبري پخپل دربار کي قبولي کړي.

آمِيْن يَا رَبَّ العَالَمِيْن

وَصَلَّى اللهُ تَعَالى عَلى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (الايه)

# پر استقامت د الله تعالي انعام

(بیان)


مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹہ

تقریر : الحاج مولوی اطیع اللہ صاحب

مقام: جامع مسجد حاجی عبدالودود مرحوم چمن

اشاعت : اول

تاریخ: ۲ جمادی الاولی ۱۴۴۴ ابمطابق: ۲۶ نومبر ۲۰۲۲

تعداد: ۱۱۰۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَاشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

وقال الله تعالى: ﴿فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ مَعَكَ﴾.(١)

قال عمر رضي الله عنه: ﴿: اَلْإِسْتِقَامَةُ : أَنْ تَقُوْمَ عَلَى الأَمْرِ وَالنَّهِي ، وَلَا تَرُوْغُ عَنْهُ رَوْغَانُ الثَّعْلَبِ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرینو ! الله تعالی انسان ته په دنيا کې زندګي ور کړېده، خو انسان په دنيا کي د څو ورځو ميلمه دی، او دا دنيا د انسان لپاره امتحانګاه ده، د څه وخت لپاره انسان دنيا ته راځي، چې هغه وخت تېر سي، نو انسان د خپل اصلي منزل: آخرت پر طرف کوچ کوي.

خو د آخرت د سفر دار او مدار د دنيا پر زندګي دی، که د دنيا په زندګي کي انسان د دغه سفر لپاره توښه برابره کړېوي، نو بيا به دا سفر د ده لپاره ډېر آسانه وي.

او خدانخواسته: که پر انسان باندي د دنيا زندګي په غفلت کي تېره سوېوي، او د آخرت د سفر لپاره ئې څه توښه برابره کړې نوي، بيا به دا سفر د انسان لپاره د مشکلاتو ډک سفر وي، نو د دنيا زندګي ظاهراً ډېره مختصره ده، خو د نفعي او فائدې په اعتبار ډېره اهمه ده.

---

(١) سورة هود: آيت نمبر ۱۱۲

(٢) مسند ابي داوٗد الطيالسي، حديث نمبر ۲۲۱

د الله تعالی نیک بندګان د دنیا په زندګي کي نیک اعمال کوي. او د خپل آخرت لپاره آساني لټوي، عام خلک په دنیا کي د غفلت په حالت کي ژوند تېروي. او د آخرت د سفر لپاره د تیارۍ کولو څخه محرومه او بې نصیبه دي.
حالانکه اولیاؤ ته چي الله تعالی څومره عمر ور کړی دی. او دوی په هغه عمر کي د آخرت تیاري په ډېره لوړه پیمانه سره کوي. عامو انسانو ته هم هغومره عمل دی.
مثلاً د الله تعالی دنیکو بندګانو شپه او ورځ څلورویشت ساعته وي. د عامو انسانانو هم ورځ او شپه څلورویشت ساعته وي، دانده: چي کم څوک نیک انسان جوړ سو، نو د هغه به د عمر دورانیه تر نورو انسانانو زیاته وي.
بیا لکه عام انسانان چي په دغه څلورویشت ساعته کي څه دورانه دخوب لري، او هم د خپل کور او بچیانو ضروریات پوره کوي، بعینه په داغه شان د عامو انسانانو د ژوند ترتیب هم داغه رنګه وي.
نو د زندګۍ په دغه حالاتو کي که بیماري وي، او که مصروفیتونه وي. او که هر څومره ضروریات وي، خو د خپل عبادت لپاره څه وخت پیدا کول او د زندګۍ هر کار پر سنت طریقه باندي کول چي پر هغه هم موږ ته الله تعالی د عبادت ثواب را کوي.
مؤمن کچیري په دغه خبره سر خلاص کړي، نو د هغه لپاره بیا د ژوند ترتیب آسانه ګرځي. د مؤمن سره خو الله تعالی ډېره آساني لا نوره هم کوي، که دی خپله زندګي د سنت طریقې پر نقشه برابره کړي.
څکه کچیري دی د سنت او شریعت مطابق د خپلي خولي لاړي توه کړي، نو الله تعالی و ده ته پر هغه باندي ثواب ور کوي، او که دی بیت الخلاء ته د قضاء حاجت څخه د فراغت په خاطر پر سنت طریقه ورسي، نو هم ئې الله تعالی د غه وخت په عبادت کي ور شماري.
نو باید انسان خپل هر کار د پېغمبر ﷺ د سنت طریقې مطابق وګرځوي، چي د ده لپاره په عبادت کي شمار سي.
او د دې سره ډېره اهمه داده: چي خپله زندګي د ګناهونو څخه محفوظه ګرځول، او د خپل بدن د ټولو اندامو نګراني کول چي هغه ګناه و نکړي.
..........سترګي غلط نظر ونکړي.

- ............غوږ د یو چا غیبت وانه وري.
- ............او په ژبه سره انسان دروا غ ونه وايي.
- ............او په لاس او پښو سره چا ته تکلیف و نه رسوي.
- ............او د خپلي شرمگاه او ناموس حفاظت وکړي.

نو گویا ! په دغه شکل موږ خپل وجود د الله تعالی د نافرمانۍ څخه محفوظه کولای سو.

## د ټولو څخه زیات عبادت کونکی انسان:

د پیغمبر ﷺ څخه یو صحابي غوښتنه کوي: او ورته وايي:

........يَا رَسُوْلَ اللهِ اُرِيْدُ اَنْ اَكُوْنَ اَعْبَدَ النَّاسِ﴾.

اې د الله تعالی رسوله! زما زړه دا غواړي: چي په ټولو انسانانو کي زه زیات عبادت کونکی جوړ سم.

پیغمبر ﷺ هغه ته د زیات عبادت کونکي جوړېدلو طریقه داسي ور ښيي:

........اِتَّقِ اللهَ تَكُنْ اَعْبَدَ النَّاسِ﴾.(¹)

ته تقوی کوه، په ټولو انسانانو کي به زیات عباد ت کونکی ته ئې.

اوس تقوی د عبادت او دنفلي اعمالو و کولو ته نه وايي، بلکه تقوی عربي لفظ دی، دا پرهیزته ویل کیږي، یعني: د خپل بدن ټوله اندامونه د گناهونو څخه محفوظه کول، دا تقوی هم ده، او پدې سره انسان زیات عبادت کونکی هم جوړیږي.

خو دا خبره په دماغ کي کښېنول: چي کم سړی پخپل علم او اراده سره گناه کول پرېږدي، الله تعالی هغه سړی مستجاب الدعوات گرځوي.

نو دانسان لپاره پر دوو خبرو باندي استقامت کول، دا ډېر ضروري عمل دی، یو: د گناه څخه د خپل ځان حفاظت کول، او دوهم زندگي د پیغمبر ﷺ پر نقشه برابرول.

لکه الله تعالی خپل محبوب پیغمبر ﷺ ته هم د دې خبري په باره کي حکم کوي:

فاستقم

(¹) سنن ابن ماجه: حدیث نمبر ۴۲۱۷

اې زما محبوبه! ته پر شریعت باندې استقامت وکړه، او چیکم خلګو پر تا باندي ایمان راوړی دی، نو هغه ته هم د استقامت تلقین وکړه.
نو زموږ لپاره پر دین باندي استقامت کول، او پر شریعت او سنت باندي په کلکه درېدل، حالات که هر څنګه راځي، نفس که انسان ته هر څومره وسوسې په دماغ کي ور اچوي، یا شیطان په هر شکل ګناه انسان ته ښائسته او آسانه کوي، یا د دنیا انسانان دا کوشش کوي: چي انسان د دین او سنت طریقې څخه لیري کړي، خو زموږ لپاره په هره حالت کي د خپل پرودرګار نافرماني نه کول، او د خپل پیغمبر ﷺ د سنت طریقې مخالفت نه کول.
کچیري دا خبره زموږ او ستاسو په دماغ کي راسي، نو پدې پوه سئ! چي موږ او تاسو د ژوند په حقیقت پوه سولو.

## ګناه پرېښوول او عبادت کول:

نو په زندګي کي د ګناهونو پرېښوول، او هم ژوند په عبادت تېرول، نن سبا زموږ د معاشرې ډېر انسانان دي، زنانه وي، نارینه وي، عبادات خو ډېر زیات کوي، تسبیحات وایي، او وظیفې کوي.
..........لیکن ژبه ئې د غیبت څخه نه راګرځي.
..........پر لږ خبره پر انسانانو بهتان وایي.
..........چیکله د یو چا په عیب خبر سي، په هر مجلس کي ئې ذکر کوي.
..........او پر لږ څه باندي د انسانانو څخه بدګماني کوي.
..........او خپل ځان تر نورو انسانانو ښه بولي.
دا داسي ناجوړی دي: چي عام طور د عبادت سره هم د انسان په مزاج کي ځای لري.
نو د ټولو څخه مخکي د دغه ناجوړیو څخه ځان خلاصول، او خپله زندګي د الله تعالی په عبادت کي تېرول، چیکم وخت الله تعالی راکړی دی، هغه غنیمت بلل، او په هغه کي د خپل رب د رضا کوشش کول.
چیکله یو بنده د الله تعالی لپاره یو عمل کوي، نو الله تعالی د ده د دغه قربانۍ په عوض کي ده ته اجر ور کوي، خو هغه اجر د قربانۍ په مقدار وي، کچیري قرباني

زیاته وي، نو اجر هم زیات وي. او که قرباني کمه وي، نو اجر هم بیا کم وي، خو د مؤمن په هر حال کي فائده وي.

چیکله موږ د استقامت په شکل پر دین باندي عمل وکړو، تاسو یقین و منئ: چي د الله تعالی مدد په هر حال کي به زموږ سره ملګری وي، الله تعالی داسي قدردانه ذات دی، چیکم بنده د الله تعالی لطرفه پر رااستول سوو تکلیفونو باندي صبر کوي، نو الله تعالی دی په شکرګزاره بندګانو کي شاملوي.

## د حضرت ایوب علیه السلام امتحان:

یو ځل حضرت ایوب علیه السلام د تهجد په لمانځه کي د الله تعالی و حضورته ډېره ژړا کوله، فرشتې هم ورته حیراني وې، چي الله تعالی ستا دغه محبوب پېغمبر ستا په محبت کي څنګه ډېره ژړا کوي.

شیطان چیکله ولیدی، نو ئې وویل: یا الله! دا خو ځکه ستا عبادت کوي: چي تا و ده ته ښه مال او دولت او ښه ژوند او ښه بچیان ور کړي دي، کچیري د ده سره دغه نعمتونه نه وای، بیا به ما دی کتلی وای، چي دی څنګه ستا عبادت کوي.

الله تعالی فیصله وکړه: چي اوس به د لږ وخت لپاره به د ده څخه هغه نعمتونه واپس اخلي، چنانچه دغسي وسوه، د ده د خوني چت راولوېدی، او بچیان ئې تر لاندي سول، هغه ټول ه تر هغه چت لاندي شهیدان سول.

بیا ئې کور اُور واخیستی، هغه هم ټوله وسوځل سو، اوس نه د ده سره کور پاته دی، او نه ئې بچیان سته، او چي څومره مالونه ئې درلودل، پر هغه باندي آفتونه راغلل، هغه هم ټوله هلاک سول.

د هغه څخه وروسته د ده په بدن کي الله تعالی داسي سخته بیماري پیدا کړله: چي د سترګو او د ژبې څخه سوا ټول بدن ئې په هغه ناجوړي کي سوری سوری سو، مطلب دا: چي څومره نعمتونه ور سره ول، هغه ټول ختم سول، مګر د هغه باوجود ده په هغه حال کي هم صبر کاوی، او هم به ئې د الله تعالی ذکر کاوی.(۱)

(۱) الدر المنثور سورة الانبیاء

## د الله تعالی د محبت پوښتنه:

حضرت ایوب علیه السلام په دغه ناجوړي کي اتلس کاله عمر تېر کړی، چیکله د هغه څخه وروسته الله تعالی صحت ور کړی. نو یو چا د ده څخه پوښتنه وکړه: چي اې ایوبه! هغه د ناجوړی والا ورځي دي ښې، او که اوس د صحت والا؟

نو ده ورته وویل: چي د ناجوړی د یوې ورځي لذت او خوند د صحت په ټوله زندګي کي مانه ولیدی، هغه ځکه: چیکله زه ناجوړه وم، نو د سهار په وخت کي به الله تعالی د عرش څخه پر ما باندي پوښتنه کوله: چي اې ایوبه! شپه څنګه در باندي تېره سوه، د هغه پوښتني به زما په طبیعت دومره ښه اثر وو، او په هغه کي به ما ته دومره مزه وه: چي ټوله ورځ به بیا زه په تکلیف نه پوهېدم.

او چیکله به شپه راغله، نو هم به الله تعالی پر ماباندي پوښتنه کوله، او د هغه په مزه او شوق کي به زه ټوله شپه بیا په تکلیف نه پوهېدم.

اوس چیکله الله تعالی ماته صحت راکړی، نو اوس هم زه د الله تعالی د هغه پوښتني په انتظاریم، او زما طبیعت د هغه لپاره ډېره بې تابه وي، چنانچه الله تعالی ده ته صحت ور کړی، او چي څومره نعمتونه اول د ده سره ول، هغه ټوله الله تعالی واپس ور کړل، لکه په قرآن کریم کي الله تعالی فرمایي:

.........﴿وَوَهَبْنَا لَهُ أَهْلَهُ وَمِثْلَهُمْ مَعَهُمْ رَحْمَةً مِنَّا وَذِكْرَى لِأُولِي الْأَلْبَابِ﴾. (۱)

موږ و ده ته د کور انسانان او بچیان او دهغه په مثل یو څه نور هم ورکړل، دا زموږ لطرفه نعمت او رحمت وو، چي وروسته راتلونکي عقلمند خلګ دا خبره یاد ولري: چي موږ څنګه ور کونکي یو.

تاسو ګورئ! چي د لږ وخت لپاره الله تعالی د ده څخه هغه نعمتونه واخیستل، لیکن چیکله ئې ژوند په صبر سره تېر کړی، نو الله تعالی و ده ته نه صرف هغه نعمتونه ور کړل، بلکه د هغه غوندي ئې نور هم نعمتونه ور نصیب کړل.

---

(۱) سورة ص: آیت نمبر ۴۳

## د حضرت ابراهیم علیه السلام قدرداني:

حضرت ابراهیم علیه السلام جلیل القدر پیغمبر وو، چي الله تعالی دی د خپل ځان خلیل گرځولی وو، او پر ده باندي الله تعالی ډېر سخت امتحانات راوستل، خو دی په هغه ټولو کي ثابت قدمه پاته سو، او په صبر او برداشت سره ئې تېر کړل، نو الله تعالی به د ده د اعمالو ډېره قدرداني کوله.

یو ځل ده مبارک د الله تعالی څخه دځ وغوښتله: چي اې الله! ماته بچی راکړې. نو الله تعالی بچی هم ورکړی، او دائې هم وفرمایل:

......... ﴿وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ نَافِلَةً وَكُلًّا جَعَلْنَا صَالِحِينَ﴾.(۱)

موږ و ده ته اسحاق او یعقوب د انعام په شکل ورکړل. قرآن کریم حضرت یعقوب ته نافله ویلي دي، د نافله معنی: زائد، بعضي مفسرین وایي: چي یعقوب او اسحاق علیهما السلام دواړه د ابراهیم علیه السلام زامن وو، د اسحاق علیه السلام خو ابراهیم علیه السلام د الله تعالی څخه غوښتنه کړې وه، لیکن د ده د غوښتي د قدرادانی په خاطر الله تعالی و ده ته یعقوب علیه السلام زائد ورسره ورکړی، نو ځکه هغه نافله وبلل سو.

او بعضي مفسرین بیا حضرت یعقوب علیه السلام د حضرت اسحاق علیه السلام زوی یادوي، نو گویا: دی د ابراهیم علیه السلام لمسی دی، نو ابراهیم علیه السلام صرف د زوی غوښتنه کړې وه، الله تعالی و ده ته لمسی هم اضافه ورسره ورکړی.

لکه په دنیا کي چي یو مشفق دوکاندار وي، هغه ته یو بچی همېشه د سودا لپاره ورځي، نو دی هغه بچي ته سودا هم ورکوي، چي څومره د هغه غوښتنه وي، او دهغه پر لاس د هغه د خوشحاله کولو لپاره یو ټافه د نقشې هم ورلګوي.

داغه رنګه د الله تعالی هم دا دستور او قانون دی: چي کله بنده د الله تعالی په امتحاناتو کي صابر ووسیږي، نو الله تعالی بیا و ده ته هغه د ده څخه تللي نعمتونه هم ورکوي، او پر هغه سر بیره یو څه نور انعام هم ورسره ملګری کړي، گویا الله تعالی رب العزت ډېره مهربانه او ډېر قدردانه دی.

---

(۱) سورة الانبیاء: آیت نمبر ۷۲

## د حضرت زید بن حارثه رضی الله عنه قدرداني:

د دغه قدرداني یو مثال دا هم دی: حضرت زید بن حارثه رضی الله عنه یو ماشوم وو، چې د مکې مکرمې څخه په لیرې وطنو کې ئې ژوند کاوی، او د حارث زوی وو، یو ځل د کلي سره نږدې قافله تېرېدله، نو هغه د قافلې انسانانو په دو که سره هغه ماشوم بچی د ځان سره مکې ته راوستی، او په مکه مکرمه کې ئې خو ځله پر له خرڅ سو.
آخر حضرت خدیجې رضی الله عنها د پېغمبر صلی الله علیه وسلم د خدمت لپاره رانیوی، او د پېغمبر صلی الله علیه وسلم په کور کې د هغه ژوند تېرېدی.
د هغه پلار او ټوله قریبان د خپل بچي په ورکه باندې ډېر غمجن وو، او د خپل بچي به ئې ډېر تلاش کوی، د تلاش کولو څخه وروسته هغوی ته دا معلومات وسو: چې زموږ بچی په مکه مکرمه کې د محمد بن عبدالله په کور کې دی.
نو د هغه پلار او اکا د خپل بچي راوستلو لپاره مکې مکرې ته راغلل، او د پېغمبر صلی الله علیه وسلم په کور کې د خپل بچي سره کښېنستل، هغه پلار بچي ته دخپل کور د پرېشانۍ ټوله داستان بیان کړی، او هغه د ده په جدائي کې یو څه اشعار هم لیکلي وو، هغه ئې ټوله ورته وویل.
آخر ئې د پېغمبر صلی الله علیه وسلم څخه غوښتنه وکړه: چې اې محمده! ته پر موږ احسان وکړه، ته زموږ سره دی واستوه، ځکه زموږ ټوله خاندان د ده په وجه زیات پرېشانه دی.
پېغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وویل: چې زه د دې خبرې اختیار و زید ته سپارم، کچیرې دی دلې اوسېږي، خو زما سره اوسېږي، او که ستاسو سره ځي، زه د ده په مخکې هیڅ مانع نه جوړېږم.
پلار ئې ډېر خوشحاله سو، او ورته وئې ویل: چې ستا خبره پر حق او انصاف باندې مبني ده، نو هغه پلار زوی ته متوجه سو، او ورته وئې ویل: زویه! موږ ستا په جدائي کې ډېر پرېشانه یو، او ډېر د لیرې ځای څخه مې سفر را کړی دی، او ټول قریبان ستا منتظر دي، درځه چې خپل وطن ته ولاړ سو.
حضرت زید رضی الله عنه وویل: چې ایا تاسو ماته اختیار راکوئ، چې زه کم ځای اوسېږم، هلته اوسېدلای سم، دوی ورته وویل: چې هو، ستا خپل اختیار پخپل لاس کې دی.

حضرت زید رضی الله عنه ورمنډه کړله، د پیغمبر ﷺ په اړخ کي کښیناستی، او دا ئې وویل: چي زه په هیڅ قیمت د پیغمبر ﷺ خدمت نسم، پرېښو ولای، پیغمبر ﷺ دی په غیږ پوري ونیوی، او پر سترګو ئې مچ کړی، او دا ئې وویل: چي دی به د نن څخه بعد د محمد بچی وي.(۱)

تاسو ګورئ! حضرت زید رضی الله عنه د الله تعالی د محبوب په محبت کي خپل پلار پرېښوو ی، د هغه نتیجه دا راغله: چي په ټولو صحابه کرامو کي دی د زید بن محمد په نامه باندي مشهوره سو.

تاسو د الله تعالی قدرداني ته ګورئ! چي یو بچي د الله تعالی د محبوب په خدمت کي اوسېدل خوښ کړه، د هغه پلار هم بل وو، او خاندان ئې هم بل وو، او وطن ئې هم جدا وو، لیکن د الله تعالی رحمت او نعمت دا ور باندي وسو، چي په ټوله زندګي کي ئې د زید بن محمد په نامه باندي مشهوره هم کړی، او د دې سره سره ئې د ده نوم د یو واقعې په تفصیل کي په قرآن کریم کي ذکر کړی.

تر قیامته پوري چي څومره انسانان قرآن کریم وایي: نو په هغه کي په ټولو صحابه وو کي یو د زید نوم دانسانانو و مخته راځي.

........﴿فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا﴾.(۲)

## د حضرت ذوالبجادین رضی الله عنه قدرداني:

حضرت عبدالله ذوالبجادین رضی الله عنه یو نوجوان صحابي وو، دخپلو ملګرو سره مدینې منورې ته راغلی، او په مدینه کي منوره کي ئې کلمه وویله، مګر خپل ایمان ئې د قریبانو څخه پټ ساتی.

چونکه پلار ئې وفات سوی وو، او مور ئې دا کا سره نکاح کړېوه، او دی د اکا په کور کي اوسېدی، بالآخر د اکا شک ورباندي راغلی، چیکله هغه پوښتنه څني وکړه، نو ده درواغ نسو ورته ویلای، ښکاره ښکاره ئې، ټوله حال ورته بیان کړی.

---

(۱) اسد الغابه: جلد نمبر۱، صفحه نمبر ۳۹۵

(۲) سورة الاحزاب: آیت نمبر ۳۷

هغه په ډېر شدت سره دی د اسلام د قبلولو څخه را منعه کړی، مګر دی په هیڅ قیمت د اسلام و پرېښوولو ته تیار نه وو، چیکله هغه اکا څني نا امیده سو، نو ئې ورته وویل: کچیري ته د غه دین نه پرېږدې، نور ستا لپاره زما په کور کي د استوګني اجازت نسته.

د ماښام په وخت کي ئې حضرت عبد الله رضی الله عنه د خپل کور څخه وایستی، چیکله د کور څخه واتی، نو هغه تر لاس ونیوی، او ورته وئې ویل: ستا پر بدن چي کم لباس دی، دا مادر له رانیولی دی، دا به دلې را پرېږدې، چي پر هره خوا ځې، پر هغه خوا باندي ولاړ سه.

هغه اکا د غصې او خښم په حالت کي د ده د بدن څخه ټوله لباس وکښی، او لڅ بدن ئې دی د خپل کور څخه وایستی.

مور چي ئې کله دا منظر ولیدی، نو هغې ته زړه ډېر درد ور کړی، او په یو بهانه ئې د خپل سر پړونی تر دیوال ور وغورځاوی، چي دی په هغه سره خپل ځان پټ کړي، او خپل ستر خوندي کړي.

د هغه د مور پړونی د ځان سره واخیستی، او په لاره کي ئې هغه دوې ټکړې کړی، د یوې ټکړې څخه ئې لنګ جوړ کړی، او دوهمه ټکړه ئې پر خپل ځان راوپېچله، چیکله د هغه ځای څخه روان سو، نو د ځان سره په ډېر فکر او سوچ کي دی، چي اوس به پر کم طرف باندي ځم، آخر ئې د خپل زړه سره دا فیصله وکړه: چي د کم چا په خاطر د دغه حالت سره مخامخ سوی یم، د هغه څخه ماسوا په دنیا کي بل څوک لرم؟ هغه ته به ورځم دا نور ژوند به د هغه په خدمت کي تېروم، او ځان ته دا وایي: اې عبد الله! کچیري تاته د هغه د خدمت موقع نوره په لاس درغله، دا به ستا لپاره ډېره لویه نیکبختي وي.

د سهار په وخت کي مسجد نبوي ته راغلی، او د سهار په لمانځه کي د پیغمبر ﷺ سره په لمانځه کي شریک سو، د سلام ګرځولو څخه وروسته چیکله پیغمبر ﷺ ده ته وکتل، نو دستي ئې وپېژاندی.

دی د پیغمبر ﷺ ملاقات ته ورغلی، او هغه ته ئې خپله ټوله واقعه بیان کړه، پیغمبر ﷺ ورته وویل: چي نور ته زما میلمه ئې، زما په طالبانو کي اوسېږه، ده هلته په اصحاب صفه وو کي استوګنه شروع کړه.

چونکه زړه ئې د الله تعالی او د هغه د رسول د محبت څخه لبریز او ډک وو. نو ډېر ځله به ئې په لوړ آواز سره ذکر کاوی، او د الله، الله ورد به ئې یادوی.
یو ځل حضرت عمر رضی الله عنه دی د په زوره ذکر څخه منعه کړی. چې دومره په زور باندي ذکر مه کوه، پخپل زړه کي ئې کرار کرار کوه، پېغمبر ﷺ ته معلومه سوه، نو حضرت عمر رضی الله عنه ته ئې وویل: عبدالله ته هیڅ مه وایه، دی چې څه وایي. د الله تعالی په محبت کي ئې وایي، چنانچه د ده هلته زندګي روانه وه.
یو ځل پېغمبر ﷺ یو غزوې ته ځي، نو عبدالله هم ور سره ملګری سو. د صحابه وو جهادي قافله روانه ده، په لاره کي پر یو منزل باندي حضرت عبدالله رضی الله عنه ناجوړه سو. پېغمبر ﷺ ته چیکله معلومات وسو، نو د ابوبکر او عمر سره د ده د پوښتني لپاره راغلی.
چیکله پېغمبر ﷺ ورته راورسېدی، نو د ده سر مبارک ئې پخپله غیږ کي ونیوی. دی هغه خوشنصیبه صحابي وو، چې د هغه سر د پېغمبر ﷺ په غیږ کي پروت وو. او د ده نظر د پېغمبر ﷺ پر مخ مبارک باندي لګېدی، په داغه حالت کي د ده آخري وخت راورسېدی، نو یوه سګلې ئې ووهله، او خپل روح ئې الله تعالی ته تسلیم کړی.
تاسو ګورئ! چې کوم څوک خپلو قربیانو د کور څخه وایستی، الله تعالی د هغه دومره قدر وکړی: چې د خپل محبوب په غیږ کي ئې ده ته ځای ور کړی، او هر څوک د مرګ پر وخت خپل قربیان ده ته حاضر وي، لیکن عبدالله د مرګ په حالت کي د پېغمبر ﷺ مخته ګوري، او په داغه حالت کي د دنیا څخه رخصت کیږي.
چیکله ئې روح رخصت سو، نو پېغمبر ﷺ صحابه وو ته وویل: تاسو غسل ور کړی، د هغه څخه وروسته ئې د خپل وړې پټو ور کړی، او صحابه وو ته ئې وویل: زما په دغه پټو کي عبدالله ته کفن ور کړئ.
چې کم بدن د الله تعالی د دین پۀ خاطر بې لباسه سو. الله تعالی دومره قدردان او مهربانه دی، چې تر قیامته پوري ئې هغه بدن د خپل محبوب په پټو کي خوندي کړی، دا د الله تعالی ډېره لویه قدرداني وه.
پېغمبر ﷺ د هغه د جنازې لمونځ وکړی، چیکله و قبر ته د ور شوه کولو وخت راغلی، نو پېغمبر ﷺ پخپله د ده قبر ته ور شوه سو، د حدیث شریف معنی ده: چې صحابه

کرام تول ولاړ دي، ده ابوبکر او عمر ته وویل: د خپل ورور جسد ماته را حواله کړئ، چي زه ئې پخپل لاس په قبر کي کښېږدم.
صحابه وو د هغه جسد ور شوه کړی، پیغمبر ﷺ پخپلو لاسو په قبر کي کښېښووی، او د هغه څخه وروسته ئې دا الفاظ ادا کړل: اې الله! زه د عبدالله څخه راضي یم، ته هم ځني راضي سې.
چیکله عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د پیغمبر ﷺ د ژبي څخه دغه الفاظ واورېدل، نو ئې ویل: زما په زړه کي دا خبره راغله: کاش نن دغه جنازه د عبدالله بن مسعود وای، او زما محبوب ﷺ زما متعلق دغه الفاظ اداکړی وای: اې الله! زه د عبدالله څخه راضي یم، ته هم ځني راضي سې.(۱)
تاسو ګورئ! الله تعالی څومره قدردانه ذات دی، چیکله بنده د دین په خاطر قرباني پیش کړي، نو الله تعالی ده ته د ده تر امید زیات بدله او اجر ورکوي.

## د حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه قدرداني:

سلمان فارسي رضي الله عنه د دین په خاطر خپل کور پرېښووی، الله تعالی دی د پیغمبر ﷺ خدمت ته راورساوی، ده خپل قریبان او قوم او قبیله پرېښووله، او د الله تعالی د رضا په خاطر ئې د سفر زندګي اختیار کړه، مګر الله تعالی هم دومره قدردانه وو: چي هغه هیڅ څوک تنها نه پرېږدي.
د سلمان په باره کي به پیغمبر ﷺ فرمایل:
........سَلْمَان مِنَّا اَهْلُ الْبَيْتِ﴾.(۲)
سلمان زموږ د اهل بیتو څخه دی.
نو قربان تر داسي ذات: چي یو بنده د دین په خاطر خپل کور او قریبان پرېږدي، دی د هغه دومره قدر کوي، چي د هغه نوم په اهل بیتو کي شاملوي.
د دې څخه دا معلومېږي: چي الله تعالی ډېر قدردانه دی، لیکن موږ ناقدره یو، موږ خو د الله تعالی قدر هیڅکله ندی کړی، د هغه راکول سوی رزق خورو، او د هغه څخه

---

(۱) معجم الصحابه للبغوي: جلد نمبر۲، صفحه نمبر ۳۲۲. اسد الغابه: جلد نمبر۱، صفحه نمبر ۶۰۴
(۲) المعجم الکبیر: حدیث نمبر ۶۰۴۰

ګیلې او شکایتونه هم کوو، شپه او ورځ ژوند د هغه په نعمتو کي تېروو، او بل طرفته د هغه د شکر اداکولو توفیق نه لرو.

## د الله تعالی افسوس ښکاره کول:

الله تعالی په قرآن کریم کي عجیبه انداز اختیار کړی دی:

......... ﴿يَا حَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ مَا يَأْتِيهِمْ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ﴾.(۱)

حسرت او افسوس پر هغه بندګانو باندي: چي د الله تعالی یو رسول دوی ته هیڅکله ندی راغلی، چي دوی دي په هغه باندي مزاق او مسخرې کړي نوي.

په مخکنیو قومونو کي به انسانانو د انبیاؤ مزاق او سپکوالی کاوی، په نن دور کي انسانان د انبیاؤ دسنتو مزاق او سپکوالی کوي، نن زموږ په کورو کي زموږ مسلمانان بچي د پیغمبر ﷺ پر سنت خو عمل نه کوي، لیکن کچیري یو بچي ته الله تعالی پر سنت کولو باندي دعمل کولو توفیق ور کړی، نو بیا د کور نور انسانان د دوی مزاق او سپکاوی شروع کړي، او سنت ته په سپک نظر ګوري.

دایو حقیقت دی: چي دسنتو مزاق او سپکاوی په حقیقت کي د نبي د مزاق او سپکاوي سره مترادف دی، نو ځکه الله تعالی وایي: دا زما څنګه بندګان دي: چي هغوی زما د انبیاؤ مزاق او سپکاوی وکی؟ نو ځکه زموږ لپاره مناسب عمل دا دی: چي د دین په معامله کي پخپله زندګي کي استقامت اختیار کړو.

## د بې پردګۍ انجام:

نن سبا زموږ په معاشره کي عام انسانان د دین د احکامو پوره خیال نه ساتي، نارینه وي، که زنانه وي، مشران وي، او که کشران، خو بیا دغه مصیبت عام طور په زنانو کي بیا دېر زیات وي.

زموږ معاشره عجیبه حال ته رسېدلې ده، دمسلمانانو د کور زناني بلکه د دینداره کورونو زناني د پردې خیال نه ساتي، او خپل ژوند په بې پردګي کي تېروي، الله تعالی

(۱) سورة یس، آیت نمبر ۳۰

به د قیامت په ورځ دغه زناني بې لباسه کړي، او د ټولو انسانانو و مخته به ئې و جهنم ته ور شوه کړي.
او په دغه شان به دوی بې عزته کړي، ځکه چي دوی په دنیا کي د پردې څه خیال نه وو ساتلی، نو د قیامت په میدان کي به بې پرده وي.
ډېره د فکر خبره ده، نن که یو نارینه ته وویل سي: چي تا د څو کسانو په مابین کي انسانان لڅوي، نو هغه نارینه به د ډېر شرم څخه دا وایي: چي کاش! مځکه سره چاودلې وای، او زه په ننوتلی وای، او دغه د شرم حالت ما نوای لیدلی.
په زنانو کي خو بیا خاص شرم او حیا ډېره زیاته وي، کچیري دوی ته دا وویل سي: نو دوی به تر خپل ژوند ځان لره مرګ خوښ کړي، چي زه دومره بې پرده کېږم، نو زما لپاره مرګ ښه دی.
چیکله په دنیا کي د یو څو انسانانو و مخته بې پرده کېدل دومره ګرانه ده، ستاسو څه خیال دی: چي کله الله تعالی د قیامت په میدان کي د ټولو اقوامو د عالم په مخکي یو زنانه بې پرده کړي، او بیا فرشتو ته حکم وکړي: چي په داغه حالت کي ئې جهنم ته ور شوه کړئ، نو بیا به څومره شرمندګي وي.
نو کچیري نن انسان د الله تعالی رب العزت د حکمونو قدرداني وکړي، نو سبا به الله تعالی رب العزت زموږ پر ګناهونو باندي د خپل رحمت پرده اچوي، لکه یو روایت راځي:
چي الله تعالی پیغمبرﷺ ته وایي: اې زما محبوبه! چیکله د قیامت په میدان کي ستا د امت ګناهونه ښکاره کېږي، نو ایا تاته به په هغه کي شرمندګي نوي، پیغمبرﷺ ورته وایي: چي ماته به یقیناً شرمندګي وي، نو الله تعالی ورته وایي: چي زه به د قیامت په میدان کي ستا پر امت باندي د خپل رحمت وزر غوړوم، او په پرده کي به د هغوی حساب اخلم.
په یو روایت کي راځي: چیکله یو ځوانه زنانه ځان برابر کړي، ښائسته جامې واغوندي، او خوشبوئي ولګوي، او د باندي راووزي، چي عام خلک دې ته وګوري، نو الله تعالی د دې څخه پردې عمل باندي ډېر ناراضه وي، او د قیامت په میدان کي و دې ته د محبت نظر نه پورته کوي.

نو د بې پردګۍ د قیامت په ورځ ډېره لویه سزا ده، خدانخواسته: کچیري زموږ متعلق د الله تعالی په حضور کي فیصله وسي، بیا به زموږ څومره سترې انجام وي.

## د حالاتو رخ اړول:

نو زه ډېر ځله د غه خپلو ملګرو ته وایم: چي الله تعالی موږ او تاسو ته زندګي په ډېر سترې وخت کي رانصیب کړېده، ځکه: چي بې پردګي او فحاشي دا د سیلابونو غوندي پر امت باندي را روان دي.

او په دې وخت کي کوشش کول، د حالاتو رخ اړول د ځان څخه سپک نه جوړول چي سیلاب د خپل ځان سره سرې یوسي.

تاسو ګورئ! او به پر خپل سر هغه شی وړي: چي حنه سپک او بې وزنه وي، کاغذ وي، خاشه وي، یا د پراړه کانی وي. نو او به ئې پر خپل سر وړي، لیکن چیکله د اوبو مخته یو دروند کانی او ډېره راسي، او هغه استقامت او درندوالی پر خپل ځای ولري، نو او به ئې هیڅکله د ځان سره نسي وړلای، بلکه هغه د اوبو مخ اړوی، نو تاسو بې وزنه شی د ځان څخه مه جوړوئ! بلکه په ځان کي وزن او دروند والی پیدا کړی، او پخپل طبیعت کي د استقامت صفت راولئ، د حالاتو سره د تللو پر ځای د حالاتو مخ اړول ازده کړئ، او د دې حالاتو مقابله وکړئ.

په ټولو مرغانو کي بهترین او قیمتي مرغه باز دی، تاسو د باز خاصیات وګورئ! دی همېشه د هواګانو مقابله کوي، چي د کمي خوا څخه هوا را روانه وي، دی د هغه په مقابل کي پرواز کوي، او د هوا سره ټکر وهي.

کوتره هغه ډېره عاجزه مرغه دی، چي د کمي خوا هوا راځي، دا غریبه د هوا مقابله نسي کولای، هوا ئې پر خپل مخ باندي وړي، او چي پر کم طرف هوا روانه وي، د دې پرواز هم پر هغه طرف جاري وي.

نو انسان پخپل ژوند کي باید د باز طبیعت اختیار کړي، د هوا سره ټکر وخوري، او د هواګانو مقابله وکړي، او پخپل مزاج کي صبر او استقامت پیدا کړي، او د هواوو څخه تأثر وانه خلي، ځکه دا هواګاني عارضي وي، او د لږ وخت لپاره وي، چي انسان

کله د دې مقابله روانه کړي، الله تعالی د هر ژر دا هواګاني بدلوي، خو شرط دا دی: چې په موږ او تاسو کې به د استقامت او د مقابلې صفت وي.
او زه دا هم د هر ځله وایم: چې ژوند د اوښانو کاروان جوړول، او د استقامت صفت د اوښ غوندې په ځان کې پیدا کول.
د اوښانو قافله به تاسو لیدلې وي: چیکله پر یو لار روانه وي، او پر کلو او ابادیو باندې راسي، نو عام طور ماشومان دوی په ډبرو او کاڼو ولي، او د کلي سپي ورته غاپي.
لیکن اوښان پخپل مسیر او سفر کې، او پخپل تګ او روانتیا کې یوه ذره تغیر نه راولي، چې کم منزل ئې د ځان لپاره انتخاب کړی وي، هغه منزل ته ځان رسوي.
نو په دنیا کې ژوند کول هم د ځان لپاره یو منزل انتخابول، که دغه د ژوند په سفر کې هر څومره مشکلات راسي، په استقامت او صبر سره برداشت کول، او د الله تعالی پر دین باندې قرباني ور کول، او خپل منزل ته ځان رسول، د اد انسان لپاره تر ټولو زیات د کامیابۍ راز بلل کیږي.
الله تعالی دې زموږ او ستاسو دماغو کې د دې خبرو حقیقت راولي، او الله تعالی دې مې په مزاج کې استقامت پیدا کړي، او په خیر او عافیت او په قرباني سره دې مې الله تعالی د زندګۍ سفر په ښه طریقه او په کامیابه طریقه تر خپل منزل چې څومره زموږ نصیب وي ورسوي، الله تعالی دغه څو خبرې په خپل دربار کې قبولې وګرځوي.

آمِیْن یَا رَبَّ الْعَالَمِیْن

وَصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی خَیْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ.